جوابي ټپې



ترتیب تدوین و تحقیق

مرتب

پروفیسر ډاکټر میر حاتم

جوابي ټپې

ترتیب تدوین و تحقیق
پروفیسر ډاکټر میر حاتم

بسم الله الرحمن الرحيم

ټول حقوق د ليکوال په حق کښې خوندي دي

کتاب پېژنده:

د کتاب نوم:	**جوابي ټپې**
د ليکوال نوم:	پروفېسر ډاکټر مير حاتم
کمپوزنګ:	فاروق شاه
چاپ کال:	**2025**ء
چاپ شمېر:	**500** ټوکه
اشاعت:	اول
پرېس:	الاحمد انټرپرائزز پېښور 0345-9292470
بيعه:	روپے
رابطه:	**0313-9253606**

د موندلو درکونه:

✵ #**34** پروفېسر کالوني نزد زرغي يونيورسټي پېښور **0313-9253606**

فهرست

مخ	عنوان	شماره
15	تعارف	.1
17	مقدمه	.2
	تقریظات	.3
22	پروفېسرډاکټر محمدسراج سواتي	.4
27	پروفېسرډاکټر احمدعلي عاجز	.5
29	پروفېسرډاکټر شېرزمان سیماب	.6
33	حبیب الله خان خټک سابق سیئنربیروکریټ	.7
42	سید راج جهان هلال شاعر و ادیب	.8
50	**باب: 1 پښتانه د وطن مئینه دغزا او شهادت شوق**	.9
50	خلقه مصرعې مې مصرعې نهٔ دي د لوغړن زړګي وتلي دي دودونه	.10
52	پښتو اسانه نهٔ ده خلقه څوک چې پښتو کړي پښتےٖ ماتې ګرځوینه	.11
53	زهٔ د هغهٔ پښتون فرزند یم چا چې لړلي په سرو وینو مېدانونه	.12
55	زهٔ د وطن د باغ مالیار یم په خپلو سرو وینو به ئې تل اوبهٔ کومه	.13
58	د وطن جاړې به ور نهٔ کړم که د عدن باغ ئې بدل کښې راکوینه	.14

.15	چا ته په خپل وطن رارسي خوک په نصیب پسې پردي وطن ته ځینه	61
.16	مسافر مۀ وژنې خاونده په ځنکدن کښې خپل وطن رایادوینه	70
.17	تکل به کله د راتلو کړې په طمع طمع دې زړې شوې پېغلې جونه	74
.18	دا د اسلام د کفر جنګ دے د اسلام ننګ دے پښتانۀ به ورله ځینه	77
.19	چې جنګ ته ځې ما بوځه یاره تشې توقې به دې په جنګ کښې ټولومه	79
.20	څه عجب خوند د شهادت دے د ځنکدن سلګۍ وهم خندا راځینه	81
.21	دا مې د پت ښکاره نشان دے زۀ ننګیالے یم په شا نۀ لرم زخمونه	82
.22	که د دشمن نه په ختټ راغلم بیا مې پښتون د تیراه مۀ بوله مئینه	84
.23	**باب: 2 د وطن موسمونه غرونه او بادونه**	89
.24	پسرلے راغے نوبهار دے د زلمو وار دے زاړۀ نۀ کوي سپلونه	89
.25	د پسرلي لوونه کړه شو جینۍ په سرو منګلو وړي ټولوینه	99
.26	په تورو غرونو خداے مئین دے په سر ئې واورې وروي ویخ کښې ګلونه	100

.27	پاس په تیراه اوره بارانه د پېښور په برخه سېل دے رابه شینه	101
.28	د دنیا باد داسې تېرېږي لکه د تورو غرونو باد په شنړا ځینه	103
.29	چې مازیګر شي ښکته نمر شي په چا اختر شي څوک د غم ژړا کوینه	104
.30	د نیمې شپې سندرې خوند کا چې په رو رو د خوبه سترې ویښوینه	106
.31	صبا راوختو رڼا شوه یاره د غاړې نه مې اوباسه لاسونه	110
.32	سپوږمۍ د خدائے روئي مې راوړې د دوه مئینو مینځ ته مۀ وړه مشالونه	112
.33	**باب: 3 زما کوروکلې**	115
.34	کور دې نزدې کوڅه دې لرې د کوه قاف تر غره د لوړ دي دیوالونه	115
.35	خدای دې دا پورې دیوال وران کړي چې راښکاره شې تورې سترګې سره لاسونه	120
.36	خلقه ګودر مې د زړۀ سر دې چې مازیګر شي د دلبر دیدن کومه	121
.37	منګیه تانه به ځارېږم تا د جانان په غېږ کښې کړې دې خوبونه	124
.38	رباب زما په غېږ کښې پروت دې خوږې خبرې د جانان راته کوینه	128

.39	ټال دې د تورو زلفو جوړ که چې دې په سپینه سینه ښکته پورته ځینه	130
.40	د زړګي حال وئېلې نه شم لکه سرپوښ تنور ئې بلې لمبې کړمه	132
.41	نمکین خوراک زما روزي شو تروه ډوډۍ مدام د اوښکو سره خورمه	133
.42	په چلم راغله کش ئې ورکړو له جنجالي پیزوان ئې شنې لوخړې ځینه	135
.43	زهٔ په نشو نه نشه کیږم چې د جانان په کوځه راشم نشه شمه	137
.44	مئینه دې نه ده جواري ده زهٔ جوارګر د جانان سري شونډې ګټمه	138
.45	ملنګ دوه ګټې دې اوکړې یو دې خیر ټول کړو بل دې اوکړل دیدنونه	139
.46	کچکول د سترګو درته نیسم د دیدن خیر د ښکلې مخ نه ټولومه	142
.47	خلقه بندونه ورته مه اچوئ د لیونتوب سیلاب ته ټینګ نه دي بندونه	144
.48	لیونۍ لاړه کلي وران شو زهٔ به په وران کلي کښې شپې چاته کومه	147
.49	سوال دې په کوم زیارت قبول شو ماته ئې ښایه چې سرتوره ورله ځمه	149
.50	**باب: 4 د حسن او مینې دنیا**	153

.51	ښائيسته دخداى خوښ دې عالمه زۀ ګناهګار به ئې په سترګو ښکلومه	153
.52	زۀ ئې په توره سپينه نه يم په دې ئې مړ يم چې کړه د خيال ځينه	156
.53	مئينه پيد اکه نه وي وروره نه به وه زمکه نه به وو دا آسمانونه	159
.54	ديدن د بادو پيمانه ده نه پر مړيږم نه تري پنډ تړلې شمه	171
.55	په ديدن مئينه نه ماتيږي څو دې د دنګې غړې تاؤ نه کړم لاسونه	182
.56	عاشق سړي نه غلطيږي سترګې ئې سري وي شونډې وچې ګرځوينه	188
.57	بيلتانه غرق بادشاهي کړي دا ليونې عاشق ګيلې چانه کوينه	194
.58	که ياري کړې آخري وخت دې بيا به منت راته کوې نه به ئې منمه	201
.59	اشنائي غم دې ښادي نه ده که څوک د غم طاقت لري اشنا دې شينه	219
.60	د قند خوږې راباندې لګي چې څوک خبرې د جانان راته کوينه	224
.61	لالې خو هم په ما مئين دې خلق يواځې ما په مئينه ګرموينه	232
.62	ليلى په جونو کښې ښکاره ده تور ئې پيکې لنډې څنړې شنه خالونه	234

.63	ريبار فکر پکښې اوکړه ليلى ښائسته ده که رب زه ليونې کړمه	237
.64	د غمازانو کور دې وران شي پخلا اشنائي رانه بيا مرور کنه	240
.65	رقيب بې شکه چې رقيب دې په تامئين دې زۀ مئين وربانده يمه	243
.66	**باب:5 ښه او بد خصلتونه**	247
.67	دا ما په خپله په ځان کړې ګيلې د خلقو نه کوم ليونې يمه	247
.68	ډيرې ښيرې به درته نه کړم مرګ د ميلمه شه چې دې خلاص له غمه شمه	250
.69	ستر ګې د شرم و حيا ځاى دې چې مئينه راشي حيا واخلي رخصتونه	252
.70	په خندا هر جينۍ خاندي ليلى چې خاندي ملغلري تويوينه	254
.71	خدمت برباد ګناه لازمه نور به د زړه په قطرو نه ساتم بازونه	260
.72	دومره په ضد راسره مه ځه لکه کټکي به دې د ځان لاندي کړمه	260
.73	جانان دې دا واري پخلا شي بيا مي توبه ده جنګ به نه ورسره کړمه	263
.74	بې وفا يار راسره نه وي راسره پروت وي تور ميلو ببر غوړنه	267

.75	جفا دې ډېره اوکړه يار اوس د وفا په انبار پورې کړه لاسونه	273
.76	ياري دې ټوله د ټګئ ده زه دې د دې په مطلب اوس اورسيدمه	273
.77	**باب: 6 همزولي زلمي پېغلې او زاړه**	276
.78	زۀ خو هغه مسته ليلې يم که رنګ مې زيړ دې له همزولو بيله يمه	276
.79	په ياري زوړ سړې ځوانېږي زۀ د بې ننګ په ياري ځوانه زړه شومه	277
.80	پېغله چې نوې پېغلتوب کړي لکه چار ساله آس د نوکو په سر ځينه	279
.81	غاښ دې کنډاؤ او ړيره سپينه د بنګړو شړنګ ته تر سبا کړې شوګيرونه	281
.82	زړې زړې کنډې شوې ناوې زاړه قبرونه لټوي ګوري مړونه	282
.83	ګزران د برغو بنو نۀ شي که ور په سر کړې بادشاهي زرين شالونه	283
.84	موذي په مينه نۀ پوهېږي په نس ئې ډک که تر صبا کوي خوبونه	284
.85	پلار ته مې ډېرې روپۍ ورکړه چې زۀ دې تا شم بيا به ئې ګډې پريکونه	287
.86	جينۍ بوډۍ ادې دې مړه شه ټوله شپه ستا څوکۍ کوي په ورځ خوبونه	291

.87	دا نازولې لور د چا ده چې هر سحر توروي سترګې بړدي خالونه	296
.88	اختر شبقدر مې رانهٔ غلې خوابښې مې مړه ده سخر مې نهٔ کوي دودونه	297
.89	جينۍ چې مسته شي خندا کړي هلک زلمے شي نو په پلار حکم کوينه	298
.90	مورې د مخه دې شرمېږم ما له کوژدن چا سره اوکړه زوږ دې کړمه	299
.91	د جينۍ درې څيزه مزه که ارتې پينڅې لويه سينه لنډ قدمونه	302
.92	وړوکې نهٔ ئې چې شرمېږې په جار نعرې که چې مئين دربانديې يمه	312
.93	لاس به دې غاړې ته پرېنږدم که تش ديدن چرې کوې رضا پرې يمه	314
.94	ستا په تهمت کښې ټوله رنګ شوم پاکه به نهٔ شم که درياب ته ودانګمه	316
.95	هر څوک چې څه وائي رښتيا دي زما په سپينو جامو پرېوته داغونه	319
.96	زهٔ دې په خپل کور کښې زړه کړم د پېغلتوب باغ مې خزان لوټ کړو مئينه	321
.97	يو کال به بل هم درته تير کړم زيارت خو نهٔ ئې چې زيارت به دې کومه	322
.98	په نصيبه مې دا پرته وه ما خو د داسې خلقو در ته نهٔ کاتهٔ نه	324

.99	ستا به وادهٔ زما به مرګ وي ستا به ډولۍ زما به قبر وي مئينه	325
.100	تا چې ديوال ته رانه مخ کړو زهٔ دې د پلار د کوره څله راوستمه	327
.101	**باب**: 7 لقد خلقنا الانسان فی احسن تقويم	329
.102	په دې خائستؤ خدای مئين دې چې هر اندام ئې رغوي په قدرتونه	330
.103	چې سر زما وي څنګل ستا وي د هغه وخت په انتظار يم رابه شينه	331
.104	زلفې دې ول په ول پرتې دي په هر يو ول کښې ئې پراته د چل دامونه	334
.105	څنړې د هر چا په مخ خوند کا د خورشيدې په سر د سرو زرو تارونه	339
.106	مخ ته دې سم کتلې نه شم لکه د نمر شغلې مې سترګې بريښوينه	340
.107	سترګې خو سترګو نه شرمېږي دپنا شؤ سترګو څوک خاطر کوينه	342
.108	بانړه دې غشي فولادي دي سترګي ليندې کتل دې زړه غلبيل کوينه	354
.109	څوک چې په سپينه خله عادت شي د دنيا کل طعام په لته تل وهينه	356
.110	غاښ دې په خله کښې داسې ښکاري لکه صدف چې په الوان ټومبلې وينه	362

.111	لالې زما زۀ د لالي يمه که مې په خله کښې ژبه غواړې وربه ئې کړمه	362
.112	شونډې دې دواړه تکې سرې دي د چا د وينو دې بيا کړې دي غړپونه	363
.113	په سينه يو لالي ځائيږي څه درمن نه دې چې غوبل به پرې ترمه	366
.114	زړه په پردو دننه پټ دي حيران په دې يم چې دې څنګه مئين شينه	367
.115	بالښت د خاورې سرته کېږده بې ننګ ته نه ږدم سر د لاندې مړوندونه	378
.116	**باب: 8 باهو په لاس ګوتې په ګوته** **زرګره ټوله دې ياری، ته جوړه کړمه**	380
.117	ستا د چارګل په پرو غوټ شوم وړوکے لوے شوم جوړ مې نۀ شو پرهرونه	380
.118	پېزوانه څومره بخت بلند ئې د ناز مېرمن دې پاس په شونډو ګرځوينه	381
.119	تا چې خولۍ په وروځو کېښوه زۀ به نتکۍ په پوزه جګه ګرځومه	384
.120	ټيکه دې پاس په تندي خوند کا لکه سپوږمۍ چې په آسمان پړقا کوينه	385
.121	اوربۍ د غاړې بنديوانه زۀ بنديوانه د اشنا د غاړې يمه	386

.122	ما له پنځۀ ګوتې د سرو که په دواړه لاسه به دې پښې چاپې کومه	387
.123	د پېکړو شنړا راخېژي ما ته ښکارېږي جينکۍ ګودر له ځينه	388
.124	خالونه واړه دې خالونه د زنې خاله نوکري به دې کومه	389
.125	بنګړي په لاس که اوګډېږه ګډه به تۀ شې خوند به ما له راکوينه	392
.126	جانانه تور پټکې پېدا که په سر به ستا وي خوند به ما له راکوينه	395
.127	ما به دې تا کبر کړي خواره چې سر دې يو شملې دې دوه پرېښې دينه	396
.128	سالو مې دوه رنګ په سر دې په چا ئې اختر که چاله ئې ورکړل ډېر غمونه	397
.129	ګل د ګلاب به شرمنده شې که شاه ليلي پلوله مخ لرې کړينه	398
.130	زما په سر توره چارړيه ور به دې نۀ کړم د خانانو په شالونه	399
.131	چې په فرياد مې پروا نۀ کړې اوس به دې مور ته ګرېوان پښو کښې اوشلومه	401
.132	باب: 9 خلق الانسان من علق الذي علم باالقلم	403
.133	چې خدای کوي هغه به اوشي	403

	د بنده خوشې اندیښنې تش تد بیرونه	
.134	که ګناه ګار یم د الله یم د دې دنیا د خلقو ولې بدې شمه	407
.135	رب خو دې وار د ځوانۍ تیر کا چې کبر ژن ځان ته دې فکر شي مئینه	408
.136	ضد د شیطان سره پکار دې چې بابا آدم ئې له جنت ویستلې وونه	409
.137	اصلي مذهب انسانیت دې انسانیت نه اوچت نشته مذهبونه	410
.138	د ژوندون پیټې دومره دروند دې ستړې ستومانه شوم له برمه پریوتمه	411
.139	لا شعور مور شعور ئې لور ده مور چې په خود کښې وي د لور کوي پالنه	414
.140	قلم پټ راز د زړه ښکاره کړي که قلم نه وي درد به څنګه ښکاریدنه	415
.141	خط مې د زړه په وینو کښل دې اول ئې ښکل کړه بیا ئې اولوله حرفونه	417
.142	د وصال باب مې پیدا نه کړو د عاشقۍ کتاب مې پاڼې پاڼې کنه	419
.143	طالبان واړه ملایان شول په ما مئین طالب او نه وي کتابونه	420
.144	طبیبه ښه واوره ځان پوه کړه توري بلا د عاشقۍ خوړلې یمه	422
.145	**باب: 10 په منډه نه ده په ټنډه ده**	424

.146	هر څه په بخت کېږي جانان بخت چې کوته شي عقل هم کډه کوينه	424
.147	په خوږه خله ژوندون جنت دې په بده خله د سړي کور جهنم شينه	429
.148	عالمه داسې زمانه شوه ښځواه به ښځې تښتېدې اوس ئې مړونه	432
.149	د دنيا درې ورځې ژوندون دې پرون راغلې نن دلې صبا به ځونه	434
.150	د دې عنوان دې اوتے بوتے دا به اوس مړی د لحد هم خندوينه	435
.151	نيستي بد بويه ده عالمه مئين اشنا په لارې ځي مخ پټوينه	442
.152	**باب 11: خاورې د آدم چې کړې خمير فرشتگانو درست ئې په غمونو په دردونو ولاړه**	445
.153	ختمه ترې جوړه د آدم ده په کښې اخلې د دنيا واړه غمونه	445
.154	يارانو راشئ سره ژاړو پوره به نه شي د نابو دې ارمانونه	451
.155	ارمان به هله زما درشي چې سور پالنګ مې درته خوشې پاتې شينه	453
.156	وار به دې تير شي زيړه ګله بويه چې بيا سپرلې راځي سپړې ګلونه	454
.157	که هيره ووم دې نه هيرېږې په زړه وربېږي ستا شيبې شيبې يادونه	456

158.	مرګې خو شته خلاصې ترې نشته زما سلګۍ د یار ستا په غېږ کښې وینه	458
159.	قبر په ناست خازې پرې ماتې زما زړګې ئې د راتلو طمع کوینه	461
160.	د باجوړو پښتو پوره شوه مامونځ سرو وینو کښې لتې ټکوینه	464
161.	زړګیه چوې که پاتې کېږې جانان د تور لحد بندې شو نۀ راځینه	466
162.	وار د رامداد د پګړۍ تېر شو نور مهمندان دې پګړۍ نۀ په سروینه	467
163.	اوس به سیند ډک د وینو راشې په تهانګۍ کښې شېر خانان حلال وینه	469
164.	مور ئې سرتوره په خاک ناسته د بخت منیر وېر ئې په سرو غرمو کاونه	469
165.	صحبت خان مړ ارمان ئې اوکړو زاړه مې نۀ کړل د سنبل د لور داجونه	470
166.	د قاهرې د لورې باده په مسافر داجې مې وایه سلامونه	470
167.	شېر علي خانه قلم کېږده سوال له بادشاه کړه چې ایمان دې نصیب شینه	472
168.	مآخز	474

تعارف

پروفیسرډاکټر میر حاتم په **10** مۍ **1942**ء کښې په پلوسه (موجوده باچاخان یونیورسټې) کښې د سیدجمال ابن معزالله خان په کور کښې پیدا شو. په قام شاهي کور اتمرخېل بایزی مهمند دی. ابتدايي تعلیم یې په پرائمري سکول ابراهیم زي مډل سکول شکر ډنډ او هائی سکول چارسده کښې حاصل که.

په اسلامیه کالج پېښور کښې په کال **1958**ء کښې په ایګریکلچر کښې داخل شو. د زرعي کالج پېښور یونیورسټې نه **1965** کښې ایم ایس سي انرز ډګري واخسته. د یونیورسټي آف ګلف کنیډا نه یې په **1972**ء کښې د زرعي سائنس ډګري راوړه او په **1988**ء کښې یې د سندهایګریکلچر یونیورسټې ټنډو جام نه د پي ایچ ډي ډګري تر لاسه کړه. ددې نه علاوه یې په پرائیویټ توګه د پېښور یونیورسټی نه په **1967**ء کښې د ایم اے پښتو ډګري او په **1981**ء کښې د عربي ډپلومه حاصله کړ. په ایم ایس سي انرز کښې ګولډ مډل ایم اے پښتو کښې صدارتي ایوارډ او عربي ډپلومه کښې فسټ کلاس فسټ ایوارډ ورته ملاؤ شو او په ۲۰۰۲ء کښې په زرعي سائنس کښې د تمغه امتیاز خاوند شو.

د زرعي کالج پېښور په اګرانومي ډیپارټمنټ کښې یې په **1965**ء کښې بطور ډیمانسټریټر نوکري شروع کړه او په کال **2002**ء کښې بطور میري ټورلیس پروفېسر په ګریډ **21** کښې ریټائر شو. نهه کاله د ډیپارټمنت چیرمېن او درې کاله د فیکلټي آف کراپ پراډکشن ډین پاتې شو.

ددین ابتدايي زده کړه او علم تر خلاصه او مُنیه پورې یې د خپل کلي د پیش امام نه وکړو. په **61- 1960**ء کښې د حضرت مولانا محمد اشرف سلېماني نه بیعت شو.

د ډېرشو کالونه سېوا دخپل شېخ سره په حضر او سفر دواړو کښې په صحبت کښې پاتې شو.

د حجونو عمرو او دیوبند، ندوي او تهانه بهون د سفرونو سعادت ورته د شېخ په صحبت کښې حاصل شو. د شېخ نه ورته خلافت ملاؤ شو او د سلسلې خلیفه مجاز بیعت شو. د خپل انګریزي- سائنس د تصنیفاتو او مقالاتو نه علاوه د اردو او پښتو د لسو کتابونو مصنف دی. **34**- پروفېسرکالوني نزد زرعي یونیورسټي پېښور یې د سر سوری دی.

مقدمه

ټپې د پښتو اولسي ادب دومره پخوانې او قدیم صنف دې ځومره چې د پښتو اولسي ادب او تاریخ دې. ټپې د پښتنو د ساده او سوچه جذباتو او احساساتو اظهار، د پښتون معاشرې او ثقافت ترجماني او د زمانو او پیړو ریکارډ دې. ټپې د پښتو ژبې خپل واحد تخلیق دې چې په نورو ژبو کښې نشته. په تمامې پختونخواه کښې عالمګیر او یو شان مقبول دې. ټپې د پښتون قام د ژوند د هر وګړې د روح عکس، د زړه آواز، د سکون او اطمینان ذریعه د تصنع نه بیخې پاک داسې بهیر دې چې پښتون پرمست دې.

د ټپو شاعر نه دې معلوم. دا د هر چا دې خو د هیچا نه دې او نه دا د لویو شاعرانو، دانشورانو او فلاسفرانو کلام دې او نه د ډمانو پیداوار دې بلکې دا د ګمنامو زلمو پیغلو، میرمنو او ښاغلو هغه لوغړن دودونه دي چې د دنیا په کار زار کښې د مشغولتیا سره د هغوي د خلې نه اووتي دي.

د محترم حبیب الله خان خټک د وینا مطابق که د پښتنو د ادب او ثقافت ټول تاریخ د اباسین خړ سیلاب یوسي او صرف ټپې پاتې شي. نو دا یقیني خبره ده چې به بیا د ټپو نه مرتب او مکمل کړې شي.

په عام شاعرې کښې شاعر یک یواځې چرته په یو خاموش کونه کښې په خپلو خیالاتو کښې غرق ناست وي. ورود پرکیږي دې هغه په خلې وائي او یا ئې په قلم لیکي. شاعر عموماً نه مخامخ چاته مخاطب وي او نه د چا سره متکلم وي. د ټپو حالت د دې نه بدل ښکاري د ټپې ویونکې داسې ښکاري لکه چې د دنیا په کار زار کښې بوخته د چا سره بالمشافه متکلم دې. او د یو بل سره د سوال جواب سلسله روانه ده. چې سوال هم د ټپې په شکل کښې او جواب هم د ټپې په شکل کښې دي. اکثر دوه کسان په پټئ کښې لګیا دي یا په جوپه پسې روان دي. یو ټپه وائي بل د هغې جواب کوي او مجلسیان خود جوابي ټپو خاص اهتمام کوي. دوه کسان په ضد سره لګیا وي او یا هم یو تن د خپل سوال جواب د ټپې په شکل کښې کوي. مطلب دا چې جوابي ټپې څه نوې څیز نه دې.

بلکه په عوامو کښې د جوابي ټپو رواج په څۀ نه څۀ شکل کښې موجود وو او اوس هم دې.

ماته په اول ځل د جوابي ټپو خيال او احساس د حبيب الله خان خټک د کتاب ''زر تراشې'' نه راغلے. هغه د جوابي ټپو ذکر په يو شانداره او خوند ناکه طريقه باندې کړې. چې د دير کوهستان د لوړو غرونو په څوکه باندې د ګډو بيزو د شپنو سره مې شپه وه. تير ماسخوتن هغوي د شمعو په رنړا کښې د رباب منګي مجلس د جوابي ټپو سره جوړ کړو. دا مجلس او محفل د غر په سر په شنه چراګاه کښې د ګډو بيزو په مينځ کښې د آبادۍ نه لرې په داسې ځاے کښې وو چرته چې نه د سپو غپار راتلو او نه د چرګانو اذانونه. په توروتيارو کښې د خاموشۍ په دې سمندر کښې د رباب منګي سماں او جوابي ټپو انګازې مې تر اوسه نه هيرېږي. او چې کله ما مولف په ټپو يو نظر واچوؤ. نو هغه راته ټولې د سوال او جواب په شکل کښې جوابي ښکاره شوې. او خيال مې پيدا شو چې که چرته دا جوابي ټپې راجمع کړې شي او ترتيب ورته ورکړې شي نو د پښتو ادب دپاره به ښکلې اثاثه او د لوستونکو دپاره به د خوند سامان جوړ شي.

د جوابي ټپې نه مطلب دې د دوه داسې ټپو جوړې چې يو ټپه سوال وي او بله د هغې جواب وي. د سوال و جواب ربط کله ډير مضبوط، ايغ په نيغ وي او ټک په ټک وي او کله ډير کمزورې په اشارو کنايو کښې وي. خو د سوال جواب ربط په څه نه څۀ شکل کښې موجود وي. که دوه ټپې داسې وي چې د يو بل سره ئې د سوال وجواب هيڅ ربط نه وي. يعني د دې مثال مصداق وي. چې ''سوال ګندم جواب چنا'' نو د هغې جوړې ته جوابي ټپه نه شي وئيلې. د سوال او جواب شکلونه مختلف دي. کله خو يو کس يعني هلک يا جينۍ په يو ټپه کښې سوال کوي او بل کس يعني جينۍ يا هلک په بله ټپه کښې د هغې جواب کوي. او کله هم يو کس پخپله سوال کوي او پخپله د هغوي جواب کوي . د جواب شکلونه هم مختلف دي. کله جواب په اثبات کښې وي او کله په نفي کښې داسې هم کيږي چې يو ټپه سوال کوي او بله ټپه هم د دغه سوال مزيد تائيد او تاکيد کوي. د بعضې جوابي ټپې جوړې داسې وي چې اوله ټپه د پښتو ضرب المثل وي

او دويمه ټپه د هغې د حقيقت اقرار وي عرض دا چې د جوابي ټپو او د هغې د سوالونو او جوابونو دومره ډير شکلونه دي. چې د بيل ځان له موضوع تقاضه کوي . دلته بس دومره تفصيل ډير دې.

د اسانتيا او سهولت دپاره مونږ د يو قسم او نوع جوابي ټپې د بيل بيل باب لاندې جمع کړې دي او بيا په هغه باب کښې د نوعيت په بنياد باندې تقسيم کړې دي د يو نوع جوابي ټپې مو د بيل بيل ذيلي عنوان لاندې جمع کړې دي. او د هغه نوع ذيلي عنوان مو يو داسې ټپه ايښې ده چې د هغه نوع پوره پوره ترجماني کوي. د مثال په طور د ديدن د جوابي ټپو ذيلي عنوان دا ټپه ده.

ديدن د بادو پيمانه ده

نه پرې مړېږم نه ترې پنډ تړلې شمه

زه پوهېږم چې زما دې خشک تقرير به تاله هيڅ خوند نه وي درکړې او نه به پرې پوهه شوې ئې. خو که د کتاب فهرست اوګورې نو زۀ چې دا څه وايم دا ټول به درته ډير اسان په عملي شکل کښې ښکاره شي.

ټپې د پښتنو زلمو پيغلو ميرمنو او ښاغلو د زړه آواز او د خلې وينا ده. چې په لويه اوږده زمانه باندې محيط ده. د مولف د ټپې د معيار د هغې د پاکيزګۍ بې باکۍ او سپکاوي سره څۀ کردار نشته. او نه مؤلف جوړې کړې دي هغه صرف راجمع کړې دې او ترتيب ئې ورکړې دې. او په راجمع کولو کښې ئې دا خيال ساتلې دې چې د پښتون ثقافت سره خيانت اونه شي. که بعض ټپې تاسو ته چرته غير معياري ښکاره شي نو دا د مولف ګناه نه ده. خو مولف بيا هم ستاسو نه لکه د غني خان بابا د کاتب په شان معافي غواړي. غني بابا آزاد شاعر وو. وائي چې يو ملا کاتب ته ئې د خپل کتاب مسوده د نقل کولو او چهاپ دپاره ورکړه. چې بعض شعرونه به د کاتب مخې ته راغلل نو هغه به قلم کاغذ کيښود او لاس به ئې اوچت کړل چې خدايه دا شعرونه زه ليکم خو زما نه دي. ما پرې او نۀ نيسې.

هره جوابي ټپه په خپل ځان کښې پوره ده د مزید تشریع او وضاحت ضرورت په کښې نه ښکاري په دې وجه کتاب کښې د نثر حصه ډیره کمه ده . تاسو ته به په بعض ځایونو کښې د ټپو تکرار ښکاریږي. د هغې وجه دا ده چې ټپې مختلفو خلقو په مختلفو وختونو او زمانو کښې د مختلف حالاتو د اثر لاندې وئیلې دي. بیا د یو ټپې د سوال مختلف جوابونه شوي دې بل دا چې په یوه ټپه کښې د یو نه زیات عنوانات موجود وي نو هغه یوه ټپه د بیل بیل عنوان لاندې بار بار هم راتلې شي. خیر مونږ کوشش دا کړې چې یوه ټپه یو وار د یو عنوان لاندې راشي خو که د یو نه علاوه دنورو عنواناتو لاندې هم راشي نو دا څۀ معیوبه نه ده. چونکې د کتاب عنوان دې "جوابي ټپې" په دې وجه لوستونکې به اول دې ته نظر کوي چې په جوابي ټپه کښې د سوال او جواب ربط شته او که نه. د دې نه علاوه نور څیزونه بیا ثانوي حیثیت لري.

د کتاب د بابونو عنوانات او په هر باب کښې ذیلي عنوانات مونږ دیر په سوچ سمج او احیتاط سره ایښې دي چې ډیر په اسانه تر معلومیدې شي چې په دې باب کښې څه دي او د دې ذیلي عنوان لاندې څه دي په دې وجه په مزید تفصیل باندې مزید وخت لګول نه غواړو.

زۀ د هغۀ ټولو پروفیسرانو، سکالرانو او دانشورانو ډیر مشکور یم چا چې د دې کتاب په ترتیب تدوین او تصحیح کښې زمونږ مدد کړے دے- په کتاب باندې ئې خپل عالمانه فاضلانه تقریظات لیکلي دي او مونږ ته ئې بې بها مفیدې مشورې راکړې دي- د کتاب ټول ښائست د دوي د مدبرانه او محققانه مشورو او تبصرو نتیجه ده ورنه څه چتے او څه ئې ښوروا- د جناب حبیب الله خان خټک خصوصي شکر ګزار یم د چا د کتاب زر تراشے نه راته د جوابي ټپو خیال ملاؤ شو- د کتاب لیکلو جذبه پیدا شوه او بیا ئې د خپلې لائبریرۍ نه دومره مفید موذون او مناسب مواد راکړو چې د کتاب خیټه پرې ډکه شوه- د کتاب پاڼه پاڼه د هغۀ د دې نوازشاتو او مهربانو ګواه ده-

زۀ د هغه ټولو دوستانو او ملګرو هم شکریه ادا کوم چا چې د کتاب مواد په راټولولو کښې، کمپوز کولو، چاپ کولو، بائنډ کولو او خوررولو کښې مدد اوکړو- خاص

کړ د عبدالمجید صیب د منډو ترړو سترړو او رابطو ستائینه کوم، الله پاک دې دا کتاب قبول او مقبول کړي- او د پښتو ادب اثاثه دې اوګرځوي آمین-

په آخر کښې د خپلو نوسیو او د هغوي د مور عزرا مسز ډاکټر عاصم شکر ګذار یم چې زما په خدمت، سنبالښت، تیمار داري او خیال ساتلو کښې ئې هیڅ کسر پرینښوده. همیشه ئې زۀ دخپل پرهیزي خوراک، دوائیانو او د موسمي حالاتو مطابق د جامو کپړو دَ غم نه بې غمه اوساتلم. او د کتاب لیکلو مشغولتیا ته ئې فارغ کړم. برخوردار ډاکټر عاصم د ماخذ په لټون او د انټرنیټ په تلاش کښې کافي تعاون اوکړو. الله پاک د ټولو ته ډیرې خوشحالیے ورکړي.

پروفیسر ډاکټر میر حاتم

6 مارچ **2025**ء

5 رمضان المبارک **1446**ھ

جوابي ټپې

د ټپې سره مینه د پښتونخواه په خټه کښې اغږلے شوے ده د سوات سیمه هم د دې نه خالي نه ده. د پنځم شپږم کلاس د زمانے نه چې زما عمر به پنځلس شپاړس کال وؤ، ما په یو کاپۍ کښې په سوونو مصرعې راجمع کړې وې. خو زما د استوګنے ځاے حجره وه او د سنبالښت دپاره دلته یو طاق وو، چې ما به پۀ کښې خپل سامان ایښوده. څه موده پس زما د ټپو ټوله پنګه بې درکه شوه او په داسې لاس ورغله چې ماته ئې هیڅ پته اونه لګیده. ما خپلې ټپې د حروف تهجي په ترتیب کښې لیکلے وې او د جناب میر حاتم صاحب په شان دومره کوشش مې نه وو کړې کومه چې د هغوي خاصه ده. زما د راجمع شوو ټپو یو ساده نمونه تاسو لاندې کتې شئ.

آسماني تندر شوے جانان
په ما راپریوتے ذرے ذرے دې کړمه

او دې ویشتم پورته دې نۀ کړم
خلق ویشتلې مرغۍ ذر پورته کوینه

پاس په آسمان کښې شنړهار شو
چا وې ملوک دې د بدري دیدار له ځینه

د تورو خاورو مې زړه بد شو
ځوانان تر واخلې رالېږي تش پالنګونه

رامداد ئې سور په وینو راوړه
مور ئې ړنده شوه په بازو خله لګوینه

زما به هله قدر درشي
چې کټ مې واخلي تورو خاورو له مې وړينه

ښپلۍ ټينګې راپه پښتو کړې
ښاخۍ راکړه اوس مې غنوله ليږينه

که بيګانے خوب مې رښتيا وي
اوس به بادشاه وي راپسې به وه فوځونه

ماته په سترګو کښې حال وايه
لارې کوڅے د غمازانو ډکې دينه

نصيبه اوچ کوهي ته ارتاؤ شې
چې ته راخيژے زۀ د پاټکې ورانومه

په 5 اپريل 1957ء کښې ما يو خپل کلي وال دوست ته په خط کښې د ټپو حواست په دې طرز باندې اوکړو.

خط چې ليکے ماته ته
دا مهرباني اوکړه او مې منه سوال

اوليکه مصرعې په کښې ښکلې ښۀ ټپې پۀ کښې
نوې په خوند ښه په کښې ښۀ چې ئې وي قال

خط پخپله د مصرعو نه شروع دې

کرم دا دعا درته جمشيده
د ماه خورشيد رب دې درکړي ډير عمرونه

تلوار کوه کاغذ لاړشه
په خوږ اشنا باندې مې وایه سلامونه

د خط په جواب کښې هغه هم څو مصرعې اولیکلے چې څه راته اوس هم یادې دي.

د غره په سر هوسۍ نعرې کړې
تا زیانو اوشلول د غاړې زنځیرونه

کونتره باز یوړه عالمه
طوطي پرې سره مخوکه ناست چې بد نام شومه

ټپو ته مصرعې په دې وجه هم وائي. چې د مصرې نانباتو په شان خوږې او اثر دارې دي. زمونږ په علاقه کښې دا خبره مشهوره ده چې کله سیدو بابا دا ټپه واورېده.

چې خوب کوي خاورې به واخلي
شاه د هغو چې شوګیرې ورته کوینه

نو وې فرمائېل چې د شپې به مې څۀ لږ ډېر خوب کولو د هغې نه د هم اوویستم میر حاتم صاحب چې پخپله د ورګې نه روګ اوباسي. د هغه ټول ژوند د دې خبرې شاهد دې. د دوي پیدائش په هشنغر کښې په پلوسه نومي کلي کښې وو. او د پلوسې نه کنډرا اوخکل د دوي په ټول عمر حاوي دي.

زما سره د **1964**ء نه پیوست شوي دي. او زمونږ ټول ژوند یو بل سره داسې تیر شوې دې لکه انسان سره د هغه سوري. په یوه کمره کښې په یو هاسټل کښې په کلونو پاتې شوي یو کورونه مو د یو بل سره نزدې او زړونه مو د یو بل سره تړلي وو . مستقل سکونت مو اوس په پروفیسر کالوني کښې یو ځائے تیرېږي چې لا تر کومه به وي. او که چرته جدا شوي هم یو نو د خط و کتابت او ټیلفون رابطه به قائمه وه د دوې په تعلیم او نوکرې مستقل کړاؤ او اعلیٰ درجے ته رسیدل هم د دوي برخه ده زما غندې کس ورته صرف د لرې نه کتې شي.

پروفیسر میر حاتم صاحب د حبیب الله خان خټک د کتاب ''زرتراشے'' او په هغې کښې د جوابي ټپو نه دومره متاثره شو چې په هغې پسې اولګیدو اوس به ئې ترې خدائے خلاصه وي. د مهمندو سختې هسې هم مشهوره ده. په رحمان بابا پورې د دوې تختل د دې شاهد دي. چې د هغه په دیوان ئې څومره پانړې تورې کړې. او څومره کتابونه ئې ترې چاپ کړل او په تیره تیره د دوي کوشش په کتاب کلمات و ملغوظات مولانا محمد اشرف سلیماني کښې د خپل شیخ حضرت مولانا محمد اشرف سلیمانيؒ اقوال راجمع کول داسې دي لکه چې د میګو د خلے نه دانے راجمع کوي او انبار ترې جوړه وي. او بیا ورته د خوردبین په سترګو اوګوري او بیل بیل ډیري ترې نه جوړ کړي۔

ټپې هسې هم زمونږ نه خلاصې نه دي. او ډیر کار پرې شوې دې. مګر جوابي ټپې چې د ټپو یو قسم دې. میر حاتم صاحب یوه نوې دروازه پرانسته. او لا خو لګیا دي چې نور به پرې څومره کتابونه لیکي. موجوده کتاب ''جوابي ټپې'' دوي په یولس بابونو تقسیم کړې دې. او بیا په هر باب کښې ئې ذیلي فصلونه جوړ کړي دي. او د خپلې زیر کئ او کړاؤ یو نوې ریکارډ ئې قایم کړې دې. چې په هر یو ذیلي فصل کښې ئې داسې مناسب مواد جمع کړې دې چې ما غندې کس دپاره ئې د حیرت یو عجیبه منظر تیار کړې دې. دوي د خپل موضوع سره ډیر وفاداري ښکاره کړې ده ټول ځنګلونه ئې لټولي دي او خپل مطلب ئې ترې تر سره کړې دې. د مواد په لټون او اخذ کښې ئې دیانتداري کړې او خیانت ئې نۀ دې کړې. لکه د هوښیار ښکاري ئې هر ځنګل کچ کړې، هره کوڅه ئې کتلې او د هر ګوټ تالاشي ئې اغستې ده. د کتاب مآخذ دا هر څه په ډاګه کړي دي.

زما یار داسې په خپل کار کښې ماهر دې
چې حېرت ګوته په خله ورته شاعر دي

د قلم نه ئې لعلونه را دورېږي
په بیان کښې ئې څه ډیر عجب تاثیر دې

سخت موضوع د ده په ژبه لکه موم شي
داسے وایه چې په هر کلام قادر دي

دا انسان دې که پیرې دي که بل شي دې
چې په رنګا رنګ شکلونو کښې ظاهر دې

که ډیر عمر دې زما ورسره شوې
مګر بیا زما د پوهے نه باهر دې

د مواد په تکل کله چې دې لاړ شي
دا نه ګوري مسلمان دې که کافر دې

د لټون نه پس بیا داسې محل ګوري
ته به وائې چې مثال د ساحر دې

د محل مناسبت کښې ښه زیرک دې
سراج وائې عقل پوهه ئې جاګیر دي

پروفیسر ډاکټر محمد سراج سواتي

12 مئي **2025**ء بروز پیر

13 ذی القعده **1446**ھ

بسم الله الرحمن الرحیم

ټپہ زمونږ دومره زوړصنف دے چې څومره د اسان تاریخ دے پدی باندی بحث د مولف مخکني چهاپ کتاب کښې شوے دی-یو ټپہ ده چې دا پدی ټول کتاب کښې نشته پہ هغې بحث کول غواړم هغہ داده ۔

تا نه د سیند یارانه ښه ده
مړے اوبه د سر د پاسه ګرزوینه

د قدرت یو عجیبه قانون دے هغہ پدی ټپہ کښې واضح دے چې سیند مړے نه قبلوي بلکه دا د زمکې امانت دے چې بنیادم نه ساه اوځي نو اوبه مړے د سر د پاسه راوخیژوي او دغه انسانان دنورو رسوماتو نه پس زمکې ته حواله کړي ځکه د سیند یارانه د انسانانو نه ښه ښودلے شوې ده ۔ ټپہ یوقسم د ځان علاج دے- هم ډیل کاریکی لیکی که چرته ډپریشن کښې لاړ شي نو پټو ته اوځه او په زوره زوره یو څو ټپې اوکړه دے سره به ستا کتارسس اوشي او زړه به دے سپک شي- جوړه ټپې دپښتو فولکلوري داستانونه روماني قیصی په تکنیکي اندازکښې لیکلے شوي- پدے ذکر شوي کتاب کښې هر اړخیزے ټپې راوړلے شوي دي- چې زمونږ د تهذیب تمدن ثقافت معاشرتی اقتصادی او د فولکلور په ښه اندازکښې نمائندګی کوي-

زه سوچ کوم چې مولف څومره بختور دے چې ژوند د هغہ د وړکوالې، ځواني د دور هغہ ټول عکسونه د دی ټپو په صورت کښې اولیدل کوم چې د هغوي ماضي سره تعلق لري حجره جماعت ګودر او نور فولکلوري اصناف د سترګو وړاندے تیر شوے دي چې انسان ورسره نفسیاتي طور بیا ځوان شي- پدي ټپہ کښې څہ ښکلي عکاسي شوے ده ۔

په کوڅه ډیرې پیرې اوکړه
مدام به نه وې غورځیدلی دیوالونه

چې ډوډې خورم دادا قهریږې
چې روپۍ شړنګ کړې دادا شین د خندا شینه

غریبې هم نن سبا یو عیب دے او بیا چې کبرژن آشنا د په برخه شې نو دا ژوند عذاب کوې ـ

یو دی غریب پیدا کړم خدایه
بل دے مئین په کبرژنه جنئ کړمه

لکه چې ما مخکښې ذکر اوکړو "جوابي ټپې" د مکالمې په شکل کښې هم لیکلے شي۔ چې لوستونکے او اوریدونکے تر ډیر خوند او مزه اخلی ۔ زما دعا ده چې الله تعالیٰ دے پروفیسر ډاکټر میر حاتم صیب له ډیر ژوند ورکړې چې دغه شان د پښتو ځولې د ښو ښو کتابونو ډکه وی ـ آمین

پروفیسرډاکټراحمدعلی عاجز
پیښور پوهنتون
نیټه ـ **30/06/2025**

پښتو ټپه روایت کۀ روایت شکن

ټپه د پښتو منظوم ادب خالص خپل صنف دے او تر دې دمه وربانديې ډیر زیات کار هم شوے دے که دا اووایو نو بې ځایه به نۀ وي چې د بل کوم صنف په مقابله کښې د ټپې په حقله زیات کار شوے او شاید وجه به ئې دا وي چې د ټپې لمن ډیره فراخه ده په فنی توګه اګر چې د پوهانو مطابق یوه نیمه مصرعه ده ولې په فکري جوړ له دومره غزیدلې ده چې زما په خیال داسې موضوع نشته چې د پښتو ټپې په کینوس به نۀ وي تصویر شوي او د دې وجه دا ده چې یو خو ټپې د پښتنو سره د زرګونو کالو د تاریخ دا ټول مزل ځنګ په ځنګ کړے دے او بل د دې صنف دا وړه سینه پښتو نارینؤ او زنانؤ د خپلو ارمانونو ، رومانو ، جذباتو ، احساساتو ، اقدارو او افکارو امین ګرځولې ده چې څۀ هم د دوي داخلي او خارجي محسوسات رامخې ته شوې دي نو په ټپه ئې پیرزو کړې دي۔

پښتو ټپې د پښتنو د اولسي ژوند دغه ټولې هلې ځلې او د ذاتي ژوند خوشحالۍ، بې وسۍ، محرومۍ، تکلونه ، ارمانونه ، حسرتونه او امیدونه په خپله لمن کښې داسې محفوظ ساتلې دي چې روایت ترې ساز شوے دے او د چا ویونکي ذاتي تجربه یا مشاهده اولس د ټپې په صورت کښې داسې قبوله کړې ده چې هر چا د ځان ګڼلې ده.

لکه د مثال په طور دا ټپې چې هر چا وئیلې دي کله ئې وئیلې دي محسوسات ئې څه وو ، د عمر په کومه برخه کښې به ئې وئیلې وي. ولې د قبولیت داسې درجې ته رسیدلې دي چې هر څوک ئې خپلې ګڼي.

یا به زما نصیب کوټه وي
یا به دا ټولې یارانې دغسې وینه

لکه چې تۀ ئې داسې زۀ ووم
داسې به تۀ شې لکه زۀ چې څنګه شومه

سالو مې پاس په پړي زوړ شو
پېزوان مې زنګ شو لالے تورې خاورې شونه

جانان زما د سر سالو دے
د سر سالو پېغلې په خپله زړوينه

ګلاب د اصله شهزاده دے
رامبېل چامبېل ئې نوکران نيولې دينه

په سفر تلے درجګه نه شوم
مرور مه شې زۀ سلګو نيولې وومه

دا په بېلا بېلو موضوعاتو ټپې دلته په دې ذکر شوے چې دغه محسوسات مخې ته کېږدو چې نۀ خو د دې ټپو علاقه معلومه ده او نه زمانه او نۀ د ويونکي څه درک شته خو دا ټپې زمونږ د ټولو په شريکه دي. دلته دا يوه خبره هم کوم چې که دا خيالات کوم شاعر په بل کوم صنف کښې بيان کړي نو شوک به ئې کله خپل او نۀ ګڼي بلکې ټول عمر به ئې د هغه شاعر خيالات ګڼي کۀ معلوم وي او که نۀ ـ ولې ټپه د چا نۀ ده او د هر چا ده په دې وجه زمونږ د رواياتو او خيالاتو د يو لوے تسلسل سره راروانه ده ولې دلته دا خبره هم زۀ محسوسوم چې دې ټپې چې دا کوم مقبوليت حاصل کړے دے نو دا ئې تش په دے نۀ دے ترلاسه کړے چې خپل سفر ئې په روايتي توګه جاري ساتلے دے بلکې هر وخت ئې د رواياتو بتان مات کړي دي. او مخ په وړاندې تلې ده ـ لکه د ټپې متعلق دا وئيلې شي چې دا اکثر د زنانۀ تخليق وي نو اوس کۀ اوکتلې شي چې د پښتنو چاپيرچل د قامي اقدارو پاسداري کوي ـ حيا او عزت د پښتنو صفت ګڼلې شي او بيا په خصوصي توګه د زنانۀ ـ ولې پښتو ټپه کښې چې کوم احساسات مخې ته راځي او دغه د پښتنو زنانۀ احساسات وي او زۀ ګڼم چې هم دغسې ده په دې چې دغه ښځينه جذبات او احساسات نارينه نۀ مشاهده کولې شي او نۀ ئې

بیانولے شي او کۀ کوشش اوکړي نو دغه سلاست او صداقت به په کښې نۀ وي چې اولس ئې قبول کړي.

لکه:

په کوڅه ډیرې پیرې اوکړه
مدام به نۀ وي نړېدلې دیوالونه

د کوټې تیر راباندې پروت وې
راباندې نۀ وې د بې ننګ سړي لاسونه

خاونده بیا دې ماسخوتن کړو
له نا رضا کټه مې ریږدي اندامونه

په نیمه شپه دې زړه راډک شه
په نیمه شپه مې سترګې ډنډ ولاړې دینه

د نیمې شپې راتګ دې ورک شه
سکروټې مړې شوې اوس ایرو ته ناسته یمه

په نیمه شپه له حجرې راغلے
اوس مې له خوبه پاسوې غواړې نازونه

د دې نه زیاتې حساس ټپې هم موجود دي چې د لوستونکو د نظره به تېر شوي وي کومې چې د دې چاپیر چل داسې تصویر وړاندې کوي کوم چې د دې چاپېرچل په روایاتو ګزار وي. دغسې ټولې ټپې کۀ اوڅېړلې شي او یا په دې حقله څېړنه اوشي نو په پښتو ټپه کښې روایت شکنې په پوره ډول مخې ته راتلې شي او د دې وجه به شاید دا وي چې زمونږ په چاپیر چل کښې ډېر بې ځایه قدغنونه د روایاتو یا اقدارو په نوم تپلے

شوي دي چې په نتيجه کښې ئې داسې ټپې د ويونکو د تخليقي سرچينو نه رازېږدلې دي ـ په دې چې د دغه مصنوعي اقدارو خلاف شائد هم د دغه نامعلومه ليکوال په دې صنف کښې د اظهار تکل جرأت يا بغاوت کېدې شي ـ ګنې کيتارسس خو ضرور وي-

دا بحث ډېر طويل دے او رښتيا دا ده چې ډېرې خبرې ورباندې کېږي ولې دلته دا په نظر کښې نيول دي چې محترم پروفيسر ډاکټر مير حاتم صيب بيا د خپل ضخيم ادبي کار سره زمونږ په وړاندې دے. بابا هر ځل يو نوے کار کوي او دا ځل ئې په ټپه دويم داسې علمي کار راغونډ کړے دے چې يقيناً د ستائيلو دے ـ ټپې ډېرو ليکوالو راغونډې کړې دي او هر چا ورله خپل خپل ترتيب ورکړے دے. د دې کتاب يولس بابونه دي چې د موضوعاتو په لحاظ ترتيب شوي دي ولې په هر باب کښې خپل زيلې موضوعات هم ټاکلې شوې دي چې سر خط ئې هم ټپه انتخاب شوې ده. دا به شايد د ټپې په نوې رنګ مرتب شوے کتاب وي چې د بابا پروفيسر ډاکټر امير حاتم صيب خواري او زيار پکښې ښکاره دے.

د پښتو ټپو دا کتاب د پښتو ادب په نړۍ کښې د دوي له خوا معتبره ډالۍ ده او نورې هيلې ترې هم لرو چې په راروان وخت کښې نور داسې د پښتو ژبې او ادب خدمت اوکړي.

په درناوي
ډاکټر شېر زمان سيماب
پښتو اکېډمي
پېښور پوهنتون

د سرے اور

ټپې اولسي شاعري ده اؤ زبردسته اولسي شاعري - په بيديا کښې ځاے په ځاے زرغون شوي رنګ په رنګ ګلونه دي - دا شاعري "آورد" نه ده بلکې "آمد" ده - د ګمنامو خلقو سپين سپيځلي جذبات دي چې د الفاظو جامه ئې اغوستې ده - د ټپو او سمندر يو مثال دے - سمندر ځان ته يوه دنيا ده - رنګ په رنګ کبان، ښکلي بوټي، څۀ لوے څۀ واړه، ځاے په ځاے شنۀ ټاپوان، اوبۀ کلۀ خوږې کله مالګينې، چرته سکون چرته مستقل خپلو غاړو سره شواخون - ډيرو پښتنو اديبانو ټپې راغونډې کړې دي - پروفيسر ډاکټر سلمیٰ شاهين، کتاب 'روهي سندرې' د ا، ب، ج په ترتيب سره د ټپو يو بيش بها خزانه ده - څۀ موده مخکښې پښتو اکيډمی د محمد نواز طائر صيب کتاب ' ټپه اؤ ژوند ' چاپ کړ ے وو چې د لوستو وړ دے - پروفيسرميرحاتم صيب کتاب " ټپې د پښتون ثقافت ترجما ني " ځان ته يو مقام لري - د ټپو مثال د غمي دې- چې څومره ئې زيات تراش خراش کيږي، دومره ئې ښائست زياتيږي، قيمت زياتيږي-

"جوابي ټپې" ټپو ته په يو بيل نظر کتل دي- ماته نۀ شي ياد چې د دې نۀ مخکښې چا اديب په دې رنګ په ټپو تحقيق کړې وي. جوابي ټپو ترتيب څۀ آسان کار نۀ دې. ژوره مطالعه غواړي، په ټپې ځان پوهول غواړي او بيا هم مزاجه ټپې يو ځاے ته راغونډول وي. د هم مزاجه ټپو پيژندلي ګرانه ده. دا په خپلو کښې مکمل اتفاق کيدے شي او هم دا ريل ګاډي د پاټلئ په شان په يو ځاے پرته خو يو ځاے کيږي نه. خپل انفراديت برقرار ساتي. ټپه محض د الفاظو ترون نۀ دے بلکې دا يو ژوندې حقيقت دې. د ګلاب پيژندلو دپاره دا ضروري ده چې ګلاب ورته وړاندې کړې شي. په رونړو سترګو ئې او ويني. په لاسونو کښې ئې محسوس کړي. د چمن نورو ګلونو سره ئې مقابله کړي. بيا به ورته اندازه اوشي چې ګلاب ته ولې د ګلونو بادشاه وئيلې شي. کله چې مونږ وايو چې ټپه د پښتنو د احساساتو ترجمان ده. د هر سړي او ميرمن د زړه آواز دې. د پښتنو د معاشرې تصوير او د ثقافت بيرغ دې. نو دا ضروري ده چې د ټپې پيژندلو د ټپې په ماحول کښې اوشي. او د دې غوره صورت د حجرې مئيلس دې. د جوړه ټپو کمال دا

دې چې اوریدونکي ځان سره په خپلو چپو کښې واخلي. چې یو ټپه ختمه شي نو خلق په انتظار وي چې بل کس به څۀ جواب ورکوي او دغسې دا سلسله روانه شي. د جوړه ټپو دا مکالمه د دې صرف یو اړخ دې چې یو سوال کوي او بل جواب.

اول کس:
ګل په لاس درته ولاړ یم
یا مې ګل واخله یا رخصت راکړه چې ځمه

دوئم کس :
په طمعه طمعه به د زوړ کړم
نه به د یار کړم نه به درکړم جوابونه

د دې بل اړخ دا دې چې یو کس ټپه اوکړي، دویم کس د هغې ټپې وړومبئ مصرعه راواخلي او دویمه مصرعه ئې بدله کړي. د داسې ټپو عجیبه خوند وي. یو ورته خوږ شربت ورکړي دویم په کښې نیمبو نچوړ کړي.

اوبه د بر ګودر خوږې دي
زۀ د آشنا د پاره کوز ګودر ته ځمه

اوبه د برګودر خوږې دي
زۀ د آشنا د پاره بر ګودر ته ځمه

(یو لفظ '' کوز '' او ''بر'' په معنیٰ کښې څومره غټ فرق راولي)

زما دې کم نصیب ته ګوره
آشنا په لویو خلقو ځان حسابه وینه

زما دې کم نصیب ته ګوره
مور ئې راضي پلار ئې ولور طمعه لرینه

د جوړه ټپو څلورم اړخ یا ډیر خونده ور دې. یو کس ټپه اوکړي دویم کس هم دغه مضمون په بل رنګ او وائي. د جوړه ټپو دا سلسله د دوه کسانو پورې محدوده نۀ

وي بلکې په دې کښې ډېر کسان برخه اخستې شي البته وار په وار. ټپې هسې هم د وار خوند کوي چې د اورېدونکو توجه کښې انتشار را نهٔ شي.

د ټپې وار راسره کېږده
ماله بې واره ټپې خوند نه راکوينه

د ټپو وئيونکي "يه قربان" ، "يکه زار"، يا د "زار زار " نه شروع وکړي. د خپل زړه حال په دوه ټکو کښې څرګند کړي. بيا ټپه شي -

کله وړومبنۍ مصرعه دوه ځله او وائي. چې د اورېدونکو پام ځان ته اوګرزوي. کله کله دويم کس د وړومبنۍ ټپې يو لفظ راواخلي او پېغام بدل کړي.

مازيګر وخت دې ښېرې مه کړه
ته به د نياز ښيرې کوې رښتيا به شينه

دا مازيګر چې ښنګه تېر شو
داسې به تېره شي دا ستا ليونۍ مينه

کله کله د ټپې څه الفاظ بيا بيا اوروي يا مصرعه په مينځ دوه ټکړې کړي. مطلب ئې دا وي چې په دې يو لفظ کښې ټول داستان پټ دې.

خدايه ګور ګورې ....ګور ګورې تورې مه کړې
دا جينکۍ سرې شونډې ځې تورې راوړينه

د مضمون "اشتراک" په لږ ساعت کښې د ټپو يو داسې وحدت جوړ کړي لکه تهري ډي**3D** فلم. لږ ساعت کتو نه پس داسې محسوسېږي چې زهٔ هم د فلم يو کردار يم. کشتۍ چې په کمر ورشي نو په سنيما هال کښې چغې شي لکه چې دوي هم په دې کشتۍ کښې سوارهٔ ؤو.

جوړه ټپو وئيل څۀ د عاشورې ماتم نۀ دې. کله چې غم، فراق، او د خفګان تاثر زيات شي نو وئيونکي يو داسې ټپه وړاندې کړي چې د حجرې د هر کس په زړۀ کښې ګوړې ماتې شي.

ګودر ته څم راپسې راشه
ما په منګي کښې پراټې راوړې دينه

د سپينې خلې ياران ئې نور دي
د شوتلو پنډو له ئې زۀ ساتلې يمه

د دې مئيلس نه د چا زړه غواړي چې پاسي خو د پښتنو ژوند سخت ژوند دے. سبا به سحر وختي پاسي؛ څوک به پټي ته ځي، څوک به د کاڼو مزدورئ ته اؤ څوک به پردي وطن ته په سفر روان وي- دغه وخت يو کس ورکښې ټپه شي.

يوه مصرعه سړي له بس وي
ډيرے مصرعے د سړي غم سيوا کوينه

بل کس هم ورسره خپل آواز ملګرې کړي.

يوه دې بله ورپسې وي
چې دا خفه ځوانان د خدائے خوشحاله کړينه

دا آخري مصرعه مې واورئ
بيا خدائے خبر دي چې به کله يو ځائے شونه

د حجرې ډيوه مړه کړې شي او خلق خپلو کورونو ته روان شي.

يوه بلبله راغله. د کيټس (د انګريزئ ژبے مشهور شاعر**Keats**) ورته پام شو. د دې مرغئ لږ ساعت ناستې د هغه شاهکار نظم **An Ode To Nightingale**تخليق باعث جوړ شو. کيټس حيران وؤ چې دا خوږ آهنګ بلبلې د چا نه زده کړې. دا

خوندور سُر ورته چا ښودلې- بلبله چرته مدرسې ته تلې نهٔ وه. د چا استاد لمن ئې نیولی نهٔ وه . دا خو دهغه چینو آواز ؤو چې په غرونو کښې بهیږې. دا خو د هغه پانړو تاړې وے چې د سحر صبا یخ بادونه ته پرے هر کلے وائي .

ټپې د بلبلو غږ دې. ټپه د رواجي عروض، بحر وزن پابنده نه ده. د غنائیت سره د ټپې هم آهنګ کیدل مصنوعي تکلفات نهٔ غواړي. دا خو یو فطري تړون دے.

د پښتو شفاهي ادب په لنډئ، غاړو، نیمکئ، مصرئیزو، ستائینو او لوبو پیژندے شي. په دې کښې ګنړي سندرې د ټپو بیل بیل ترتیبونه دي. د دې ټولو قدر مشترک دا دے چې په دې کښې هر صنف په اورېدونکو یو داسې کیفیت پیدا کوي چې هغه دا د خپل زړه آواز محسوسوي.

په اتنړ کښې ځوانان په دائره کښې ګډېږي. ټپو او د دوي د حرکاتو خپلو کښې مضبوط تړون وي. ټپې ویونکې ټپه ماته کړي.

کور ئې په کلي کښې معلوم دې
دا بام په سر ئې کشمالي......... کشمالي کرلی دینه

کله چې په کشمالي ټپه ماته کړي، د اتنړ ځوانان سمدستي اودرېږي، چې ټپه بیا شروع شي، ځوانان بیا قدم واخلي. یو بل مثال

خدایه ګور ګورې.......ګور ګورې تورې مه کړې
دا جینکئ سرې شونډې ځې تورې راوړینه

د ټپو آهنګ سره داسې رشته ده چې آهنګ تېز وي نو د خوشحالۍ ورمې خوروي او که آهنګ رو وي نو د خفګان ځادر خوروي. یو آسان مثال ئې دا مشهوره سندره ده. د سندرے سر کړئ ده.

یه وړې لیلو! باران دے، باران!

په خټکو کښې زمکې اوچې دي او باران ته ئې نظر وي- باران د خوشحالۍ زيرې وي. په تيز آهنګ سره د دې کړۍ سره تړلې ټپې د خوشحالۍ وي.

باران د زمکو آبادي ده
شيرينه ياره زۀ په تا آباده يمه

بارانه رو رو راورېږه
چې د اشنا کډې مې دلته پاتې شينه

چې د دې کړۍ سره آهنګ رو وي نو بيا ورسره هغه ټپې وئيلے کېږي چې د غم اؤ خفګان تاثر ورکوي.

بارانه رو رو راورېږه
د مسافر آشنا مې نشته دالانونه

باران د اوښکو پرې ورېږي
د زړه انګار مې وخت په وخت تازه کوينه

اوس څو خبرې د کتاب مؤلف په باره کښې: پروفيسر ډاکټر مير حاتم صيب د چارسدې مهمند، د يو زميندار کورنۍ غړې سوچه پښتون دے. چې لږ ورسره کښينې پاسې، دا به وائې چې د ټول عمر د جمات ګوټ کښې تير کړے دې. هډو دا يقين به دې نه رازي چې دا سپين ګيرې په زراعت کښې **Ph.D** دے، څلويښت کاله په زرعي يونيورسټۍ پېښور کښې استاد پاتې دے. نو بيا د ټپو سره ئې دومره تړون څنګه پيدا شو؟ الله پاک چې په ازل کښې ارواح پيدا کړل او پرې ئې د خپل ربوبيت تجلي اوکړه نو په هغه ورځ د هر انسان په زړه کښې د الله پاک د مينې يو داسې تخم اوکړلے شو چې خوش بخته انسان وي نو دا تعلق شجره طوبې جوړه شي. غالب وائې :

کوئی میرے دل سے پوچھے تیرے تیر نیم کش کو
یہ خلش کہاں سے ہوتی جو جگر کے پار ہوتا

مولانا رومي په خپله مشهوره مثنوي کښې وائي:

بشنو از نے چوں حکایت می کند
از جدائي ها شکایت می کند

شپیلۍ څه سندرې وائي؟ هغه خو د خپل فراق درد بیانوي چې د نل نه جدا شوي.

سید مهرعلي شاه ګولړوي مشهور بزرګ تیر شوے دے. د هغوي په سوانح کښې راځي چې په ګولړه کښې په ګاونډ کښې واده ؤو. په سندرو کښې چا د پنجابۍ دا سندره راواغسته :

اچی ڈھگی گھر سامنے میری ڈاڈھے ناں پریت
ناں توڑی، ناں توڑساں، ناں توڑنی دی ریت

ترجمه: (کورته مخامخ په لویه ډېه یو زورور کس سره مې مینه ده نه به مې پرېږدي، نه به ئې پرېږدمه او پرېښودن، نۀ زمونږ دستور دے) په وجد کښې راغلو.

زۀ د جانان، جانان زما دے
که په بازار مې خرڅوي ورسره ځما

پېښور یونیورسټۍ کښې د الله یو عاشق ؤو، مولانا محمد اشرف خان سلیماني نورالله مرقده. درے دریشت کاله ئې د مینې ډالۍ ویشلې. ډاکټر میر حاتم صیب دغه هستۍ سره د دیرشو کالو تعلق وو، په کور کښې حاضر په سفر کښې شریک. خپله وائي چې کله به مونږ چا ناآشنا ځائے کښې اولیدو نو تپوس به ئې اوکړو، مولانا صیب راغلے دې؟

د دې مينې ډالۍ ورته مولانا صيب ورکړې ده. مينه څۀ عجب شې دے. اوسپنه چې په اور کښې سره شي بيا ځان ته حيرانه وي چې زۀ اوسپنه يم که اور. دغه وخت انسان د الست په سرمدي ورمو کښې مست وي. سيد سليمان ندويؒ وائي .

کوئی ہو آواز میرے کان میں
ہر صدا آواز الا اللہ ہے

لنډه خبره دا ده چې په دغه حالت کښې د مرغو آواز، د چينو شور او هر آهنګ د الست سرمدي تار چيړي.

خشک تار و خشک چوب، خشک پوست
از کجا می آید ایں آواز دوست

د ټپو خصوصيت دا دې چې دا فطري آوازونه دي. قدرتي ښکلا ده. آفاقي نغمې دي. چې ډاکټر مير حاتم صيب ناقلاره نه کړي نو بيا به څوک کړي.

زما د زړه ناکاره رنځه
نه دې علاج شته نۀ دې حال وئيلے شمه

په امريکه کښې په دويم سيمسټر کښې **Ph.D** طالب علمانو دپاره يو مضمون **Economics of Technology** ؤو- زۀ د ماسټرز ابتدائي طالب ووم. په شوق کښې راغلم، ما هم دا مضمون واخستو. راتلونکې څلور مياشتې په ما دومره سختې تيرې شوې لکه چې ميعادي تبه وي. لشتم پشتم، مضمون خو ما پاس کړو. ولې د ټولو نه ښۀ خبره دا وه چې زما پروفيسر ما ته په ريمارکس کښې اوليکل. زۀ د مسټر حبيب الله خان همت ته شاباشي ورکوم چې خپل **Ph.D** ملګرو ته ئې کله هم ميدان خوشې نه دې پريښې. په هر مباحثه کښې به شريک وو. په ډيرو سوالونو ئې ځان هم سترې کړو او ماته ئې هم کار کتلې وو.

زۀ د میر حاتم صیب همت ته حیران یم. د تحقیقي ادارې مشر دې نه ورسره ریسرچ فیلوز موجود دي. په یوازې ځان دا دومره غټ کتاب لیکل غر په اوږه کول دي. د ټپو جمع کول دومره ګران کار نۀ دې. په کښې ملغلرې لټول د سړي وینې اوچې کړي.

ټپې زمونږ د پښتو ادب روښانه دنیا ده. د څو ادیبانو مینه ده چې د دې دنیا څۀ اړخونه ئې مونږ ته ښکاره کړي دي. بې شمېره ملغلرې اوس هم د سمندر په تل کښې پرتې دي. ضروري ده چې دا ملغلرې برسیره کړې شي. د پښتو ترویج دپاره قائمې شوې ادارې چې باید دا کار په خپل سر واخلي.

ماته په دې خبره کښې هیڅ شک نشته چې د ډاکټر میر حاتم صیب دا کار به په پښتو مئین ټول خلق ستائي او د پښتو کلاسیکي ادب په تحقیق کښې دا ځلنده کتاب به په ډېرو ښو الفاظ کښې یادېږي. الله پاک دي د دوي دا خواري قبوله کړي. آمین

حبیب الله خان خټک

حیات آباد، پېښور

27 جون 2025ء

اول محرم 1447ھ

جوابي ټپې لنډه جائزه

د جوابي ټپو د جاج اخستو نه مخکښې د ټپې نه لږ چاپيره ګرځم. ټپه د اولسي شاعرۍ هغه عالمګير زوراور منظر کش صنف دې چې اکثر په دې نومونو يادېږي.

(۱) ټپه (۲) مصرعه (۳) لنډۍ

۱- ټپه: د دے وجه تسميه ډيرې بيانېږي خو چې ورسره ډير نزدې سمون خوري هغه دا چې لکه ټاپي يا مهر په شان په زړه لګي يعنی د هر چا په زړه لکه د ټاپې يا مهر غوندې کار کوي. دغسے د مصرعے هم ډيرې وجې بيانېږي مصري. لکه چې مصرې تورې څنګه تيرې وي دغسے مصرعه هم د مصرې تورې په شان ګزار کوي.

۲- مصري: چيني خوږو ته هم وائي نو واقعی چې مصرعې ډير خوږ عنصر يعني صنف دې چې په زړه ډيرې خوږې لګي او لکه په زخم پهه يا ملهم اولګي په اولسي شاعري کښې چې خلق مصرعې څنګه په شوق او خوند اوري دومره نور خوند نه ورکوي او د دے وجه دا ده چې دا خبره په لنډو ختموي ټپه ځکه په لنډۍ هم يادېږي. د دې يو مصرعه لنډه وي او بعض وائي چې لکه د لنډۍ په زړه ګزار کوي هر څه چې ده خو دا به منې چې ټپه. ټپه ده او دا صنف په نورو ادبياتو کښې نشته دا خوش بختي. اعزاز. اعجاز ښکلے والې. خوږ والې خداے پښتو ته نصيب کړې دې.

په ټپه باندې ډيرو ليکوالانو پوهانو شاعرانو پوره، پوره کتابونه ترتيب کړي دي چې يو څو نومونه به ترې واخلم د ډاکټر پروفيسر محمد نواز طائر صيب خوږې مصرعې د چا د خولې يوه فولکلوري مطالعه ټپه او ژوند. ميرمن سلمٰی شاهين روهي ټپې د پروفيسر ډاکټر حنيف خليل نمائنده کتابونه دي د داور خان داور صيب پښتو ټپه. د نورالامين يوسفزئ فولکلور او د پښتو فولکلور د جوابي ټپو د مولف پروفيسر ډاکټر مير حاتم صيب يو جامع کتاب ټپې د پښتون قام ثقافت ترجماني ډير زړه پورې کوششونه او د پرمختګ په لور کوټلي ګامونه دي. ټپه د اولسي شاعرۍ ابتدائ صنف هم دې او آخري به هم وي ځکه چې دا صنف آخر کښې هم دومره زوره ور شه چې په لنډو کښې پوره منظر پوره واقعه ځان کښې رانغاړي ماته ياد دي چې مجلسيانو به ټپې شورو کړې نو خلقو به خپل ځانله په فال نيوي يو به وے دا ړومبۍ ځما ده بل به دويمه او ميرله حالانکه فال په دين کښې جائز نه

دي خو دا د ټپې اعجاز وو. چې خلقو به خپل قسمت ته منسوب کولې او دا ټپې سره د اولس او عوامو د مينې انتها وه په دې اولسي ادبي صنف کښې پښتون څومره خوش قسمته قوم دے. چې په داسې اولسي ادب کښې ئې ځائے په ځائے علويت او ارفيعت مجسم شوے دے. دا قوم چې نړۍ ئې په کومو خوبو پيژني دا د ټپې برکت دې. او ټپه ئې پخپله هم يو خوبي ده چې په ښه شان ئې څرګندونه کوي. چې پښتون يو مهذب تمدني په شتو شتمن قام دے. قام ولي عزيز والي او رور ولي ئې د ستور هم دې او کلتور هم په فني توګه ټپه دومره کوټلې منډلي وي چې سوچه والے ئې بريښي او کمال ئې دا دے چې کوم مضمون يعني موضوع. منظر يا واقعه بيانوي نو هغه پوره جامع يعني جاميعت سره بيانوي نه په وينا کښې څه خلا پاتې کوي او نه ئې په ابلاغ کښې څه کسر پرېږدي پوهان وائي چې ټپه د زنانوو تخليق دے يا اکثر ټپې زنانوو د زړه د تله رايستې دي دا هم حقيقت دے ځکه چې ډيرې ټپې د زنانه جذبات او کينيات څرګندوي. دے سره زه هم اتفاق کوم خو ډيرې ټپې سړو شاعرانو د ښځو د طرفه جوړې کړې دي خو داسے معلومېږي چې دا ګنې زنانه وئيلې ده لکه يعنی يو شاعر خپله ئې بې چې وفات شوې ده د هغې د طرفه ځان ته وائي. مشهوره سندره ده. "څنګه تېرېږي اشنا حال د نيمګړے دنيا وايه کنه."

زما مطلب دا دے چې سړې شاعر جوړه کړے ده معلومېږي د ښځې په جوابي ټپو کښې هم ډيرو سړو شاعرانو د ښځو کردار ادا کړے دے او ښو ښو بلند پايا شاعرانو ټپې جوړې کړې دي په اتلسمه(۱۸) نولسمه(۱۹) او شلمه (۲۰) پيړۍ کښې چې مونږه په ټپه مطالعه کوو نو دے شاعرانو ټپه ډير اوچت بام ته خيژولې ده او دومره زور ئې په کښې اچولے دے چې سړے ئې زور ته حيران شي بلکې زما په خيال په ټپه کښې د غزل نه زيات زور دې او زوره وره ټپه د انسان د زړه تل ته داسې کوزېږي چې په زړه کښې تل تر تله پرته وي. ډير محققين وائي چې ټپه د هيچا هم نه ده او د هر چا هم ده. دا منمه خو دا د زرګونو کالو مخکې خبرې دي او دا د هغه وخت خبرې دي چې شاعري ډيره معيوب ګنړلے شوه هغه وخت کښې به خلقو خپل شعرونه په پردي نوم يا په فرضي نوم ليکل خو چې په اتلسمه نولسمه شلمه صدۍ کښې د شاعرۍ ادب تحقيق قدر معلوم شو په دغه وخت کښې ډيرو اوچتو شاعرانو زوره ورے ټپے تخليق کړې دي مختصر به او وايم چې خداے دے اوبښي

علي حيدر جوشي صيب په ډيرو کتابونو کښې خپلې ټپې خوندي کړي دي لکه د هغه د يو کتاب رامداد خان نه دا ټپه اخلم.

غزن اسپه دې ړنده شه خومره په تيښته دې خپل مرګ له زغلوينه

غزن د رامداد خان مشر رور وو چې دشمنان ورته د وژلو دپاره د يو خوړ سره په تنګه لاره کښې ناست وو. بله ټپه ده:

رامداده پاس په هوا راشه لالا دے مري د روزې بند په خوړ دننه

دا ټپې د علي حيدر جوشي صيب د منظر کشې بهترينه نمونه ده او د علي حيدر جوشي خپلے جوړې ټپې دي او هغه ئې دعوی ګير هم دې دا خو هسې ما يو مثال پيش که د دغه وخت څومره ټپې اوګورې نو شاعر ئې هم شته او کتاب ئې هم شته د پښتو د ادب ډير صنفونه واقعاتي او مصنوعاتي منظر کشي کوي لکه رباعي. قيصه چاربيته نظم ټولو کښې شاعرانو منظر کشي کړے ده خو په ټپه کښې دا خصوصيت دے چې دا ډير په لنډو ټکو کښې منظر خوندي کوي لکه داسې به او وايو چې سمندر په کوزه کښې بندوي د ټپې د اسلوب بنيادي عنصر اشاره کنايه تمثيل او علامت دے خو دا اشارے او کنائے داسې وي چې هر څوک ورته رسيدے شي او هر څوک پرې په آسانه پوهېږي لکه

زما څلور څانګې جانانه د هرې څانګې دے خولۍ ګلونه ورومه

مطلب مې دا دے چې ټپه د پښتو ادب داسې صنف دې چې تعليم يافته او غير تعليم يافته ښځه او نر پرې دواړه په آسانه پوهېږي د هر صنف نه به څه پاتے وي خو د ټپې نه هيڅ څۀ موضوع پاتې نه دې. هر څه ئې په خپل لمن کښې نغښتې دي. ټپه کښې جماليات هم ډير زيات دي. بلکې داسې به او وايو ټپه د جمالياتو اعلی ترينه هنداره. ذوق نازک ترين او ښکلې خائسته صورت دې۔

که په ټپه زه بحث کوم نو دا په يو کتاب نه بلکې په کتابونو کښې هم نه ختمېږي او مقصدي کار چې د کتاب جائزه ده هغه حق به نيم ګړې پاتے کېږي نو ځکه د جوابي ټپو جائزه به واخلو ماته په وړو کوالي ياد شي چې مجلسيانو به مجلس شروع کوؤ نو د ټپې نه به ئې ابتداء کله کله کوله. نو په ټپو کښې به ئې څه سوالي ټپه وه او بل به د هغې جواب کوؤ بل صورت به دا وو چې په يو موضوع يا يو منظر لکه ګودر بيلتون ديدن يعني ټاپک به

شروع شوې نو هر يو كس به بيا هغه شان ټپه كوله او چې به ورسره نه شوه تكرار ولې نو بل ټاپک ته به ئې خبره واړوله. دغه شان ډاكټر پروفيسر مير حاتم صيب هغه جوابي ټپې راغونډې كړې دي چې د ډير لوے محنت كوشش زيار او كړاو كار ئې تر سره كړې دي. ډاكټر صيب جوابي ټپو شروعات د ډيرو كاميابو ټپو نه كړې دي لكه .

چارګل د پوزې رانه ورک شه　　بخيلې مورته به زۀ څۀ بهانه كومه

چارګل دې ما اخستې نۀ دې　　په دونكاچه دې مونځ كوه هلته به وينه

بيا چې مخكښې تګ كوي پښتانه پښتو پښتون د وطن مينه غزا د شهادت شوق. مسافرې په دين ننګ غيرت ديدن بيلتون هجران وغيره سره په مخه روان دے. قاري ئې هم ځان سره مدهوشه روان كړې دي او دې ټپې ته اورسي.

باهو په لاس ګوتې په ګوته　　زرګره ټوله دې ياري ته جوړه كړمه

داسې كتاب جوابي ټپې د دې نه مخكښې زما مخې ته نه دې راغلې نو زۀ په خپل خيال دعوے سره وايم چې دا د پښتو اولسي ادب ړومبې كتاب دې چې ډاكټر پروفيسر مير حاتم صيب ئې مولف دې ځكه ډاكټر صيب په اولنو كښې په دے حواله د را وستو حقدار دے دا ړومبې كوشش او زيار اوكړاو دې او دا د ايم فل او پي ايچ ډي سكالرانو له سودمند او فائده مند كتاب دې چې ډير په آسانه ترې زده كونكې استفاده كولې شي خداے دے ډاكټر مير حاتم صيب له د دے ډير لوے اجر ثواب وركړي چې د قام د بچو دپاره ئې دومره زيار او كړاو اوكه دا ډير لوے كار دے چې د بل غم اوكړي خپل غم هر سړے كولے شي خو بې او خاصيت دا دې چې د بل غم اوكړي. د پښتو په فلمونو كښې يو فلم "ديدن" ډير هټ شوے " دومره مشهور شوې وو په هغې كښې ډيرې زوروري ټپې وې زه د مثال په توګه يو دوه نقل كوم.

ديدن د سر په بدله دې　　چې سر ساتې خاورې به اوكړې ديدنونه

يار چې د يار كلي ته لاړ شي　　چې بې ديدنه ترې راځي نو مړ دې شينه

په دې ټپو دا فلم يوسنيما كښې د شپږو مياشتو نه زيات كال ته قريب چليدلې وو او په رش كښې ئې څۀ كمې نه وو راغلے. ډاكټر مير حاتم صيب هم مظبوطې زور

دارې ټپې د ديدن په موضوع غونډې کړې دي نو دعوى سره وايم چې دا کتاب جوابي ټپې به هم هغسې انشاء الله په ټاپ راځي په وړو کوالي ما د خپل مشرانو زميندارو په پوے پسے ټپې اوريدې.

ښه د خواجه چشتي دربار دې   چې ملنګان ترېنه په ډکه خولې ځينه

انشاء الله د ډاکټر مير حاتم صيب دا جوابي ټپې کتاب نه به هم طالب علمان ډکې جولۍ اوړې کتاب ډير خوندور دې خو چې قاري آخر ته اورسي نو د آخرت غم به شورو شي او ډاکټر صيب د دغه غمه ځپله هم ژاړي او نور هم ژړوي. او د آخرت غم وريادوي او اختتام ئې هم دغه درس دې چې د دنيا عمرلړ دے فاني دې او د بقا دپاره ځانله د قبر آخرت فکر اوکړي.

ډاکټر مير حاتم صيب ته دے جوابي ټپې کتاب ډير ډير مبارک شي او الله دے ورله عمر روغ صحت زيات استعداد ورکړي چې د پښتو موجوده او راتلونکې نسل له نور هم ډير څه اوکړي زه به خپلې خبرې په خپلو دې شعرونو راټولې کړم.

پښتو او پښتنو له صباؤن دے دا کتاب

ټپه ده خو فولکلور ژواک ژوندون دے دا کتاب

ايم فل او پي ايچ ډي کښې په آسانه طالب بيائي.

د زده کړي او د پوهې پوهنتون دے دا کتاب.

موضوع به داسې نه وي چې د دې نه به وي پاتې.

هم پير دې هم بيعت لره ماذون دې دا کتاب .

که نورې لارې هم وي خو دا لاره د منزل ده.

رهبر د پښتنو بچو د يون دے دا کتاب.

ډير ډير دې راجهان مبارک وي مير حاتم ته.

په ننګ غيرت او ژبه ښه پښتون دے دا کتاب.

سيد راج جهان هلال

12 مئي 2025ء

چې سرکونډۍ دې په مخ راشي
چې سرکونډۍ مې په مخ راشي
نو ماته وايه چې ټيکه در اولېږمه
رونړه مې ډير دي د چا څه پروا لرمه

رونړه دې ډير دې خداے دې ډير کړي
ته به ئې په مينه راته جوړ کړې
نامردې زۀ ئې درته په مينه جوړومه
خلق کم اصل دي پېغور به راکوينه

خلق به څنګه پېغور در کړي
مونږ خو به نۀ وايو حالونه
چې مونږ دواړه چاته نه وايو حالونه
خلق هښيار دي ګمانونه زغلوينه

په ظاهر جنګ به سره اوکړو
بدګماني د زړه مرض دې
چې ګماني خلق مو نه کړي تپوسونه
په بدګمانو باندې تل وي لعنتونه

○○○○

د جماعت توره طالب
تعويز به هاله درله اوکړم
ماله تعويز د نيم سيري اوکړه ميئنه
مورته دې وايه که تا ماله راکوينه

مور به مې خاورې تاله درکړي
طالبان ډير دي خداے دې ډير کړي
طالبان ډير دي زۀ به بل ته اووايمه
دَ نيم سيري د تعويز زۀ مړنې يمه

اس راته زین کړه چې ورخیژم
اس مې زین کړې دې ورخیژه

اس مې نیولې دې سوریږه
اس ته ورواوخوت راوانېږي

اس مې زین کړې روانېږم
اس دې زین کړې روانېږې

ته فکر مهٔ کړه بیا به راشم
ما به د ځان سره څه بوځې

زما دې ستا په سر قسم وي
ورځه ورځه په مخ دې ښه شه

د بیلتانه په ډاګ کښې ډیر دې مزلونه
ته مسافر د لږ ساعت راغلې ینه
خرچه به درکړم د سورکو شونډو سرونه
ځان مومن خان د هندوستان په طرف ځینه
زهٔ مسافر د لوے لارې درنه ځمه
زهٔ نیمه خوا نیمګړې چاته پاتې شومه
که هر څه کېږي تا به ځان سره بوځمه
زهٔ پښتنه یم مئینه نه رسوا کومه
که په هر ځاے یم ګل تا به یادومه
ترله دې خپله په نامه دې ناسته یمه

چار ګل دَ پوزې رانه ورک شو   بخیلې مورته به زهٔ څهٔ بهانه کومه
چار ګل دې ما اغستې نهٔ دې   په دنګاچه دې مونځ کؤو هلته به وینه
چار ګل مې تا اغستې راکه   په دنګاچه مې لاس واهه نه مې موندنه
چار ګل دې ما اغستې نهٔ دې   ماله قسم په پیر بابا راکړه مئینه
چارګل دې سر د خاوند اوخوري   د تسلۍ قسم به ولې درکومه
چارګل دې ما څخه دې واخله   نامردې ما درسري وشتې کړې دینه

○○○○

پړه به دې کړم پړ به مې نهٔ کړې   زهٔ ځان سره د ټپو ګوډې ګرځوم
پړ به دې کړم پړه به مې نه کړې   ما د سندرو سیپارې لوستلې دینه
جر به دې کړم جر به مې نه کړې   ما په تهانه کښې تهانیدار جر کړې دینه
جر به دې کړم جر به مې نه کړې   د دیواله د سر څپیاکه دې ګنړم

باب: 1

پښتانه د وطن مینه د غزا او شهادت شوق

خلق مصرعې مې مصرعې نۀ دي
د لوګړن زړګي وتلې دي دودونه

عالم به وائي چې مصرعې دي
خلق مصرعې مې مصرعې نۀ دي
په وينو سرې دي د زړګي سود پرې کومه
د لوګړن زړګي وتلې دي دودونه

يو څو مصرعې سړي له بس دې
دا آخري مصرعه به اوکړم
ډيرې مصرعې د سړي غم سيوا کوينه
رب دې حاصل کړي د هرچا د زړۀ مرادونه

د زړۀ د درده ټپې وايم
زړګې زما زخمي زخمي دې
خلقه دا مه وائې چې زۀ خوشحاله يمه
ځکه مصرعې په وينو سرې خلې له راځينه

قلم په لاس وخت مازيګر دې
قلم زما د لاسه واخلئ
په خاورو ناست يم د جانان مصرعې ليکم
په زړۀ خفه يم د يار بد به اوليکم

د نيمې شپې په خوب اوده ووم
د نيمې شپې سندرې خوند که
چا څواني مرګ ټپه کړه پورته ويښ ئې کړم
چې په رو رو د خوب سترې ويښوينه

تا چې په يوه باندې غږ کړو
له ياره ځارے نه دې ځار شم
زۀ په سره مانړې کښې لره بره شوم
زۀ ليونې ستا په سندرو باندې يمه

د ټپې روح سوزوګداز دې
چې لا شعور مې اولړ زيرې
سوزوګداز په لا شعور کښې لټوم
په خلې مې راشي د ټپې خواږه سُرونه

لا شعور خوب کښې رابيدار شي
دَ لا شعور رود کښې روان يم
په ويښۀ کم وي لا شعور کښې طوفانونه
خيالات را اونيسم ټپې تر جوړوم

ټپه د نظم ابتدا ده
چې په ټپې مې فکر اوکړو
د انتها ټپوس دَ خلقو نه کومه
د فلسفې دپاره دا نۀ ده موزونه

راځئ راځئ چې لنډۍ وايو
جونو راځي چې لنډۍ پرېږدو

لنډۍ لا نښې دي د يار غم غلطوينه
لنډۍ د زهرو ډکې زړه خرابوينه

د سوز ټپې مې په خله راشي
له ډېره سوز ټپې وايم

چې دې خوږې خوږې خبرې يادوم
خلقه دا مه وائې چې زۀ خوشحاله يمه

دا چې ټپې ځان سره وايم
له ډېره درده ټپې وايم

خلقه په دې د زړګي غم غلطومه
د زړۀ دردونه په ټپو قلارومه

چې انديښنې درباندې زور شي
ګله دا خپل غم دې خوندي کا

زما زيبا ټپه درياده کړه مئينه
دا ستا ټپو په مخلوق اور اولګاونه

د معشوقو غم ليونې کړم
د غم رباب د غم شهباز دې

ولې به نۀ وايم د عشق سوي بيتونه
د غم ئې ساز د غم ټپې په کښې کومه

د عاشقۍ نشې ته ګوره
د عاشقۍ قلم په لاس کښې

قلم په لاس کښې تل د غم ټپې ليکمه
سوي مصرعې ليکم جانان ته ئې ليږمه

ټپه د نظم ابتداء ده
مصرعې مې ډېرې درته اووې

د انتها تپوس د خلقو نه کومه
په لا اله الا الله ئې ختمومه

سندرې مه وايه ګناه ده
ګمان د ډم راباندې مه کړه

که زۀ ئې وايم د جانان غم پرې هېرومه
زۀ د بيلتون لوټلې زړۀ مشغولومه

ما سره وار د ټپو کېږدې
وار د ټپو به سره کېږدو

ماله بې وار ټپې خوند نه راکوينه
زما څۀ ډک دې د سندرو کتابونه

پړه به دې کړم پړ به مې نه کړې
پړ به دې کړم پړه به مې نۀ کړې

زۀ ځان سره د ټپو ګوډې ګرځومه
ما د سندرو سيپارې لوستلې دينه

د دې مصرعې جواب مې راکړه
د دې مصرعې معنی دې دا ده

کور مې د سيند په غاړۀ دې د تندې مرمه
د غيرې يار دې مرور له تانه ځينه

پښتو اسانه نه ده خلقه
څوک چې پښتو کړي پښتې ماتې ګرځوينه

پښتو آسانه نۀ ده خلق
پښتو د اوسپنې نينې دي

چې پښتو وائي پښتو نه کړي
د پښتو قدر په ما ګران دې

يو مې ايمان يو مې پښتو ده
يار مې پښتو باندې قيدي دې

خپله پښتو زما سنګار دې
بې وفائي مې عادت نۀ دې

پښتو کوه که ته پښتون ئې
پښتو مې ستا په سر کوله

تغر ديره د دواړه نشته
تغر د هغه خلقو خور وي

پښتو غيرت د پښتون کار دې
پښتون په پت باندې پښتون دې

دنيا په هغو ده آباده
زمانه داسې رنګ له راغله

تغر ډيره دي دواړه نشته
تغر د هر پښتون جامه ده

ځان د پښتو په ځاے کښې مړ کړه
ځان به په سل ځاے قطرې کړم

نوم دې زما په سر کښې سپک شو
نوم پرې د ټول پښتون درنېږي

څوک چې پښتو کړي پښتې ماتې ګرځوينه
زما نګار فولادي جوړکړه غاښونه

ژبه ترې پرې کړئ چې پښتو پې نه وئينه
ځکه پټکې د پښتنو په سر ترړم

يو مې ريبار دې يو دلبر په کښې لرم
څوک چې پښتون وي تيروي هغه جيلونه

زۀ به تر عمر ستا په پت کښې ناسته يمه
پښتنې پيغلې هميشه په وفا مرينه

ما په پښتو باندې تير کړي دي غمونه
تۀ بې پښتو شوي اوس پښتو څله کومه

ننګ و غيرت پښتو دی ټول پرينښودي دينه
چې د زړۀ غوښې ميلمنو له ورکوينه

کار د پښتون دې بې همت نه شي مئينه
د پت نشان به تل اوچت په جهان وينه

چې د پښتو کتاب کښې ټکي نه ورځينه
که ته زاړه پښتانه غواړې خاورې شونه

ننګ و غيرت پښتو دې ټول پرېښودي دينه
ستا تغر نشته په کلال دې بدلومه

چې عاشقان دې په تاريخ فخر کوينه
وطنه تا به له دښمن نه زۀ ساتمه

بيرته به درون شي که دې زۀ حلاله کړمه
زۀ پښتنه يم مرګ له غاړه ورکومه

ما د جهان ننګے په تا کړے
پښتو مې ستا په سر کوله

ښه ده چې تۀ بې ننګه اوختے مئینه
ته بې پښتو شوے اوس پښتو څله کومه

که څوک زما سره سیالي کړي
ټغر د هغه خلقو خوروي

حجره د واچوي ډوډۍ د ورکوینه
چې د زړه غوښے میلمنو ته مخکښې ږدینه

نور مې له مرګ ویره نشته
مرګ خو شته خلاصې ترې نشته

سیوا د دې چې به لتانه جدا شمه
پښتنې جونه مرګ له مخې ته ورځینه

یار مې پښتو باندې قیدي دې
یار مې پښتون دې پښتو کاندي

په تورو سترګو ملاقات لره ورځمه
څوک چې پښتو کړي تیروي هغه جیلونه

زۀ د هغه پښتون فرزند یم
چا چې لړلي په سرو وینو میدانونه

زۀ د وطن په ننګ ولاړ یم
زۀ د هغه پښتون فرزند یم

پښتون زلمې یم ورنه سر قربانومه
چا چې لړلي په سرو وینو میدانونه

پښتون په سر د دنیا شته دې
یا به مظلوم کشمیر آزاد کړم

هندو به څنګ په کشمیر نور اوکړي ظلمونه
یا به دا لوړه ځواني خاورې ایرې کړمه

هندو ظالمه ځان تیار که
د پاني پت قیصۀ د یاد کړه

د پښتنو زلمي به غواړي جوابونه
ظالمه تانه جوړ هیر شوي تاریخونه

صبا په سپین میدان غزا ده
توره په لاس ټوپک په غاړه

تر خداے مې ځار کړې پښتانه غزا له ځینه
راځه چې دواړه د کفارو جنګ له ځونه

جانان جنګ کښې په شانه شي
که د دشمن نه په څټ راغلم

چې د همزولو مې رانه شي پیغورونه
بیا مې پښتون د تیراه مه بوله مئینه

توره د هغه زلمي کار دې
چې توره نه کړي نور به څۀ کړي

چې د غیرت په اوبو مور لمبولې وینه
چې دې شودې د پښتنې رودلې دینه

غبږ شو په کټ ئې جانان راوړو
خلقه راځئ چې ورله ورشو

زړه مې پرښه شو چې په شا ئې نۀ وو زخمونه
چې د پښتون په سینه اوګورو زخمونه

پښتنې پېغلې خوشحالېږي
پښتونه پاسه ځان تیار کړه

چې ځلمیان کاندي د انګریز سره جنګونه
ستا په وطن کښې فرنګي حکم کوینه

دا د اسلام د کفر جنګ دے
که مې په توره سر قلم وي

د اسلام ننګ دے پښتانه به ورله ځینه
دا راله ښه ده نۀ چې کور ساه ورکومه

پښتون په توره کښې پیدا دې
څوک به بري راباند اوکه

په توره لوے دې هم به مړ په توره شینه
مونږ پښتانه یو د پښتو په مینه مرونه

پښتانه واړه یو ټبر دې
د پښتنو زلمې زړور دې

چې وخت د جنګ ئې په سیالۍ سر ورکوینه
د سر تېر دې بې ننګي نه قبلوینه

پښتانه واړه شنه زمري دي
غرونو کښې پړانګ او شیر اوسېږي

چې وخت پر راشي په سیالۍ توري وهینه
ځکه د غره پښتانه واړه شیران دینه

څوک چې غیرت په دنیا خوښ کړي
پښتون له نسله بهادر دې

هغه په جګو سترګو عمر تیروینه
له کارنامو نه ئې ډک شوي کتابونه

د پښتنو زلمو وار دې
پښتون د جنګ په ډکر مړ شو

په خپل خاوره توریالي مړونه مرینه
پښتنې جونه ئې په وینو ږدي خالونه

پښتون په پت باندې پښتون دې
پښتونه ویښ شه غفلت پرېږده

د پت نشان به تل اوچت په جهان وینه
په خویندو میندو دې راغلي تکلیفونه

پښتنو بیا خولئې کږي کړي
پښتانه واړه شنه زمري دي

په دشمنانو به بیا جوړ کړي نا تارونه
چې وخت پرې راشي په سیالۍ توري وهینه

زۀ یم پښتون آزادي غواړم
که زۀ میره ووم ځان به ځار کړم

په آزادۍ به سرو مال تالا کومه
پښتون پېغور د بې ننګۍ نه قبلوینه

آزاد ژوندون تیر که پښتونه   د غیر غمازو په ځان مه پرېږده لاسونه
آزاد ژوندون تیر که آزادئے   د غلامانو په شان مه کړه سلامونه

آزاد پیدا یم آزاد خوښ یم   په آزادۍ به سر ومال تالا کومه
آزادي ښه سر مې تې ځار شه   د غلامي په ژوندون اور پورې کومه

○○○○

په سفر ځه مه خفه کېږه   زۀ پښتنه یم ستا په پت کښې ناسته یمه
خبر مې اخله خپله یاره   په ما وطن بې له تا تنګ له قبره شونه

جانانه ځه په مخ دې ښه شه   زۀ پښتنه یم ستا په پت به ناسته یمه
چاته په خپل وطن را رسې   څوک په نصیب پسې پردي وطن ته ځینه

مینه دې پټه ساتم زړه کښې   زۀ پښتنه یم مینه نه رسوا کومه
په غم کښې تانه کمه نه یم   بې عقله نه یم چې به کلي خبرومه

بې وفائي مې عادت نۀ دے   پښتنې پیغلې همیشه په وفا مرینه
ښه ده چې تانه پوره نه شوه   چې ملامته درته زۀ نه شوم مئینه

پښتون د جنګ په ډګر مړ شو   پښتنې جونه ئې په وینو ږدي خالونه
ځان د وطن په جنګ شهید که   چې پښتنې جونه دې هر وخت یادوینه

زۀ د وطن د باغ مالیار یم
په خپلو سرو وینو به ئې تل اوبه کومه

د وطن باغ به پرې سمسور کړم   د بدن وینه له وطنه ځارومه
زۀ د وطن د باغ مالیار یم   په خپلو سرو وینو به ئې تل اوبه کومه

زۀ د وطن وطن زما دې   دښمن به څنګه خپل وطن باندې پرېږدمه
ته د وطن ئې وطن ستا دې   زلمي د قوم دپاره سر قربانوینه

وطنه تا سره وعده کړم   که په تا جنګ شو زۀ به مخښکې ورله ځمه
په وطن جنګ دې ځان تیار که   یا به سر بائیلي یا به لاندې کړي برجونه

وطن زما زه د وطن یم
جانانه پاسه توري برېښي
ما د وطن په ننګ همیش کړي جنګونه
په وطن جنګ دې زلمي ډلې ډلې ځینه

وطنه ستا په مینه مست یم
که د وطن په مینه مړ شوې
که ستا په مینه مي سرځي فخر پرې کړمه
په تورو زلفو به کفن درله ګنډم

سر د وطن په ننګ قربان که
غازي په لوړه ډېرې کیدې
چې پتنګان دې زیارتونو له راځینه
چې ئې زیارت کړي د وطن ملالي جونه

سرې په جار له ملک نه ځي
خپل خوږ وطن راته سور اور شو
یا ډېر مجبور شي یا د یار د غم ځینه
دلته رسوا شوم اوس پردي وطن ته ځمه

وطن د مور او پلار ګران دې
د تن وطن مې معلوم نهٔ دې
ژوندي د پلار مړي به زمکې له ورځمه
چې به مې تن د کوم وطن خاورو له ځینه

وطنه ولې خفه کېږې
وطن زیري مې دربا ندې
د پښتنو میاندو ځامن به دې ساتینه
ټول پښتانه دي د ساتنې زیار کوینه

د توریالو وطنه ګله
وطنه ګل او ګلزار اوسې
رب دې آباد لره چې تل خوشحاله یونه
چې تماشي له دې رادرومي عالمونه

لالیه سر په وطن کېږده
جانانه ولې شهید نهٔ شوې
چې دهمزولو د بېغوره خلاصه شمه
ماته همزولي په ګودر بېغور کوینه

په وطن جنګ دې ځان شهید که
په شهیدانو کښې چې شمار شم
تاریخ به ستا په ننګ ناموس فخر کوینه
د وطن خاورې ته ځواني لوګې کومه

وطن او مور او پلار خوارہ دي
وطن کشمیر دې نه پرېښوه شي
یاره دا درې واړه پرېږدم درسره ځمه
ما د جانان د پاره پرېښودي وطن

وطن د یار په سترګو خوږ دې
په هر چا خپل وطن کشمیر دې
چې یا رمې نه وي څه وطن څه بې وطن
په ما کشمیر شو د جانان د وطن غرونه

وطن د زېړو ګلو باغ دې
وطن زما نه پاتې کېږي

د مسافرو پهٔ کښې نشته قسمتونه
لکه مرغۍ په ډکو شپې ورته کومه

څوک په رضا د ملک نه ځي
وطن لوټے لوټے وران شے

یا ډېر غریب شي یا د یار د غمه ځینه
چې درنه لاړل د رامبیل چامبیل ګلونه

که د بچو سره تباه شم
وطن زما زهٔ د وطن یم

په وطن جنګ دې جنګ به ولې نه کومه
ما د وطن په ننګ همیش کړې جنګونه

وطن به پرېږدم ترې په لاړ شم
وطن به ستا د ټسه پرېږدم

نصیب پرېښوې نه شمه سم راسره ځینه
پرېښودې نه شم غم دې سم راسره ځینه

وطن خو تاړنګ کړو ملالے
وطن به ستا د لاسه پرېږدم

چې سره لاسونه ګرځیدے په لوړ بامونه
چې ستا د حسن دوران تیر شي رابه شمه

وطن د زېړو ګلو باغ دې
وطن د زېړو ګلو باغ دې

ما کم نصیبه ورته شا کړه اوس ترې ځمه
د مسافرو په کښې نشته قسمتونه

وطن خو ستا دې په کښې اوسه
وطن د بیل وطن مې بیل دې

مونږ مسافر د بل وطن صبا به ځونه
اوس به دیدن په غم ښادي سره کوونه

وطن د یار په سترګو خوږ دې
وطن د تنه لیکه نه دي

چې یار مې نه وي څه وطن څه بې وطنه
وطن هغه چې په کښې تن خوشحاله وینه

وطن زما د تن جامه ده
وطن زما زهٔ د وطن یم

د تن جامه به لکه ګل غندې ساتمه
چې څو ژوندې یم خدمتونه به ئې کومه

آخر به ځې وطن دې بل دې
آخر به پاتے شې وطنه

څوک په پردي وطن کښې نه کري ګلونه
که چنارونه د لونګ شي بوئې ترې ځینه

تن په وطن کښې خیراځیږي
ته په وطن خوشحاله اوسه

چې وطن نه وي تن به څه خیراځه شینه
که په ما ټول عمر د غم وي تیر به شینه

دا ستا عزت زما عزت دې
که مې څوک بد وطن ته ګوري
وطن څکه دې ایرې زه ښکلومه
زۀ به ئې سترګې په انبور اوشوکومه

د وطن جاړې به ورنه کړم
ښار د لندن ورته لوګې شه
که د عدن باغ ئې بدل کښې راکوینه
د وطن شاړې په یورپ نه بدلومه

وطن مې ګل زه ئې بلبل یم
وطن دې شمع ته پتنګ ئې
د بلبلانو چغار تل په ګلو وینه
جانان زر کړه په وطن اوکړه ننګونه

توره راواخله ملا بسته کړه
جانان څه په خدائے دې سپارم
په وطن مه پرېږده د غیرو قدمونه
په وطن جنګ دې بریالې راشي مئینه

د وطن جاړې به ورنۀ کړم
که د عدن باغ ئې بدل کښې راکوینه

پښتنو ته ځان له وطن نه دې ګران بلکې د وطن جاړې، صحرا ګانې سیندونه، غرونه او بادونه ورته هم ګران دي، د خپل وطن ښارونو، کلو او د خاورو خټو کورونو ته لندن او پیرس لوګې کوي. د خپل وطن د ننګیالو نومونه ډیر په فخر سره یاد وي. د هغوي سندرې وائي او د هغوي په جدائې باندې ویر کوي. د وطن د ځائینو نومونه ډیر په فخر او افتخار سره یادوي.

د وطن جاړې به ور نه کړم
ښار د لندن ورته لوګې شه
که د عدن باغ ئې بدل کښې راکوینه
د وطن شاړه په یورپ نه بدلومه

په هندوستان د ځلے جوړ شه
دا په دکن د ځلے جوړ شه
د بې ننګۍ اواز دې را مه شه مئینه
کاغذ د راشه چې بندي آزاده شمه

د پیښور وطن جنت دې
کابل خو ښه مزل ئې ګران دې
د کابل ژمې زمهریر دي خود ترې ځمه
زما ګل رنګ جانان ئې زیړ زیړلې کنه

د پیښور سفر په خیر شه
سینه د ښار د پېښور دې
په اننګو مې مندرو بار او غورزونه
خله دې دوکان د تا واني پلاؤ پرخورمه

دا پیښور راته انګار شو
کور ئې د غم په توپه وران شه
باقي به عمر کراچۍ کښې تیرومه
چې بر ناحقه دوه مئین جدا کوینه

آخر به وران شے پیښور
قصه خوانۍ بازار ړنګ شي

د ننګر هار جونه ښیرې درته کوینه
تا کښې رغیږي ښاپیرو په شان مخونه

په پیښور کښې ولیان ډیر دي
پیښور ډک دې د ولیانو

کړې جنډې په میا عمر ولاړې دینه
په هر اړخ کښې ئې دي پراته ولیان ګلونه

سترګې دې سرې لکه د زرکې
سترګې دې لا ډیرې ښائسته دي

په هشتنغر کښې شاعران صفت کوینه
په تیره تیره دې د وروځو پیوندونه

د جلاله اوبه خوږې دي
د جلاله ګودر وران شي

د کلي پیغلې ترې منګې راډکه وینه
په جینکو دې سا لنډې اولګونه

د چارسدې بازار وران شے
بس که په دغه فیصله ده

تا کښې خرڅیږي د نالو سره استرونه
چې څوک زړې نالۍ ساتي سپرې به ئې خورینه

خلقه په دې دنیا جنت دې
اکسفورډ پیرس درته لوګې شه

د پیښور یونیورسټي ډیر حسن لرینه
ستاپښتنه غیږ کښې پښتو مزه کوینه

د یونیورسټۍ زیږ مازیګر
څوک بختور به سبق وائي

تا سره اوړې تږې ډیر خوشحاله یمه
زهٔ یونیورسټۍ ته د جانان دیدن له ځمه

سوات خو په شان باغ ارم دې
سوات مې د سمې راپره کړو

د لرې لرې شهزادګان ورله راځینه
پیدا مې نه کړو مقبرې له پسې ځمه

سینه د سوات خله منګوره
سینه د باغ د چین ماچین دې

په لنډا کې کښې ورته شپې صبا کومه
د بنړ طوطیان ئې د لیدو ارمان کوینه

جمال کمال دي خدائے ورکړې
جمال مې زیات په سمه سوات دې

ملال په خیال کاته کوي غوڅوي زړونه
هغه میرات دې چې امید د دیدن کړینه

په ملکنډ تیارے خورے شوي
په ملکنډ ئې توپې چل کړې

هارون توره پرېښوه چې رنړا وینه
تر رنګ مالا پورې ئې اونو ستل ګلونه

د لیونۍ ارمان پوره شو
د لیونۍ حاجت پوره شو
د چکدرې مجزوب ته شونډې بوسوینه
په لارې ځي په کاڼرو ولي زیارتونه

زما اشنا ګل د نمیر دې
زما د خړو جامو یاره
پروت په بونیر دې خلقې ورله ورځینه
راځه چې دواړه د بونیر بابا له ځونه

د امبیلے په کنډاوګې کښې
د امبیلے په کامبیلو کښې
ګوره پراته سستې پټې ببر سرونه
ګیدړ ماړه شو د ګورو په لړمونونه

د چکیسر کنډاو به نسیم
باده د یار خبرونه راوړه
باد به پښتم چې جانان څۀ وئیلي دینه
ماته ملهم شه چې مې جوړ شي پرهرونه

د کړه مار په سر لوګې شول
که رانجیتے راغلې ته وي
غازیانو واچول سیکهانو ته لاسونه
نو د اینګال په سر به چا کول مونځونه

د ملاکنډ په سرمې ښخ کړئ
د ملاکنډ په سر مې ښخ کړئ
چې د درګۍ جونه دعا راته کوینه
چې د وطن هوامې شناختې خوزوینه

زما سینه د اټک پل دې
چې د اټک په بیړې پښه ږدي
ټول پښتانه پې د کشمیر غذاله ځینه
خداے دې دریاده کړې زما لیونۍ مینه

زما اشنا ګل د بینډۍ دې
زما غوړونه کاغذونه
ناست په پینډۍ دې څه خبر ئې نه راځینه
په کښې پراته دي د لاهور پنډۍ دورونه

ته د تیراه نه مخامخ شه
د تورو غرونو نه پنا یو
زۀ په کرک یم مخامخ ولاړه یمه
ته د سپوږمۍ سلام کوه سلام به کړم

هنګو د ستاد ې په کښې اوسه
خداے دې له تود باد په امان که
زۀ درنه لاړم ته کوه پۀ کښې سیلونه
جانانه ستا په خوشحالۍ خوشحاله یمه

باران په ستر تیراه وریږي
پاس په تیراه اوره باران
د لواړګي برخه بادامي ده رابه شینه
د پېښور په برخه سیل دي رابه شینه

په تاتره راشه جانانه
خاونده بیا د مازیګر کړو

د خیبر لارې افریدو نیولې دینه
ګودر خیبر شو سره فوځونه ورله ځینه

سر د کابل پښې د ملتان دي
وطن فراخ دې څه تنګ نهٔ دي

سینه د کوټه په کښې عمر تیرومه
چرته کښې یخ چرته تاؤده لګي بادونه

د کوه قاف د غر د لاندې
د کوه قاف و سرته خیژم

د بیلتانه راپسې اوشو رپوټونه
د بیلتانه له غونډې لار چپه کومه

د بیلتانه په کوټ کښې بند شوم
د بیلتانه ظالم د لاسه

د هندوکش تر غره ئې لوړ دي دیوالونه
نرې نرې فریاد کوم وخت تیروم

کور د نزدې کوڅه دې لرې
جانان دا زما ګیله ده

د کوه قاف تر غره دې لوړ دي دیوالونه
کور د په کلي خو دیدن دې په کلونه

کابل د ګلو ډک دې خدایا
کابل ته مه وایه چې وران شي

زما یادیږي د قندهار شنکي باغونه
په کښې پراته دي ښه ځوانان کاږه بریتونه

زما د سیند اوبه خوړې دي
ما د کونړ د سیند نه ځار کړي

ځکه صفت د پشونګړو د سیند کومه
زما جانان به په کښې مخ وینځلې وینه

بره کابل کوز هندوستان دې
وطن د یار په سترګو خوږ دې

ګلستان کوئټه په کښې عمر تیروینه
چې یار مې نه وې څه وطن څه بې وطن

یار مې د خوست زهٔ د تیرا یم
جدائي راغله جدا کیږو

خدایه خوست وران کړې چې جوړه تیراه ته ځونه
جدا جدا به سره ځو ویشتلې زړونه

چاته په خپل وطن رارسي
څوک په نصیب پسې پردي وطن ته ځینه

وطن کشمیر زهٔ ئې امیر وم
چاته په خپل وطن رارسي

نیستۍ فقیر کړم په ژړا د ملکه ځمه
څوک په نصیب پسې پردي وطن ته ځینه

په ښکته ځي رضا مې نه ده
په ښکته ځي په ښکته مړ شئ

سود به رانه وړي زیان دې زه نه قبلومه
چې کمپني ویر کړي ګورګان د لمبوینه

زړګیه چوي که پاتې کېږې
چې زخمي زړه پرې ټکورېږي

اشنا په بل وطن میشته دې نه راځینه
وایه هغه اشنا به کوم وطن کښې وینه

په ډمامو څپیړې کېږده
تا چې رفتن د بل وطن که

په ځان راکېږده یار د بل وطن ته ځینه
ماته کفن د بیلتانه جوړ که مئینه

مینه خوږه ده وطن تریخ دی
که تا وطن راسره پرېښود

ځکه وطن پرېږدم د غره په سر به ځمه
لکه خارو په چوارو به د ساتمه

قطر ته مه ځه ځان حصار که
جانان چې لړې د وطن ځي

پکار مې نۀ دي بې دیدن دولتونه
که مې خبر له حال شي راستون به شینه

د بیلتانه دلاسه خدایا
په مخکښې ځم په ورستو ګورم

نرې نرې فریاد کوم له ملک ځمه
وطن وران شي د زړۀ سر مې پاتې شونه

کاغذ ورشه ورته وایه
کاغذ ورشه ورته ژاړه

یار دې د مرګ سلګې وهي تا یادوینه
آشنا به تل مسافر نه وي رابه شینه

ډاکیه لاسو نه دې جار شم
کاغذ راشه چې د ښکل کړم

د مسافر آشنا دې راوړه کاغذونه
ښکلې جانان به په تا لاس وهلي وینه

د مسافر اشنا کاغذ دې
کاغذ چې درشي ورته ژاړه

ملائ لولي زه سلګې ورته وهمه
ما چې لیکه ما ورته ډیر ژړلي دینه

زما د لرې وطن یار
سپوږمۍ پیغام درسره یوسه

رب دې سپوږمۍ که چې رڼا دې اووینمه
زما په ښکلي جانان وایه سلامونه

تا د سفر موزې په ښپو کړې
ما د سفر موذې په پښو کړې

د زېړو ګلو باغ په چا سپارې مئینه
د زېړو ګلو باغ په خدائے سپارمه ځمه

رخصت چې اخلي غاړه راکړه
رخصت ئې واغستلو لاړشو

تر قبرستان پورې سود به پرکومه
پیوند ئې نه کړل په ګولئ ویشتلې زړونه

چې مسافر شوې نو به څۀ خورې
ډوډۍ مې اوخوړه مړه شوم

کور د خوراک وو د سرکو شونډو سرونه
ته به په کوم درګاه ولاړ ئې مسافره

اس مې زین کړې روانیږم
اس دې زین کړې روانېږې

زۀ مسافر د لوے لارې درنه ځمه
زۀ نیمه خوا نیمګړې چاته پاتې شومه

تۀ فکر مه کړه بیا به راشم
ما به د ځان سره څۀ بوځې

که هر څۀ کېږي تا به ځان سره بوځمه
زۀ پښتنه یم مینه نه رسوا کومه

زما د ستا په سر قسم وې
ورځه ورځه په مخ دې ښه شه

که په هر ځاے یم ګلې تا به یادومه
تر له دې خپله په نامه دې ناسته یمه

مسافرې پرې اسانېږې
زمونږ تور غرونه تر مینځ شو

چې ورته خوږ جانان لیږي رنګ رنګ خطونه
اوس به خبرې د قلم په خله کوونه

په سفر ځه مۀ خفه کېږه
ته په وطن خوشحاله اوسه

زۀ پښتنه یم ستا په پټ کښې ناسته یمه
په ماد ښاخي د دکن زاړه څېرونه

پردې وطن په هر چا غم دې
ګلاب په خپل وطن کرل شي

ما په پردي وطن کرلي دي ګلونه
څوک چې په بل وطن کړي پاتې به شینه

په بل وطن مې پیر زو نه ئې
ماته یوه خبره اوکړه

که د سپیانو رسالې درپسې ځینه
چې په پردي وطن کښې وخت پرې تیرومه

ستا د دې دوۀ سترګو دپاره
پردې وطن دې زړه مې تنګ دې

وطن مې پرېښو د همسایه د نورو شومه
ماله رخصت راکه چې خپل وطن ته ځمه

د کوم هیواد په هوا ګرځې
جانان خپل وطن ته راشه

ستا له فراق ماله نه راځي خوبونه
که خلق ډیر دي پرې آباد دي خپل کورونه

د وطن ترخې مې خوراک وې
په وطن نیمه ډوډۍ ښه ده

پکار مې نه دي د پردي وطن ګلونه
نه په پردي وطن کښې غوښې پلاؤنه

پـه هر چا خپل وطن کشمير دې
داسې وخت مه راولې خدايه

پـه ما کشمير دې د جانان د وطن غرونه
چې زۀ دلې جانان مې بل وطن ته ځينه

اختر د جونو مبارکه شه
ولې به تور دکن ته نه ځي

زنړې د بل وطن مار غان دي لاړ به شينه
د عاشقانو سفر تور دکن ته وينه

جيني خبر ئې اوکه نه ئې
جانان مې هيڅ نه معلومېږي

يار د ملګري لټوي پـه سفر ځينه
راته ښکارېږي پـه سفر بـه تلې وينه

جينۍ کـه ټوکې د بخمل دي
ما خو دروغ دروغ ګنړله

يار ئې نيست مند دې پـه ژړا له ملکه ځينه
د اشناکړه پـه رښتيا له ملکه ځينه

مسافرۍ تـه دې ځان جوړ کړو
مسافرۍ تـه دې ځان جوړ کړو

چاړه راواخله ما حلاله کړه مئينه
پـه چا مې سپاري کـه دې هيره کړم مئينه

پـه مسافرۍ دې خفه نه يم
مسافري سخته خواري ده

خفه پـه دې يم چې بـه نۀ وي ديدنونه
زما زاري ده يار مه ځه له وطنه

اشنا مې ځي نه راستنېږي
تا د سفر موزے پـه پښو کړې

کـه ورته کيږدم د سورکو شونډو سرونه
د زيړو ګلو باغ پـه چا سپارے مئينه

د مسافرو دې رنګ ورک شي
د مسافرو ياري مه کړئ

سرې د زړه پـه رنځ اخته کړي بيا ترې ځينه
نن وي دلې صبا پـه نورو وطنونه

زړګيه ځنګه ليونے شوې
سپوږميه سروه راخيژه

چې د روانو کډو غواړې مدارونه
کاروان باشي اشنا مې کډې باروينه

چراغ تـه سمه اودرېږه
چراغ بلې لمبې اوکړه

چې مسافر لالې دې سترګې اوويني نه
ورستې ديدن دې بيا بـه نه وي ديدنونه

خلق تلوار کړې تيارېږي
خدايه نرې نرې باران کړې

کډې بارېږي اوس بـه بل وطن ته ځينه
چې د جانان کډې تړلې پاتې شينه

اشنا مې لاړو مسافر شو
جانان ماته ګناه نشته

زۀ ئې د لاس نښو ته عمر تېرومه
زما په خپل نصيب کښې نه وو ديدنونه

آخر به ځې پاتې به نۀ شې
آخر به ځې چرې به لاړ شې

ډير مې په تورو زلفو مۀ وهه لاسونه
ما په بې ننګو خلقو مه سپاره مئينه

مسافرۍ ته ئې ځان جوړ کړو
د مسافرو دې خدائے مل شي

په زړۀ ئې اووهل د اوسپنو ميخونه
يا به نهر وي يا به سپو خوړلې وينه

داسې وخت مۀ راولے خدايا
يار مې روان دې نه ستنيږي

چې زۀ دلے جانان مې بل وطن ته ځينه
زۀ ننواتے ورته ځم چې ستون ئې کړمه

تۀ په وطن خوشحاله اوسه
دا تۀ چې ځې اخر به لاړ شې

مونږ زاغان د بل وطن صبا به ځونه
ماته ګړۍ په ګړۍ مه وايه چې ځمه

مسافرۍ کښې خفه نه يم
د مسافرۍ اواز دې راغے

خفه په دې يم چې له ياره جدا شومه
خوشې مرګي اواز دې را مه شه مئينه

مبارکي راکړې عالم
قلم ژبې نه دې ځار شم

د مسافر اشنا مې راغلل سلامونه
ستا په وينا مرور يار مې پخلا شونه

يو مې په تن مسافري شوه
يو مې په تن مسافري شوه

بل بې جانانه عمر خوند نه راکوينه
بل په تنګې مئينه له ياره جدا شومه

جانان مې لاړو مسافر شو
که په وطن سړې بادشاه وي

زۀ ئې د لاس نښو ته عمر تېرومه
چې مسافر شي په فقير بللې شينه

که لاړم بيرته به را نه شم
ماته دې داسې جواب راکړو

سپورسوال جواب به دې دکن کښې يادومه
لکه ژوندې چې جواب مړو ته ورکوينه

مسافري خو يوه مياشت وي
مسافري وهلې راغلې

په زړۀ سنګين ياره تير دې کړل کلونه
خيرات خيرات د د زړو جامونه شمه

یار مې د اور ګاډي ته څېژي
همزولو لاس مو سره ورکړئ

په ما ورېږي د سکروټو بارانونه
بیلتون رټلې اشنا بیا له ملک ځینه

یار په جهاز کښې په هوا شو
جدائي راغله لارې دوه شوې

ماته ئې پریښودل د ټول جهان غمونه
مرګ مې قبول دې جدائي نه قبلومه

زما به تل درته سلام وي
چې په سفر کښې خفه نۀ شې

چې در په یاد شم زما اخله سلامونه
وعده مې دا ده ستا په پت به ناسته یمه

ته مسافر شوې زما یار ئې
ته مرور لما په څه ئې

زۀ مسافر دې په پردیس کښې پریښودمه
ګناه را اوښایه چې نور ئې نه کومه

دا تۀ چې ځې په خدائے دې سپارم
دا ته چې ځې په چامې سپارې

ما د بې ننګو سره مه پرېږده مئینه
که په بې ننګو مې سپارې سپي به مې خورینه

رخصت به زۀ تاله در نۀ کړم
رخصت به هاله درله درکړم

که بې رخصت لما ځې خوښه دې خپله
چې په قسم زما نه واخلې ټول غمونه

په مسافرۍ دې خفه نه یم
که یار مې وي خو لاړ به نۀ شي

خفه په دې یم چې به نۀ وي دیدنونه
ما ورله وړي دي د اوښکو منتونه

مسافري به یوه میاشت وه
مسافري پرېږده راګرځه

زما جانان ورپسې تیر کړل کلونه
نور مې په سپینه خولګې مه پرېږده ګردونه

مسافر ته شوې خواره زۀ شوم
مسافر ته شوې خواره زۀ شوم

تا په پردي وطن کښې څه لیدلي دینه
خواره د مور شه چې سفر ته د لیږینه

مسافر تلې در جګه نه شوم
په سفر تلې در جګه نه شوم

په زړه مړه ووم ما وې تل به دیدن وینه
ما د رب شله کړي په دواړه زنګونونه

عالمه لاړ د دکن فرش کړي
مسافر ته شوې خواره زۀ شوم

یار مې بادشاه دې د دکن په سفر ځینه
خواره دې مور شه چې سفر له دې لیږینه

په سفر ځې بیرته راګوره
په کنډاؤ واوړېدی پناه شوې

په کنډاؤ واوختې راپرې دې ښول غمونه
پناه دې مه شه د شملې سره پلوونه

ته په وطن خوشحاله اوسه
ته په وطن خوشحاله ګرځه

په ما دې څاڅي د دکن زاړه څپرونه
زۀ په پردیس کښې بې اسرې ژوند تیرومه

په سفر ځم په خدای مې سپاره
په سفر ځې خدای ته دې سپارم

لرې وطن دې مړ ژوندي پکې راځینه
که ماته راوړې د کشمیر شینکې شالونه

کانړي راواخله سر په کېږده
سرته د خاورو بالښت جوړ که

مسافرۍ ده دلته نشته بالښتونه
مسافر نه غواړي د پرو بالښتونه

مه شه دلګیر چې لرې لاړم
چرې به هېره رانه نۀ شې

د زړه تارګر به درکوي د غم تارونه
که زۀ ملنګ شم که مې خاورې شي هډونه

اشنا مې پاتې په وطن شو
په ژړا ژاړم سود مې نه شي

زۀ مسافر په لارې ځم سلګې وهمه
یو مسافر شوم بل له یاره جدا شوم

د هندوستان و لور ته مه ځه
چې وورې ځې خال مې سهې کړه

د هندوستان جونه لولۍ بند به دې کړینه
د هندوستان د جونو نشته دې خالونه

په سفر تلې درجګه نه شوم
په سفر لاړې مسافر شوې

ما د خدای شله کړې په دواړه زنګونونه
په شا دې پرېښودل د لګیر خواشیني زړونه

جانان کوچې وو کوچ ئې اوکړو
جانان لاړې مسافر شوې

زۀ ئې خالي انګڼړ ته کړمه سلامونه
ته چې راځې باغ به خزان وهلې وینه

جانان کوچې وو کوچ ئې اوکړو
جانان مې نه تلو ما راهې کړو

اوس ئې خالي پالنګ ته کړمه سلامونه
د پښیمانۍ اوښکې مې ځي په ګریوانونه

د مسافرو مېندې ژاړې
په مسافر مې زړۀ خوږیږي

په مسافرو پسې کاندې افسوسونه
زما لالې دې مسافر محتاج به وینه

زما دې پئي وريژي ګنډېر شي
ډوډۍ مې اوخوړه مړه شوم

زما جانان به د دونهي ککوړي خورينه
ته به د چا درته ولاړ اوسې مئينه

صبا اختر يار په سفر دې
مخ ته مې مه ګوره کافر شوې

د کالو ډکه به د چاغيږي له ځمه
زه مسافر اشنا په خدائے سپارلې يمه

زما جانان لرې دې تلې
په تور دکن مې جانان ګل دې

نه ئې ليدے شم نه مې زړه صبر کوينه
زړۀ مې بلبل دې تور دکن لره ورځينه

ستا د وطن لاري ته ګورم
په تور دکن ورکه جانان

جانان ستا د ملک هيڅوک نه راځينه
چې نه د نوم شته نه دې بوئې شمال راوړينه

ځان خو مې هير ته مې په ياد ئې
زما جانانه مسافره

په بل وطن جانانه تل دې يادومه
د خدائے دې هيره شم چې تا به هيرومه

مسافري دې روزي مه شه
چې ما وئيل هغه دې نه کړل

زه دې په سپينه خله اوده پريښې يمه
ازار ګټليه اوس کوه د چول پندونه

سلام سلام ياره سلام دې
خدائے مې دې درولي جانانه

پس له سلام زر وطن لره رادرومه
دا څۀ ژوندون دې چې بې تا ئې تېرومه

مبارکي راکړئ عالمه
مبارکي راکړئ عالمه

د شرين يار قاصد مې بيا راوړل حالونه
د مسافر اشنا مې راغلل سلامونه

دا زړه مې ټق در پسې اوچاود
زړه دې ارام کړه مسافره

بوئې دې د زلفو راپريده چې قرار وينه
بوئې مې د باد په لاس درواستو مئينه

مسافري دې ډيره اوکړه
که د اختر په شپه را نغلې

بس که جانانه خپل وطن لره رادرومه
نصيب دې مه شه دلنډي زنې خالونه

ماته د لرې شپې وعده کړه
مسافري خو يوه مياشت وي

مياشتې دې تيرې شوې کلونه د شمارمه
په زړه سنګينه يار تير دې کړل کلونه

په هندوستان ورکه جانانه
جانانه خپل وطن ته راشه
رنګ مې د هیر دې تش په نوم دې یادومه
که خلق ډیر دي پرې آباد دي خپل کورونه

مسافري د ډیره اوکړه
د هندوستان سفر دې لنډ شه
نور دې نصیب د خپل وطن اوشه مئینه
زما په تور اوربل کښې سپین اولګیدنه

په ما دې تیر د ځوانۍ وار کړو
مسافري خوړلي یاره
ستا دې را نه شي له دکن مهرانونه
رب د وطن ته بیرته راوله مئینه

صبا به بیا کېږي باربرې
د پښتون ژونده کوچ په کوچ
کاروان به درومي سپي به غاپي په ښارونه
د دشت ګلان به دِ لمنے بوئیوینه

مسافر لاړه کړې لاړے
مسافر لاړ میدان خالي شو
د خر ئې اور ئې په میدان کښې اونوستونه
ګورې چې بیا به پړاو کوم ځای کښې کوینه

یار ملا تړلې روانېږي
ښه ملا تړلے یا رمې ورک شو
په نارنجي مخ مې سیلاب د اوښکو ځینه
چې ملا تړلي او وینم ژړا راځینه

رنګ د بې ننګه جانان ورک شه
بې وفا یاره داسې ورک شے
سرې د زړه په رنځ اخته کړې بیا ترې ځینه
څنګه چې تیره ورځ په بیرته نه راځینه

الله دې مل شه خپله یاره
مسافر ته شوے خواره زۀ شوم
په سفر لاړې سودائي در پسې شومه
تا په پردي وطن کښې څۀ لیدلي دینه

تا د سفر موزے په پښو کړے
اور د راپورے کړو ته لاړے
د زیړو ګلو باغ په چا سپارې مئینه
چې ته راځے زۀ به د خاورو لاندے یمه

له مسافرې مې لالے راغلے
لالے زما کره میلمه دے
غوړې مې کور دې چرګ نیوه نه راکوینه
د چرګ په ځاے ورته خپل ځان حلالومه

مسافر یار مې نن راغلې
مسافرۍ خوړلي یاره
د تولائي په ځاے به زلفے خورومه
پیزار اوباسه چې تلي د ښکلومه

مسافرۍ د ډيره اوکړه
مسافري د ډيره اوکړه
بس دې راځه روزې به خداے رارسوينه
رب د سبب د خپل وطن اوکه مئينه

تا تور دکن ته سفر اوکړو
مسافري پريږده راګرځه
زما په تور اوربل کښې سپين اولګيدنه
نور مې په سپينه خولګۍ مه پريږده ګردونه

رب دې دلرې راروان کړه
د مسافر لالي دپاره
په ما دې زيرې د هوا مرغان کوينه
زۀ په فال نيسم د مرغانو آوازونه

سترګې مې تورې په رنجو کړې
نن مې د يار د راتلو غږ دې
د مسافر جانان مې غږ دې رابه شينه
په ځاے د خال غنچې د ګلو جوړومه

نن مې تر سترګو سترګو کيږي
نن مې د يار د راتلو ورځ ده
يا به په لار ئې يا به اوس راشې مئينه
په تورو زلفو ورته ځاے جاروکومه

د غره د سر لارې څارم
د مسافر اشنا دپاره
چې پرديسي لالې په کومه لار راځينه
تلې مې سوزې په غرمو ولاړه يمه

مبارکي راکړئ عالمه
ښه دې چې ته د خيره راغلې
دا پرديسي جانان مې راغلې تر وطنه
ما په کچکول پترې وهل درپسې تلمه

مسافر مه وژنې خاونده
په ځنکدن کښې خپل وطن رايادوينه

اشنا مې پاتې په وطن شو
په ژړا ژاړم سود مې نه شي
زۀ مسافر په لارې ځم سلګۍ وهمه
يو مسافر شوم بل له ياره جدا شوم

زما دې څه نصيب کړ خداے
د بيلتانه د لاسه خداے
يو مسافر شوم بل له يار جدا شومه
نرې نرې فرياد کوم له ملک ځمه

مسافري دې ډيره اوکړه
خداے به مې درولي وطن
رب دې سبب د خپل وطن اوکه مئينه
دا څه ژوندون دې چې بې تا ئې تيرومه

چاته په خپل وطن رارسي
د ښو تنړاکې مې اوبه شوې
ځوک په نصيب پسې پردي وطن ته ځينه
نصيبه مه مې ګرځوه په وطنونه

ستا د دې دوه سترګو دپاره
زما په دې وطن کښې څۀ دي
وطن مې پرېښود همسايه د نورو شوم
ستا د ديدن دپاره شپې صبا کومه

جانانه ما سره بد مه کړه
مسافري ده ډير سخته
زۀ په پردي وطن کښې يو تا پيژنمه
زما جانانه ستا په ډاډ ئې تيرومه

جانانه مخکې شه لار ګوره
مسافري دې کړې نه ده
مالا په خوب ليدلي نه وو دا ملکونه
رنګ دې زيړے خولګې دې ډکه د ګردونه

سر د سادين په لوټه کيږده
د سر نه ئې لوټه کړي دلاندې
پردي وطن دې په کښې نشته بالښتونه
مسافر نه غواړي د پرو بالښتونه

مسافر مه وژنئ خاونده
د مسافر اشنا سلګئ دي
په ځنکدن کښې د وطن ارمان ورځينه
مخ ئې وطن ته کړې چې ساه ئې وخيژينه

د مسافر د ارمان مرګه
د مسافر مرکونه دوه دې
سر بې بالښته خله سپيره وي په ګردونه
يو ئې سفر شي بل کفن له کومې کړينه

د مسافر د خوارئ مرګ
د مسافرو د خداے مل شي
سر بې بالښته خله ئې ډکه له ګردونه
يا به نهر وي يا به سپو خوړلې وينه

زمونږ تور غرونه ترمينځ شو
په قلم سل ځله شاباش دې
اوس به خبرې د قلم په خله کونه
چې درد د مينې په کاغذ بيانوينه

مسافري دې ډيره اوکړه
که د اختر په شپه رانغلې
بس که جانانه خپل وطن لره رادرومه
نصيب دې مه شه د لنډۍ زنې خالونه

مسافري دې ډيره اوکړه
مسافري خوړلې ياره
نور دې نصيب د خپل وطن اوشه مئينه
رب د وطن ته بيرته راوله مئينه

په مسافر مې زړه خوږېږي
په مسافر به مې زړه نه سوو

په ځنکدن کښې خپل وطن رایادوینه
اوس مې پرې سوزي چې په ځان مسافر شوم

تر دروازې درسره زۀ ځم
ماله یو تار د زلفو راکړه

مخکې د نوره اسرا خداے شه مسافره
مسافرۍ کښې نرې ملا به پرې تړمه

چار ګل په پوزه کړه خداے یاد کړه
د مسافر لالي دپاره

که د یار تلې په سفر وي رابه شینه
زۀ په فال نیسم د مارغانو آوازونه

که د اشنا زیرې دې راوړو
که دیار غبږ راباندې اوشو

قاصده لاس به دې په سترګو ښکلومه
د سر سالو به په خیرات کښې ورکومه

کارغه بلۍ باندې نعرې کړې
کارغه وزر به دې د سرو کړم

راته ښکارېږي چې اشنا مې نن راځینه
که حال دې اووي چې اشنا مې نن راځینه

یا زلزله ده زمکه خوزي
اس به مې ولې مستي نه کړي

یا مې جانان په نیلي سور دې رابه شینه
چې د جانان په لورې اخلي قدمونه

په وطن ستا د راتلو غبږ شو
په وطن ستا د راتلو غبږ شو

ما په خپل کور د ګلو فرش اوغوړونه
صورت مې پانړې زړه مې ګل اوغوړېدنه

نن مې د یار د راتلو غبږ شو
نن مې تر سترګو سترګو کیږې

په ډیر خاته مې پردي بام اونړاونه
یا به په لار ئې یا به اوس راشي مئینه

مسافر ډلې ډلې راغلل
مسافر راغلو ډلې ډلې

په هر ډله کښې د یار کوم پښتنه
زما د یار ډله ورستۍ ده رابه شینه

جانان به کله راشي خدایه
د سترګو ګاتې مې خوږېږي

زما چشمان په کتو سترې شو مئینه
نن مې د یار لارې ته ډیر کتلې دینه

مبارکي راکړئ عالمه
ما دې اوړدې لارې څارلې

پردیسي یار مې په خیر راغلے تر وطنه
زۀ دَ لنډو لارو نه څۀ خبره وومه

مسافرۍ نه سترې مه شې
مسافرۍ خوړلې یاره
اول غیږ درکړم که دې جیب اولټوم
قربان قربان دې د خیرونو جامو شمه

مسافري دې ډیره اوکړه
مسافري دې ډیره اوکړه
پیزار اوباسه چې تلې دې ښکلومه
اوس مې په تورو زلفو واچوه ټالونه

اے مسافر جانانه راشه
چې مسافر جانان مې راشي
نور مې د زړه صبر تمام شو اوبه مرمه
په دنداسه به ورته شونډې سرې کومه

نن مې د یار د راتلو غږ دې
مسافري نه سترې مه شې
ماله د چم جینکۍ زیرې راکوینه
اول غیږ درکړم که دې جیب اولټوم

په وطن ستا د راتلو غږ شو
مسافر ګله سترې مه شې
صورت مې پانړې زړه مې ګل اوغوړیدنه
وړومبې خله واخله بیا به اووائې حالونه

مسافر راغله جانان نشته
د مسافر آشنا دپاره
د زرو ډکه غیږ په چا اوګرځومه
تلی مې سوزې زه په نمر ولاړه یمه

خدایه د قطر بازار رنګ کړې
مسافري سخته خواري ده
په شته میړو کښې ښځې کنډې ناستې دینه
زما زاري ده رب دې راوله مئینه

پردې وطن دې زړه مې تنګ دې
پردې وطن دې زړه مې تنګ دې
ته په راستۍ راپسې نه اخلې قدمونه
ماله سحر په پرخو ډک راوړه ګلونه

پردې وطن دې زړه مې تنګ دې
رخصت به زۀ درله درنه کړم
ماله رخصت راکړه چې خپل وطن ته ځمه
که بې رخصته لما ځې رضا دې خپله

د مسافرو په قسمت کښې
د مسافرو دې خدائے مل شي
غمونه تل خوشحالي کله کله وینه
یا به نهر وي به سپو خوړلې وینه

د مسافر جانان سلګې دي
د مخې لرې شي لار پرېږدۍ
مخ ئې وطن ته کړې چې ساه ئې اوخیژینه
د یار سلګۍ دي که څه قید راباندې ګدینه

دلبر ياري راسره نه کړي
د لوي لارې مسافره
ما مسافر ګڼري چې نن صبا به ځينه
په ديدن مور شوي که مخ بيا دراوړومه

تکل به کله د راتلو کړې

په طمع طمع دې زړې شوې پيغلې جونه

نن د خواره جانان وعده ده
نن مې دې لاس باهو شنړيږي
چې د باد کش شي سلامي ولاړه يمه
يا مې يار مړ دې يا په لاره دې راځينه

نن د مجنون د راتلو ورځ ده
نن د خواره جانان راتله دي
ليلى په شونډو خندا کړي عالم لوټينه
په مکيز ځم په بنړو لار جارو کومه

ولاړه يم لاره دې ګورم
وفا دې ورکه کړه جانانه
لار دې چا بند کړه چې ته نه راغلې مئينه
غم دې زما د لارې مل که چې راځينه

تا وئېل نن صبا به درشم
تا پرون وې صبا به درشم
مياشتې دې تيرې شوې کلونه دې شمارمه
نن چې حاضر شوې راکوې رټ جوابونه

تکل به کله د راتلو کړې
تکل به کله د راتلو کړې
په طمع طمع دې زړې شوې پيغلې جونه
زما په تور اوربل کښې سپين اولګيدنه

جانانه ته چې رخصتيږې
جانانه ته چې واپس راشي
دا نا قلاره زړه به څنګ قلاره وومه
ښکته به ګورم خو مسکې به يم مئينه

ښارو رو رو په بلې راغله
ښاروني لاړه خپل وطن ته
په پنجره بند طوطي ته ئې اوکړل اوازونه
طوطئ ئې دغم پنجره کښې پريښوده دننه

دا قرار زړۀ مې په ټوپو شو
ستا په راتلو مې دومره سود شي
چې ناګهانه سلامي راغلې مئينه
لکه بيمار د کټ نه پاځي اوګرځينه

زما به څنګه رنګ تازه شي
زما به زړه درپسې پړق که
چې انديښنې مې اغوستن خوراک غمونه
که دا دې نه وئيلې چې نن صبا درځمه

کارغه غونډۍ باندې نعرې کړې
موده د اوشوه ته رانغلے

راته ښکارېږي چې اشنا مې نن راځينه
په فال دې نيسم د کارغانو اوازونه

زۀ د جانان په انتظار کښې
په طمع طمع مې زړۀ شين شو

لاره کښې شپې صبا کوم چې رابه شينه
نور مې د صبر طاقت نشته وبه مرم

ستا د راتلو په طمع طمع
ستا د راتلو وختونه تير شو

د ژمي شپه بهر چنې ته تيرومه
په ما دې تير کړه د مرګي سخت ساعتونه

صبا به بيا کډې بارېږي
صبا مې بيا د کډي وار دې

د دشت ګلان به ئې لمنې بويوينه
په سر به پلنډي چلوم په زړۀ غمونه

شکر چې ته د خيره راغلے
غمازه مخ به دې خدائے تور کړي

د غمازانو په کور پريواته اورونه
زما اشنا ته زياتې مه کړه غيبتونه

شا خو دې ماته کړه روان شوے
يو ځلې بيا دې مخ راستون که

د اوښکو ډکې سترګې څوک راپاکوينه
د سپيلني په شان لوګې درپسې شومه

نن مې اشنا ليدلے نۀ دې
نن مې اشنا ليدلے نۀ دې

زۀ د کوټې بوټکې له سل پيرې کومه
د دروازې په زنځير ځان مشغوله ومه

کارغه بلۍ باندې نعرې کړې
کارغه آواز کړو ته را نغلې

راته ښکارېږي چې جانان مې نن راځينه
ما د کارغه نعرې په فال نيولې دينه

که چا خبر د جانان راوړو
که چا د زيرې په ما اوکړو

سر به قربان کړم مال به زيرې ورکومه
دا مې قسم دې سر به زيرې ورکومه

که خدائے کول جانان به راشي
که خدائے کول ديدن به اوشي

ما ئې غنچې څنړې په خوب ليدلې دينه
زۀ د سرکار دکار اخلم رخصتونه

که د راتلو نه دې خبر وي
که د راتلو نه دې خبر شوم

ما به په لارې ګل سمن کرلي ونه
زۀ به کوټه په کوټه اونولم ګلونه

که مې جانان دا ځلے راغے
که مې جانان د خیره راغلو

زۀ په بهانه د هر کلي به ئې ښکلومه
خیرات به اوکړم ماشومان به مړومه

که مې جانان د خیره راغلے
که مي د زړه مراد پوره شي

مال به تالا کړم سر به زیرې ورکومه
زۀ په دنیا به خوش قسمته ځان ګنړم

اختر دې هغه چا اختر وي
که مې اشنا له خیره راغلے

په خپل وطن کښې ئې چې یار په څنګ کښې وینه
دا زۀ سیاله به هاله اختر کوومه

لیمه به دواړه ورته فرش کړم
د زړۀ قطرې به ترینه ځار کړم

که مې بې نیازه اشنا راوړي دیدنونه
که د جانان د سترګو باز مې میلمه شینه

ما درته وې جانان به راشي
زما په خپل جانان باور دې

ما د کارغه نارې په فال نیولي دینه
که د نیزو په څوکو لاروي را به شینه

اختر ته ډیره خوشحالیږم
ماله په ورځ د اختر راشه

زما د یار وعده اختر دې رابه شینه
زه به دراوځم تورې سترګې سره لاسونه

نن مې د یار د راتلو غږ دې
نن مې د یار د راتلو ورځ ده

ولاړه ګرځم ناستې خوند نه راکوینه
د چرګ په ځاے به ورته ځان حلالومه

نن خو مې ډیر یادېږې یاره
نن خو مې ډیر یادېږې یاره

داسې ښکارېږې چې دې ډیر یاد کړې یمه
خداے دې ناساپه چرته راوله مئینه

دا د الله مهرباني ده
وار خطا مه اودریږه یار

چې دې زما په انګنړ کیښود قدمونه
قدم زما په قدم ږده راځه دننه

یو د افسوس نعره به اوکړم
یو د افسوس نعره به اوکړم

په هغه ورځ چې مې اشنا له ملک ځینه
په هغه ورځ چې د جانان دغیږې ځمه

جوړې جانان مې په راتلو دې
زړه مې سینه کښې نه ځائیږي

بې وجې نه دي دا زما د زړۀ ټوپونه
نن مې د یار د راتلو ورځ ده رابه شینه

د راتلو وخت به مې هم تیر شي
د راتلو وخت راباند تیر شو
که زه رانغلم بیا به څه کوي مئینه
په مخکې راشه چې سودا مې کمه شینه

دا د اسلام د کفر جنګ دې
د اسلام ننګ دې پښتانه به ورله ځینه

توري راواخلي ورګډیږي
غزا له لاړ شه چې غازي شې
مدام به نه وي د حضرت په دین جنګونه
د نغري په غاړه نشته جنتونه

دا د اسلام د کفر جنګ دې
که مې په توره سر قلم وي
د اسلام ننګ دې پښتانه به ورله ځینه
دا راله ښه ده نه چې کور ساه ورکومه

بابو ټکټ په تلوار راکه
ګاډي ته بې ټیکټ خیژم
په مصر جنګ دې مجاهد به ورله ځمه
ظلم چې کیږې په مسلم زړګي مې چوینه

مسلم پاسه ځان بیدار که
نن دې اسلام نیازبیني خویندې
په فلسطین باندې یهود نعرې وهینه
په چغو سر دې المدد نعرې وهینه

پښتون په سر د دنیا شته دې
یا به مظلوم کشمیر آزاد کړم
هندو به څنګ په کشمیر نور اوکړي ظلمونه
یا به دا لوړه ځواني خاورې ایرې کړمه

هندو ظالمه ځان تیار که
د پاني پت قیصې دې یاد کړه
د پښتنو زلمي به غواړي جوابونه
ظالمه تانه جوړ هیر شوي تاریخونه

که د ځان امن دې پکار وي
که مې ایمان په جوش کښې راغلے
نو د کشمیر په خلقو مه کوه ظلمونه
کافره ستا به بیخ له نوغي اوباسمه

پښتنې پیغلې خوشحالیږي
چرته لندن او چرته چترال
چې زلمیان کاندي د انګریز سره جنګونه
بې ننګي زور شوه فرینګي چترال ته ځینه

د سنګر خواته شي غازیانو
په ملاکنډ ئې توپې چل کړې
د فرنګي ګولۍ وریږي په شکورونه
تر رنګ مالا پورې ئې اونوستل ګلونه

دا امبيلي په کنډاوګي کښې
دا امبيلي په کامبيلو کښې
ګوره پراته سستي پټې ببر سرونه
ګيدړ ماړه شو د ګورو په لړمونونه

مسلم پاسه ځان تيار که
د خدای رحمت په باباجي شه
ستا په وطن کښې فرنګي حکم کوينه
چې ئې فرنګ په کلکته اولګونه

بابا د توري دې لوګې شم
بس که په دغه فيصله کړې
زۀ د وطن شپې ستا په توره تيرومه
وطن ترې واخلې انګريز وشړې مئينه

د مغل ظلم به نسکور شي
د دې تيرې تورې دې ځار شم
چې پير روښان توره په لاس جنګ له ورځينه
د دښمن وينې تويوه لکه رودونه

د تور يالې مئين ځار شم
لاس مې هله اوربل له راوړه
چې د غليم په وينو سره کاندي لاسونه
چې د دښمن په وينو سره راوړې لاسونه

خاونده خير که خير راپيښ کې
يار مې د تورو جنګ کښې ګير دې
د تورو جنګ کښې مې جانان ګير دې مئينه
دا نا مردي ده چې زۀ کور کښې ناسته يمه

جانانه هلته دې خدای مل شه
زه به دې سر سلامت غواړم
چې شني لوخړې د پټيانو د خلې ځينه
که سرې ګولۍ لکه باران اورې مئينه

توره د ځوان سره ښائيږي
زما هغه زلمې اشنا دې
دا نامردان څله ښيوه په توره کړينه
چې د بر چې څوکه ئې د ورايه پړق وهينه

ځوانان په تورو سره ګډ شو
د ميړنو خويندې به ژاړې
موذيان په تورو کښې ولاړ تندې وهينه
د سپو موزيانو خويندې سترګې توروينه

د ميړنو خويندې به ژاړې
د نتکۍ لعل به پر قربان کړم
د سپو موزيانو خويندې سترګې توروينه
که مې جانان د جنګ روغ راشي مئينه

د نتکي لعل به پرې خيرات کړم
د نتکۍ لعل به پرې قربان کړم
که مې اشنا په دشمن مات کړل سنګرونه
که مې چا زيرې د جانان راوړه مئينه

صبا په سپین میدان غزا ده
صبا له بیا د جنګ وعده ده
تر خداے مې ځار کړې پښتانه غزاله ځینه
ځوانان منګلې لګوي جنګ له ورځینه

پلټنې ټولې په لام لاړې
ګاډي د سرو ګلونو ډک دي
جینکۍ ژاړې هلکان بصري له ځینه
چې تر بصري پورې ورځي مړاوي به وینه

چې جنګ له ځي ما بوځه یاره
تشې توقې به دې په جنګ کښې ټولومه

توره په لاس ټوپک په غاړه
آشنایا غبرګ ټوپک راواخله
راځه چې دواړه د کفارو جنګ له ځونه
چې ته ګزار کړې زهٔ ګولۍ دراچومه

زنړي غزا ته ځي روان شول
لالیه پاځه روانیږه
پیغلې ئې مخکې دي میګزین ورسره وړینه
غازیان تیریږي ته به پاتې شي مئینه

لالیه ځه چې ځو غذا له
ما د جنګریز میدان ته بوځه
چې د دښمن کېږې دړې وړې کړونه
چې کارتوسان درته ځولې کښې ګرځومه

بوړې دې ډک په اوږه کیده
تر دې بوړۍ ټوپک دې زار شم
دښمنان ډیر دي چې ډاډه درسره ځمه
په غاړه ستا دې کړه زه درسره ځمه

ټوپک د یار په غاړه خوند کړي
ستا د لنډې ټوپک له رویه
لکه چې خوند کړي په ډولۍ زرین شالونه
زهٔ په همزولو باندې ډیر فخر کومه

یار مې د تورو جنګ کښې ګیر دې
بنګړې د لاسو به ټول کوز کړم
دا نامردي ده چې زهٔ کور کښې ناسته یمه
زهٔ د بنګړو په ځاے به توره شړنګومه

چې جنګ ته ځې ما بوځه یار
دشمن په سرو ګولو کښې پټ کړه
تشې توقې به دې په جنګ کښې ټولومه
که کارتوس خلاص شو لونګین به ګانړه کړمه

جانان ویشتلې په ګولۍ دې
په تور ټوپک ویشتلې راشي
د توري څوکه لګوي کورته راځینه
د بې ننګۍ اواز دې رامه شه مئینه

په سنګر بيا ټکونه اوشل
خله مې تر هغه زلمې زار کړي

زلمې به مري موذيان به بيا کورته راځينه
چې له مورچې ئې په ولياؤ لټوينه

که مې جانان پرے رضا کېږي
د تورو جنګ دے ما به کړے وؤ

چې د سرو تورو باران وي ورګډ به شمه
د تقدير جنګ دې وار خطا ولاړه يمه

د زنړو هلته نندارے وي
صبا به جنګ په سپين ميدان وي

چې اوړے واړوي د شنو په کنداغونه
ځوانان به سپيني سينې ړدي په کنداغونه

مبارکي راکړے عالمه
که يار زما ئے توره واخله

زۀ د اسلام په ننګ د کفر جنګ له ځمه
که يار د بل ئې د بنګړو ډک کړه لاسونه

يار مې د تورو په بريښنا کښې
يار مې په سرو ګوليو دروې

زما مړوند په لاس کښې کلک نيولے ونه
صبا به مړ وي مخ تر خله پټومه

مورې دا خپل بوړې مې راکړه
مورې دا خپل بوړې مه راکړه

په سنګر خيژم فرنګيان راغلي دينه
په وطن جنګ دې کافران راغلي دينه

خبر مې کله کله اخله
جانان هلته دې خداے مل شه

تورو ټوپکو ته مې مخ دې خير دې وينه
چې دټوپکو خلو نه اوخيژې دودونه

چې توره اوباسي ګډيږه
ټوپک دې ټينګ اونيسه ياره

ما په همزولو پورې ډير خندلي دينه
چې په ټولکي کښې شرمنده نه شو مئينه

ستا د لنډي ټوپک له رويه
ستا د لنډي ټوپک نه ځار شم

زۀ په همزولو باندې ډير فخر کومه
په اوره ستا دې کړه زۀ درسره ځمه

صبا په سپين ميدان غزا ده
توره په لاس ټوپک په غاړه

تر خداے مې زار کړې پښتانه غزا له ځينه
راځه چې دواړه د کفارو جنګ له ځونه

صبا خو بيا د جنګ وعده ده
ته په مخ ځه مه حصاريږه

د زلمو مياندې به بيا نيسي زيارتونه
تر شا دې ناوي پښتنه ولاړه يمه

غزا له لاړ شه چې غازي شې
لالیه پاسه روانیږه

د نغري په غاړه نشته جنتونه
غازیان تیریږي ته به پاتې شې مئینه

خدایا د کفر سره جنګ کړې
زما هغه ساعت یادیږي

سپینې سینې به ځوانان ږدي په کنداغونه
چې چغه ګډه شي زلمې وهي ډولونه

○○○○

آزاد پیدا یم آزاد خوښ یم
د آزادۍ په مرګ خوشحال یم

آزاد وطن دې آزاد وخت به تیرومه
د غلامۍ ژوندون که ډیر وي ورک دې شینه

د آزادۍ ناوي جوړیږي
د آزادۍ معشوقه وائي

هر یو زلمې نعرې وهي چې زما شینه
د غلامۍ یار ته خولګۍ نه ورکومه

آزاد ژوندون تیرکه پښتون
د آزادۍ په لار کښې مړشه

د غلامانو په شان مه کړه سلامونه
چې جنازه دې د آسمان فرشتې وړینه

دا د اسلام د کفر جنګ دې
تورې ته لاس کړئ ولاړیږئ

د اسلام ننګ دې پښتانه به ورله ځینه
د آزادۍ نعرې وهي چې آزاد شونه

که مې په توره سر قلم وي
یا به مظلوم کشمیر آزاد کړم

دا راله ښه ده نه چې کور ساه ورکومه
یا به دا لوړه ځواني خاورې ایرې کړم

څۀ عجب خوند د شهادت دې
د ځنکدن سلګۍ وهم خندا راځینه

ځان د وطن په ننګ شهید که
جانان ولې شهید نه شوې

چې پښتنې جونه د هر وخت یادوینه
ماته همزولې په ګودر پېغور کوینه

د شهیدانو مقبرې دي
په خاورو ډک شي ګورستان

جونو راځي چې ورته اوکړو سلامونه
تاته راځي کړي پګړۍ تور اور بلونه

ځان د وطن په ننګ شهید که
په دښمن ځان ټوټې ټوټې که

په تار د زلفو به کفن درله ګنډم
بیا به د سرو شونډو ملهم درباند ږدم

ته په سنګر کښې ځان شهید کا
که د وطن په جنګ شهید شوې

زۀ به خپل شال ستا په زیارت اوغوړومه
د کلي جونه به زیارت له دې راځینه

څه عجب خوند د شهادت دې
په شهیدانو کښې چې شمار شم

د ځنکندن سلګۍ وهم خندا راځینه
د وطن خاورې ته ځوانۍ لوګي کومه

مورې لنډې توره مې راکړۀ
ټکرې ټکرې مې مورله یوسۍ

په وطن جنګ دې زه خپل جان شهیدومه
که زه شهید ووم چې او نه کړې فریادونه

خدایه په زړۀ مې ډیر ارمان دې
خاونده سل ځل ژوند راکړې

چې جهاد جوړشي زۀ شهید ورباندې شمه
چې د وطن په مینه سل ځل مړ شمه

که په سرحد چرته شهید شوې
جنډې مې سرې په قبر کښږدۍ

د سر پړونې به بیرغ درباندې ږدمه
په شهادت د خپل وطن جنت له ځمه

چې د وطن په ننګ شهید شم
خپلې جامې زما کفن شه

زما جامې په وینو سرې چې کفن شینه
په شهادت به د جنت کوم سیلونه

په وطن ننګ لالي شهید شو
چې د وطن په ننګ شهید شوې

د پټکي ولونه ئې سپړم ژړا راځینه
دا به زما د پاره لویه تحفه وینه

دا مې د پټ ښکاره نشان دې
زۀ ننګیالې یم په شانه لرم زخمونه

توره به نه کړې نور به څه کړې
د مړوند خوب مې پرې حرام دې

چې سپین مړوند دې زۀ تر سر لاند کومه
چې په میدان کښې له دښمن تیښته کوینه

د نا مردۍ احوال دې راغی
په هندوستان دې څلے جوړ شه

که په ډیلي ئې پسے ښکته ځه مئینه
د بې ننګۍ آواز دې رامه شه مئینه

د تورې داغ به دې خدائے روغ کړي
زړګیه داغ به درله در کړم

د تهمت داغ به دې تر مرګ پورې وینه
که د بې ننګ یار دې بیا اوکړه پښتنه

غبږ شو په کټ ئې جانان راوړو
خلق راځي چې ورله ور شو

زړۀ مې پرې ښه شو په شا ئې نه وو زخمونه
چې د پښتون په سينه اوګورو زخمونه

توره د هغه زلمي کار دې
چې توره نه کړي نور به څه کړي

چې دغيرت په اوبو مور لمبولے وينه
چې دې شودې د پښتنې رودلي دينه

جانان جنګ کښې په شا نه شې
که د دشمن نه په څټ راغلم

چې د همزولو مې را نه شي پېغورونه
بيا مې پښتون د تيرا مه بوله مئينه

توره زما د پلار جامه ده
زه د هغه پښتون فرزند يم

د پلار جامه په مال دولت نه ورکومه
چا چې لړلي په سرو وينو ميدانونه

که دې په جنګ کښې برې راوړه
يار مې په جنګ کښې برې راوړو

دا مې وعده ده خله به زيرې درکومه
زۀ ورته مخکښې سلامي ولاړه يمه

يار مې په جنګ کښې توره اوکړه
هلک به ولې توره نه کړي

زۀ په همزولو کښې نن هسکه غړې ځمه
تر نيميا ئې مور چله زۀ ورسره ځمه

جانان جنګ کښې په شا نه شې
که ته په جنګ کښې په شا راغلې

چې د همزولو مې را نه شي پېغورونه
کور د ځائ نشته قبرستان ته څه مئينه

ما وې په ننګ به يار پکار شي
په شملګۍ د شوم غلطه

بې ننګ يار په وخت د ننګ اوتښتېدنه
د بې ننګۍ نه دې زۀ څۀ خبره وومه

چې په ميوند کښې شهيد نه شوې
ټکرې ټکرې په کټ کښې راشے

خوږه لاليه بې ننګۍ له دې ساتنه
د بې ننګۍ آواز دې را مه شه مئينه

زما په مخ باندې راتوکړه
توره چې نه کړم نو به څه کړم

که مې د ننګ ګولۍ په شا خوړلې وينه
زۀ ننګيالې يم په شا نه لرم زخمونه

که د دښمن نه په ښټ راغلم
بیا مې پښتون د تیراه مه بوله مئینه

توره به کړې بري به راوړې
جانان په جنګ کښې توره اوکړه

که برې نه وي ځوانان تل په توره مرینه
ځکه همزولي راته کوښي سمه وینه

که د دښمن مخ ته دې مخ کړو
که بریالي د مورچې راغلے

د سپینې خلې سورې به زۀ درپسې وړمه
د لارې ګرد به دې په زلفو او ښندېم

چې د بې ننګو یارانه کړې
زړګیه داغ به درله درکړم

آخر به خوار شي که باچا د جهان وینه
که د بې ننګه یار دې بیا اوکړه پښتنه

که زۀ میړه ووم ځان به ځار کړم
که د دشمن نه په شا راغلم

پښتون پیغور د بې ننګۍ نه قبلوینه
بیا د تیراه پښتون مې مه بوله مئینه

خدایے بې ننګه زوي رامه کړې
که په وطن د ننګ اونه کړو

که په دیدن پسې ئې ړنده په سترګو شمه
زۀ به دا پاتې شودې نه در اوبه ښمه

په خپل وطن کښې شهید نه شوې
ټکرې ټکرې په کټ کښې راشې

خپله لالیه بې ننګۍ له دې ساتینه
د بې ننګۍ آواز دې رامه شه مئینه

د ټوپک ډز راباندې اوکړه
زړګیه داغ به درله درکړم

خو چې رانه کړې د بې پتو پېغورونه
که د بې ننګ یار دې بیا اوکړه پښتنه

چرته لندن او چرته چترال
د خدایے رحمت په باباجي شه

بې ننګي زور شوه فیرنګي چترال ته ځینه
چې ئې فرنګ په کلکته اولګونه

دا مې د پت ښکاره نشان دې
راځئ چې ورشو تماشې له

زۀ ننګیالې یم په شا نه لرم زخمونه
چې د پښتون په سینه اوګورو زخمونه

که دې دشمن مخ ته دې مخ کړو
که د دشمن له شکست ورکړو

د سپینې خلې سورې به زۀ درپسې وړمه
تاله انعام به د سرو شونډو درکومه

چې په سینه دې پرهر نه وؤ
راشه وجود مې ټول اوګوره
په شا غلبیل شه څه پروا دې نه راځینه
مرد میدان یم په شا نه لرم زخمونه

غبږ شو په کټ ئې جانان راوړو
غبږ شو په کټ ئې جانان راوړو
زړۀ مې یریږئي چې په شا ئې نه وي زخمونه
زړه مې پرې ښه شو چې په شا ئې نۀ ؤ زخمونه

د مړوند خوب مې پرې حرام دې
د کوټې تیر راباندې ښه دې
چې په میدان کښې له دښمن تیښته کوینه
په ما د نه وي د بې ننګ سړي لاسونه

زما په مخ لاړې راتوکړه
زۀ د وطن په ننګ ولاړ یم
که مې د ننګ ګولۍ په شا خوړلې وینه
د شهادت په مرتبه فخر کومه

یو خوا ته ننګ بل خوا ته مرګ دې
په سپین میدان به درسره ځم
مرګ مې قبول دې بې ننګي نه قبلومه
زۀ پښتنه له تورو نه تښتم مئینه

په پټ کښې تور مصلې ښه دې
که مې ستا پټ تر سره نه کړو
بې پت یار که شهزاده وي څه به ئې کړمه
زۀ به تاؤ کړې پټکۍ نه پسرومه

د بې غیرت اشنا د لاسه
اشنا دې بد په ما ثبوت کړې
پټکې د سر تاووم د ملکه ځمه
بې بدو زړۀ زما نه څله بدوینه

د بې ننګۍ وختونه راغلل
یار مې په بل کلي کښې اوسي
څوک چې د یار کلي ته ځي ډالۍ دې وړینه
رنګ مې ئې هیر شو په نامه ئې یادومه

زه د وطن په ننګ ولاړ یم
که زۀ میړه ووم حان به ځار کړم
پښتون زلمې یم ورنه سر قربانومه
پښتون پیغور د بې ننګۍ نه قبلوینه

خلق یارې د پښتنو کړې
د پښتنو زلمې زړور دې
ما د بې ننګه یارې کړه او شرمیدمه
د سر تیر دې بې ننګې نه قبلوینه

څوک چې غیرت په دنیا خوښ کړې
د غیرتیانو دوستان کم دې
هغه په جګو سترګو عمر تیروینه
د بې غیرتو دوستان هر کلي کښې وینه

سر دې راپورته که جانان
غزا ته ځه مه حصاربېږه
زۀ پښتنه یم ستا په پت ولاړه یم
زۀ درپسې یم تورې زلفې شنه خالونه

جانان ځه په مخ دې ښه شه
په سفر ځه مه خفه کېږه
زۀ پښتنه یم ستا په پت به ناسته یم
په شا دې زه یم دا ستا پت به پالمه

ټکرې ټکري په کټ کښې راشي
که زۀ میړه ووم ځان به ځار کړم
د بې ننګۍ آواز دې را مه شه مئینه
پښتون پېغور د بې ننګۍ نه قبلوینه

ننګیالې دې چې یادېږي په سندرو هم په ویر

د کډا خیلو راروان شو
تا د مهمندو سر اوچت کړو
د ماسل خان لښکر ړومبې حمله کوینه
دا ترنګزی حاجي دعا درته کوینه

د چمنې خان طاقت څرګند شو
پښتونه پاځه ځان بیدار که
ځکه انګلینډ کښې فرنګیان ژړا کوینه
ستا په وطن کښې فرنګي حکم کوینه

رامداده پاځه روانیږه
وار د رامداد د پګړۍ تیر شو
د سره کمر نه مهمندان راغلې دینه
نور مهمندان د پټکي نه پسروینه

نن بیا هغه ماښام دې
دې بخت منیر ته داسې وائې
د بخت منیر د جرمني ټقا راځینه
په تماچو برجونه چا اغستې دینه

اس مې زین کړې روانېږم
اس ته ور اوخوت راونېږي
زه مسافر د لوې لارې درنه ځمه
خان مومن خان د هندوستان په طرف ځینه

د اکبر خان غازي په توره
د دې تیرې تورې د ځار شم
وطن رڼا شو دشمنان په ماتي ځینه
د دښمن وینې تویوه لکه رودونه

خان غازي عمرا خان
ستا د لنډې ټوپکه ځار شم
په تا وریږي له اسمانه رحمتونه
د فیرنګي یلغار د بند کړو په بندونه

باجوړي ټول د باغ ګلان دې
د جندول خان عمرا خان
جستي خزان خواران ئې ټول وهلې دینه
ډیرې د کنډي کړې ښیرې درته کوینه

چې عجب خان ئې په پانسۍ کړو
پښتونه پورته په غیرت شه

نو د سدوم خانان په ځان و یریدنه
په دې عادت شه د ملک اوکړه خدمتونه

خور به ئې ولې نه رنديږي
خور ئې په چغو چغو ژاړي

چې د لالا کاروان ئې تش کورته راځینه
جوړه ئې راغله یوسف نشته مړ به وینه

دا هره مور به ځامن راوړي
څوک چې غیرت په دنیا خوښ کړي

د احمد شا په شان به لړ لړ پیدا شینه
هغه په جګو سترګو عمر تیروینه

د لښکر مشر خان ته وایه
د سر لښکر سردار ته وایه

ډیرې دې کنډې کړې ښیرې درته کوینه
په مړو موړ شوې که لا نور کوې جنګونه

څوک به برې راباندې اوکړي
پښتانه واړه شنه زمري دي

مونږ پښتانه یو د پښتو په مینه مرونه
د جنګ په وخت کښې په سیالۍ تورې وهینه

○○○○

د انقلاب سیلاب چې راشي
د زنده باد په نعرو مسته

د اقتدار بالا خانې راغور ځوینه
راشه چې چل د ژوندانه در اوښایمه

که د زلمو نه پوره نه شوه
باچا امام زۀ مقتدي ووم

فخر افغان جینکۍ به دې ګټینه
ګاندي امام شو ځکه ځان له نیت تړمه

چې زلمي شته نو خواري نشته
که زه میړه ووم ځان به ځار کړم

پښتون همیش هم د پښتو په توره مرینه
پښتون پېغور د بې ننګۍ نه قبلوینه

که د غیرت جوش په وجود وي
که مې غیرت په جوش کښې راغلے

زما جانان به همېشه کول مرګونه
هندو ظالمه زه به بیخ ستا اوباسمه

دا قبائل د قام لښکر دي
دا پاکستان دې تل آباد وي

په سرحد پروت دې کړې د ملک حفاظتونه
چې راکوي مونږ ته په لپو ماجبونه

○○○○

یار مې پښتون دې پښتو کاندي
یار مې پښتو باندې قیدي دي

څوک چې پښتو کړي تیره وي هغه جیلونه
په تورو سترګو ملاقات لره ورځمه

د جیل خانې چاپیره ګرځم
جیل خانه ټول ګړي ګړي ده

د جیل خانې افسر مې یار ته نۀ پرېږدینه
زه به د یار دیدن په کومه ګړي کړمه

په زولنو کښې لاس اوچت کړه
بیړو له شرنګ ورکړه لګ راشه

د جیل خانې کړکۍ ته زۀ ولاړه یمه
چې درته او وایم د خوږ زړګي حالونه

د پېښور په جیل خانه کښې
سخته چکي ظالم لنګر دي

په کارخانه کښې پښتانه کړي کوینه
زرې ذرې د جیل خانې د لټه یمه

کړکۍ ته جخته شه خله راکړه
په خدای دې سپارمه محبوبې

ستا د کوکۍ ارمان به ګورته ځان څه وړمه
روح رانه واخله ما پانسي ته خېژوینه

دا جیل خانه خدایه مسمار کړې
پښتون په قید کښې نه چپ کېږي

په رنګ خائسته خیالي ځوانان بدرنګه وینه
په جیل خانه کښې مرګ له غاړه ورکوینه

جیل تر په سل ځله بهتر دې
جیل خانه نیمه بادشاهي ده

چا چې ژوندون د جدائۍ لیدلي وینه
ورک دې ببلتون شي زړه ټوټې ټوټې کوینه

یا به مې ستا مینه نصیب شي
جیل ته مې واچو په رضا یم

یا به بیړۍ د جیل خانې اوګرځومه
داسې خو مه وایه چې نه د پیژنمه

که اختر تېر شي بیا به راشي
د جیل خانې بندیان به راشي

یار به رانه شي چې دخاورو لاندې شینه
اشنا د خدای په بند بندي شونه راځینه

یار مې د جیل په بند بندي شو
عمر د باد په شان تېرېږي

زۀ دا باقي عمر به څنګه تېرومه
که یار دې شل کاله بندي وي رابه شینه

باب: 2

د وطن موسمونه غرونه او بادونه

پسرلې راغلې نوبهار دې
د زلمو وار دې زاړه نه کوي سیلونه

سپرلي به بیا په ګلو راشي
سپرلي به بیا په ګلو راشي
بیا به را نۀ شي د ځوانۍ تلي وارونه
په تورو خاورو مې سپرلي کله راځینه

موسم بهار دې ملک ګلزار دې
موسم پرې بیا د سپرلي راغلے
په ما انکار دې چې جدا له یاره یمه
په شنو غوټو کښې به بیا شړنګ د بنګړو وینه

باغ مې د زړۀ خزان تالا کړو
باغوان ورشه باغ دې ګوره
بویه چې بیا سپرلي راځي سپړې ګلونه
خزان وهلي په کښې نشته زیړ ګلونه

باغ چې د زاغ په حواله شي
باغ مې د زړۀ خزان تاله کړو
بلبل نرې فریاد کوي له ملک ځینه
بویه چې بیا سپرلي راځي سپړي ګلونه

سپرلي به بیا په ګلو راشي
سپرلې مدام همیش ځواني وي
بیا به را نه شي د ځوانۍ تلي وارونه
چې په رڼړا د څوار لسمي ګرځیدم

دا پسرلي راته ښکاریږي
خاونده بیا دې پسرلې کړو
جینۍ په ځنړو کښې ګلاب ټومبلي دینه
جینکو راوړل په اوربل کښې زیړ ګلونه

پسرلي راغلې نو بهار دې
په اختر ته ځه چې زلمې ئې
د زلمو وار دې زاړه نه کوي سیلونه
په سپرلي ما پرېږده چې راوړم زیړ ګلونه

په بهار مه راځه خزان
بورا له ځان خبر نه وؤ
بورا به مړ شي خون به ستا په غاړه شینه
ده لا خندا کړه ګل تر کوز اورژیدنه

سپرلي کښې هر بوټې زرغون شي
زما څه کار په سپرلي نشته
سپرلي راغلے غوټو اوسپړدل ګلونه
زما د زړه غنچې خزان وهلي دینه

راشه زما د باغچې ګل شه
که ته زما د باغچې ګل شې

چې هر سحر دې په دیدن اوبه کومه
دا مې وعده ده له سوکړې به د ساتمه

مالا ګلاب بوئیں کړې نه وو
سپرلې به بیا په ګلو راشي

خزان او دې رژول سمسور ګلونه
خزانه ولې رژوې سمسور ګلونه

باغ ته د تله مناسب نه دي
جانان ته د ګلاب ګل شوې

په خپله ګل ئې ګل به ستا سلام کوينه
چې دې په زړه کښې د ګلاب په شان ساتمه

زۀ لا په باغ ورګډه نه ووم
باغوانه باغ مې د خوښ نه شو

باغوان نارې کړې چې تالا د کړل ګلونه
چې پۀ کښې نشته د جانان د لاس ګلونه

ښه ده چې باغ د ګلو وران شو
ښه ده چې وار د ګلو تیر شو

مدام به ئې غم د رژیدو راسره ونه
چې د خزان د متازی نه خلاصه شومه

غنچه د زړۀ مې مړاوي ښه ده
ګلو نه مړاوي مړاوي کېږي

اوس که تازه شي زۀ به ئې چاته اوښایمه
لالیه ځان سره د یوړل بهارونه

چنار ګل د په سر نشته
چنار به ګل څۀ رنګه اوکړي

د نورو ګلو راته جوړ شو پیغورونه
چې عاشقان تر لاندې کړي سوي آهونه

خلق ګل اوکړي ګل واخلي
زۀ له هیچا نه ګیله نه کړم

ما ګل کرلي مالکونډې تر ټولومه
نصیب مې خپل دې هر ساعت مې ژړوینه

خاونده بیا ته سپرلي کړي
خدایا ما ګل د سپرلي کړي

چې هلکان او جونه برغ ګلو ته ځینه
چې جینکې مې په ځولو کښې ګرځوینه

بهار به تل په ګلو نۀ وي
بهار به تل په ګلو نه وي

دیدن د سرو ګلو کوه خزان راځینه
دیدن دیار د مخ کوه خاورې به شینه

په ګل ګلاب دې اوویشتمه
په ګل ګلاب د اویشتمه

خوږ د زما د زړګي سرکړو اوبه مرمه
خوږ خو دې نه کړم دشمنانو اولیدمه

که د شودو لښتي پرسم شي
که د شودو لښتې پرسم کړم
تازه به نۀ شي د هجران سوي باغونه
خزان وهلي باغ مې نه سپړي ګلونه

د سپرلي ګله بختوره
ګلو کښې ستا بشر ښکاريږي
زۀ به د يار بشر په تا کښې اووينمه
ځکه سپرلي ته زړه زما دعا کوينه

د مخ په ګل دې خزان راشه
سپرلي به بيا په ګلو راشي
چې د سپرلي دې بلبلان شړلي دينه
بلبل مه کړه سوي سوي آوازونه

خاونده بيا ته پسرلي کړې
خاونده بيا دې پسرلي کړو
چې هلګان او جونه برغ ګلو ته ځينه
جو نه شوتل کړي زلمي سيل له تلي دينه

زما څه کار په سپرلي نشته
پسرلې راغلے ونې شنے شوې
زما د زړه غنچې خزان وهلي دينه
زما د زړۀ ونې ډڼلۍ وهلي دينه

غنچه لا ګل نه ده غوټۍ ده
غوټۍ چې ګل شي بيا رژيږي
بورا پيري ورته کوي چې ګل به شينه
زما جانان د ګل غوټۍ اورژيدنه

ګلاب د اصل شهزداه دې
ګلاب بادشاه نرګس وزير دې
رامبيل چامبيل ئې نوکران نيولي دينه
تر وزير تير شوم د بادشاه سلام له ځمه

ګلاب که مخ په پرخه وينځي
سينه مې باغ زړۀ په کښې ګل دې
زۀ د ګلاب سيالۍ کښې اوښکې تويومه
زۀ ئې د اوښکو په لښتو خړوبومه

ګلاب رنګ دې ښائسته دي
ګلاب په تور اوربل کښې خوند کړي
ځکه دې جونه په خپالي اوربل کښې ږدينه
سردې را ټيټ که چې در اوټومبم ګلونه

ځوک چې د چا د باغچې ګل شي
ځوک چې د چا د باغچې ګل شي
مناسب نه دي چې تر پانړې شوکوينه
مناسب نه دي چې سوکړي په تيروينه

ګلان په زمکه کښې کرل شي
سينه د ګل وجود دې باغ دې
ما خپل جانان ته په سينه کرلي دينه
خاونده څه کړم چې ککښې که ماليار شمه

ګل د اصیل بوټي په کار دي
د ګل د ذات پښتنه اوکړه
کم اصل ګل که بوئیه وم ډک دي باغونه
غنچه ترې هله جوړوه چې اصل وینه

ګل د بلبل سره جوړېږي
ګل مې د یاره سره ښائي
مناسب نه دي چې زاغان ئې بویوینه
مناسب نه دي چې مو ذیان بویوینه

ګل د ګلاب مې کورته دروړو
ګل د ګلاب مې درته پیش کړو
که ته پوهیږې د یاري درخواست کومه
لائق ئې نه وي تار په تار دې کړو مئینه

ګل سره تور بورا مزه کړي
غنچه د ګلو مې په لاس ده
ګونګټ دې نه ګنده کوي د باغ ګلونه
که څوک ګلونه بونیوي بورا دې شینه

ګلونه ډیر درسره راوړه
ګل د اوربل سره جوړیږي
زۀ د اوربل د پاسه چتر جوړومه
راشه اوربل باند قطار کړه زیړ ګلونه

خدایه ته ما د ګلاب ګل کړې
خدا ے خو به تا د ګلاب ګل کړي
چې جینکۍ مې په اوربل کښې لګوینه
جونه هوښیارې ګل په لاس کښې ګرځوینه

پسرلې ښه باران ئې بد دي
خاونده بیا ته پسرلي کړي
جینۍ واښه کړي تور اوربل ئې لمدوینه
چې په خیالي ګلونو اوشي بارانونه

کم اصل ګل ته مې اسره کړه
چې زما نه شوې د بل نه شے
اصیل ګلاب رانه خزان اوریږونه
ګل د لاله شې چې دې باد اورژوینه

بیا د سپرلي ننبې ښکاره شوې
د سپرلي باد دې را الوتې
نوې شبنم تورې وریځے زیړ ګلونه
د یار د لورې د یار بوئښ راله راوړینه

د سپرلي غم او ښادي یو دي
ورکه سیلي شه ورک ئې نوم شه
ګل په خندا دې اسمان اوښکې تویوینه
ښه خو باران وي چې وطن آبادوینه

د پسرلي هوا لګیږي
د پسرلي نرې باران دي
ستا د اوربل په نسیم زړونه تازه شونه
باد پرې روان دې کوه دامان مزه کوینه

خدايا پسرلي شو ګلان ګل شو
که د شودو لختي پرې سم کړې

زما د زړۀ ګلان سهيل وهلي دينه
خزان وهلي باغ مې نه نيسي ګلونه

ګل مې په لاس ورته ولاړه
جانان مې ګل دَ لاسه نه اخلي

يا مې ګل واخله يا رخصت راکه چې ځمه
د اسمان ستوري به جرګه ورته ليږمه

راشه زما د مينې ګل شه
خاونده ما ګل د ګلاب کړې

چې هر صبا دې په خندا تازه کومه
چې د خپل يار په غيږ کښې پانړې پانړې شمه

بلبل به خدائے په ګلو موړ کړي
ستا به د ګلو دوران تېر شي

مالیار ستا نيمګړې نيت مې ژړوينه
زما به پاتې شي د سوي زړه داغونه

ګلاب رنګ دې ښائسته دې
ګلاب دا قدر دې بس دې

ځکه دې جونه په خيالي اوربل کښې ږدينه
چې جينکۍ دې په اوربل کښې ګرځوينه

ګل چې بلبل ته هوسيږي
ګل چې خندلي دي بلبل ته

بلبل به ولې په ګل مئينه نه کوينه
ځکه بورا د غمه توره لمبه شونه

خزان په مينځ د ګلو راغلے
خزان منت د بورا نه اوري

ځکه بورا چغې وهي د باغ ځينه
درنګ له به قتل په سرو ګلو ګډوينه

خزان په زيړو ګلو راغلے
خزان چې شته مه خوشحالېږه

بلبل بورا او باغوان ټول ژړا کوينه
بلبل نن صبا به توئ شي زيړ ګلونه

په کشمالو کښې ورته پټ شوم
په کشمالو کښې ورته پټ شوم

جينۍ اوربل کښې کشمالي ږدي رابه شينه
جينۍ هوښياره کشمالو له نه راځينه

د پېغلې کور نه خطا کېږې
د ليونۍ کوڅه ښکاره ده

په ديواله ئې کشمالي کرلي وينه
په دروازه ئې کشمالي کرلي دينه

د کشمالو به دې مالیار شم
د کشمالو راکره بنړ دي

تازه غنچې به دې اوربل له جوړومه
ځکه مې بوئې د پرتوغاښ د غوټې ځينه

نارے خومه وهه درځمه
نارې وهمه غوږ دې کوڼ کړو

د کشمالو په بڼ کښې سترګې تورومه
ولې دې ځان له ما انجانه کړو مئینه

پاس په آسمان کښې ګر هزارشو
په بلۍ مه ژاړه کاسیرې

جینکۍ ژاړې کشمالې ږلې وهینه
د کشمالو څوکې دې یار رودلې دینه

خزان په زیړو ګلو راغلے
خزان د سرې منګلې ګرځي

بلبل بورا او باغوان ټول ژړا کوینه
تالا مې مه شه د پښتو د باغ ګلونه

د ګل غوټې ته مې لاس نه ځي
ګل خو په بوټي کښې مزه کړي

په دې ویریږمه کوچنې اولاد لرمه
تا په خیالې اوربل منډلي دي ګلونه

زۀ د ګلاب د ګل دپاره
ګل ته د بوټي مینځ کښې ګورم

د بادشاه لوریم د باغوان سلام کومه
لاس مې دې مات شي چې ډنډر به ئې ماتوم

صورت به ستا په وینو سور شي
ګلان بې خاره نه لوئیږي

څوک چې ګلونه پریکوي اغزي پرې ځینه
چې چرته ګل وي خار به هم ورسره وینه

غنچه په باغ دننه خاندي
غنچه په باغ دننه خاندي

بورا د صبر دروازې نیولې دینه
څه ئې پرواه ده که بورا له غمه مرینه

ګل د ګلاب بوئې د څنځلے
ګل د ګلاب بوئې د څنځلے

سورې د ولې خوب د یار په مړوندونه
سورې د ولې غیږ د ګران مزه کوینه

ګل د ګلاب په لاس را نغلے
ګلونه ډیر دې خداے دې ډیر کړي

د نورو ګلو مې باغچې ولاړې دینه
زما د بخرے ګل خزان اورژونه

ګلاب په ګلو کښې باچا دې
ګلاب د اصله شهزاده دې

نرګس وزیر خزان پرې راوړه چپاونه
رامبیل چامبیل ئې نوکران نیولې دینه

ګلاب د خداے په قدرت جوړ دې
ګلاب د شرمه نه مخ پټ کړو

جانان ستا شونډې تر ګل نازکې دینه
یار چې په سرو شونډو په باغ کښې مسکې شونه

موږ د تا ګل و ګلزار کړي
موږ دې تا نه کړي ملاله
که په ما ټول عمر د غم وي تیر به شینه
قیمتي لعل زه هلاک در پسې شومه

مالا ګلاب بوئې کړې نه وو
باغ مې د زړۀ خزان تالا کړو
خزانه اودې رژول سمسور ګلونه
بویه چې بیا سپرلي راځي سپړې ګلونه

وار به دې تیر شي زیږه ګله
وار د اصیلو ګلو تیر شو
بویه چې بیا سپرلي راځي سپېرې ګلونه
په میرو ګرځم اوس ئې جرړې لټوم

وخت د اصلي ګلونو تیر شو
وخت د اصلي ګلانو تیر شو
اوس کاغذي ګلان په چغو خرڅومه
چې موسم وي زۀ به ئې ستا په سر کښې ږدمه

○○○○

دا سپیلني ورته لوګې کړئ
چې د نظره دې خوک نه کړي
زیارت له تلے چا به ئې مخ لیدلي وینه
خال دې په مخکې سپیلني لوګې کوینه

د سموار په شان خوټ کیږم
نه سپیلنې شوې نه لوګې شوې
آخر به مړ ستا د وصال په ارمان شم
نه لیونې شوې نه دې زړۀ صبر کوینه

سینې ته غټ لونګین جوړ که
جانانه تا که لونګ راوړه
ډول به ستا وي بوئې به مالره راځینه
زۀ به له خیاله لونګین په غاړه کړمه

که توره یم تا به مئین کړم
په تورو بد مه وائې خلقه
تور خو لونګ دي امیران ئې بویوینه
په تور لونګو د هر چا مئینه راځینه

بیګاه د چا په غیږ کښې پروت وې
ځنګ ته مې مه راځه جانانه
د سپینې ریږې دې لونګو بوئې راځینه
صبا به بوئې د لونګین در ښخه ځینه

چچې لونګ لبان دې رنګ دي
خله به تر شونډو لاندې درکړم
ورکړه قلنګ چې ملنګ ځې له دې وطنه
په سپینو غاښو مې لونګ ژولي دینه

که ته د خان بابا نوکر ئې
راشه زما په ځنګ کښې کینه
د تماکو په ځاے لونګ به درکوینه
که تماکو غواړې لونګ به درکومه

سر دې د هرې ونې دنګ دې
چناره ګل دې په سر نشته
چناره ولې نه راوړې د خيال ګلونه
د نورو ګلو راته جوړ شو پېغورونه

چنار به ولې لوئې نه کا
هلکه ځان ته غره مه شئ
چې جينکۍ تر لاندې سترګې توروينه
که ته چنار ئې زۀ د ګلو لښته يم

زړه خو مې درکړو چې ساته ئې
د سپيلني دانې ته ګوره
تا سپيلنې غندې په سور اور واچونه
داسې لوګې جانان ستا د غمه شومه

مزاج د ترکو بې وفا دې
د سپيلني لوګي ته ګوره
که سپيلني شم ځان لوګې ورپسې کړمه
داسې لوګې مې د زړګي د سر ځينه

دا نيمه شپه ده غله ګډيږي
دا نيمه شپه ده سپي غپيږي
د لونګين ميرمنے او شميره لړونه
هغه به وينې وي چې په زړه ويشتلي وينه

په لاره تلې مخ دې راستون کړو
بيګاه مې داسې خوب ليدلې
د لونګين ول دې کول اشارتونه
زما د تور لونګين اوشليدل لړونه

بنګ ئې په خپله يار له ورکړه
زما دې زړه سراسر خوړين کړو
بيا ئې نعري کړي چې مې يار ليونې شونه
تاته د بنګو پيالۍ چا درکړې دينه

بنګ ئې په خپله يا رله ورکړه
خوله دې د شنو بنګو پياله ده
اوس پورې خاندې چې مې يار ليونې شونه
ځکه بنګيان ورته پخې ديرې وهينه

زما جانان طوطي رنګ
خدا‌ے دې د لرې راروان که
آسماني رنګ دې لونګي چنار دې ونه
چې تماشه دې د چنار ونې کومه

ښنګه په سپينه سپوږمۍ راغلے
چې دواړه لاس مې تر چاپير کړل
د چنار لوړ جانان کوم ځا‌ے دې ساتمه
د چنارونو ښخې چا نيولي دينه

په وره کښې نيمه راښکاره شوې
ښوک مې له حال خبر نه شو
لکه د هاړ چنار پوټکي غورزومه
لکه چنار مې په ډډ اور اولګيدنه

چنار سورې د جنت ئې
چنار به ولې لوے نه که

زما جانان تر لاندې کړي دي خوبونه
چې جینکۍ تر لاندې سترګې تورونه

بلبل پتنګ کله یو رنګ وي
بلبل په ګل اهونه کاندي

بلبل په ګل پتنګ په اور کړي غورزنګونه
پتنګ په ننګ د شمع څنګ سره ورځینه

بلبل که ګل پسے ژړا کړي
ګل د بلبل سره جوړېږي

د ګل په زړه داغونه چا لیدلي دینه
مناسب نۀ دي چې زاغان بوئیوینه

غنچه په باغ کښې په خندا شوه
بلبل مینه د ګل پرېږده

بلبل سینه په ازغو ږدي ورله ورځینه
چې په ازغو څیرے زړګې دې پیوند شینه

ګل د ګلاب که ښائسته نه وي
څو چې سینه په ازغو نه ږدې

بلبل به نه څیرل ازغو باندې څانګونه
تر هغې نشته د وصال د باغ ګلونه

بلبل زړه به دې سورې شي
زړه مې سورې وینې ترې څاڅي

چې د خزان شمال ګلان اورژوینه
د غم چنچنړے په کښې جالے جوړوینه

بلبلان ټول په ژړا ژاړي
بورا د عشق په لمبو تور دې

بورا په توره خولګۍ اوخوړل ګلونه
بلبل مه کړه تور بورا ته پېغورونه

د بلبل هسې نوم بدنام دې
د طوطي هسې خولګۍ سره ده

د باغ ګلونه ټول بورا خوړلې دینه
د ښارو سرې شوندې کارغه چیچلي دینه

بلبل د ګل د غېږې بیل شو
اسره د ناستے ئې خوره شوه

څکه چمن په چمن ګرځي کړي ویرونه
چې د چمن په خوا راته په چغار شونه

زما اشنا خو تور بورا دے
عاشق چې ورشي معشوقے له

د ګل په شان په ما وزر راخپره وینه
اول ئې ښکل کړي بیا خواره کړي پرې څانګونه

بورا د ګل په مخ مئین دې
ګل چې خندلي دي بلبل ته

څکه خیرلے ګریوان هر ځاے شوروینه
څکه بورا له غمه توره لمبه شونه

په پتنګ نوم د عشق پور دې
پتنګ د ننګ په شمع سوزي

ځکه خواره لاسونه شمع له ورځینه
ګونګټ تر بیرته څرخ وهي چې تور به شمه

پتنګ په مینځ د بازار راغلے
شمع تپوس به درنه کېږي

شمع مخ واړو چې نه د پیژنمه
ډیر پتنګانو له د سوي دي څانګونه

پتنګ زمانه مینه زده کړه
عاشق چې ورشي معشوقے له

ځکه خواره څانګونه شمع له ورځینه
اول ئې ښکل کړي بیا پر واچوي لاسونه

پتنګ نه شمع زړګې اوړي
عاشق په اور کښې خوشحالېږي

ځکه سینه د لمبو مینځ ته رسوینه
لکه پتنګ د سینے مینځ په شمع ږدینه

بلبل په ګل پسې خفه دې
بهار به بیا په ګلو راشئ

ځکه چمن په چمن ګرځي ویر کوینه
بلبل مه کړه سوي سوي آوازونه

بهار په ټول وطن بهار دې
بهار به تل په ګلو نۀ وي

په ما انګار دې چې یار خواله نه راځینه
دیدن د یار د مخ کوه خاورې به شینه

بهار په خیز خزان پر راغی
بیا به په باغ دننه نه شم

بلبل تر مړه څانګونه تلو په ژړا شونه
بلبلان ژاړي ماله هم ژړا راځینه

بورا د خپل رنګ تور دې
بورا د عشق په لمبو تور دې

په ګلاب کیز مکیز کوي چې تور دې کړمه
بلبل مه کړه تور بورا ته پېغورونه

بورا بلبل ته په ژړا شو
بورا په پت بې پت نه ؤو

چمن خزان شو اوس به دواړه سره څونه
خزان په ځان کړو ځکه بیل له ګل شونه

بورا زما په طمع نه شي
بورا له ځانه خبر نۀ وؤ

سیال خو مې نه ئې چې په لاس به زۀ درځمه
ده لا خندا کړه ګل تر کوز اورژیدنه

باز مې کارغانو سره لاړو
باز مې د لاسه هوا ګیر شو

مردارے غوښې به ئې خوراک شي مړبه شینه
د زلفو جال په هندو کش به ورته ږدمه

بې مناسبه راته ښکاري
باز دې بې نیازو په ولګه شو
باز د کارغانو سره ځې مردارے خورینه
مردارې غوښې ورکوي رنځور به ئې کړینه

بهار په خیز خزان پرې راغلے
اوس د سپرلي تازه هوا ده
بلبل تر مړه ځانګونه تلو په ژړا شونه
ځکه بلبل د خوشحالي آواز کوینه

د آباسین د غاړې ګله
د آباسین د غاړې ګله
مړاوي به نه شي اباسین اوکړه موجونه
یا به دې پرې کړم یا به ډوب درپسې شمه

د آباسین چپو لاهو کړم
د آباسین دریاب په مینځ کښې
نه د کشتۍ نه د تختو اسره لرمه
لاس دې رانه کړو د مئیو خوراک دې کړمه

د پسرلي لوونه ګډ شو
جینۍ په سرو منګلو وریږي ټولوینه

سپوږمۍ تلوار کوه راخیژه
سپوږمۍ تلوار کوه راخیژه
زلمي د ګلو لوله ځي ښامار ئې خورینه
یار مې د ګلو لوله ځي ناوخته شونه

سپوږمۍ کړنګ وهه راخیژه
ته چې لو کړې ګوتې به پرې کړې
یار مې د ګلو لو کوي ګوتې ریبینه
زۀ سور پیزوان په نرې پوزه درغلمه

دا غنم لو خاونده ګډ کړې
چې لو او لورشي خواري زور شي
چې بغدادي کونترې وریږي ټولوینه
په بخملي ګوتو په وریږي ټولونه

یار مې د سرو غنمو لو که
خله مې غنمو لو کښې ورکړه
سپینه خولګي صبا نارې به ورله وړمه
غنمو لو کښې څوک اوبه نه ورکوینه

د پسرلي لونه ګډ شو
مانه دې خټه غنم واخلي
جینۍ په سرو منګلو وریږي ټولوینه
په لیونۍ دې وریږي نه راټولوینه

نائیک رخصت راکه چې لاړ شم
الله دې راوله جانانه
پاس په وطن مې غنم زیړلوي کومه
په سرو لاسونو به زۀ وریږي ټولومه

باد شاهي تخت مې پکار نهٔ دې
چې خپل اشنا مې راسره وي

اشنا به لو کړي زهٔ به ورېي ټولومه
زهٔ خو په ورېو ټولولو رضا يمه

بې ياره تخت مې پکار نهٔ دې
چې خپل اشنا مې راسره وي

د خپل اشنا سره نهره خوښه يمه
اشنا دې لو کړي زهٔ به ورېي ټولومه

يار مې په پورې شا کښې لو کړي
يار مې د سرو غنمو لو که

کونتره نه يم چې پرې سوري کړم ځانګونه
سپينه خولګۍ به صبنارې ورله وروړمه

په تورو غرونو خدای مئين دې
په سر ئې واورې وروي يخ کښې ګلونه

د تورو غرو ښائيست مې خوښ دې
د لوړو غرنو سيل مې اوکړو

نور په سرخي پوډر دې ډير اوغليدمه
اوس مې ياديږي د شينکي وطن باغونه

کور دې د غره په سر کې جوړ کړو
کور دې د هسکو غرو پناه دې

نه درختې شم نه مې زړهٔ صبر کوينه
وريځه خو نه يم چې په غره درخوره شمه

په تورو غرنو خداے مئين دې
تورو ته بد مه وائي خلقه

په سر ئې واورې وروي يخ کښې ګلونه
په تورو غرنو اولياء ناسته کوينه

صبا د تورو غرو بهير دي
په لوړو غرو به سره خيژو

د زلفو تار راکړه چې ملا پرې اوتړمه
په زنګنو به زيړ ګلونه ماتونه

سحر به تورو غرو ته خيژم
د ليونو کاني راوشوي

لکه د قيس چې ليونو کښې حساب شم
په غرونو سر شوم آبادي نه پيژنم

زما د غرنو پناه يار
د تورو غرنو پناه ياره

سپوږمۍ ته ګوره زهٔ به کور ولاړه يمه
سپينې سپوږمې ته سلام کړه سلام به کړمه

د تورو غرونو پناه ياره
د تورو غرو ښامار دې اوخوره

چرته په خيال کښې دې راځم که هيره شومه
چې ږانګه بانګه دې په غيږ کښې دمومه

زۀ دې په خپل کور کښې زړه کړم
عمر برباد راباندې تیر شو

د پیغلتوب باغ مې خزان لوټ کړو مئینه
لکه برباده میوه شي په لویو غرونه

کور به دې کله راښکاره شي
په لوړو غرو به شمه پورته

زما چشمان په کتو سترې شو مئینه
که راښکاره شي د اشنا د کور برجونه

غرونه به ولې نه غټیږي
قبر مې جوړ په لوړو غرو کړئ

چې پښتانه په کښې د ننګ چغې وهینه
چې د وطن شمال ئې شناختې خوزوینه

د تورو غرنو پناه یاره
د تورو غرنو پناه یاره

چرته په خیال کښې دې راځم که هیره یمه
مولا دې خپل وطن ته راوله مئینه

د غره په سر رنړا بلیږي
له مسافرۍ دې داسې ژاړم

راته ښکاریږي مسافر وطن ته ځینه
لکه په لوړو غرو چې اورې بارانونه

دغره په سر دې ډزې اوکړې
خداے دې په لوړو غرو کښې مړ که

په زړه سورې شي یاره او دې کړ کوژدن
چې جنازه دې په سرو ګلو اوتړمه

د غره په سر کښې د کور جوړ کړو
په دا لوي غره در اوختمه

نه درختے شم نه مې زړه صبر کوینه
نه مې غم کم شو نه مې اوکړل دیدنونه

پاس په تیراه اوره باران
د پېښور په برخه سیل دې رابه شینه

باران دې وي سیلۍ دې نۀ وي
ورکه سیلۍ شه ورک ئې نوم شه

سیلۍ نا مراده ورانوي آباد کورونه
ښه خو باران دې چې وطن آبادوینه

د توکل په للمه کر کړم
زما اشنا ګل د ورخاړي

که پربمالک د کرم اوکړي بارانونه
په میرو ژاړي خداے نه غواړي بارانونه

دا ستا خبرې مې زړه غواړي
باران د زمکې آبادي ده

لکه د للمې غنم غواړي بارانونه
شرین یاره زۀ په تا آباد یم

د سپینو غاښو دې رنړا شوه
پاس په تیراه اوره باران
چا وې باران دې په تیراه ئې وروینه
د پیښور په برخه سیل دې رابه شینه

د غم وریځې راخورې شوې
باران د اوښکو په وریږي
ګریوان د سترګو په باران اوبه کومه
د زړه انګار مې وخت په وخت تازه کوینه

باران دې هر مدام وربږي
باران وریږي غولې ډنډ شو
زۀ د جانان دیدن ته خامخا ورځمه
قدم زما په قدم ږده راځه دننه

له مسافرۍ دې داسې ژاړم
عمر برباد په ما تیربږي
لکه په لوړو غرو چې اوري بارانونه
لکه برباد په غرونو اوښي بارانونه

آسمان بند باران په اوکړه
آسمان تند باران په اوکړه
یار مې میوې کرلې دي چې اوبه شینه
یار مې للمې کرلې دي چې اوبه شینه

باران چې اوري خو دې اوري
باران په ستر تیراه وریږي
واورې دې نه اورې چې لارې بندوینه
د لواړګې برخه بادامه ده رابه شینه

شفتالو ګل باران وریږي
بارانه رو رو په وربږه
زما لونده شو د لنډې زنې خالونه
وړې وړې جینکۍ غره ته تلې دینه

ستا د وصال باران اونه شو
زما دې څۀ نصیب کړه خدایه
په نم د سترګو لوندوم د زړه باغونه
زۀ د باران اوښکې زیاتې تویومه

باران وریږي ختې کیږي
باران رو رو په وربږه
د مسافر اشنا مې نشته دالانونه
قدم زما په قدم ږده راځه دننه

آسمانه ښه باران په اوکړې
د توکل په للمه کر کړم
یار مې د شولو کر کوي چې وتره شینه
که پرې مالک د کرم اوکړي بارانونه

د دنیا باد داسي تیرېږي
لکه د تورو غرونو باد په شنړا ځینه

د چا په مرګ مه خوشحالېږه
د دنیا باد داسې تیرېږي

مرګي شمال دې هره ونه شوروینه
لکه د تورو غرونو باد په شنړا ځینه

چې دې د زلفو شمال راشي
د ناکامې شمال موذي دي

زړه مې د ګل په شان پانړي پانړې شینه
زما د څنړو بوئې له تانه لرې وړینه

تبه مې نه ده چې به روغ شم
که دې د زلفو شمال راشي

زهٔ د کاږه اوربل شمال وهلي یمه
دا زیړې رنګ به مې تازه له ګلوشینه

میني دې اوسوم غم ایرې کړم
یا به مې دا یاري یاري شي

که مې د اوښکو اوبه نه وي باد مې وړینه
یا به مې سر د غرغرې شمال وهینه

د سحر باده خوشحالېږه
باد صبا د خدایے دپاره

تا د هیواد د یار راوړه دیدنونه
زما په ښکلي اشنا وایه سلامونه

د تورو غرونو پناه یار
باده د یار خبرونه راوړه

دیدن د باد سره شامل که چې راځینه
ظالمان شته دې ما اشنا ته نه پرېږدینه

پلاره کوچې ته مې واده که
موري کوچیانو له مې ورکړه

د اوښ په شا به مې کابل ته خیژوینه
چې تور اوربل مې د سپین غرشمال وهینه

د اشنا کور به غلط نه کړم
باد د بلغار چې په کنبې لګي

ما ته تر بوئې د محبت شمال راوړینه
د غر مې خوب به د اشنا بور جل ته وړمه

سپک چې د سپکو په دوستۍ شي
زما دې زړه ذرې ذرې کړو

خس چې د باد سره هم څنګ شي بادئي وړینه
داسې زرې شي چې دې باد راپسې وړینه

لکه د باد په مخ کنبې پانړه
ستا په نیستې مې پرواه نشته

هسې نیستي زهٔ په هوا اخستې یمه
نیستي وسله ده هلکان ئې ګرځوینه

کله قلاره قلارې وې
زما پنځه وخته دعا ده
کله راوالوځې د غم تاوده بادونه
رب دې د غم د باد اوساته مئينه

د سحر باد بیا رانه شې
د سحر باده رب دې اوچ که
زۀ د جانان په خولو لوند ووم اوچ دې کړمه
زۀ دَ اشنا په خولو لوند ووم اوچ دې کړمه

پالنګ مې پاس په لوړه کيږدئ
سبا به تور بامو ته خيژم
که چرته باد د جانان راوړي ديدنونه
که د جانان احوال مې باد راوړي مئينه

جينۍ جوړه منګې په سر کړل
ما د جينۍ د سر سالو کړئ
د سينې مينځ ئې د کابل شمال وهينه
چې نرۍ باد ئې ما سينې ته ټولوينه

ورشه بورا نسيم ته وايه
د سحر باده په رو رو ځه
بې د راتلو د غوټي نه سپړي ګلونه
چې ګل ګوټي ښنړے خورې په هوا شينه

ديدن د بادو پيمانه ده
ديدن د بادو پيمانه ده
نه پرې مړيږم ته تر پنډ ترلي شمه
څومره ساده يم زۀ ځولۍ ترې ډکومه

سپينه کوټه د کنډوالي شه
که هيره ومه نه هيريږې
زما ياديږې د کيږدې يخ شمالونه
په زړه وريږې ستا خواږه خواږه يادونه

زما جانان چرته ولاړ دې
د مازيګر ګودر دې ګل وې
ساړه ساړه اسويلي کړي باد ئې راوړينه
بوئې د زلفانو مې هوا جانان له وړينه

چې مازيګر شي ښکته نمر شي
په چا اختر شي څوک د غم ژړا کوينه

مازيګرې دې ښيرې مه کړه
مازيګرې دې سوال قبليږې
ته به دَ نياز ښيرې کوې رښتيا به شينه
خلقه زما په حق کښې پورته کړے لاسونه

د مازيګر اوبوله دروې
د مازيګر اوبوله لاړه
لکه د زرکې په شان اخلي قدمونه
په زړه ويشتلي ئې د راتلو لارې ساتينه

د مازيګر اوبوله مه څه ځوانان پيريان دي جينۍ وابه دې ړوينه
د مازيګر اوبوله نه څم د مازيګر په اوبو ډير دې تهمتونه

د مازيګر ګودر دې ګل وي بوئې د زلفانو مې هوا جانان له ځينه
مازيګرې به قضا نه کړم د ګودر غاړه مې په ښوده ښه دې وينه

د مازيګر ګودرا وران شې په خندا درشم په ژړا درنه راځمه
د مازيګر ماښام تر مينځه جانان د بل چا کره درومي مړه ئې کړمه

د مازيګر سوري کاږه شول د تور اوربل سوري له ځاے نه خوزينه
د ماسپخين سوري کاږه شول زما کاږه شول خپل وطن ته قدمونه

چې مازيګر پرې ښائسته کېږي هغه جينۍ له مور منګي نه ورکوينه
مازيګر مه کړې لويه خدايه چې مازيګر شي مور منګي نه راکوينه

چې مازيګر شي زړه مې ښه شي پټ راته وائي چې راځه اوبو له ځونه
د مازيګر ګودر ته راشه په اشارو به دې د سترګو پوهومه

چې مازيګر شي ښکته نمر شي په چا اختر شوي څوک د غم ژړا کوينه
په ګودر راغلم مازيګر وؤ هغه څوک نه وو چې ئې ګودر ښائسته کونه

دا مازيګر دې زيړې نمر دې کېږې بارېږي صبا بل وطن ته ځينه
خدايه نرې نرې باران کړې چې د جانان کېږې ترلې پاتې شينه

دا مازيګر دې زيړے نمر دې د چنارونو سرته مه خيژه مئينه
خداے به پخپله مازيګر کړي د چنارونو سر ته مه خيژه مئينه

د مازيګر زړيه نمره په چا ولاړ ئې په چا پريوتې مئينه
د مازيګر زيړيه نمره ديدن به اوکړې پيغلې اچئ اتنړونه

د مازيګر زيړې نمره په نا خبره يار مې وايه سلامونه
د مازيګر نيمګړې نمره يا مې يار ښايه يا دې ټول که طنابونه

مازيګر ښه دې ديدن اوشي
مازيګر کور ماښام په لارې
ورکه دې ورځ شي انتظار کښې تيره شينه
د ماسخوتن ديدن به يار سره کومه

مازيګر مه شي مازيګره
د مازيګر ګودر وران شي
يوه شيبه دې خوشحالي بيا دې غمونه
په خندا درشم په ژړا درنه راځمه

مازيګري دې لړے لړے
مازيګري دې سوال قبليږي
خدايه که واورې د سرتور لالي سوالونه
خلق زما په حق کښې پورته کړئ لاسونه

مازيګر ښه دې ديدن اوشي
مازيګر ښه دې ديدن اوشي
بده غرمه ده اشنا کور کوي خوبونه
ورکه دې ورځ شي انتظار کښې تيره شينه

خلقه په دې دنيا جنت دې
د يو نيورستي زيړ مازيګره
د پيښور يونيورستي ډير حسن لرينه
تا سره اورې تړي ډير خوشحاله يمه

د نيمو شپو سندرې خوند که
چې په رو رو د خوبه ستړي ويښوينه

د نيمې شپې بيداره کينه
دا نيمه شپه قلاره شومه
د ليونې اشنا به واورې فريادونه
زۀ د جانان په انتظار کښې ناسته يمه

دا نيمه شپه قلاره شومه
د نيمې شپې راتګ دې ورک شه
د خپل اشنا د پنړې پل معلومومه
دا چغا چغ پنړې دې کلي خبروينه

د نيمې شپې راتګ دې ورک شه
د نيمې شپې په کلي راغلم
سترګې مې ډکې ډکې کيږي خوب راځينه
په خوب اوده اشنا مې نه پاڅي مئينه

د نيمې شپې په کلي راغلم
د نيمې شپې راتګ دې جارشم
هغه به ويښ وي چې په زړه ويشتلې وينه
خوب مې پوره دې په راستئ خله درکومه

دا نيمه شپه ده سپي غپيږي
دا نيمه شپه ده خلق اوده دي
د لونګين ميرمنې اوشماره لړونه
هغه به ويښ وي چې په زړه داغلې وينه

د نیمې شپې راتګ دې ورک شه
صبا د ورځې غرمه راشه

جانانه ستا په انتظار کښېنې
جانانه ستا په انتظار کښېنې

چې نیمه شپه شوه ته را نغلې
چې نیمه شپه شي ډیوه مړه شي

په نیمه شپه د سپو غپا شوه
په نیمه شپه راشه جانانه

شپه هغه شپه ده بله نه ده
شپه یوه شپه د خوشحالۍ ده

بهتره شپه تربله نه ده
شپه د اختر ده که د قدر

په نیمه شپه سندري وایه
تر نیمې شپې مې اوکاتنه

د شپې د یار د غم ژاړم
د شپې وصال په ورځ بیلتون کړه

د ورځې مخ د شرمه وینځم
د ورځې تورې سترګې ګرځم

د نیمو شپو راتګ دې جارشم
د نیمې شپې راتګ دې جارشم

شپه د اختر ده که د قدر
شپه د اختر راباندې غم شوه

سترګې مې ډکې ډکې کیږې خوب راځینه
د نیمې شپې دروازه څوک درخلاصه وینه
ستورو ته ګورم شپه صبا راباندې شینه
لکه د شمع ټوله شپه زۀ سوزیدمه
بړستن مې اور شوه اندامونه مې سیزینه
یار را په یاد شي بیا مې خوب ته نه پرېږدینه
په باورې یار مې باور دې رابه شینه
د زړۀ تنبې مې نیمکښو پرېښودې دینه
په کوم شپه چې د یار غیږې له ورځمه
دنیا کښې نورې شپې د غم سره وینه
په کمه شپه چې سر د یار په څنګل ږدمه
چې د اشنا سره مې اوشو دیدنونه
څوک چې په زړه ویشتلې وې بیدار به وینه
اشنا رانه غلے په بالښت خله لګومه
ورځ د اولس د غمه غلې تیرومه
چې غمازان مو مینځ کښې نه کوي فکرونه
د شپې پرې خاورې بادوم چې صبا شینه
د شپې په لپو لپو اوښکې تویومه
خوب مې پوره دې په راستۍ خله درکومه
مور مې اوده ده تر صبا کړه دیدنونه
چې د اشنا سره مې اوشو دیدنونه
چې مې وړوکې یا رله غیږې جدا شونه

ورځ خومې تیره کړه مابنام شو
ورځ د خالي شپه د اتوار ده

چې نیمه شپه شي خلق دم شي
چې نیمه شپه له خوبه پاسم

صورت دې خوب کښې راته راشي
په خوب اوده اوښکې مې راشي

بیګاه دې خوب کښې غاړه راکړه
بیګاه مې خوب لیدو ربښتیا شو

بیګاه مې ټوله شپه شوګیر وه
بیګاه کور نه وې بد نصیبه

بیګاه را نغلې بې نصیبه
بیګاه مې ستا لارې څارلې

د دروازې چل راته زده کړه
د غر مې راشه زما یاره

تر نیمې شپې مې اوکاتنه
نیمه شپه تیره شوه رانغلے

بیګا ته غلې غلې راشه
د دروازې نخه دې راکړه

بیګاه رانغلې بد نصیبه
بیګا له راشه پلار مې نشته

بیګا مې بیا جانان راياد شو
بیګا مې ټوله شپه شوګیر وه

د مینې ترږې ووم په وخت اونه پوهیدم
زما تلوار ده د اشنا غاړې له ځمه
ما سره غم شي چې جانان به چرته وینه
ستا د فراق ژړا کوم سلګۍ وهمه
د شپې مې وینښ کړې تر صبا مې ژړوینه
خدایه زما په برخه څه لیکلي دینه
د خوشحالۍ نه خوب کښې شنه د خندا شوم
جانان په وینښه په ما واچول لاسونه
ستا د راتلو لارې ته نیغه ناسته ووم
لکه د ګوړې بورې نیغه ناسته وومه
چې کړې شپه ګوښې به بام ولاړه ومه
چې ته را نغلې زۀ اوده له غمه شومه
چې سپوږمۍ لوړه په آسمان شي دربه شمه
د نیمې شپې دروازے څوک درخلاصه وینه
اشنا رانه غلې په بالښت خله لګومه
د کټ بازو راته سرے سرے کیدنه
لکه لښتې کښې اوبه غلے غلے ځینه
سپوږمۍ چې لوړه په آسمان شي دربه شمه
چې کړې شپه ګوښې په بام ولاړه وومه
مور مې ړنده ده چې د مور په دیدن کړم
لکه هوسې مې روح وهل تن کښې ټوپونه
ستا د راتلو لارې ته نیغه ناسته ووم

چې نیمه شپه شوه خلق دم شو
په نیمه شپه دې بیرې راوړې

ما سره غم شو چې جانان به چرته وینه
بیرې د نه خورم یاره خوب مې ځنګوینه

دا نیمه شپه ده سپې غپېږي
راپسې مه غپېږه سپیه

هغه به وینښ وي چې په زړه ویشتلي وینه
ستا د میر منې په صلاح راغلې یمه

راشه اې یاره دل آزاره
چې د په خوب کښې بشر وینم

راکړه زما د نیمو شپو خواږه خوبونه
د خوبه پاسم تر صبا کوم ویرونه

چې نیمه شپه شوه ته رانغلې
سپوږمې د نیم آسمان ته راغله

بړستن مې اور شوه اندامونه مې سیزینه
زۀ ورته ګورم د یار غم غلطومه

راشه په دغه ځاې پرېږده
خواره خواري زما د ځان ده

قلاره شومه ده یار کور کوي خوبونه
زۀ دا د ژمي شپه کوخو کښې تیرومه

تر نیمې شپې پورې را نغلې
په نیمه شپه راشه جانان

سکروټې مرې شوې اوس ایرو ته ناسته یمه
د زړه تنبې مې نیم کینبو پرېښې دینه

معصومه یاره په قلار شه
که درغلم که شومه پاتې

که چار مې اوشو زۀ به نیمه شپه درځمه
زما یاري په رنګه مه شمیره مئینه

خوب تصور مې دواړه خوښ دې
بیګاه د خوب کښې بشر راغلې

چې د اشنا د بشر اوکړم دیدنونه
د خوشحالۍ سره بیدار د خوبه شومه

ته چې راځې ما به خبر کړې
پالنګ مې سم کړو ته رانغلې

چې په پالنګ لاچي لونګ اوغوړومه
لکه ښامار په کښې یواځې خوئیدمه

که بیګانې خوب مې رشتیا وي
په تصور مې ځان بادشاه کړو

اوس به بادشاه وم عدالت به مې کوونه
چې سر مې پورته کړو ملنګ د دونهي وومه

په وینبه یو ځلې رانغلې
که پرونې خوب مې رشتیا وي

په خوب کښې قول راکوي چې دربه شمه
اوس به د یار سره پالنګ کښې ناسته وومه

په شوګیرو که شاه موندي شي
چې خوب کوي خاورې به يوسي

زۀ به څوکۍ ورته د باز په شان کومه
شاه د هغوي چې شوګیرې ورته کوينه

ته به په سور پالنګ کښې خوب کړې
راشه په زړه مې ګوتې کېږده

زۀ به زخمي زړګي ته نيسم ټکورونه
غمژنه زۀ يم که په تا دې ډير غمونه

چې مې د مخ په خوب کښې اوليد
چې ستا تصوير په خوب کښې ګورم

د بې خودۍ چغه مې لاړه له دهنه
نيمه شپه پاسم تر سحر سلګۍ وهمه

صبا رااوختو رنړا شوه

ياره د غاړې نه مې اوباسه لاسونه

ماته سينه باندې ځای جوړ که
چې د صبا سترګه راخيژي

ماليونۍ له بل ځاے نه راځي خوبونه
ما به د يار په سينه کړي وي خوبونه

چې د صبا سترګه راخيژي
چې د صبا ملا آزان کړي

ما به تر هغې د يار کړي ديدنونه
څانګه د يار د ډډې زلفې خلاصوينه

صبا رااوتو رنړا شوه
صبا به بيا په رب اسره وي

ياره د غاړې نه مې اوباسه لاسونه
نن دې د غيرې نه خوشحال راغلې يمه

مسلماني ده بس که شيخ
مسلماني ده اذان کېږي

د سپيني خلې نه مې نور اوجوبه مئينه
زما په سپينه کوکۍ مه وهه لاسونه

ملا اذان په بيړه مه کړه
مليان د ډير بانګونه وائي

زه د اشنا غيرې کښې اوس راولويدمه
څو مې جانان موړ شوې نۀ وي نه پاسم

چرګانو ځاے په ځاے نعرې کړې
چرګانو ځاے په ځاے نعرې کړې

نيمګړې پاتې شوو د مئينو مجلسونه
ياره پالنګ خالي کوه مور مې راځينه

کومې د اوچ شه موذي چرګه
چرګه بې وخته دې نعرې کړي

چې په مړوند ئې ووم اوده ويښه دې کړمه
زۀ د جانان غيرې له اوس راغلے يمه

ملا په خداے به شي بانګ وایه
د سحر چرګه پرې ناري کړه
د زنې سر مې اشنا کندي کنده
اشنا زما په شرم خوښ دي نه پاڅینه

سپیدي اوچاوده رنړا شوه
سپیدي اوچاوده صبا شو
د ګریوانه نه مي لاس اوکاږه مئینه
چټه د یار له غیږې څنړې ټولوینه

صبا را اوختو رنړا شوه
صبا را اوختو رنړا شوه
یاره د غاړې نه مې اوباسه لاسونه
څوک عبادت کړئ څوک مئین رخصتوینه

آذان په وخت اوکړه طالبه
د روژې تندې یم اغستې
زۀ به روژه د یار په کوکه ماتومه
زۀ به روژه د یار په وصل ماتومه

کومې د اوچ شه موذي چرګه
د سحر چرګه غړی اوخوري
چې په مړوند ئې ووم اوده ویښه دې کړمه
ما د اشنا په سینه اوس ایښي لاسونه

چرګانو ځاے په ځاے نعرې کړې
چرګه مري کښې دې ناسور شه
آخري پار دې دو مئین جدا کوینه
جانان مې نه تلو که تا نه وئیل بانګونه

آذان په ځنډ کوه طالبه
بانګ دا د چا چرګوړي اوکړو
زۀ د جانان غیږې ته اوس ورسیدمه
چې د خاوند سره ئې تنور کښې اومندمه

سحر صبا دې روانیږه
سحر د وخته خلق پاڅي
د پیر بابا د بنړ طاوس نعري وهینه
زۀ د لیلی د غیږې څنګه پاڅیږمه

په زړه دې څۀ دې راته ووایه
په زړۀ مې ته ئې چې زما شې
وخت صبا کیږي د بور جل به دې ځمه
دا باقي عمر به ټول یو ځاى تیرونه

○○○○

نن مې همزولې میلمانه دي
نن مې همزولې میلمنې دي
په کلي ګرځم بالښتونه ټولومه
شولې لمدې دي چرګ نیوه نه راکوینه

نن مې د زړه بلبل خفه دې
نن مې د زړه بلبل خفه دې
په ګلاب رنګي مخ د یار خزان راځینه
وزري نغاړي چې په کوم طرف به ځینه

نن مې د يار سترګې ياديږي
نن مې زړګې په خوشحالۍ دې

خدايه ما ښام کړې چې په خوب کښې اوينمه
بيګا په خوب کښې مې جانان ليدلې ونه

نن مې د مينې يار واده کړي
ستا په واده به زما مرګ وي

زۀ ملاقات د عزرائيل سره کومه
ستا به ډولۍ ئې زما به کټ قبرله ځينه

سپوږمۍ د خداى روي مې راوړي
د دوه مئينو مينځ ته مه وړه مشالونه

سپوږمۍ د خدائ روي مې راوړې
سپوږمۍ په ما دې احسان نشته

د دوه مئينو مينځ ته مه وړه مشالونه
يار د ديوال په سوري تلو رسوا دې کنه

سپوږمۍ په ما دې څه احسان دې
سپوږمۍ په ما دې احسان نشته

د کوکۍ غل يم د بلۍ په سوري ځمه
زۀ د رنړا نه په تياره خوشحاله يم

سپوږمۍ تا اوکړل ټول سيلونه
سپوږمۍ د ځان سره مې پريږده

درته پرتي دې سپينې خلې شينکې خالونه
چې د دې سپينو پښلو اوکړمه سيلونه

سپوږمۍ مشال راپسې مه وړه
سپوږمۍ سلام به درته اوکړم

د کندر غل يم د ديوال په سوري ځمه
جانان مې مه رسوا کوه ماله راځينه

سپوږمې په روې د الله وايه
سپوږمې په ما به دې احسان وي

ولې ګونګۍ شوې راته نه وائې خالونه
جانان اوده دې ته پرې بل کا مشالونه

سپوږمۍ پناه شوه شپه تياره شوه
سپوږمۍ په ما دې احسان نشته

جانان وړاندې شه چې ستا په رنړا ځمه
زۀ په شغلو د يار د مخ په رنړا ځمه

سپوږمۍ دې نيم آسمان ته راغله
سپوږمۍ پيغام درسره يوسه

زۀ ورته ګورم د يار غم غلطومه
زما په ښکلي جانان وايه سلامونه

سپوږمۍ ګړنګ وهه راخيژه
سپوږمۍ په مابه دې احسان وي

يار مې د ګلو لو کوي ګوتې ريبينه
چې يار مې لو کړي ته پرې بل که مشالونه

سپينې سپوږمۍ حال راته وايه
سپوږمۍ په روي د الله وايه
چې مې جانان په وطن څۀ روزګار کوينه
ولې ګونګۍ شوې راته نه وائې حالونه

دا سپوږمۍ پريوته تياره شوه
پيزوان د کوز له شونډو نه کړې
پيزوان وړاندې شه چې ستا په رنړا ځمه
چې عاشقان ئې د رنړا په لارې ځينه

سپوږمۍ زما په ابې ورشه
زما ابۍ دادا ته وايه
د بې ارزې مې ورته اووايه حالونه
خوشحاله نه يم د ناکامه ناسته يمه

سپوږمۍ دې نيم آسمان ته راغله
سپوږمۍ د بيرې مينځ له راغله
زۀ بد نصيبه مرور پخلا کومه
پخلا مې نه کړه مروره رانه ځينه

سپوږمۍ دې نيم آسمان ته راغله
سپوږمۍ د بيرې سرله راغله
بې ياره خوب نشته که ماله نه راځينه
يار مې را نغلې شوګيرې ورته کومه

سپوږمۍ په ما دې احسان نشته
سپوږمۍ سلام به درته اوکړم
يار دې ديوال په سوري تلو رسوا دې کنه
جانان مې مه رسوا کوه ماله راځينه

سپوږميه تا اوکړه سيلونه
سپوږمۍ د ځان سره مې پرېږده
درته پرتۍ دې سپينې خلې تور اور بلونه
چې د دې سپينو پېغلو اوکړمه سيلونه

سپينې سپوږمۍ کښې خولګې راکه
سپينې سپوږمۍ ته شه خله واخله
په ترو ږمې کښې د نتکې خلې له راځينه
د قلاسورې ته مې مه بيايه ډارنه

سپوږمۍ کښې راشه خله مې واخله
سپينې سپوږمۍ ته شه خله واخله
چې تور پيکې مې په مخ کوږ نه شې مئينه
زمونږه دستور دې په رنړا خله ورکونه

کټ په کوټه جانان پرې نشته
کټ په کوټه جانان مې نشته
سپوږمۍ د خدائے دپاره اووايه خالونه
سپوږمۍ ګونګې شوه راته نه وائې حالونه

کټ د بلۍ سوري له راوړه
کټ د بلۍ سوري له راوړه
سپوږمۍ رااوخته په بلو مشالونه
مامې نا ترسې شرمول راغستې دينه

ما د آسمان سپینه سپوږمۍ کړې
مزے خو تا اوکړې سپوږمیه

چې د جانان په کیږ دې تل ولاړه یمه
درته پرتې دې سپینې خلې زیږ پیزوانونه

سپوږمۍ ته بیا را پیغله مه شے
سپوږمۍ په ما د احسان نشته

د سپینو شپو دې شوګیرو د اوخوړمه
زۀ د رنړا ته په تیاره خوشحاله یمه

چې د ماښام ستورو ته ګورم
ستوري زما نه بختور دي

په تصور خبرے یار سره کومه
چې ټوله شپه د یار د مخ دیدن کوینه

آسمان ته ګورم ستوري شمارم
د یار صفت به پوره نه کړم

د یار د حسن جاج مې یوسي صبا شینه
که د دریاب په اوبو ښکل کړم اسمانونه

باب: 3

زما کورو کلي

کور دی نزدی کوڅه دی لری
د کوه قاف تر غره د لوړ دی دیوالونه

کلی کښی کله وخت تیریږی
کلی به خپل غمونه ژاړی

د چا شرین جانان چی بل وطن ته ځینه
د جانان غم به زۀ یواځے تیرومه

په زړه زهیر د یار غمو کړم
په رنګ ښائسته په عمل ټیک یم

په مخ بدرنګه د کاله جګړو کړمه
په امتحان کښې د نصیب فیل شوے یمه

تۀ خو خپل کلي ته روان ئې
تۀ خو زما د سترګو تور وي

زه مسافره دې اوس چاته پرېښودمه
چې رانه لاړې زۀ ړنده درپسې شومه

چې د جانان کلی تا لاړ شم
چې د اشنا په کوڅه ورشم

هزار توبے مے په یو دم کښې ماتی شینه
لکه په تخت د بادشاهي چې اوختمه

ته په کوڅه راښکاره مه شی
ته چی زما د یاری نه وی

دا ستا کړه وړه لونګی می بدی شینه
زما وده زړګی دِ ولی ویښونه

کور دِ نزدی کوڅه دِ لری
جانان دا زماګیله دَه

د کوه قاف تر غره دِ لوړ دی دیوالونه
کور دِ په کلی کښی دیدن دِ په کلونه

د پیغلے کور نه غلطیږی
کور ئې په کلی کښی معلوم دی

په دروازه ئې کشمالی کرلی وینه
دَ دروازے په سر ئی ګل کرلی دینه

کور می دۀ خپلی یاری وران دی
کور می د ګوره څه کم نه دی

دَ چا چې ورانه یاری وینم زړه می چوینه
چی بی جانان پکښی شپې صبا کومه

کور ئی د غم په توپه وران شه
کو ر دِ د هغه سړی وران شی

چی بر ناحقه دوه مئین جدا کوینه
چی د دیدن په ځای کښی غنے ښخوینه

کور دِ د غره په سر کښې جوړ کړو
دِ کمرګی په سر دِ کور دی

نه درختے شم نه می زړه صبر کوینه
زړه مې نسکور دۓ دیدن ته راوړه مئینه

رانه په کومه کوټه لاړې
تا چې په پخپلے کوټې بند کړم

زۀ در پسې د کوټې خاورې چانړومه
اوس له وطنه د وتو بنا کومه

په کوټه تیر شوې بیا راتیر شوې
په کوټه ډیرې پیرې اوکړه

نصیب دې نه وو زۀ په بام ولاړه وومه
مدام به نۀ وي نړیدلي دیوالونه

په کوټه تیر شوې بیا راتیر شوې
په کوټه ښکته پورته کېږې

د دله زویه تانه څه ورک شوي دینه
لار دې جوره کړه اوبه راستنوینه

د کلي ګیر چاپیره ګرځم
د کلي ګیر چاپیره ګرځم

چې پرې رغیږم هغه سترګې نه وینمه
زۀ د جانان دیدن ته کوم ځاے اودرېږمه

د کلي مینځ کښې به نعرې کړم
د کلي مینځ کښې به نعرې کړم

بې وفا یار زمانه واغستل لاسونه
لیلي زما د یارې واغستل لاسونه

د کلي مینځ کوټه راواخله
د کلي یو پنځوس کوټې دي

د کوټې سر کښې درته څه ولاړه یمه
زۀ د جانان دیدن ته کوم ځاے اودرېږمه

د کوټې ور دې مخامخ دې
د کوټې ور دې مخامخ دې

اور دې بلیږي ماله خوب چرته راځینه
د غاړکۍ تعویز دې کړي اشارتونه

د کور په خوا کښې دې ولاړ یم
د کور په شا رنځور ولاړ دي

یا راته ګوره یا رخصت راکه چې ځمه
که چا ور پریښوم په دیدن ئې رغوم

ستاسو د چم نه نه صبریږم
ښه ده چې ښۀ مې خمبیره کړي

د کفانه ټوټه په جیب کښې ګرځوم
زۀ د چالاک ټبر نه منع کیدمه

صبا زمونږ کوټې له راشه
ته بنجاري شه اواز اوکه

د خیرات غږ کړه چې دې مور په دیدن کړم
لکه تنزرې په ټوپونه به درځمه

کوټه کښې غلې مه تيريږه
يو ځله مخ پيرته راستون که

جانان ټوله دې په ننګ ولاړه يمه
که د ديدن لارې مو بند شوې څه به کړونه

کور دې نژدې کوټه دې لرې
کور دې نزدې کوټه دې لرې

د کوه قاف تر غره دې لوړ دې ديوالونه
ديوال دې رنګ شه چې وړيا شي ديدنونه

که اسويلے د خلے اوباسم
که اسويلي ورسره نه وي

په دې نزدې کلو به اور اولګومه
د اشنا غم به مې زړه ټق چولې وونه

که اويا سل قسم اوخورم
که سړے ډير په زړۀ محکم وي

چې د جانان کوټے ته ورشم مات ئې کړمه
چې د اشنا کوټې له ورشي اوژاړينه

پريږده چې سپي مي غوښې اوخوري
پريږده چې ستا کوټه کښې مړ شم

زه به د يار د کوټے نه منع کيدمه
چې عاشقان مې په مزار ګلونه ږدينه

پريږده چې ښۀ پۀ کښې ترقيږمه
پرېږده چې ښۀ مې خمبيره کړې

د مينې اور دې سوزيدل پرې خوند کوينه
زۀ د پردو کوټونه نه منع کيدمه

په يو محلت کښې سره لوے شو
په يو محلت کښې سره لوے شو

نه دې خله راکړه نه دې اوخاندل مئينه
په سترګو ړوند وې چې دې نه ليدم مئينه

تا په ګلې چې خرسي اوکه
تا چې کوټه کښې ټوخې اوکړو

ما په ريمکي کښې کنډول دړي وړي کنه
زۀ په ماستو لړلي خله در اووتمه

ته خو خپل کلي ته روان ئې
ته چې اخپل وطن ته درومې

زۀ مسافره دې اوس چاته پرېښودمه
چاړه راواخله ما حلاله کړه مئينه

جانان ستا ديدن دپاره
جانان ستا د کوټے وړاندې

په لويه لار کښې څۀ بهانه کړم اودريږمه
زۀ به ديدن ته د جونګړه جوړومه

چاته به کور کلي ښکارېږي
کور مې د ګور څۀ کم نۀ دې

په ما سور اور دې چې بې ياره پکې يمه
چې بې جانان پۀ کښې شپې صبا کومه

ځوک چې د یار کلي ته لاړ شي
زه مسافر ووم درنه لاړم

مناسب نه دي چې خفه ورنه راځینه
چې ته خبرېږې زۀ به لارې کچ کومه

د کلي ګیر چاپیره ګرځم
د کلي یو پنځوس کوځې دي

زۀ د جانان دیدن ته کوم ځاے اوربېږمه
کومه کوځه کښې د یار اوکړم دیدنونه

د کلي مینځ کښې مخ ښکاره کړه
د کلي مینځ کوځه راواخله

چې د دیدن اوږې دعا درته کوینه
د کلي سر کښې درته زۀ ولاړه یمه

د ملاقات په کوځه راغلم
زما د زړۀ په تخته لیکه

لکه باران د سترګو اوښکې تویومه
هیر به مې نه شي که مې خاورې شي هډونه

د لیونو کانے راووشوے
چاته به کور کلي ښکاریږي

په اشنا کلي کښې کوځے نه پیژنمه
ماته پردي ښکاري چې یار مې نه وینمه

د یار د کلي نه راتلم
د یار په زوړ ځائیګي راتیر شوم

تلل مې د سترګو نه د اوښکو بارانونه
چې جانان نه وو په ژړا اوژړیدمه

زما په دې کلي کښې څه دي
زما په دې وطن کښې څه دي

ستا د دیدن دپاره عمر تیرومه
ملالو سترګو دې جانان تم کړې یمه

زمونږ چم ته بیا رانه شے
زما اشنا ځوک به دې مړ کړي

په انګریزو چړو به اوخورې ګزارونه
په خطرناکو کوځو مه کوه ګشتونه

زما د زړه ټوټے ټوټے کړو
کور ئې د مرګ په چغه وران کړي

ما د خداے خوار کړي چې به تاسو کره تلمه
چې په مئین د لیوني ګمان کوینه

زۀ چې شلیدلے جامې ګرځم
پریږده چې سپي مې غوښې اوخوري

دا د جانان د کوځے سپو خوړلې یمه
زۀ د جانان د کوځے نه منع کیدمه

زۀ په نشو نه نشه کیږم
ستا په محلت کښې زما څۀ دي

چې د جانان په کوځۀ ور شم نشه شمه
زړه شرمولے یم پیرې در پسې کړمه

کور دې نزدې کوڅه دې لرې
ښه دې چې کور دې رانزدې دې
تر کوه قاف د غره دې لوړ دې دیوالونه
که ته را نۀ شې خوړ آواز به دې راځینه

غل د صحرا جاسوس د کلي
غل د میرے بیتي د کوره
د زړۀ صندوق مې لټوي مهران تر وړینه
زما د زړۀ په کوټه رو رو کوټ کوینه

کور مې د کور څۀ کم نه دې
په خوړه خله وطن خوړے شي
چې بې جانان په کښې شپې صبا کومه
په بده خله به د خپل کور جهنم شینه

که اویا سل قسمه اوخورم
که زړه کښې سل قسمه اوخورم
چې د جانان کوڅے له ورشم مات ئې کړمه
ټول رانه هیر شي چې دې سترګې اووینمه

ماته دیار کوڅه ګلزار ده
د یار کوڅه زما قبله ده
زۀ د دنیا د ګلزار څۀ پرواه کومه
ځکه د یار کوڅے ته مخ په قبله ږدمه

نا مړده ستاسو په کوڅو کښې
نا مړدې او نه کړي جانان
په ما ماتیږي شینکۍ لښتي په بارونه
چې د همزولو د پېغور نۀ شم مئینه

خاونده ټوله مې تر ځار کړې
نن مې همزولي میلمانه دي
د یار د کلي میلمانه راغلي دینه
په کلي ګرځم بالښتونه ټولومه

د کلي خلقو صلاح اوکړه
کلي د غوټه راته اوکړه
یا به ما وژني یا به تا یا به ګودر راړنګوینه
مشر ئې څوک دې ننواتے له ورځمه

زما په دې کلي کښې څۀ دي
ستا د خالي دیدن دپاره
ستا د دیدن د پاره شپې صبا کومه
د ژمي شپه زۀ په څله کښې تیرومه

کېده زمونږ چمکي ته راوړه
په اسویلو به مے لمبه شے
په اسویلي کښې به د زړه وایو حالونه
د اسویلو مخے ته مه راځه مئینه

د کلي مینځ ته شهزادګان راغلل
ماته یوه خبره اوکړه
بدرنګ یاره چې په شپول د اومندمه
چې لیونۍ درپسې نه ګرځم مئینه

چاته به کور کلي ښکارېږي
کلي کښې کله وخت تېرېږي
ماته بانډه ښکاري چې نن صبا تر ځمه
د چا شرين جانان چې بل وطن ته ځينه

چې تا راکړي ما خوړلي
زما حساب به درته واوړي
د يارانے په کور کښې نۀ وي حسابونه
راسره مه کوه جانانه حسابونه

خدای دې دا پورې ديوال وران کړي
چې راښکاره شي تورې سترګې سره لاسونه

خدای دا پورې ديوال وران کړي
ديوال سورې کړه کوکئ راکړه
چې راښکاره شي تورې سترګې سره لاسونه
پلار دې ژوندې دې بيا به جوړ کړې ديوالونه

تر ديوال دوه ګوتې سر لوړ که
د مخې ولويدے ديواله
د زني خال به دې ديوال اوسلوينه
تانه پناه دې د جانان شينکي خالونه

که ديدن کړې تلوار را اوکړه
خدايا ته تيز باران په اوکړې
ختې لوندي دي بيا به جګ شي ديوالونه
چې د کاله ديوال ئې بيا رنګ شي مئينه

سر د ديواله را اوچت کړه
جانان مې تلو ورجګه نه شوم
نامردے يار د ستا په سر زندان ته ځينه
خدايا ما شله کړے په دواړه زنګونونه

ديوال سورې کړه کوکئ راکړه
د ديواله سوري دې بند که
پلار دې ژوندې دې بيا به جوړ کړي ديوالونه
مونږ مسافر د بل وطن لاړو مئينه

په ديوال لږه راښکاره شه
په ديوال نيمه راښکاره شوې
د ديدن تږي په بهانه راغلې يمه
په نيم بدن باندې مې اور اولګيدنه

عاشق راشه ديدن اوکړه
په ديوال ښۀ ده چې ښکاره شوې
د ديوالګي کنداو په خپله جوړوينه
د ديدن تږي په بهانه راغلے يمه

چې را په ياد شي خپله ياره
چې راپه ياد شي خپله ياره
ديوال ته شا کړم زړۀ ته پته اوژاړمه
سر په بازو کړم اوښکي ښکته تويومه

خلقه ګودر مې د زړهٔ سر دې
چې مازيګر شي د دلبر ديدن کومه

خلق ګودر ګوري ګډېږي
خوک چې د غم درياب ته پريوځي

زهٔ بي ګودر ګډيمه لاهوشومه
که لامبوزن وي ترې خطا شي ګودرونه

د مازيګر اوبو له لاړه
تاؤ کړي نن په ګودر راغلې

لکه هوسئ په لاره اخلي قدمونه
په زړهٔ مې لک شو ستا تاؤ شوي قدمونه

د مسافر جانان د پاره
زما جانان په ګودر ناست دې

زهٔ د ګودر غاړې له پټې سترګې ځمه
زهٔ به د يو په ځاے اتيا پيرې کومه

د ننګ غيرت ميدان کښې مړشه
جانان ولې شهيد نه شوے

چې جينکۍ دې په ګودر صفت کوينه
ماته همزولي په ګودر پېغور کوينه

ګودر ته ځم راپسې راشه
که ته رښتيا په ما مئين ئې

چرته پټ کينه چې مې اوکړې ديدنونه
د ګودر غاړه اجاره واخله مئينه

اوبه د بر ګودر خوږې دي
اوبه د کوز ګودر خوږې دي

چې د جانان د خلې کنګال په کښې راځينه
زهٔ دجانان د پاره برګودر ته ځمه

ما درته وي ګودر ته مه ځه
ګودر وران شي اباد مه شي

چرته به وي چې زړه دې شنه لوخړه شينه
خوشحال د نه کړم په لوے غم د اخته کړمه

د مستانه جونو ټولګې دې
دغه دې لاړې پناه کېږي

راته ښکارېږي د اوبو ګودر له ځينه
د ښارونو په شان ټولګې دې تير به شينه

د جلاله ګودر وران شې
د جلاله ګودر به وران شي

په جينکو دې ساه لنډې اولګوونه
وران به مې نه شي د زړګي سوي داغونه

چې مازيګر شي ورته ګوره
چې مازيګر شي زړهٔ مې ښه شي

د دغه کوره به جوړه ګودرته ځينه
پټ راته وائي چې راځه ګودر ته ځونه

ګودر ته ځي مخې له راغلې
ګودر ته تۀ راپسې راغلے

زۀ نابينا بچ راته وايه
بچ شه چقني دې مينځ کښې نه کړي

د ګلو ځانګے سترے مه شے
خدايا د مور عمر ئې ډير کې

د مازيګر ګودر له راشه
د ګودر غاړه بختور

د ګودر هر بوټې تازه دې
د ګودر هر بوټې دارو دې

پاس په ګودر کښې شروشور دې
خاوند بيا دې مازيګر کړو

په ګودر راغلم مازيګر وو
دا په ګودر کښې شرو شور وؤ

په ګودر سپينه راښکاره شوه
په ګودر سور سالو ښکاره شو

د ګودر غاړه ورته نيسم
د ګودر غاړه ورته نيسه

پاس په ګودر د پېغلو جنګ دې
ګودر کښې جنګ د حسن وشو

په ګودر راغلم مازيګر وو
جينکۍ نه دي سرې موچې دي

ګيډې ګيډې پرتوګ دې لار نه راکوينه
ته خو ميلمه ئې زۀ به ستا رضا کومه

د پېغلو ټيل کښې چې مې مات نه شي هډونه
د مستانه جونو ټولګي ګودرته ځينه

د ګودر غاړه دې په تا آباد وينه
چې مازيګر شي لور اوبوله راليږينه

په ګودر کيږي په آسانه ديدنونه
باندې او بيږي د ديدن تږي بازونه

هر مازيګر په جونه سترګې لګوينه
پرې لګيدلي وي د پيغلو پلونه

د پېغلو زور دې منګوټي راډکوينه
په ګودر پريواته د سرو مچو سيلونه

د سرو سروټکو په انبار وراختمه
د پېغلو زور وو منګوټي راډ کوينه

لکه سپوږمۍ د غره په سر شغلې وهينه
تا به وي تورو اوبو اور واغست مئينه

زما جانان په لارے تلے رابه شينه
د ليلى خوئي د مرغابۍ دې رابه شينه

د سور سالو مير منه ماتے ګډوينه
مشين د سترګو په يو بل اوچليدنه

په ګودر پريواته د سرو موچو سيلونه
زما په زړه ئې ګبينه اونښلونه

دا سرې منګلې نرې غاړه
د مازيګر ګودر له لاړه

لکه کونتره په مکيز ګودر له ځينه
لکه هوسۍ په لاره اخلي قدمونه

په ګودر راغلم خاموشي وه
په ګودر ناست په ژړا ژاړم

هغه څوک نه وو چې ئې ګودر ښائسته کاونه
جانان راشه چې جوړه کورته ورځونه

ګودر نه زلفي لونده راغله
لونده حوشته له ګودر راغله

لکه بلبله چې باران وهلي وينه
په يار ورپريوته چې ډيره سترې يمه

سالو په سر منګي په ترخ کښې
ګودر ټول درنه لوګې شم

د ګودر غاړې له راځي رنځور ئې کړمه
چې سور سالو کښې مې يار ستا خواله راځينه

خاوند ما د ګودر ګل کړې
ما د ګودر د غاړې ګل کړې

چې جينکۍ مې شوکوي سر کښې مې ګډېنه
چې جينکۍ اوبه په لپو راچوينه

ګودر بادشاه منګي وزير دې
ګودر بادشاه منګي وزير دې

وزير هميش د خپل بادشاه سلام له ځينه
چې مازيګر شي وزيران بادشاه له ځينه

ګودر په سر مې قبر جوړ کړئ
ما په ګودر د جونو ښخ کړئ

چې مات کودي پيغلې زما په قبر ګدينه
ګندې ملاله په ما کيږدي قدمونه

خاوند ما د ګودر پل کړې
خدای ته ما د ګودر ګاډ کړې

چې شاه ليلۍ مې په سينه ګدې قدمونه
چې جينکۍ راباند پوندې سپينوينه

زمونږ د کلي ګودر يو دے
د کور خندا مې پکار نۀ ده

څوک په کښې خاندي څوک پرې اوښکې تويوينه
منګي به واخلم په ګودر به اوژاړمه

د مازيګر ګودر چې ياد کړم
د زړۀ د درد مې آواز کړو

زړه مي همزولي جينکۍ راځخه وړينه
د چم ګاونډ همزولي ټول په ژړا شونه

د ګودر زر اجازت راکه
مازيګر مه کړې لويه خدايه

مورې کوځه کښې جينکۍ ولاړې دينه
چې مازيګر شي مور منګي نه راکوينه

د ګودر شاغاړې ته راشه
ستا د وصال شيبې وربېږي

چې د خورو زلفو مې اوکړې ديدنونه
زۀ په ګودر ورته سر توره ناسته يمه

پاس په ګودر د جونو جنګ دی
په ګودر جنګ د جينکو دې

پورې راپورې په منګو ويشتل کوينه
بابوجي ورشه چې ځوک مات نه کړي سرونه

ګودر ته ځم چې اوبه راوړم
ګودر دې ټول عمر آباد وی

په سرو منګلو به ئې جانان ته ورکومه
زۀ په بهانه ئې د يار او کړم ديدنونه

خلقه ګودر مې د زړۀ سر دې
مازيګرې به قضا نه کړم

چې مازيګر شي د دلبر ديدن له ځمه
د ګودر غاړه مې په ښوده ښه دې وينه

په ګودر جنګ د پېغلو جوړ شو
ګودر محاذ دې که ګودر دې

لړۍ لړۍ منګي ډکئ ته خيژوينه
لکه د تورو په کښې ليچې بريښ وهينه

د مازيګر ګودر وران شي
د مازيګر منګيه مات شي

په خندا درشم په ژړا درنه راځمه
چې تا راواخلم د هر چا د شمنه شمه

ګودر ته اوس نه خوشحالېږم
ګودر له ځم نه خوشحالېږم

زما اشنا زما نه واغستل لاسونه
اشنا مې نشته زړۀ مې نۀ غواړي سيلونه

که مې د کلي ګودر نه وي
خلقه ګودر مې د زړۀ سر دې

خدائګو له غمه به مې زړۀ چاودلې وونه
چې مازيګر شي د دلبر ديدن کومه

دا سرې منګلې نرې غاړه
داسې د هر قدم د ناز دې

لکه کونتره په مکيز ګودر له ځينه
لکه چې زرکې ايرانې رفتار کوينه

منګيه تانه به ځارېږم
تا د جانان په غيږ کښې کړې دې خوبونه

چې منګې اخلم زړۀ مې ريږدي
چې منګې واخلم زړۀ مې ښۀ شي

په زړۀ غمژن جانان به لار نيولې وينه
ځان د ګودر غاړې ته مخکې رسوينه

مازیګر مه کړې لویه خدایه
د مازیګر منګیه مات شې

چې مازیګر شي مور منګي نه راکوینه
چې تا راواخلم د هر چا دشمنه شمه

چې منګې واخلم زړۀ مې ریږي
ټوټے ټوټے مات شې منګیه

لیونے یار راپسې سم ګودر له ځینه
چې تا راواخلم خلقې راپسې ځینه

منګي په بخت کښې ډیر اوچت دي
منګیه ته خو بختور ئې

چې په سینه باندې خوئیږي سرته ځینه
چې په سینه د هسکه وي سر ته دې وړینه

منګیه ټول درته لوګې شوے
منګیه قدر دې پکار دې

لیلی په لار د سینې د سرته اوړینه
میرمن د حسن دې د سر د پاس ږدینه

ستا د رباب ټنګ مې تر غوږ شو
چې ستا دیدن مې راپه یاد شه

منګې په لاس د دیوال خواته اودریدمه
ګلاس په لاس تر منګي تږي تیروتمه

منګي مې دوه په سر پراته دي
خله مې د دوو خواو واخله

په ناز ساتلي زلفې ماله لوند وینه
منګي مې ولې جړقوي لونده دې کړمه

ګودر ته راغلې برابره
خله به د خدای په رضا درکړم

یا خولګي راکړه یا منګي درماتومه
منګي مې څله ماتوي مور راشړلیه

اوبه منګې نه لږې راکه
که هر څو مخ له مانه پټ کړې

په مینځ د لار کښې درته پروت له تندې مرمه
په منګي باندې سره لاسونه پیژنمه

منګي د ټول په ډنډ غوپه کړو
منګي مې ټول په ګودر ډوب کړو

لکه ایلۍ دې پر راښکته کړل څانګونه
د شیطاني منګي په لپو ډکومه

دغۀ منګي دې په سر مات شه
جینۍ په سر دې منګې مات شه

چې دې اوبه شي د سینے د باغ ګلونه
چې په ډوریا دې اوبه لارې کیلے شینه

سور دې منګې سرې د منګلې
که هر څو مخ زمانه پټ کړې

د سور کې ټیک سره دې سره دي تعویزونه
په سور منګي دې سره لاسونه پیژنمه

منګیه ته زمونږ نه ښه ئې
منګیه تا نه به ځاربږم

په سپینو لیچو دې لیلیٰ غیږه کښې وړینه
تا دَ جانان په غیږ کښې کړې دې خوبونه

قدیمه دې کبر ته ګوره
منګې مې تول په ګودر ډوب کړو

جام ورسره منګې په لپو ډکوینه
د شیطانې منګې به لپو ډکومه

سر مې د خداے مال مې د کلي
منګې مې دوه د سر کوز که

ګودر ته ځم چې منګوټې ورپورته کړم
په ناز ساتلې زلفې ماله لمدوینه

جینۍ په سر دې منګې مات شه
اوبه مې وړې منګې مې رق شو

چې په ډوریا دې اوبه لارې کیلے شینه
د یارانې قیمص مې ټکې ټکې شونه

ګړې په سر خله رانه غواړې
خله مې دې دواړو خواو واخله

مخ مې خولے دې پرې رنځور به شي مئینه
منګې مې ولې جړقوې لونده دې کړمه

ستا په کټو مې منګې مات شو
مورته دې داسې بهانه اوکړه

په سترګو وړند شې اوس ټوټې راټولومه
منګې په ګټه زۀ په خټه پریوتمه

تر ما خو ته ښۀ ئې منګیه
قدیمه دې کبر ته ګوره

چې درخانۍ دې په سرو ګوتو ډکوینه
جام ورسره منګې په ګوتو ډکه وینه

په دې بهانه به خلاصه نه شم
مورته دې داسې بهانه اوکړه

منګې مې روغ دې دروغژنه به زه شمه
منګې رالاندې زۀ ورباندې پریوتمه

منګې د لاسه دې راپریوځه
منګې زما د لاس پریوت

چې پښه نیولې دې زۀ اوکړم دیدنونه
چې مې دا ستا بشر په سترګو اولیدنه

منګې د کیږده خو لګې راکړه
منګې د لږ په زمکه کیږده

مورته د وایه چې په لار کښې اولویدمه
ګوټې مې پریږده چې د زلفې سمومه

منګې په سر ګل مې په لاس کښې
منګې په سر مخے له راغله

ستا د راتګ په انتظار ولاړه یمه
په مینه مینه ئې د بنړو لاند کاتنه

منګې دې غټ ملا دې نرۍ ده
منګې مې غټ ملا مې نرۍ ده

مور دې میره ده چې په تا اوبه راوړینه
مور مې دې مړه شي چې په ما اوبه راوړینه

منګې کنبې مورې اوبه نشته
اوبه د بر ګودر خوږې دي

زۀ د اوبو د پاره کوز ګودرته ځمه
زۀ د جانان دپاره کوز ګودرته ځمه

جینۍ جوړه منګې په سر کړل
منګې مې برغ په سر پراته دي

د سینے مینځ ئې د کابل شمال وهینه
نا مړده ځله مې چیړې لونده دې کړمه

په ما خو دواړه چارې نۀ شي
منګې په سر ګل مې په لاس دي

چې یو ګړي وړم بل پلو ځے ته وړمه
ستا د راتلو په انتظار کنبې سترې شومه

ګودر وران شې آباد مه شې
بیا به منګې ته ګوتې نه کړم

خوشحال دې نه کړم په لوے غم دې اخته کړم
د ده په وجه راته جوړ شو فسادونه

مزې خو تا اوکړې منګیه
راشه زما د غیږ منګې شه

د تور اوربل میرمن دې بیا په ولو وړینه
چې د سینې په لار دې سرته خیژوم

منګې د سر دې راپریوزه
زۀ ده جانان په نندارہ شوم

چې پښه نیولې دې زۀ اوکړم دیدنونه
منګې مې مات شو کورته تشه غړۍ ځمه

خدای دې په سر منګې ټوټې کړه
ستا په کتو مې منګې مات شو

چې په اوړدو زلفو دې راشي سیلابونه
په سترګو ړوند شي اوس ټوټې راټولومه

د منګوټو قطار ئې جوړ کړو
منګیه ډیر دې احسان مند یم

لنډې بازار ئې په ګودر اولګاونه
د ګودر غاړه تل په تا آبادوینه

کلاله برغ ځامن دې مړه شه
منګې ورکوټې ورله جوړ که

منګې مې درونډ دې نرۍ ملا مې ماتوینه
د ښاپیرۍ ملا ده نرۍ ماته به شینه

اوبه منګې نه لړے راکه
ماته په لپه اوبه راکړه

په مینځ د لار کنبې درته پروت له تندے مرمه
چې په پستو لاسو د ځله اولګومه

قدیمه دې کبر ته ګوره
چې په ناستې مې خوشحالېږې

جام ورسره منګې په لپو ډکوینه
زۀ به منګې په لپو رو رو ډکومه

منګې په سر مخې له راغله
منګې په سر ګل ئې په لاس کښې

په مینه مینه ئې د بنړو لاند کاتنه
را معلومېږي د یارۍ طمع لرینه

رباب زما په غیږ کښې پروت دې
خوږې خبرې د جانان راته کوینه

رباب دې بیا په زنګانه کړو
رباب زما په غیږ کښې پروت دې

شوق دې رباب دې ما به هیره کړې مئینه
خوږې خبرې د جانان راته کوینه

رباب مات شي دړې وړې
ربابي هسې رباب ټنګ وه

رایادوي اشنا د لرې هیوادونه
چې مې د زړه تارونه اوکړې آوازونه

ستا د رباب آواز مې واورېد
ستا د رباب ټنګ مې په غوږ شه

ځکه په سور پالنګ کښې جګه کیناستمه
کنډول په لاس منګې ته تیرې اودریدمه

ټنګ د رباب مې ستا په غوږ شه
ټوټې ټوټې په اور پسې شي

لکه درخو د بلئې سرته اوختمه
رباب تا مې زړۀ کښې اوکرل غمونه

د رباب کوزې پردې نیسه
ستا د حجرې مجلس قلار شو

د کوټې خواله جینکۍ راغلې دینه
زۀ د بانډار جینکۍ اوس راټولومه

رباب مات شي وار دې تیر شه
رباب مات شے غماز ګر

مئین په ما دې غم په تا غلطوینه
رایاد وې اشنا په لرې وطنونه

زما د غیږې رباب مات شو
که مې رباب وهل زده نه وي

اوس به دې یار غم په سلګو کښې تیروم
ستا اندیښنو به مې زړۀ پړق چولے وونه

ځواني مې خاورې شوه ایرے شوه
که مې رباب وهل ایزده وي

شراب د مینې مې په لپو څښلې دینه
ما به د خپل ځوانۍ ویر په کښې کاونه

که چا رباب لیدلے نۀ وي
که چا رباب په لاس کښې راکړو

د شاه لیلٰی سینه رباب زلفې تارونه
زۀ به سرود د خپل اشنا په کښې وهمه

ټوټې ټوټې مات شي رباب
زما په خپله زړۀ رباب دې

مئین په ما دې مئینه تا سره کوینه
زۀ د لرګي د رباب څه پرواه لرمه

خدای دې زما د څنګ رباب که
خدای دې زما د غېږ رباب که

چې دې هر وخت په غوږو وهم لاسونه
چې دې هر وخت په مرې ګوتې وهمه

د غم رباب دې غم شهباز دې
د غم رباب د غم شهباز دې

د غم نعرې به په کښې شامدام وهمه
د غم ئې ساز دې غم ټپې په کښې کومه

د غم رباب مې غېږ کښې کېښود
د غم رباب مې مخکې پروت دې

د غم سرود په شپه او ورځ به غږومه
بیلتون ظالم د غم پردې پرې غږوینه

راشه په دغه ځاے پرېږده
راشه د راز خبرې اوکړه

څوک چې مئین وي تل د غم رباب وهینه
رباب ستا خبرې ډېر خوند راکوینه

زۀ چې رباب په غېږ کښې واخلم
زۀ چې رباب په غېږ کښې واخلم

تیرې خبرې د جانان راته کوینه
نرۍ نرۍ خبرې ستا راته کوینه

صورت مې اوچ لکه رباب شو
صورت مې اوچ لکه رباب دې

تن مې شهباز شو د یار غم پرې غږومه
زړه مې شهباز دې اندیښنې پرې غږومه

که سریندې راته غږېږي
ساز به تر څنګه راوچت شي

زړه مې رباب خبرې ستا راته کوینه
چې مې شلیدلي دي ده زړه زاړه تارونه

یا د ادم د رباب غږ دې
دا مې آواز د خوږ جانان دې

یا د ورې درخو د ناز خندا راځینه
که مې تر غوږ شو د سرود خواږه سرونه

دا چې سازونه ورته وائي
ستا په آواز کښې چې کوم شرنګ دې

سازونه نه وي حقیقت کښې دې سوزونه
تر نه قربان شه ربابونه ستارونه

ټال دې د تورو زلفو جوړ که
چې دې په سپینه سینه ښکته پورته ځینه

راځه چې دواړه په ټال ځانګو — ټال به بهانه کړو د سینو جنګ به کوونه
راځه چې دواړه په ټال ځانګو — وهو جوتې غمونه شاته غورزونه

ټال دې د تورو زلفو جوړ که — چې دې په سپینه سینه ښکته پورته ځینه
زلفې مې ټال دې د ریښمو — یار له ټالۍ په سینه بره ورکومه

ټال کښې ځانګل دې ډیر ثواب دې — د زلفو بوئین دې رنځوران تازه کوینه
ټال کښې ځانګل درته نه ښائې — بوئې دې د زلفو شمال وړي کوي مرګونه

زړه مې د غم ځانګو کښې پروت دې — ټالی د فکر ورکوم ژړا راځینه
زړه مې زرې ذرې شو خلقه — د غم ځانګو کښې ځنګیده راپریوتنه

زلفې مې ځکه اوردې کړي — چې زه په بام یم یار د لاندې ځنګومه
زلفې وړې پریږدم که لوے — دومره به ئې پریږدم چې جانان په ځنګومه

غماز په ټال د فکر ځانګې — چې معشوقه د خپل اشنا دیدار له ځینه
غماز به ځنګه ما جدا کړي — د مینې ټال دې زه خپل یار سره ځانګمه

دا عاشقي د غم ځانګو ده — په چا ځنګیږي په چا اوشلیږي مئینه
د بیلتانه په ټال ځنګیږم — ما د وصال د باغ لرې لرې وړینه

راځه چې دواړه په ټال ځانګو — وهو جوتې غمونه شاته غورزونه
راځه چې دواړه په ټال کینو — پرې به پریدو د سینې په زور به ځونه

ټال ته ختم ښکړې مې مات شو — ګناه د یار ده چې کوي اشارتونه
بنګړې مې ستا په وجه مات شو — اوس نارینه شه راله ډک کړه مړوندونه

ځانګه چې ماته شي اوچېږي — زلفې چې ماتې شي په مخ وهي ټالونه
زلفې د پیغلې په مخ خوند کړي — د خورشیدي په مخ د سرو زرو تارونه

کله د خیال سلطنت جوړ کړم
کله دیدن کله بیلتون وي

کله د خیال د ټاله کوز را اولوېږمه
زۀ د جانان سترګې په کال کښې نه وینمه

ما خو وئېل ته به زما ئې
ما وئېل زۀ به تا د ځان کړم

د اختر ټال ئې هر سړې د ځنګوینه
ته خو مې نه شوې زیات مې اوګټل غمونه

د مینې کور د خیال زانګو ده
که زۀ خبر وي چې به شلیږي

د چا نصیب شي په چا اوشلیږي لړونه
د فکر ټال زۀ به څله درختمه

ټال دې د تورو زلفو جوړ که
خلق د زلفو ټال مې جوړ که

پرېږده چې خوږ زړګې په رو رو ځنګومه
چې نازولې اشنا ډیر اوځنګومه

ټال دې د تورو زلفو جوړ که
ټال کښې په زوره ټالۍ راکړه

چې دې په سپینه سینه ښکته پورته ځینه
چې د زلفانو بوئې مې خور په سینه شینه

زلفې سنبل زۀ دې بلبل یم
د فکر ټال دې راله جوړ که

دا تور زلفان دې ټال وهي مئین دې کړمه
ته رانه لاړې زۀ یواځې ځنګیدمه

جانان ستا جفا چې ګورم
لکه د ټال درپسې ځانګم

لکه غانټول د فکر ټال مې زنګوینه
نا مړده ستا هډو پرواه نشته مئینه

د پیر بابا به بنړ کښې ټال دې
غم تیره وه ښادي به راشي

جونه پرې ځانګي ماله وار نه راکوینه
یو ځل به اوځانګې د زلفو په ټالونه

ټال مې بهانه مطلب مې ته ئې
راځه چې دواړه په ټال ځانګو

چې په هوا شم تورې سترګې اووینم
ټال به بهانه کړو د سینو جنګ به کوونه

د عاشقۍ په ټال یم ناسته
راځه چې دواړه په ټال ځانګو

جوتې وهم غمونه شاته غورزومه
وهو جوتې غمونه شاته غورزونه

ما وې یواځې زما یار ئې
ته د اختر د ټال پریوزې

د اختر ټال ئې خلقې دې ځنګوینه
په سینه پریوزي چې دې مات شي زنګونونه

د زړګي حال وئيلې نه شم
لکه سرپوښ تنور ئې بلې لمبې کړمه

د نغاري آواز دې راغلے
د نغاري آواز دې راغلے

لکه ډوډۍ په تناره خمسوزه شومه
په زړه سوري شي ياره او دې کړه کوژدن

هر څوک چې څه وائي رښتيا دي
داغ مې د سپينو جامو نه ځي

زما په سپينو جامو پريواته داغونه
که د جامو سره تنور ته اودانګم

آذان په څنډکوه طالبه
بانګ دا دچا چرګوټي اوکړو

زۀ د جانان غيرې ته اوس ورسيدم
چې د خاوند سره ئې تنور کښې اومنډمه

په ظاهر روغ په زړۀ رنځور يم
د زړګي حال وئيلې نه شم

لکه تنور تور لوغړن په لمبو يم
لکه سرپوښ تنور ئې بلې لمبې کړمه

په اديره کښې يو تنور دې
په خاورو ډک شي ګورستان

خشاک ئې نشته شاه زلمي په کښې سيزينه
تاله راځي کړي پګړۍ تور اوربلونه

د زړۀ مثال د تناره دې
زړۀ مې ناسور په وينو سور دې

چې سر تر پورته کړې لمبې تر هسکې ځينه
سر پوښ تنور دې غرې غرې وهي دننه

په تناره ولاړې پيغلې
که ډوډۍ خوري خو چې در کړم

ډوډې دې نه خورم د ديدن اوږې دې يمه
د ديدن اوږې دې ماښام ته صبر کړينه

د مامونۍ د مرګ آواز شو
د مامونۍ همزولې راغلې

جينکو پرښودې قلفۍ په تنورونه
څوک ورته ژاړې څوک پر واي تهمتونه

خوابښې مې ښه ده بده نه ده
تا خو پيړې راته په شمار کړې

په تناره راته پيړې په شمار کوينه
زۀ غلچکې د پيړو کونې پريکومه

د تناره لمبو ته پروت وي
د تناره لمبې ترې ښې دي

په زړۀ مې نه وې ستا د سرو سترګو داغونه
د مئين توب لمبې سړې ستي کوينه

زما دې خوږ جانان جدا کړو
د بیلتانه ظالم د لاسه
د تناره د سر برغولې شې بیلتونه
د زړهٔ د پاسه مې پولۍ ولاړې دینه

ماته دا خپل موزیګي ښه دې
دا موزیګي رالره ښه دې
چې په تنور به وچې دړې راکوینه
چې تناره ته مې قلفي په دو راوړینه

OOOO

زړه مې بیخي لکه ارټ دې
مینې دې داسې لیونې کړم
لوټکې د غم ترینه هر دم ډک خیژومه
لکه د وران ارټ بې کور ګرځیدمه

زهٔ درته غټ کتلے نه شم
زما په سترګو کښې حیا ده
چې درته ګورم لکه بټ کښې نینې شمه
چې مخ مې سور شي سترګې بل خوا واړومه

زړهٔ مې پولۍ پولۍ تناکې
د بیلتانه ظالم د لاسه
لکه دانه د هجران بټ کښې نینۍ شوم
د زړهٔ د پاسه مې پولۍ ولاړې دینه

زما جانان د کوچو سپین دې
زما لالے که بټیارې دې
د بټیارۍ په بټ ولاړ دې تور به شینه
جانان به بټ کړي زهٔ به اور وراچومه

راځه راځه چې سره ځونه
جوار دې راواخله ترې رااوځه
که سره غرمه شوه ستا سالو به سورې کړونه
د بټیارې په بټ نینې به ترکوونه

نمکین خوراک زما روزي شو

تروه ډوډۍ مدام د اوښکو سره خورمه

نور خهٔ تپوس راځخه مه کړه
کاغذ داسې وخت کښې ورشه
زه د ماښام په ډوډۍ اوښکې تویومه
چې د ماښام ډوډۍ ته ناست په ژړا شینه

نمکین خوراک زما روزي شو
نم مې د سترګو نه بهیږي
تروه ډوډۍ مدام د اوښکو سره خورم
طوفان د نوح به په عالم کښې روان کړمه

ډوډۍ خو نه ده چې به موړ شي
ډوډۍ خو نه ده چې به موړ شي
عاشق د خوار شي چې به صبر قبلوینه
وصال پسته ده لوږه نور زیاتوینه

ډوډۍ مې اوخوړه مړه شوم
زما دې مئې وريځې ګنډېر شي

ته به په کوم درګاه ولاړ ئې مسافره
زما اشنا به د دونهے ککوړي خورينه

ډوډۍ دې اوخوړه خملے
ډوډۍ دې اوخوړه اوده شوې

په زړه دې نشته د يارۍ سوي داغونه
د سندا وړور ئې چې بې غمه کړې خوبونه

موذې په مينه نه پوهيږي
خاونده بيا د ماسخوتن کړو

په نس ئې موړ که تر صبا کوي خوبونه
دا موزيکي به مې بيا خوا کښې کړي خوبونه

تر هغې به سترګې تورې نه کړم
مسافري سخته خواري ده

چې څو مې يار د بل وطن ټيګالے خورينه
زما زاري ده رب دې راوله مئينه

په تناره ولاړې پيغلې
که ډوډۍ خوري نو درې به درکړم

ډوډۍ دې نه خورم د ديدن تږې دې يمه
د ديدن وږې دې ماښام ته صبر کړينه

د بنې غبر راباندې اوشو
د بنې غبر راباندې اوشو

لکه ډوډۍ په تناره خسوزه شومه
د وږې لور سره د کټه پريوتمه

تر هندوستان شاه زلمې ځي
مسافري د کړې نه ده

دا ډوډۍ غرپ تر پنډۍ لاړ شي بيا راځينه
پخه ډوډۍ درسره وړې په نس مئينه

توتان پاخه ممانړې تورې
خدايه ګرګرې پخې مه کړې

زۀ د موذې د ډوډۍ څه پروا لرمه
چې جينکۍ به سپينې خلې پرې تورونه

خدای دې بيګا شپې له اختر کړي
اختر د هغه چا اختر وي

صبا نارې به د ليلٰی په خله کوومه
په خپل وطن کښې ئې چې يار په ځنګ کښې وينه

د نغاري آواز دې راغلے
د نغاري آواز دې راغلے

لکه ډوډۍ په تناره خسوزه شومه
په زړه سورې شې يارا اودکړه کوژدنه

شيطاني مه کوه غمازه
زما اشنا په زړه سنګين دې

سړه ډوډۍ زه د اشنا پر قبلومه
نه ترګيله کړم نه به زړه تر بدومه

که څوک زما سره سیالي کړي
نه به د خپل مړي ښښتن شم

حجره د واچوي ډوډۍ دې ورکوينه
نه به ځمځۍ په لاس کښې جګه اوګرځمه

لیلٰی د یو ځل خولګۍ راکړي
زهر مې خوښ دي چې پر مړشم

که دولس کاله بیا مړې نه راکوينه
شهد شکرې بې لتانه قبلومه

چرې به سترګې تورې نه کړم
زۀ په جانان دومره نازیږم

څو مې اشنا د بل وطن ټکالې خورينه
لکه اولس کښې میړنې چې د چا وينه

ماله دې یخې وريژې راکړې
زۀ دې په يخه توده نه يم

خلق مئينو له شکرې ورکوينه
زۀ د په دې یم چې ستا نیت مې ژړوينه

زهر قاتل ترنه لاښه دي
زهر مې خوښ دي چې پرې مړ شم

چې بې لتا د شهدو ډکې پیالې ښښمه
نه خورم د غیر غماز د لاس پلاونه

په وطن نيمه ډوډۍ ښه ده
د وطن ترخې مې خوراک وي

نه په پردي وطن کښې غوښې پلاؤنه
راباندې نه وي د موذي د کور غمونه

پاو مې خوراک سیر مې روراک شو
چې ډيره خورې هغه ګنډير شي

زړۀ مې خشاک شو غونډه اور په بلوينه
ما د ګلانو لوکاوه او پرزيدمه

مورې تودې ډوډۍ سړې کړي
ښکار پسې ورک پچپله ښکار شو

زلمې د زرکو ښکار له تلې رابه شينه
د نصيب لوبې چاته څۀ معلومې دينه

موذې څلور ډوډۍ پوره کړي
موذې څلور ډوډۍ پوره کړي

د سحر سوټې له ئې خچر کته کوومه
د سحر تیز ئې فرنګي له خبر ورينه

په چلم راغله کش ئې ورکړو
له جنجالي پیزوان ئې شنې لوخړې ځينه

د غره په سر چلم تازه که
د غره په سر ئې چلم ډک کړو

ما تماکو د مانیري راوړې دينه
زما ناکام دي اوبه زۀ اورخيژومه

خله مې غوستله را دې نه کړه
که چلم کش ئې خله به درکړم

تشه خندا باندې دې اور اوس لګومه
که نسواري ئې په اوربوز دې اودانګمه

اشنا مې نوي چلمې دي
د غره دسره مې سهې کړو

د تماکو بوجګۍ ځان څه ګرځوینه
په چلم پروت وو سره خولۍ سره تعویزونه

داسي ياري مې خوښه نه ده
يار د هر چا شو زما نه شو

لکه نچه د چلم هر څوک خله پرې ګدينه
ځان له په زور دغم آشر راخبرومه

يار په چلم باندې مئين دې
د حجرې ګوټ درباندې پريوزه

بې د چلم بل پروا نه کړي مئينه
چې د چلم نچه دې خله کښې پاتې شينه

ما د اشنا د چلم دود کړے
ما د چلم نرې لوګې کړې

چې د جانان د زړه د حال خبر شمه
چې د اشنا د لړمانه چاپيره شمه

يار په چلم باندې مئين دې
په چلم دوه سکروټې کيده

په خپلو ګوتو به سروټکي ورله وړمه
لکه دوه بنۍ په سيالۍ خوله ورکوينه

ماته دې څۀ وې رانه هير شو
ستا په ديدن به مړه نه شم

د تماکو په بهانه بيا راشه مئينه
که تمامې وجود مې سترګې سترګې شينه

يار مې وړوکې چلم کش شو
وړوکې ما په يارۍ پوه کړو

باغ کښې ولاړه تماکو اوبه کومه
اوس راته وائي زما او منه سوالونه

ما د چرسي د سترګو زار کړې
د جانان سترګو کښې مستي ده

چې په نشه کښې سترګې سرې راواړوينه
چې ورته ګورم سرګردانه غندې شمه

راشه زما د پلار نوکر شه
راشه زما د پلار نوکر شه

مزدور به نه شې کار به زۀ درله کومه
تور لونګين به په چلم کښې درته ږدمه

ستا د چلم نچه به زۀ شم
دا ستا ياري مې خوښه نه شوه

د شونډو زور مه راکوه ماته به شمه
لکه نچه د چلم هر څوک خله پرې ګدينه

ورشه چلم تماکو رواړه
چلم خدائګو چې دې مات کړم

لړې شیبې له دیار غم غلطومه
مئین په ما دې غم په تا غلطوینه

په چلم راغله کش ئې ورکړو
چلم په شرع ناروا دي

له جنجالي پیزوان ئې شنې لوخړې ځینه
په ما روا دي د یار غم غلطومه

په چلم چا عادي کړې جانه
چلم میرات که چلم پرېږده

تر کاغذي شونډو دې خیژې شنه دودونه
چلم ټوخے ساه لنډې دواړه لګوینه

چلم مې ډک کړو له لونګو
زمانه ته ښه ئې چلم

که کبرژن جانان پر خوله اولګوینه
چې جانان خله درباندې ګډې دواړه لاسونه

یار په چلم باندې مئین دې
د ملغلرو به دې ډک کړم

په خپلو ګوتو به سروټکه ورله وړمه
د سرو چلم خپل اشنا له به دې وړمه

اشنا مې نوې چلمي دې
د غره په سر ئې چلم ډک کړو

د سرې اور به په پیزوان کښې ورله وړمه
ناکام زما دې اوبه زۀ ورخیژومه

په کوټه سرکړه را دننه
چلم د زړۀ د زور کش کړه

په چلم څانګې تورې زلفې شنه خالونه
تور لونګین مې په سرئې کښې ایښې دینه

چلم کښې تور لونګین کېږده
چلم د سرو غاړه د سپینو

نن دې د سور پالنګ میلمه راغلے یمه
په سرو منګلو به ئې یار ته ډکومه

ما ئې دښکلي چلم څار کړې
ما د جانان د چلم نل کړې

چرې به سترې لالي خله پر ایښې وینه
چې هر ساعت جانان خولګۍ راباندې ږدینه

زۀ په نشو نه نشه کېږم
چې د جانان په کوڅه راشم نشه شمه

حلقو د چرسو نشې اوکړې
په بنګو چرسو نشه نه شوم

زۀ د جانان خمارو سترګو نشه کړمه
صبا د یار کلي له ځم چې نشه شمه

زۀ په نشو نه نشه کېږم
شراب انسان له نشه ورکړي

چې د جانان په کوڅه راشم نشه شمه
زۀ شرابي سترګو د يار نشه کښې کړمه

سترګې مې ستا د غم سرې دي
سترګې مې سرې ګريوان مې لوند دې

خلق به وائي چې شراب ئې څښلي دينه
نن مې د يار په غم کښې ډېر ژړلي دينه

عالمه روغ ئې ليونے کړم
ما د چرسي د سترګو ځار کړې

د جانان سترګې دي د چرسو چلمونه
چې په نشه کښې سترګې سرې راواړوينه

نصيحتونه راته مه کړئ
نن مې اشنا ليدلے نه دې

د عاشقۍ شراب مې څښل نشه ئې کړمه
لکه د بنګو پياله غرقه ناسته يمه

خلق په چرسو نشه کېږي
خلق شراب اوڅښي نشه شي

ما د اشناء د زلفو بوئې نشه کوينه
ما د جانان شرابي سترګې نشه کړينه

عالمه روغ ئې ليونے کړم
عالمه سترګو ته ئې ګورې

د جانان سترګې دې د چرسو چلمونه
په تش کتو ئې په ما اوکړ منترونه

مئينه دې نه ده جواري ده
زۀ جوارګر د جانان سرې شونډې ګټمه

د يار په حسن جواري شوه
ماته ښکارېږي يار مې بائيلو

زۀ جوار ګر د جانان سرې شونډې ګټمه
د بيلتانه په جوارګرو واوړېدمه

په جوارۍ ناسته جانانه
څوک په رضا د ملک نه ځي

اوس به سپيرې منګلې ځم له ميدانونه
يا جوار ګر شي يا د يار د غمه ځينه

مئينه دې نه ده جواري ده
نصيبه اوسوذې ايرے شې

يا به سر بائيلم يا به اوګټم لعلونه
چې دې په جوتو غورزوم راوړي طاقونه

په جوارۍ ناسته جانانه
خلق د مال په سر بازي کړي

زۀ زيان منه ستا په وچو شونډو يمه
زۀ جواري جانان ستا په سر کومه

د جوارۍ خوشي روزګاره
د جوارۍ نه به وانه ورږم
تاوان ئې تل ګټه ئې کله کله وينه
که کېږې مې د چرګانو لوښې شينه

د جوارګر عجيبه ژوند دې
د جوار ګرو عمر خوار دې
نه پرې تربور نه پرې عزيز اعتبار کوينه
خوار و زار ګرځي هميشه په غم کښې وينه

نصيبه اوسوزې ايرې شي
نصيبه اوسوزې ايرې شې
چې دې په جوتو غورزوم راوړې طاقونه
تنديه مات شې په تا څه ليکلي دينه

رنګ به ئې سوی لکه سکور وې
رنګ به مې ولې سکاره نه وې
څوک چې مرض د جوارۍ وهلي وينه
زۀ په مرض د جوارۍ کښې اخته يمه

ملنګ دوه ګټې دې اوکړې
يو دې خير ټول کړو بل دې اوکړل ديدنونه

عشق اول سړې بادشاه کړې
د دنيا تخت مې پکار نه دې
د ملنګي خطاب بيا ورستو ورکوينه
د ملنګ يار سره به غواړم زيارتونه

د دنيا زر مې پکار نۀ دي
د ملنګانو سره مل وي
زۀ د اشنا سره ملنګ خوشحاله يمه
سر په څنګل وي چې مې نه ليدي غمونه

غاښ د کنډر ږيره دې سپينه
په سپينه ږيره ليونے شوې
په يارانه پسې ملنګ ګرځي مئينه
چې شين خالۍ رايادوې مرې لاسونه

ملنګ دوه ګټې دې اوکړې
ديدن مې ستا بهانه مې خير دې
يو دې خير راوړؤ بل دې اوکړه ديدنونه
زۀ يم ملنګ کور په کور نعرې وهمه

يار مې زيارت زۀ ئې ملنګه
که د زړګي مراد مې سر شو
خورې ورې زلفې ورتلم پر پريوتمه
په زيارتونو به انبار کړم زيړ ګلونه

زما دې عمر د ملنګ کړو
په پخوانو سترګو مې ګوره
ته په خوش رنګ پالنګ کښې ياره کړې خوبونه
زۀ په جامه د ملنګۍ راغلے يمه

ستا د دیدن په طمع ناست یم
زۀ د جانان په سر باچا یم
خوږه جانان د دونهے ملنګ دې کړمه
چې جانان نه وي زه ملنګ د دونهے یمه

سترګې دې ډیرې کاسیرې کړې
سترګې دې بې اجله مرګ دې
په چا ملنګ به دنیا ورانه کړې مئینه
په بې اجله مرګ مې مه وژنه مئینه

زما د مینې یار ملنګ شو
کچکول په غاړه قلندر شوم
اوس به دیرے د ملنګانو لټومه
سوال د جانان د دیدن کړم نه ئې مندمه

د یار پرواه راباندې نه شته
که د دیدن محتاج دې نۀ وې
خوشي ملنګ د ځان نه څله جوړوم
سرتور به ولې ګرځیدې په زیارتونه

خدایا په دې درنه خوشحال یم
د خیال کوړ په لاره مه ځه
چې شاه ګدا به سره ټول خاورو له ځونه
ستا په شان ډیر د تورو خاورو لاندې شونه

که په وخت راغلے خیر به یوسې
خیر مې د ټول کلي راټول که
بې وخته نشته فقیرانو له خیرونه
اوس به د یار کوڅے ته ډډه لګومه

د دروازې د خوا ملنګه
فقیر دې ناست وي حاجت څه شو
تکیه دې خدای شه مونږ ور پورې کوونه
دا بې حاجت سلام څوک د چا کوینه

ساعت په هر چا باندې تیر شي
ارمان ارمان دې تیره وخت
که یو بادشاه ئې بل ملنګ د دونهي وینه
بیا به را نه شي که ملنګ درپسې شمه

جانان بادشاه زۀ ئې ملنګ یم
جانان زما په سر بادشاه دې
دې عدالت کړې زۀ دعا ورته کومه
چې لاس تر اخلم د دونهي ملنګ به شینه

د دروازې به دې ملنګ شم
څوک چې د چا د در ملنګ شي
دیدن به ستا کړم خیر به کلي راکوینه
د کور میرمن دې رټ جواب نه ورکوینه

زما د زړه صلاح رانغله
د دروازې ملنګه پاسه
د دروازې ملنګ له ورکړئ رخصتونه
اوس به دا سپینے چړې سرې په وینو شینه

یو وار ملنګ شه په ما راشه
جانان راشه ځان فقیر که
د ملنګانو لارې چا نیولې دینه
زۀ به د خیر په بهانه خواله درځمه

فقیران هر چا کړه درومي
زه ملامت یم جانان نه دې
څوک چې فقیر شي په زور نه غواړي خیرونه
فقیران ولې له سخي ګیله کوینه

بیلتون خوار شې زۀ دې خوار کړم
بیلتون کچکول په لاس کښې راکړو
د بادشاهي دور مې تېره ملنګ دې کړمه
اوس به دیرې د ملنګانو لټومه

عشق کچکول په لاس کښې راکړو
کچکول په غاړه قلندر شوم
لکه فقیر د حسن غواړمه خیرونه
سوال د جانان د دیدن کړم بیرته راځمه

ستا د دیدن په طمعه طمعه
چا مې پلو لیدلې نۀ وۀ
کچکول په غاړه ګرځوم ملنګ دې کړمه
مېنې فقیر کړم درپه در مې ګرځوینه

کله چې دوه سترګې څلور شي
سترګې کچکول کا دیدن واخله
خوار دې ملنګ شي چې لا نور غواړي خیرونه
ملنګ یاره په بهانه راغلے یمه

که په وخت راغلې خیر به یوسے
فقیر له خیر راوړه میرمنے
بې وخته نشته فقیرانو له خیرونه
کچکول په لاس فقیر دعا درته کوینه

خاورې ایرې به دې راټول کړم
ما خو به غاړې ته کچکول کړې
لکه کچکول به دې په غاړه ګرځومه
خلق به وائي یار په غاړه ګرځوینه

چیچم لونګ لبان مې رنګ دي
چیچې لونګ لبان دې رنګ دي
شے به بد رنګ له مخه څنګ اوکړه مئینه
ورکړه قلنګ چې ملنګ ځي د دې وطنه

په ما هغه ورځ دې قیامت وه
چې ستا د در بې نوا شوم
چې بې نوا د یار د کور اوتمه
د خیر د پاره به د چا در له ورځمه

په تصور دې تصویر جوړ کړم
په تصور مې ځان بادشاه کړو
بیا تسلي پر دې غمژن زړګي کومه
چې سر مې پورته کړو ملنګ د دونهے وومه

د قلندر بابا ملنګ شه
د دنیا تخت مې پکار نه دي

چتې په ما راشه چې یو ځاے دواړه ځونه
د ملنګ یار سره به غواړم زیارتونه

که څوک بادشاه د زمانے وي
که زهٔ بادشاه د زمانے ووم

د جانان مئینه ئې په کوڅو کښې ګرځوینه
مینے ملنګ کړم اوس غواړم خیرونه

کله دخیال سلطنت جوړ کړم
په تصور مې ځان باچا کړو

کله د خیال د ټال کوز راولویږمه
چې سر مې پورته کړو ملنګ د دونهے وومه

بیګاه په خوب کښې ژړا راغله
د دنیا زر مې پکار نه دي

اشنا ملنګ شو در په در غواړي خیرونه
زهٔ خپل اشنا سره ملنګ خوشحاله یمه

د دروازے به د ملنګ شم
خیر مې د ټول کلي راټول کړو

دیدن به ستا کړم خبر به کلي راکوینه
د یار کوڅے ته به اوس ډډه لګومه

کچکول د سترګو درته نیسم
د دیدن خیر د ښکلي مخ نه ټولومه

بې تا وطن شو رانه پاتې
ښه دې چې ته د خیر راغلے

کچکول په غاړه په دیدن پسې دې ځمه
ما په کچکول پټري وهل درپسې تلمه

کچکول پاسه ځان سنبال که
عشق کچکول په لاس کښې راکه

مازیګرې د یار دیدن له دې لیږمه
د جانان درته مې په خیر پسې لیږینه

د عاشقۍ په لوے بازار کښې
د ګدائۍ کچکول مات شي

کچکول په غاړه ګرځوم غواړم خیرونه
چې درپه در دې ګرځوم غواړم خیرونه

عشق کچکول په لاس کښې راکړو
کچکول د سترګو درته نیسم

امسا د صبر لګوم غواړم خیرونه
د دیدن خیر د ښکلي مخ نه ټولومه

د سر به توره بندي تاؤ کړم
سوال به د رب په دربار اوکړم

کچکولي به واخلم خپل جانان سره به ځمه
بیا به ځولۍ په زیارتونو ګرځومه

د ملنګۍ جامه کښې راشه کند مې په سر کچکول په لاس کښې	زۀ به په سپین څادر کښې خیر در اوباسمه ستا د دیدن په تکل کلي لټومه
زما د خیر کچکول دې مات کړو بیا به له تانه سوال او نه کړم	زۀ به د صبر ټوټې څنګه ټولومه ته ماتوي د مظلومانو کچکولونه
کچکول په لاس شړې مې لنګ دي اشنا زما په تهمت رنګ دې	جامې مې رنګ دي یاره ستا په تهمتونه څکه ملنګ دې رنګ په رنګ آواز کوینه
د ملنګۍ کچکول به واخلم کچکول په لاس په ملکو ګرځم	که مې د یار دیدن اونه کړو نه راځمه سو د مې او نه کړو آخر خپل وطن ته ځمه
بیلتون کچکول په لاس کښې راکړو بیلتون خونه دې تالاشه	اوس به دیرې د ملنګانو لټومه مالا جانان لیدلے نه وو بیل دې کړم
خاوند زر تر زر ماښام کړۀ خاونده هلته پر ماښام کړې	چې کچکول واخلم د یار درته اودریږمه چې کچکول واخلې د یار درته اودریږینه
کچکول په غاړه قلندر شوم کچکول په لاس زنجیر په غاړه	سوال د جانان د دیدن کړم بیرته راځمه د یار غوارمه د مینے خیراتونه
کچکول په لاس درته ولاړ یم کچکول د سترګو ورته نیسم	لکه فقیر خیر د دیدن غوارم مئینه د دیدن خیر د ښکلې مخ نه ټولومه
ما خو به غاړې ته کچکول کړې خاورې ایرې به دې راټول کړم	خلق به وائي یار په غاړه ګرځوینه لکه کچکول به دې په غاړه ګرځومه
کچکول په لاس درته ولاړ یم ما وئیل خیر د دیدن غواړم	لکه فقیر خیر د دیدن غوارم مئینه د اوښکو ډک ئې راله راکړه کچکولونه
آخر به کند کچکول ته لاس کړم که مے جانان مخے له راغے	چې کبرژن جانان مې نه کوي پښتنه زۀ به د سپین قمیص ګریوان ورته شلومه

خلقه بندونه ورته مه اچوئ
د ليونتوب سيلاب ته ټينګ نه دي بندونه

عالم به وائي ليونۍ ده
ماله دا خپل غمونه بس ؤو

ليونۍ نه يم د يار غم ليونۍ کړمه
ستا راسره شو ليونۍ شوم مئينه

ليونۍ لاړه ګلي وران شو
ماله د ويرے تعويز راوړه

زۀ به په وران ګلي کښې شپې چاته کومه
د ليونۍ پيريان مې خوب ته نه پرېږدينه

که د وطن په ننګ شهيد شوے
ټوټې ټوټې مې ورله يوسې

دا به زما د پاره لويه تحفه وينه
چې ليونۍ راباندې سر اوشوکوينه

عشق ليونے کړم بيلتون مړ کړم
زما او ستا ليونۍ مينه

نه ليونے ووم نه مې کړې وو قتلونه
بيلتون ظالم دې مونږ يو بل ته نه پرېږدينه

خلق بندونه ورته ما اچوئ
د جنون جوش مې دومره زيات شو

د ليونتوب سيلاب ته ټينګ نه دي بندونه
په يو جنبش باندې شلومه زنځيرونه

دې ته جنون مه وائي خلقه
دا ليونتوب دې مبارک شه

چې په کښې عرش پورې پرواز کوي فکرونه
چې د جنون صحرا دې ښکل کړې قدمونه

ته مې مجنون دې بيابان کړې
ته مې د حال خبر نه شوے

زۀ د نوارو په کټ اور درلګومه
لکه سيګرټ زۀ سر تا پا لوخړه شومه

روغ به دروغو سره خوښ وې
روغ نه يم روغه دنيا څه کړم

ما ليونې ځنګل ته وشړې چې ځمه
ما ليونې سره کاوا کے خوند کوينه

ما د هغې کوځے نه زار کړې
د ليونو سره به زۀ ځم

چې ليونې په کښې پرانستې تنړئ ځينه
زما ئې خوښ دې دا شليدلي ګريوانونه

چې ليونے راپسې نه شې
مئينے دې داسې ليونے کړم

اوبه مې نۀ خوري د سورکو شونډو سرونه
د افيمي په شان جوتے درپسے خورمه

زۀ دې مجنون د بيابان کړم
جانان مې سر په بيابان شو
ته د نوارو په پالنګ کوي خوبونه
ماله نوارو کټ کښې نه راځي خوبونه

ښه ده چې پاک رب ليونے کړې
چې ليونے راپسې نه شۀ
زۀ ليونی به درسره زيارت له ځمه
اوبه مې نه خوري د سورکو شونډو سرونه

ليونی مړه شوه کلي وران شو
ليونی لاړه کلي چول شو
زۀ به په وران کلي کښې شپې صبا کومه
خنګه به چول کلي کښې شپې صبا کومه

لوړې بنګلې د خدائے کنډر که
لوړې مانړې د خدائے بونډې که
زۀ ليونے درته شپاله کښې شپې کومه
زۀ د څلے چنۍ ته شپې صبا کومه

ديدن د خدائے په اراده دې
زما زړګيه ليونيه
دا ليونی زړۀ مې منګلي لګوينه
دا ليونی اوبه دې چرته خښلې دينه

عاشقان واړه ليوني دي
دا ما پخپله په ځان کړي
له ليونو څه ليوني ګيلے کوينه
ګيلے د خلقو نه کووم ليونے يمه

چې ليونے شوے حال دې اووې
چې ليونے شوم حال مې اووې
روغو به کله چاته وې د زړۀ حالونه
که روغ وې کله به مې وے د زړه حالونه

خدايا ما دومره ليونی کړې
خلق دې واړه ليوني کړل
چې ليونتوب کښې ټول عالم ليونې کړمه
خير که اوس نه ړدې اړولې قدمونه

دا ليونے ليونے ګرځم
دا ليونے ليونے ګرځه
عقل مې ورک شو چې تا راکړه جوابونه
په چم کښې ګرځه چې ډاډه درباندې يمه

جوړې جنون کښې شيخ چلي شوم
ماله دا خپل غمونه بس دي
چې په هوا کښې محلونه جوړومه
ستا راسره شو ليونے به شم مئينه

چې ليونے راپسې نه شې
مينے دې داسې ليونے کړم
اوبه مې نه حورې د سورکو شونډو سرونه
چې ليونې راڅخه غواړي امانونه

دا لیونتوب دې مبارک شه
دا لیونے شه په ما راشه

دا لیونے لیونے ګورې
دا لیونے لیونے ګرځم

د مجنون پیښے په ما او شوے
د مجنون کار راباندې اوشو

دا لیونې سپې به دې اوخورې
خیر مې د ټول کلي راټول کړو

مخلوق مې ټول لیونې بولي
نه لیونې یم نه مئین یم

خاوند دې ما په شان مئین که
ما دهغې کوځے نه ځار کړې

جانان ستا په جدائي کښې
مینے دې داسې لیونے کړم

راځه راځه زما جانان
خبر مې کله کله آخله

زۀ لیونے هم مې جانان دې
روغ به دروغو سره خوښ وي

زۀ لیونے نه یم نو څه یم
زما جانان خدائ دپاره

که ته مې روغ لیونے نه کړې
مینے دې داسې لیونے کړم

چې د جنون صحرا دې ښکل کړې قدمونه
دا لیونے د ملک چا شړلي دینه
یا دې څه ورک دي یا دې زۀ لیدلے یمه
د لیونۍ لیونتوب پاک لیونے کړم
چې لا اله وایم لیلی خلے له راځینه
چې هرڅه وایم خو لیلی خلې له راځینه
لالیه مۀ غواړه بې وخته خیراتونه
اوس به د یار کوځے ته ډډه لګومه
لیونې نه یم خو بیلتون مې ژړوینه
د زمانے داستان مې زړۀ رنړا کوینه
چې لیونې دې په کوڅو کښې اووینمه
چې لیونې په کښې پرانستي تنړې ځینه
د لیونو غندې تالا والا زۀ شومه
په لارې ځم واړه خندا راپورې کړینه
زۀ دې د عمر لیونۍ محتاج کړمه
د لیونتوب آواز مې نن صبا درځینه
د لیونو یاري خو ډیره کلکه وینه
ما لیونې ځنګل ته وشړې چې ځمه
لکه مجنون په هر سحر کوکے وهمه
چغې مې واوره لیونے درپسې شومه
بیا مې د بنګو پیاله مه بوله مئینه
د افیمي په شان جوتے در پسے خورم

که ته مې روغ لونے نه کړې
مینے دې داسې لیونې کړم

زۀ به دا تورې زلفې خوشے ګرځومه
چې لیونے راځخه غواړي امانونه

زۀ چې دا ستا کلي ته مخ کړم
که لیونے ئې په ماګران ئې

ماله ژړاه د لیونو په شان راځینه
دا لیونې له کلي چا شړلي دینه

که لیونے ئې زما یار ئې
ګریوان به خیرې تر لمن کړم

زما دې خوښ دي دا شلیدلي ګریوانونه
چې لیونۍ د یار د غم مشهور شمه

که لیونے راپسے نه شوے
عالمه روغ ووم لیونے شوم

بیا مې په برغو سترګو ټک وهه میخونه
یار چې په مړاؤ سترګو ماته اوکا تنه

لیونۍ لاړه کلي وران شو
زۀ به په وران کلي کښې شپې چاته کومه

د لیونۍ حاجت پوره شو
د لیونۍ ارمان پوره شو

په لاره ځي په کاڼرو ولي زیارتونه
د چکدرې مجزوب ته شونډې بوسوینه

زما او ستا لیونۍ مئینه
چې د اټک په بیړې پښه ږدي

بیلتون ظالم دې مونږ یو بل ته نه پرېږدینه
خدای دې دریاده کړي زما لیونۍ مئینه

د لیونو سره مې کور دې
زما په برخه کښې کونړا دي

د خلے خبره مې کوټے ته خیژوینه
د غوږ خبره دې عالم په خبروینه

عالمه روغ ئې لیونۍ کړم
روغ نه یم روغه دنیا څۀ کړم

په ما ئې کړي دې د کوډو تعویزونه
ما لیوني سره کاواکے خوند کوینه

سحر به تورو غرو ته خیژم
لیلیٰ د قیس پښتنه اوکړه

لکه د قیس چې لیونو کښې حساب شمه
ستا محبت کښې لیونۍ د غرونو شونه

څنګه قلاره قلارې شوه
لیونے یار د چا هیرېږي

چې لیوني اشنا مې ورک له ملک شونه
کورونه ئې وران شه چې په ما ئې هیروینه

بیلتانه غرق بادشاهي کړے
د بیلتانه نه به خلاص نه شئ

دا لیونے عاشق ګیلے چاته کوینه
که فولادي قلعے د ځان نه چاپیر کړینه

جانان د زړه کعبه کښې پروت دې
دجانان مئینه مې مذهب دې

زۀ لیونے پسې ملکونه لټومه
سیوا له دې نه بل مذهب نه قبلومه

سترګې دې تورې په کاجل کړئ
زۀ دې په ګوته مئین نه یم

غم به مې مل کړي لیونۍ به شم مئینه
د سور چار ګل رنړا دې روغ لیونے کړمه

راشه په کټ راسره کینه
ټینګه وعده راسره اوکړه

چې لیونۍ زړه مې سلګۍ قلارې کړینه
چې لیونۍ زړګې مې نه کړي فریادونه

خلق به وائي لیونۍ ده
لیونۍ نه ووم لیونۍ شوم

لیونۍ نه یم د یار غم لیونۍ کړمه
چې لیونو پسې څوک ځي لیونۍ شینه

خدای دې زما په شان مئین که
خدای مئین څوک په چا مه کړې

چې لیوني دې په کوڅو کښې اووینمه
یو کال مئین ووم لیونے به ګرځیدم

د لیونو کانے راوشوے
د کلي دوه پنځوس کوڅے دي

په اشنا کلي کښې کوڅے نه پیژنمه
د یار دیدن ته زۀ په کومه اودرېږمه

سپینه مې خله سپین مې زنځیر دې
ستاسو په کور کښې لیونے شوم

چې ورته ګورې لیونے به شي مئینه
اوس مې د زلفو په رسو تړه مئینه

دیدن پسې دې لیونۍ شوم
دیدن د خدای په اراده دي

راپورې خاندي د کوڅے کوچنیانے جونه
دا لیونے زړۀ مې منګلي لګوینه

ګریوان پاره مخې له راغلے
ګریوان مې څیرې سر ببر دې

لیونے یار مې مرور معلومیدنه
سترګې مې سرې دي یار راکړې رخصتونه

عالمه روغ به لیونې شي
عالمه تاسو ورته ګورۍ

که چا زما جانان په خوب کښې اولیدنه
جانان ښائسته دې که رب زۀ لیونے کړمه

سوال دې په کوم زيارت قبول شو
ماته ئې ښايه چې سرتوره ورله ځمه

په تعويزونو پوره نه شوه
په تعويزونو څه او نه شو
اوس به لمن په زيارتونو ګرځومه
چاړه د چرګ په غاړه ږدم کړم منترونه

په دعاګانو مې زړه شين شو
په دلالانو پوره نه شوه
اوس جادو ګر سره ورځم کوډې کومه
اوس به لمن يار ته پخپله غوړومه

ويشتلے ما ئې روغ به نه شې
په طبيبانو نه رغيږم
که تر بونير پورې اوکړې زيارتونه
زۀ ئې په عبرګو طمانچو ويشتلے يمه

خلق زيارت له پټاسې وړي
خلق زيارت له پراټے وړي
زۀ د جوارو پولۍ وړم چې کنډه شمه
د دله لور ورله څپياکے زغلوينه

راځه چې پير بابا لا لاړشو
د پير بابا لارې دي سختې
سوال به پرې دواړه سره کړو چې قبول شينه
د ګلو لښتې زۀ به ستا د پاره ځمه

را اورسيږه لويه پيره
پيره بابا را ورسيږه
ستا په دربار کښې ليونو سپو اوخوړمه
که رارسيږې وخت دې دا دې تير به شينه

پيره کامله رارسيږه
پيره منګل مې په سر کيږده
بيړې شوه غرقه په تخته ولاړه يمه
ايستلې تورې دي يواځے پاتې شومه

که دې زما ديدن ياديږي
زيارت له ځم راپسے راشه
د چار شنبې حساب کوه زيارت له ځمه
زيارت مې عذر ستا ديدن لره درځمه

که دې په جنګ کښې برې راوړه
ماته اول بابا وئيلي
زۀ به مې شال د باباجي په زيارت ږدمه
شال خو به دروړي ته ئې مه اخله منجور

تعويز اثر دربندې نه کړي
په زيارتونو به غوړيږم
اوس مې نيولي تا د پاره زيارتونه
که مې قبول شي دا لنډې لنډې سوالونه

زۀ قلندر وې درپه در وي
کچکول په غاړه قلندر وي

اشنا مې مل وي ګرځیدے په زیارتونه
جامې مې رنګ وي یاره ستا په تهمتونه

زیارت کوم نه رارسیږي
زیارت کوم نه رارسیږي

چې ټګه زۀ شوم یا ټګان دي زیارتونه
خدایه آوار کړې دا دې کانړو زیارتونه

ستا د ټګي تسبیح په پلاس وي
ټګي د اوکړه ټګه یاره

زۀ په ورکړے شکرانه پښیمانه شومه
په زړه مې لیک ده ستا ټګي ګورته به ئې وړمه

مخ دې د پیر بابا زیارت دي
مورې مانړو ورته لوګې کړه

له هره ملک ملنګان ورله راځینه
زیارت له تلې چا به ئې مخ لیدلي وینه

په تعویزونو پوره نه شوه
په تعویزونو څه او نه شو

اوس به لمن په زیارتونو غوړومه
چاړه د چرګ په غاړه بِردم کړم منترونه

د پیر بابا په دروازو کښې
د پیر بابا په لوے دربار کښې

پروت په ایرو کښې ځان په تخت حسابونه
ملنګان ناست دي ربابونه غږوینه

سوال ترې کوم نه مې قبلیږي
زیارت کوم نه رارسیږي

یا ټګه زه شوم یا ټګان دي زیارتونه
یا ما کښې کوټ دي یا اوده دې زیارتونه

بابا له لاړې سوال دې اوکړو
خدایا زما جانان زما کړې

په زړه دې زۀ ووم که د نور کول سوالونه
نور مې په زړه باندې هیڅ نشته ارمانونه

سوال به د رب په دربار اوکړم
زیارت د ټول عالم قبول کړي

بیا به ځولۍ په نازولو ګرځومه
اول زما چې له پردیس راغلې یمه

سترګې مې ستا په لور کږې شوې
په پیښور کښې ولیان ډیر دي

لکه جنډې به شهیدانو کږې وینه
کږې جنډې په میا عمر ولاړې دینه

په تعویزونو پوره نه شوه
که د زړګي مراد مې سر شو

اوس به لمن په زیارتونو غوړومه
په زیارتونو به انبار کړم زیړ ګلونه

دا ستا زیړي دي زما تبه
کمکوټي یار مې لیونې شو

په تورو زلفو چې شهید شي
څوک چې په مئینه کښې شهید شي

ته ځان په خپل وطن شهید که
ځان د وطن په شمع وسوه

خال د فقیر مخ دې زیارت دې
مخ دې د پیر بابا زیارت دې

سوال دې په کوم زیارت قبول شو
سوال به مې ولې نه قبلیږي

سوال به دې خدای په در کښې اوکړم
شکر دې خدایا یار رضا

که خدای کول خدای به دې راکړي
سوال دې په کوم زیارت قبول شو

که دې زما دیدن یادیږي
که د دیدن محتاج دې نه وې

صبا خو بیا د جنګ وعده ده
په زیارتونه راغوړیږم

خلق لمن د بابا نیسي
د معشوقو مثال دې پیر دي

په کړیدو مې رب راضي دے
په پیر بابا به ورغوړیږم

په زیارتونو به د یو ځاے ګرځوم
په سینه پورې به ئې میالي بابا له وړمه

جونه همیش هم د هغه زیارت کوینه
زه د هغه مزار ته تل سلام کووم

زۀ به تر عمره ستا مزار جارو کومه
چې پتنګان دې زیارتونو له راځینه

دا نرې وریځے دې جنډې ولاړې دینه
د هره ملکه ملنګان ورله راځینه

ماته ئې ښایه چې سرتوره ورله ځمه
په تورو زلفو ئې دربار جارو کومه

بیا به ځولۍ په نازولو ګرځومه
ګنې په کومو زیارتو به ګرځیدمه

ما ستا په سر په زیارت ایښي دې لاسونه
پلار مې راځي شو اوس مې تاله درکوینه

د چارشنبې حساب کوه زیارت له ځمه
سرتور به ولي ګرځیدم په زیارتونه

د زلمو میاندې به بیا نیسي زیارتونه
صبا له بیا د تورو جنګ دې ورله ځمه

زۀ د وړوکي جانان پښوله ګوتې وړمه
پیر جي کامل وې سړې نه بدرنګ وینه

ځکه مې نه قبلئ بهادر بابا سوالونه
که مې قبول کړې دا لنډې لنډې سوالونه

زمانه پټ زیارت له لاړې
زیارت کوم نه رارسیږي
قبول دې مه شه د الله په در سوالونه
یا ما کښې کوټ دې یا اوده دې زیاتونه

ته په سنګر کښې ځان شهید که
ماته ړومبې بابا وئیلي
زۀ به خپل شال ستا په زیارت اوغوړومه
شال خو به درشي ته ئې مه اخله منجوره

که خدای کول جانان ستا یم
یار مې زیارت زۀ ئې ملنګه
مئین مه شلوه تنړي په زیارتونه
خوري وري زلفې ورتلم پر پریریوتمه

زیارت له ځم راپسې راشه
سحر برګې څادر په سر کړي
زیارت مې عذر ستا دیدن لره درځمه
تر مازیګر پورې کچ کړي زیارتونه

که پیر بابا درله درنه کړم
صبر کوه خدای به دې راکړي
نا مراده یار ما به خدای نه درکوینه
په بې صبرې معشوقے چاموندلې دینه

که خدای کول خدای به مې درکړي
که خدای کول جانان ستا یم
ما ستا په سر په زیارت ایښي دې لاسونه
مئینه مه شوه تنړي په زیارتونه

ویشتلے ما ئې روغ به نه شي
ویشتل کوے طبیبه نه ئې
که تر بونیر پورې اوکړے زیارتونه
چې ویشتل کړي د دارو غوټه ګرځوینه

سوال به مې ولے نه قبلیږي
سوال به ئې ولے نه قبلیږي
چې تور اوربل په زیارت ږدم ژړا کومه
چې تور اوربل په زیارت کیږدي کړي سوالونه

باب: 4

د حسن او مینې دنیا

ښائسته د خدای خوښ دې عالمه
زهٔ ګناهګار به ئې په سترګو ښکلومه

خلقه په ښکلو باور مه کړي
یاري دې ټوله د ټګۍ ده

نن به دلې صبا د بل غیږې له ځینه
زهٔ د دې په مطلب اوس اورسیدم

ستا به په پټ کښې ناسته اوسم
ستا به د حسن دوران تیر شي

که مې مارغان په سر کښې جالې جوړوینه
زما به اوښکې تر قیامته په مخ زینه

ستا په ځولۍ کښې نظري شوم
ستا په خدمت مې عرض دا دې

راته لوګې کړه د سورکو بریتو سرونه
چې مې سلام په دوه لاسي اخله مئینه

ستا دې په خپل حسن قسم وي
ستا دې دا خپل حسن نصیب شي

که یار دې بل وي ماته راکړه جوابونه
زهٔ به دا خپل څیرې ګریوان راټولومه

ستا دې قسم په ذوالجلال وي
ستا دې قسم په ذوالجلال وي

چې د دیدن په وخت کښې روږده قدمونه
چې زهٔ ولاړ یم په بل مه اچوه لاسونه

سیند په جامونو نه کمیږي
ماته د حسن خیرات راکه

په خیراتونو حسن څهٔ کمې کوینه
زهٔ مسافر کچکول په لاس راغلې یمه

ښائسته دې ځان ته مغرور نه شي
په فاني حسن مه نازیږه

ښائست د دوه ورځو میلمه دې لاړ به شینه
د ځواني حسن لکه باد دې تیر به شینه

ښکار مې کاوه زړه ئې رانه یوړو
ښکاري جانان مې زړګې یوړو

د حسن باز ئې په مخ پاس نا ست وو مئینه
بازئ د سترګو په جوړه غوټې وهینه

ښکلي د حسن دوکاندار دي
ښکلي خو لږ عاشقان ډیر دي

سودا په ګټه ورکوي خوشحاله وینه
دا یو انار هزار بیمار ته نه رسینه

ښائست دې ډېر له حده تير دې
ښائست مې ډېر له حده تيره دې

د جنت حورې زۀ دې روغ ليونی کړم
چې عاشقان راپسې مري خونړی شومه

دا خو ښائست زما د زړۀ دې
دا په ليلی کښې ښائست نه دې

چې ئې په مخ کښې د جانان زۀ لټوم
ښائست په سترګو د مجنون کښې دې مئينه

ښائست دې ډېر زيات زوراور دې
دومره دې حسن نه مرغوب يم

د ناز خندا دې په لمبو اوسوم مئينه
درته کتې نه شم مخ بل خوا واړومه

خندا دې واړه لباسي ده
ښائسته واړه بې وفا دي

په لباسي خندا دې تيره کړم مئينه
په لباسي خندا اعتبار کله کومه

ښائسته دې خدای خوښ دي عالمه
حسن زما زړۀ کښې جوړيږي

زۀ ګناهګار به ئې په سترګو ښکلومه
بغير زما څۀ معشوقې څۀ ئې حسنونه

ښائسته خو ټول په زړونو تور دي
که په پې محو کښې وفا وي

سپوږمی ته ګوره په زړه تور لري داغونه
د کوټي لعل خوند به د قندو په شان وو نه

که په ښائست مې خفه کيږې
يا رمې د زيړو خواهشمند دې

نور به د زمکې خوب کوم چې زيړه شمه
اوس به د زمکې خوب کوم چې زيړه شمه

ښائست دليل د خدای دې
ښائسته د خدای خوښ دي عالمه

ستا د ليدو نه پس د زړه نه خدای منمه
زۀ ګناهګار به ئې په سترګو ښکلومه

دا خپل ښائست راپورې اور دې
رب دې ښائست درپورې اور کړې

لکه پردې په بدرګو ځان تيرومه
په ما دې اور کړل دهمزولو مجلسونه

په دې ښائسته وو خدای مئين دې
ښائسته د خدای خوښ دي عالمه

چې هر اندام ئې رغوي په قدرتونه
زۀ ګناهګار به ئې په سترګو ښکلومه

حسن بادشاه عشق غلام دې
حسن بادشاه عشق غلام دې

غلام هميش د خپل بادشاه محتاجه وينه
محمود ته ګوره د اياز غلام ئې کنه

حسن دې ډېر مینه دې نشته
حسن دې شته منکر ترې نه یم
لکه په باغ کښې بې ثمره ونه وینه
دومره غرور ورباندې مکړه تیر به شینه

حسن دې شمع زۀ پتنګ شوم
حسن دې غوړې لمبې اوکړې
پتنګ چې شمع له ورځې جلیا به شینه
خوار پتنګان دې ټول پرې خاورې ایرې کړنه

حسن یو نور د حیرانۍ دې
حسن ته ژوند چې خاوند ورکړو
زۀ په مجاز کښې حقیقت لره ورځمه
په مونږ اختر شو خاوند مونږ ته رالیږنه

خدای به دې بیا راته متاز کړې
خدای به دې بیا زما محتاج کړي
ډېر په ښائستو پسې مه ګرځه مئینه
که په لنډۍ زنه مې اوهل خالونه

حسن واخلاق داسې مزه کړي
جمال کمال دې خدای ورکړے
لکه زرګر چې په سرزر کوي نقشونه
ملال په خیال کاته کوي غوځوي زړونه

خلق خیرات د پیسو نه کړي
سیند په جامونو نه کمیږي
جانان به ولې کړي د حسن خیراتونه
په خیراتونو حسن څه کمي کوینه

دومره په حسن غرور مه کړه
دومره په حسن غرور مه کړه
حسن دې ګل د پسرلي دې تیر به شینه
زۀ په دې خیري ګریوان ډېر فخر کومه

دویم یوسف راته ښکاریږي
دویم یوسف راته ښکاریږي
خوبان د دهر دې خجل په مخکې ځینه
د زلیخې په شان لار درته څارمه

ستا دې خیرات قبول شي یاره
ستا دې دا خپل حسن نصیب شي
لرې او یا دې فقیرانو ته درونه
زۀ به دا خپل خیرې ګریوان راټولومه

ستا دې قسم په حسن خپل وي
ستا دې قسم په ذوالجلال وي
که یار دې بل وي ماته راکه جوابونه
که دا دې حال وي ماته راکه جوابونه

ستا د ښائست ګلونه ډېر دي
ستا د ښائست دوران به تیر شي
ځولۍ مې تنګه زۀ به کوم کوم ټولومه
زما به پاتې شي په خوږ زړګي داغونه

لمبو د حسن ته دې نیسم
لمبو د حسن دې سوخته کړم

چې په لوندو غوښو دې اور اولګومه
اوس مې په سورسالو کښې پټ که روغ به شمه

عالمه تاسو ورته ګورئ
عالم به ټول په تا مئین شي

جانان ښائسته دې که رب زۀ لیونۍ کړمه
که د زما په سترګو اوویني مئینه

عالم د هر څۀ هر څۀ وائي
عالم د هر څۀ هر څۀ وائي

زۀ خو بلبله یاره ستا د چمن یمه
زۀ د جانان په باب د هیچا نه منمه

حسن د ورځ په ورځ زیاتېږي
سیند په جامونو نه کمېږي

زکوة ئې باسه چې نظیر نه شے مئینه
په زکاتونو حسن څۀ کمې کوینه

په ښار د مصر کښې غوغا شوه
د الله دې قدرت ته ګوره

ښائسته یوسف د زلیخے ورسیدنه
له کوئي اوچت کړو اوس په تخت ئې کینوینه

زۀ ئې په توره سپینه نه یم
په دې ئې مړیم چې کبره د خیال څینه

خلق به وائي یار دې تور دې
چاته به تور چاته به سپین ئې

تور خو بورا دې چې د ګلو څوکې خورینه
ماته د زرو کټورئ ښکاري مئینه

زما د دواړو سترګو توره
د سترګو تور مې ئې لالیه

ستا د پیغور تکه توره ناسته یمه
که دغه تور لري کوم ړنده به شمه

سپینے د خدای د بلا ډیري
زۀ ئې په توره سپینه نه یم

سکنړه پېښیږي یوه نیمه په ملکونه
په دې ئې مړ یم چې کبره د خیاله څینه

د رنګ توره چواړۍ ده
د رنګ توره مصلي یم

قدم د زرو روپو ږدي رنځور ئې کړمه
زړه مې بادشاه دې شهزادګان نه قبلومه

زړه مې په تور سړي مئین شو
د تورو بد مه وائي خلقه

ځکه د تورو خلقو ډیر قدر کومه
په تورو غرونو اولیاء ناسته کوینه

جانان که تور دې څه پېغور دې
د زرو قدر په زر ګر وي

دا رنګ مې تور لکه د سکور دې
زما د یار مئینه باغچه ده

خدائ دې په تور سړي مئين که
تور مې په توره شپه قبول دې

تورو له سپين خلق پيدا دې
لالے زما د سترګو تور دې

زړه خو مې داسې درنه تور شه
جانان داسې دې پردې کړم

د کشمالو تر څوکو توره
که ته مې روغ ليونی نه کړې

که توره يم تا به مئين کړم
سترګې دې ډکې طماچې دي

هلک چې تور وي ښۀ ښکارېږي
يار مې په تورو کښې ښائسته دې

هلک روغ به ليونے شې
هلکه زما د يارۍ واوره

سره اننګي دې سره انار دي
که ته مې روغ ليونی نۀ کړې

عاشق سړې د رنګ تور وي
که سوي رنګ مې حال اونه وي

بورا چې تور دي غنچه سپينه بويوينه
غماز د تورو سترګو څۀ قدر کوينه

زۀ په انکار د تورو سترګو سوي يمه
لکه بورا د رنګه تور ورپسې يم

چې د ايمان دې ګوتې اوڅيڑي مئينه
سپين به په سپينه ورځ رخصت له ځان کړمه

ځکه د سترګو تور د سپينو مينځ کښې وينه
که تور د سترګو لر کوم ړنده به شمه

لکه د ژمي لوګې تور کړي ديوالونه
چې همسايه مې دخولګې طمع لرينه

په ما اټه کړه د اوړدو زلفو تارونه
زۀ به دا تورې زلفې خوشې ګرځوم

دومره اثر په برګو سترګو کښې لرم
چې د ګودر راختم او دې ويشتمه

جينۍ چې توره شي بنګړي دې خرڅوينه
لکه په تور ټوپک د سرو زرو چاپونه

زما په تورو زلفو مه وهه لاسونه
دا تورې زلفې ښاماران اوبه دې خورينه

دا تورې زلفې دې تاؤ کړي دې شپولونه
زۀ به دا تورې زلفې خوشې ګرځومه

سوي په اور وي معشوقې رټلې وينه
دا به نه وايم چې مئين دربانډې يمه

ګل چې خندلي دي بلبل ته
ګل دا ستا د مینې زور دې

ځکه بورا د غم توره لمبه شونه
بورا تک تور دې سرګردان ګرځي مئینه

ګناهګار قتل په ګناه شي
کټ مې د ګور په لورې یوسې

زۀ بې ګناه قتل په تورو سترګو شومه
غسل مې نشته تورو سترګو شهید کړمه

تورو ته بد مه وائي خلقه
ماته د تورو صفت مه کړه

په تورو غرونو اولیاء ناسته کوینه
تور املوکان مې په کابل کښې بدې شینه

له تورو غرونو پناه کیږي
له تورو غرونو راپناه شوم

دیدن ثواب دې مخ راواړوه مئینه
دیدن خو ګران دې تش نامه دې یادومه

ما یارانه کله کوله
ما د بازانو یاري کړې

سرتور ولاړ وې د ښیرو دې ویریدمه
دا تور زاغان دې راته نه وهي ځانګونه

که جانان تور دې څه پیغور دې
مئینه په تور او په سپین نه ده

زۀ ئې په سپینو باندې کله بدلومه
دا معشوقې خو غنم رنګې خوند کوینه

قد دې د سروي ونې ډنګ دې
مئینه دې اور دې په ما پور دې

لکه شمشاد د غم تور دړیسې شومه
رنګ مې تک تور دې غم دې زور دې مړه به شمه

ښائست د تورو غرونو ښه دې
په تورو غرونو خدای مئین دې

په بازاري پوډرو ډیر اوغولیدم
په سر ئې واورې وروې یخ کښې ئې ګلونه

په تورو بد مه وائي خلقه
په تورو بد مه وائي خلقه

تور خو بورا دې چې د ګلو ځانګې خورینه
دا تور جانان په زړۀ خنجر درخښوینه

توره زۀ تور مې جانان دې
چا راته ویل یار دې شاخیل دې

تور مې رومال دې چې به تور لحد ته ځمه
ماته خان خیل دې چې زما په رضا ځینه

چاته به تور چاته به سپین ئې
چاته به څۀ ښکاریږې یاره

ماته د زرو کټورې ښکاري مئینه
ماته بادشاه ئې چې مئین درباندې یمه

ستا د ښارو په شانته تلل وؤ
زۀ دې په توره سپينه نه ووم
زۀ د کارغه په شان تور درپسې شومه
په انګريزي قدم راتلې رنځور دې کړمه

زما جانان د کوچو سپين دې
زما جانان د کوچو سپين دې
د فرنګي سره نوکر دې تور به شينه
د بټيارۍ په بټ ولاړ دې تور به شينه

جانان تور پټکې پيدا که
ستا د دې جګې شملې ځار شم
په سر به ستا وي خوند به ماله راکوينه
ټومبلې تا ده مسته زۀ پرباندې يمه

جانانه راشه دا دې وخت دې
جانان تور چيلې حلال کړه
په تور اوربل مې تربوران دعوي کوينه
خسنړې اوشو په چمکۍ د پاتې شومه

تورې دې سترګې تور دې خال دې
تور مې قميص توره بورقه ده
توري دې وروځې تور اوربل دې زړګې وړينه
په سر مې توره لوپټه ده خوند کوينه

زۀ ئې په توره سپينه نه يم
زۀ ئې په توره سپينه نه يم
کبره وره په لاره تله رنځور ئې کړمه
په دې ئې مړ يم چې کبره د خياله ځينه

زۀ دې په توره سپينه نه ووم
زۀ دې قدم باندې مئين يم
په انګريزي قدم راتلې رنځور دې کړمه
ماته په سپين ميدان کښې کيږده قدمونه

که جانان تور دې ځۀ پېغور دې
که د دنيا شرمونه نه وي
زۀ ئې په سپينو باندې کله بدلومه
شاخيله ياره درسره به ګرځيدمه

سپينے د خدائے د بلا ډيرې
تکل مې ډير ورپسې اوکړو
سکنړې پښيرې يوه بيمه په ملکونه
د غنم رنګ اشنا ثاني نشته مئينه

مئينه پيدا که نه وي وروره
نه به وه زمکه نه به وو دا آسمانونه

مئين دې کړم سودمن دې نه کړم
مئين دې کړم خبر مې نه اخلې
سود منده مه شې د دنيا په نعمتونه
رب دې په داسې يارۍ اور اولګوينه

مئین چې ته شوې ګرمه زهٔ شوم
مئین پرې یم منکر ترې نه یم

بې غوره یاره په ګیلو د اوخوړمه
که جلاتیان مې سر د تورو سره وړینه

مئینه بلا ده مئین مه شئ
مئینه او نه کړې په قلار شه

داسې به تهٔ شې لکه زهٔ چې څنګه یمه
یو کال مې اوکړه در په در به ګرځېدمه

مئینه په مئینه پیدا کیږي
مئینه پیدا که نه وي روره

په مئینه مئینه ئې کاته مئین ئې کړمه
نه به وه زمکه نه به وو دا آسمانونه

مئینه د اور دې په ما پور دې
مئینه د اوره کمه نه ده

رنګ مې تک تور دې غم دې زور دې مړه به شمه
چې څوک مئین شي ژوند به اور کښې تیروینه

مئینه په سرو په سپینو نه ده
مئینه په زور او دولت نه ده

دا معشوقې خو غنم رنګ خوند کوینه
د خدای عطا ده بختور له ئې ورکوینه

مئینه تابع د پښتو نه ده
مئینه دې پټه ساتم زړه کښې

څکه دې زهٔ د کوځې خاورې ښکلومه
زهٔ پښتنه یم مئینه نه رسوا کومه

مئینه خو تا کړه ما خو نه کړه
یاري خو تا کړه ما خو نه کړه

نرې نرې به خندیدې مئین دې کړمه
اوس ئې په لمبه پریکوې ژړا راځینه

مئینه خو یو په کتو نه ده
مئینه د زړه پکار ده خلقه

مئینه د زړه ده چې ټول عمر ژوندې وینه
څوک چې د مال په سر یاري کړي ورک دې شینه

مئینه د ساعت په ساعت زیاتیږي
مئینه د سیند د پشکال دې

یا شهزاده ئې یا دې کوډې کړي دینه
چې ورکوزیږم سرو مال سره مې وړینه

مئینه کښې دومره بازي بس ده
مئینه کښې هر څهٔ هر څهٔ کیږي

چې سرو مال په سړي دواړه اوشیندینه
په تا یوه خبره راغله پرې دې ښوم

مئینه یم منکره نه یم
مئینه کول څه غلا خو نه ده

که شنکي خال مې د چړو په څوکو ځینه
خدایا دا ستا بندیان مې ولې نه پریږدینه

مینې د موړ هجر دې زوړ کړم
مینې زړه کړم غم وړه کړم

غم دې په کور کړم نور ژوندون زۀ نه لرمه
چې غړ غړه کړم د خلې وینے تویومه

مئین یې مه کړې مئین خوار وي
مئین ئې مه کړې مئین خوار وي

حیران ولاړ وي د یارۍ کوي سوالونه
که دې سر دار وي د ریبار محتاج وینه

مئینه د عطرو خوشبوئي ده
یارانه پټه بادشاهي ده

دا نا خبره عالم ټول راخبروینه
چې څوک هوښیار وي په هنر ئې چلوینه

لالے خو هم په ما مئین دې
لکه چې زۀ په تا مئین یم

خلق یوائې ما په مئینه ګرموینه
داسې دې پټه مئینه ستا راسره وینه

هغه د زړۀ مینه دې څه شوه
که په رښتیا په ما مئین ئې

یا دې زړه تور شو یا دې کلي لمسوینه
د ګودر غاړه اجاره واخله مئینه

مینې ئې دومره لیونې کړم
نورو جالونو نه به خلاص شم

چې جانان پیژنم خپل ځان نه پیژنمه
د مینې جال نه به ځان څنګه خلاصومه

دا به زما مئینه کښې نقص وو
خپلو نقصونو نه خبر شه

چې مې اشنا راسره اوکړو فریبونه
چې ښۀ سړې وي بل کښې نه ګوري نقصونه

زۀ دې د مینې طلبګار یم
زۀ د جانان د در ملنګ یم

بې ستا د مینے به ژوند څنګه تیرومه
کچکول په لاس د مینې سوال ترینه کومه

د اصلي مینې غرضي یم
په خپله مینه زۀ مجبور یم

د نقلي مینې نه خو ډک دي بازارونه
خود غرض نه یم چې به تا مجبورومه

په خپل لور باندې مئین یم
په ما ځامنو نه دې ګرانې

د یاسمین ګلونه ځکه بویومه
د خپلو لونړو به نور څۀ صفت کووم

آخر په خپله خدای مئین کړم
قصور مې خپل وو چې مئین شوم

ما په مئینو پسې ډیر خندلې دینه
بې وفا یار نه به زۀ څۀ ګیله کومه

په قدمونو دې مئين شوم
زۀ ئې په توره سپينه نه يم

ما ته په سپين ميدان کښې کيږده قدمونه
قدم د زرو روپو ږدې رنځور ئې کړمه

په مينه دومره خداى محتاج کړم
په مئينه مئينه راته ګوره

لکه فقير د هر بنده نه سوال کومه
په تا مې ډيرې بې شرمۍ مونډلي دينه

ځان د قربان که مئينه اوکړه
مئينه يم منکره نه يم

په ويره ويره مئينه نه کيږي مئينه
که شنه خالونه مې په سپينو چړو ځينه

چې څۀ کوې درسره ښائي
چې څه کوې لاس دې آزاد دې

قصور زما دې چې په تا مئينيدمه
ماته په لويه لار کښې مه ژاړه مئينه

چې د زړګي مينه ئې نه وي
چې محبت ئې زړه کښې نۀ وي

مئين ئې مه کړې د ملا په تعويزونه
لکه هندو بې کليمې ژوند تيروينه

چې دوه مئين چرته ولاړ وي
چې دوه مئين چرته ولاړ وي

په نورو خلقو د رندو ګمان کوينه
دربم ګرځي خوار شه چې د پاسه پرې ورځينه

چې ښائسته وم ډير مئين وي
هغه د زړۀ مئينه دې څه شوه

اوس چې د حسن خزان راغلے عاق دې کړمه
يا زړۀ دې تور شه يا دې ګلي لمسوينه

چې يو اخلاص کړي بل لباس کړي
چې يو مئين وي بل پرې نه وي

دا لباسى اشنا د خداى اوشرموينه
څومره مزه کړي چې زاري ورته کوينه

څنګه په سپينه جامه ګرځې
خداى دې جانان په چا مئين کړي

خداىٔ دې مئين که چې خيران دې اوينمه
چې ور معلوم شي د عاشقو فريادونه

څوک چې مئين شي حال ئې نور شي
څوک چې مئين شي ملامت شي

نه په شپه خوب کړي نه په ورځ روزګار کوينه
د ملامتو کومک هيڅوک نه کوينه

دا د مئينو يو رواج دې
په جنازه مې حاضر نه شوې

د جنازې لاندې مې واخله قدمونه
اوس مې د سقاط ګوري ته مه نيسه لاسونه

دا وختنۍ مئینه دې نشته
آمخکښنې مینه دې نشته

لکه د بڼ بلبله شور به دې کاونه
لکه چنچڼ به چڼېدې په دیوالونه

د ویرې اُف کولے نه شم
د ویرې غږ کولے نه شم

د مینے اور په زړه دننه تیرومه
د سوال یاري ده اوس به دړې وړې شینه

ستا د زخمونو به مرهم شم
ستا د زخمونو علاج دا دے

که دې په مینه راته اوکتل مئینه
چې پرې کېږدم د وصال ښۀ ملهمونه

عزرائیل راغلے روح مې اخلي
عزرائیل هسې ځان بد نام کړو

ما د جانان تر غولی زر بوځه مئینه
زۀ د جانان مینې ښخوا وژلے یمه

که ډیر مئین ئې ځان رسوا کړه
مبارکي راکړې عالمه

دغه په غلا چڼې به څو چیچې مئینه
چې پرې مئین ووم ترې چاپیر مې کړل لاسونه

ولې به نه یم سرګردانه
ولې مې پڼ مخې راکاږې

چې په سرو شونډو د اشنا مئیندمه
لائق د دې شوم چې په تا مئیندم

ولې دې بد راسره اوکړو
ولې دې بد راسره اوکړو

زۀ په ځوانانو کښې په تا مئیندمه
ما په دنیا کښې دا وئیل چې یار لرمه

ولې دې سر په زنګنو کړو
ولې دې ښۀ زړۀ رانه بد شو

خفه به زۀ یم چې زاري درته کومه
لکه ښامار به راخویدے په دیوالونه

ولې دې ښۀ زړه رانه بد شو
ها ښخوانۍ مئینه دې څۀ شوه

لکه ښامار به راخویدے په دیوالونه
چې شرین ځان دې غور ځوه تر ګرنګونه

هر یو مجرم له سزا شته دې
مینه کول څه ګناه نه ده

د مینې قتل په قانون کښې نه راځینه
خلق مې ولې په مجرم حسابوینه

الله دې ما په چا مئین کړې
الله دې تا په چا مئین کړې

چې په تن روغ یم زړه مې پټ کوي دردونه
چې درمعلوم شي د خوږمن زړګي حالونه

اور به په هغه چا بلېږي
اور چې بلېږي اخر مړېږي

چې مخامخ ئې يار د بل په څنګ کښې وينه
زړه مې مئين شو هميشه لمبې وهينه

باور په ما مه کړه جانانه
باور مې نه شي چې به روغ شم

رنګ ته مې ګوره چې مئين درباندې يمه
زۀ د جانان روغې راستۍ وهلې يمه

دا ته چې تير شوې بيا را تير شوې
زما نه هيڅ ورک شوي نه دي

د دله زويه ستانه څه ورک شوي دينه
په تا مئين يم دا مې ته ليدلي ينه

د تناره لمبو ته پروت وے
د تناره لمبې ترې ښې دي

په زړه مې نه وې ستا د سرو سترګو داغونه
د مئين توب لمبې سړې ستي کوينه

د چا چې خپله مئينه نه وي
چې په خپل زړه کښې مئين نه وي

نه دم چليږي نه جادو اثر کوينه
مئين به نه شي د ملا په تعويزونه

د خپل اشنا په خوږې مينې
د خپل جانان په مئينه پايم

د زړه نه وينې تويوم خوشحاله يمه
د محبت کفن په غاړه ګرځومه

د ژمي خومره لويه شپه ده
د وصال عمر يو ساعت وي

چې دوه مئين سره يو ځاے شي لنډه شينه
د بيلتانه يو ساعت کال راباندې شينه

د مينې اور دې راته بل کړو
د مينې اور نور تازه کيږي

د سمندر په شان ژوند په کښې کومه
چې له سرو سترګو په ځان اوښکې تويومه

د مينې تاؤ راباندی راغلے
د مينې تنده نه ماتيږي

اوس به د غم په رباب ځان مشغولومه
مدام په سوچ کښې دا د غم ټپې ليکمه

د مينې يار مې پيدا نه کړو
د مينې يار مې پيدا نه کړو

د عاشقۍ دفتر مې ټول اولټاونه
دنيا مې چاڼ کړه ګټ په ګټ اوګرځيدم

د مينې اور به مې مړ نه شي
مينه د اوره کمه نه ده

که د جامو سره درياب ته ادانګمه
چې څوک مئين شي ژوند به اور کښې تيروينه

رب دې زما په شانې حال کړه
خدای دې زما په شان مئین که

چې د شرینې خلې دې واورم فریادونه
چې درمعلوم شي د مئین زړګي حالونه

غلے راځه ښنګ ته مې کښینه
غلې زما په ښنګ کښې پریوزه

د پلو لاند به دې یاره اوساتمه
زۀ خپل مئین د خپل وزر لاندې ساتمه

بس دې په ټوله فیصله ده
بس که په دغه ځاے پریږده

رب دې زما کړه چې مئین دربانديې یمه
چې ښائسته اشنا لرې غمګین به وینه

یو دې غریب پیدا کړم خدایا
ته به مې بولې کبرژنه

بل دې مئین په کبر ژنه جینۍ کړمه
زۀ له حیا نه مخ له تانه واړومه

دا مخکښې ځې په وروستو ګورې
زمانه هیڅ ورک شوي نه دي

یا دې څه ورک دي یا دې زۀ لیدلے یمه
په تا مئین یم ناسته خوند نه راکوینه

رقیب بې شکه چې رقیب دې
خدایا له دې به سخته څۀ وي

په تا مئین دی زه مئین ورباندې یمه
د یار تلاش کښې د رقیب کورته ورځمه

زۀ ئې په خوئې باندې مئین یم
څکه جانان مې ځان نه خوښ دې

ولې د حسن ئې هم نشته مثالونه
جانان کښې ډیر دي ما کښې کم دي صفتونه

مینه دریاب عقل دي کانړي
عاشق کم عقل دې چې ژاړي

زۀ لیونې عقل دریاب کښې ډوبومه
اوبه په کانړي باندې څه اثر کوینه

مینه له بنده شوله تیره
مینه د دم په دم زیاتیږي

لکه منصور د انا الحق نعرې وهم
لکه سیند د پشکال چې کړي موجونه

زۀ له ازل خدائے مئین کړم
چې په خپل زړه کښې مئین نه وي

ځان به په دې دنیا کښې ښنګه بدلومه
مئین به نه شي د ملا په تعویزونه

که مئینتوب له اوره نه وي
پتنګ زمانه مئینه زده کړه

پتنګ به ولې شرین ځان په اور سیزنه
څکه خواره ښانګو نه شمع له ورځینه

بې مینې زړه کله پاکیږي
مئینه کښې ستا او زما نشته

زۀ به د مینې په اوبو زړه پاکومه
ته به په ما زه به په تا مینه کوومه

د زرو قدر په زرګر وي
په جانان بد مه وائي خلقه

بې وفا یار به زما څه اوکړي قدرونه
ګناه زما وه چې پرزه مئیندم

دومره ئې مئینه کښې ډوب پروت یم
ولې به ته رانه هیریږي

خپل کور مې هیر کړو د جانان خواله ورځمه
جانانه تا سره تړلي دي یادونه

ستا د کوڅې سپو نه ځاریږم
مبارکي راکړي عالمه

تانه به زیاته مئینه چا سره کومه
نن دجانان د کوڅې سپي چیچلې یمه

څه اوشو تا که زه آزار کړم
ته خو په ما باندې شرمیږې

چې زۀ مئین یم تا به نه آزارومه
ولې جانان زۀ په تا فخر کومه

لکه شبنم هسې وریږه
لکه غوټې په خندا راغلے

دومره وریږه چې مې مینه ماته شینه
دومره خوشحال شوم لکه ګل په پرخه وینه

مینه دې نه ده سور انګار دې
مینې د اوسوم غم ایرې کړم

لکه سیګریټ ئې سراسر لوخړه کړمه
که مې د اوښکو اوبه نه وي باد مې وړینه

مینه دې نه ده سور کې اور دې
مینه له اوره کمه نه ده

زۀ د پراو سوم نور د خدائ ترنه ساتنه
چې په لمبو شي عالمونه سوزوینه

مینه د وار په وار کمیږي
په یارانه خو د پوهه نه شوم

په تا پوهیږم له یاري اخلې لاسونه
په جدای کښې لکه مالګه اوبه شومه

مینه فراق سره زیاتیږي
مئین د زړه په صبر پائي

وصال په مینه باندې اور او لګوینه
نا مرده تا به ژړا ځان اوشرمونه

مینه دې نه ده څۀ بلا ده
مینه بلا ده مئین مه شې

په اندامونو مې خوره شوه شل ئې کړمه
داسې به ته شې لکه زۀ چې څنګه شوم

مینه د اور دې په ما پور دې
مینه ده اور مئین دې پروړه

رنګ مې تک تور دې غم د زور دې مړه به شمه
خلق د ړانده شي چې په اور بازي کوینه

مینه د اوره کمه نه ده
مینه په تګ راتګ زیاتېږي

چې څوک مئین شي ژوند په اور کښې تیروینه
مونږ کره مه راځه چې زړه د صبر شینه

مینه په تلو راتلو زیاتېږي
مینه په تګ راتګ زیاتېږي

سحر راځه ماښام به زۀ درله درځمه
کله راځه کله به زۀ درځم مئینه

مینه د دم په دم زیاتېږي
مینه د دم په دم زیاتېږي

ځکه مې اوښکې له قلم سره ځینه
لکه چې سیند د پشکال زیاتې کوینه

مینه دې کمه شوه پوهیږم
مینه دې وار په وار کمیږي

په یارانه کښې چا ستومانه کړي مئینه
په تا پوهیږم د یاري اخلې لاسونه

مئین د کړم خله دې رانه کړه
مئین د کړم خله درانه کړه

مینې د زیړ لکه نارنج په وجود کړمه
جینۍ په سپینه خله دې اوشه غویمندۀونه

محبت لویه مرتبه ده
مینه په زور په دولت نه ده

چې معشوقه ئې په طرف ولاړه وینه
د خدائ عطا ده بختور له ورکوینه

د مینې تنده نه ماتیږي
مینه د دم په دم زیاتېږي

مدام په سوچ کښې دا د غم ټپې لیکمه
لکه د ښۀ پټي چې زیات شي حاصلونه

د مینې ځاے مې پاتې نه شو
مینه دې وار په وار کمیږي

زۀ به د ناز خندا د چا سره کومه
په تا پوهیږم د یارۍ اخلې لاسونه

د مینې کټ نه مې انکار دې
پالنګ مې سم کړو ته را نغلې

جدا مې یار دې په کښې نه راځي خوبونه
لکه ښامار په کښې یواځې خوئیدمه

د دوؤ مئینو صلح اوکړي
د خاوند رحم به په اوشي

په زرغونه بالښت ئې یو ځاے کړي سرونه
چې د عاشق او معشوقې صلح کوینه

راځه په دغه ځاے ئې پرېږده
راشه په دې ئې فيصله کړه
ځوک چې مئين وې تل د غم رباب وهينه
ځوک چې ښائسته اشنا لري رنځور به وينه

زما په شرم د کار نشته
چرګوړيه زر شه پر نعرې کړه
بې شرمه زۀ يم چې په تا مئينيدم
اشنا زما په شرم خوښ دي نه پاځينه

زما د زړۀ په مينه خوښ ئې
زما د زړه په مينه خوښ ئې
د چا په مخکښې درته راشه نه وايمه
قسم دې يار که د خلې لباس کومه

زه ئې غمګين په ځان مئين کړم
د کبر جام به دې نسکور شي
اوس کبرژنه شوه د کوره نه راځينه
ډير په مئينو باندې مه کوه ظلمونه

زۀ په مئين سړي پوهيږم
زۀ چې دا زيړ زېلے ګرځم
چې رنګ ئې زيړ وې سترګې کوزې ګرځوينه
دا مې په خوب کښې ستا بيلتون ليدلے وونه

سختي ناري د زړه په زور شي
سخته رنځور خداى دې چوړ کا
زۀ دې ده تشو زبيرګو ويستلے يمه
درتله مې نه شي دعا کور درته کوومه

ښکاره په خله وئيلے نه شم
مينه د زړه پکار ده خلقه
د مينې راز دې له غمازه ئې ساتمه
ځوک چې د مال به سر ياري کړي ورک دې شينه

ښارو په تګ د خداى مئين کړم
زۀ ئې په توره سپينه نه يم
ماته په لويه لار کښې کيده قدمونه
قدم د زرو روپو بردي رنځور ئې کړمه

غريب سړې دې مئين نه شي
يو دې غريب پيدا کړم خدايا
دلته خو ښکلي واړه حسن خرڅوينه
بل د مئين په کبرژنه جينۍ کړم

قصور مې خپل وه چې مئين شوم
قسم دې زړه مې درنه تور شو
بې وفا يار نه به زۀ څۀ ګيله کوومه
بيا به دې نه غواړم جانان ديدنونه

پرېږده چې ښه په کښې پړقيږم
پرېږده چې ښه مې خميره کړي
د مينې اور دې سوزيده پرخوند کوينه
زۀ د دله ټبره کله اوړيدمه

په باغ کښې پټه خربوزه ووم
مئینه دې پټه ساتم زړه کښې

د جانان مینې حشرګاه ته اوویستمه
زۀ پښتنه یم مینه نه رسوا کومه

په ځان مئینه باهر راشه
په ځان مئین ئې په ما نه ئې

څوک چې عاشق وي سرو مال تالا کوینه
یاري په داسې مینو نه کیږي مئینه

په کلمه د ژبه بند شه
په کلمه د ژبه بند شه

که د زما مئینه په بل اوکړه مئینه
ماته دې ټول عمر دروغ وئیلي دینه

باور په ما مۀ کړه جانان
که دې خندلي راته نه وے

رنګ ته مې ګوره چې مئین درباند یمه
د کور کمان په شان به ولے زیړیدمه

نور به د هره سوبه یو سم
مئین له هیڅ شي نه ویرېږي

یو د په مینه کښې شریک نه قبلومه
په دار ورخیژي خو شریک نه قبلوینه

په صبر صبر مې زړۀ شین شو
په صبرونه چې صبرېږي

نور مې د صبر طاقت نشته اوبه مرمه
پوهه شه چې دا به دروغژنه مئینه وینه

ځان د قربان کړه مئینه اوکړه
ځان به دې ستا په مینه جار کړم

په ویره ویره مئینه نه کیږي مئینه
لکه پتنګ چې د چراغ په مینه مرینه

چې محبت ئې زړه کښې نه وي
چې عاشق نه وي انسان نه دې

لکه هندو بې کلمې وخت تیروینه
بې عشقه ژوند د خر ټيټو په شانتې وینه

خلقه په داسې رنځ اخته یم
خلقه لاس پورته کړئ دعا کړئ

نه ئې دارو شته نه ئې حال وئیلے شمه
په لا علاجه رنځ اخته یم که روغ شمه

دا مازیګر ګوره چې تیر شي
زما او ستا لیونۍ مئینه

داسې به تیره شي دا ستا لیونۍ مینه
ترمیان مو چا وکړل د صبر تعویزونه

دا پخوانۍ مئینه دې څه شوه
آ مخکښې مئینه دې نشته

لکه د غز د پانړو شور به دې کاونه
لکه ښامار به راخویدے په دیوالونه

د دوه مئینو کار دې یوشي
چې په اوږو د یو بل واچوي لاسونه

د دوه مئینو کټ دې یوشي
چې په کښې اووائي زاړه دزړه حالونه

باور په ما مه کړه جانان
رنګ ته مې ګوره چې مئین دربانديې یمه

که سوي رنګ مې حال او نه وي
دا به نه وایم چې مئین دربانديې یمه

په زورور سړي مئین شوم
نه مې دیدن شي نه مې زړه صبر کوینه

په یارانه کښې مې خوار خوښ دې
چې په دیدن پسې د سر سودا کوینه

په مئینه مئینه راته ګوره
په تا مې ډیرې بې شرمې موندلي دینه

مینه په سترګو کښې مزه کا
د غمازانو ورته نه رسي لاسونه

خلقه وطن خوږ دې که مینه
روغه عالمه دا تپوس درنه کومه

وطن او مور او پلار خواږه دي
یاره دا درې واړه پرېږدم درسره ځمه

خلق وطن خوږ دې که مئینه
روغه عالمه دا تپوس درنه کوومه

وطن د یار په سترګو خوږ دې
چې یا رمې نه وي څه وطن څه بې وطن

د مینې یاره خفګان مه کړه
کاروان چې درومي سپه به خود غپا کوینه

خلق به هر څه هر څه وائي
جانان مه د چا منه نه به ئې منمه

د جانان مینه به پرې نه ږدم
که پښې مې پرې کړې په لوړ به ورله ځمه

په پښو معزوره یم تلے نه شم
د ننګ په لار په ډانګورو ورسره ځمه

د جانان مئینه به پرے نه ږدم
که پښې مې پرې کړي په لوړ به ورله ځمه

ستا د یارۍ به توبه نه کړم
که جلاتیان مې سر د تورو سره وړینه

د خپلے مینے مینه غواړم
جانان ځکه په تا ډیر کوم نازونه

یو ځل سینه په سینه راشه
بیا مې حلال کړه چې مارغان مې غوښې خورینه

مینے د اوسوم غم د زوړ کړم
صبر نچوړ کړم بیلتون پوګ د ګانړې کړمه

مینه بلا ده مئین مه شې
داسې به ته شې لکه زۀ چې څنګه یمه

که خدای کول مئینه ستا یم
مه خفه کېږه خپله یاره

د نورو خلقو سره تش لوظ کومه
خدای به وهلے قلم ولې روانوینه

په خله وئیلے چاته نه شم
زما او ستا پټه یاري ده

په زړه تیرومه ستا دلې دلئ غمونه
بیلتون ظالم دې مونږ یو بل ته نه پرېږدینه

په خلے د نوم اغستے نه شم
زما او ستا لیونۍ مئینه

پټه ژړا د په دیدن پسے کومه
تر مینځ مو چا اوکړل د صبر تعویزونه

مولٰی په داسې ځاے مئین کړم
مئینه په تلو راتلو زیاتېږي

چې د بونیر د غره ئې لوړ دي دیوالونه
د تلو راتلو لارې مې بند دي څه به کړمه

دیدن د بادو پیمانه ده
نه پر مړیږم نه تري پنډ ترلې شمه

که د دیدن په طمع ناست ئې
که د دیدن محتاج دې نه وي

مجنونه پاسه لیلي ور پورې کوینه
سرتور به ولې ګرځیدم په زیارتونه

که د زما دیدن یادیږي
زیارت له ځم راپسې راشه

د چار شنبې حساب کوه زیارت له ځمه
بهانه زیارت دې ستا دیدن لره درځمه

یار چټاکي دیدن رانه کړو
دیدن دې ولې قیمتي کړو

زۀ نادیده ورته خمبے خالي کومه
زۀ دې په کومه ګناه اونیوم مئینه

مرض مې دم په دم زیاتېږي
مرض مې ګران علاج آسان دې

په حال مې هیڅوک نه پوهېږي مړه به شمه
په تش دیدن د یار رغیږم نه راځینه

ولاړه اوسه چې دې وینم
ولاړه یم لاړه به نه شم

چا دې صفت راته کاوه راغلے یمه
تا به د زړه په رنځ اخته کړم بیا به ځمه

ولې به زۀ ورپسې نه مرم
ښنګ ته مې راشه په خندا شه

چې مورته شا کړې ماته شنه د خندا شینه
چې رانه بیرته شي درانه درانه غمونه

ولې به نه ژاړم تالا شوم
عالمه نن مې ورته پرېږدې
اشنا زما دیدن ئې نور خلق کوینه
زۀ ئې دیدن ته د وختي ولاړه یمه

ولې په غټو راته ګورې
دیدن په غټو سترګو اوکړه
صورت هغه دې اندیښنو وهلې یمه
صبا به دا مالِ قحطی د دیدن وینه

یاري په تور او سپین بس نه ده
د یار دیدن آب حیات دې
چې زړه مئین شي سترګې غواړي دیدنونه
اب حیات د بختورو خلقو وینه

یا مو لیدلے سره نه وي
یقین په رب باور په ما کړه
یا خو دا ټول عمر یو ځاے وے مئینه
چې بې له لتا مې په زړه نشته ارمانونه

یوه خبره راته اوکه
یوه خوږه کوکۍ دې راکه
ستا په دیدن پسې سیلۍ راوړې یمه
خلق طوطیانو له شکرې ورکوینه

یو ځل مې بیا په دیدن موړ که
امید زما د دیدن مه کړه
زۀ به قیمت د خپلو اوښکو درکومه
نا دانه ما په لباس ډېر وژلي دینه

کتلے ځکه درته نه شم
له ډېره شرمه مې مخ سور شي
چې پټ په زړه کنبې ستا د مینې غلا لرمه
چې دجانان په لورې سترګې واړومه

که په کتو شوه راته ګوره
چې پام ئې نه وي ورته ګورم
شکره نه یم چې په تول به کمه شمه
چې راته اوګوري مخ بل خوا واړمه

خدای ته به څنګه جواب ورکړې
مونځ چې قضا شي بیا ادا شي
چې په دیدن قضا کوي فرض مونځونه
نه ادا کیږي قضا شوي دیدنونه

یو ځلې بیرته مخ راستون کا
یو ځلې مخ بیرته راستون کا
د سپیلني په شان لوګې درپسې شومه
باقي دیدن به د قیامت په ورځ کوونه

یو ځل دې سترګې راښکاره که
یو ځل ستا دیدن پرې اوکړم
که د دیدن لارې مو بند شوې څه به کړونه
که مې بیا سترګې کارغان خوري خوشحاله یمه

بله ډیوه شه راته کښېنه
دیدن د خدای په اراده شي

زهٔ د پتنګ ستا په دیدن راغلې یمه
تا لیوني ورته دیرې وهلې دینه

بې له دیدن به روغ نه شم
په حکیمانو په خطونو نه رغیږم

که په باروبارو دې راشي کاغذونه
څوک چې زما د رنځ طبیب دې نه راځینه

بې له جانان جنت څه کړم
بې د دیدن نه عمر ګران دي

چې د جانان سره دوزخ ګلزار ګڼړمه
زهٔ به دا ګران عمر تر کومه تیره وومه

دعا کوه چې واک مې خپل شي
دعا کوم واک به دې خپل شي

بیا په دیدن پسې به کېږې ګرځوم
خیال به دې بل شي بهانې کوې مئیه

ښه ده چې دواړه په دنیا یو
ښه ده چې ستا صورت مې اولید

که نن جدا یو بیا به اوکړو دیدنونه
د خپله ژونده ما وینځلي وو لاسونه

په غړیدلو لیدے نه شي
د سر په سترګو لیدے نه شي

اوس به په پټو سترګو زهٔ کړم دیدنونه
د زړهٔ په سترګو د هر وخت کړم دیدنونه

په سر د څه کنډې وریږي
په سر دې کوم غماز ولاړ وو

د دیدن ځاے وې سر د ټیټ نیولې وینه
چې دې زما د یارۍ واغستل لاسونه

د ماښام مونځ دې قبول مه شه
د عشاء مونځ دې قبول مه شه

دیدن دې پریښود د ایمان کوې سوالونه
زهٔ دې یواځې په تیاره کښې پریښودمه

دیدن دې بیا په ما قیامت کړو
دیدن دې داسې په ما قحط شو

لکه د ژمي سپوږمۍ کله کله وینه
لکه چې قحط په کنعان راغلې وونه

دیدن دې ولې قیمتي شو
دیدن دې ولې قیمتي کړو

یاره په پښو دې ځولنۍ دې که میخونه
زهٔ دې په کوم ګناه اونیوم مئینه

دیدن کوه مه منع کیږه
دیدن کوه مه منع کیږه

په تش دیدن به دې څوک سر نه پرې کوینه
له تش دیدن دېڅوک نه منع کوینه

ستا په دیدن پسې وتلے
ستا په دیدن مې کار او نه شو
روزي مې نه شو څوکیدار او ګرځیدمه
راپه شاکېږه چې دې خپل وطن نه وړمه

ستا په فراق کښې چې مې وینې
ستا په دیدن پسې جانان
خلق ژړېږي د غم اوښکې تویوینه
سترګو مې اوکړو د چینو په شان ډنډونه

ستا په راتلو به څه اونه شي
ستا په راتلو زما رضا ده
په ما به کېږدې د عمرونو احسانونه
که ته رانغلې زۀ په اور واخلم مئیینه

ستا په کتو خاورې زر کیږي
ستا په کتو خاورې زر کیږي
که راته اوګورې د سرو زرو به شمه
ماته دې نه کاته نو خاورې ایرې شومه

ستا په دیدن به مړه نه شم
دیدن د بادو پیمانه ده
که تمامي وجود مې سترګې سترګې شینه
نه پرې مړېږم نه تر پنډ تړلې شمه

ستا په محلت کښې زما څه دي
ستا په دیدن پسې جانان
زۀ شرمیدلے یم پیرې درپسې کړمه
په نم د سترګو باغ د زړۀ اوبه کومه

ستا د دیدن چې طلب ګار شوم
ستا د دیدن شراب مې نوش کړل
له دنیا خلاص شوم دغمو روزګار کوومه
ما فراموش کړل ددنیا واړه غمونه

ستا د دیدن په طمع طمع
ستا د دیدن سوکړه اوږده شوه
سترګو مې اوکړه د چینو په شان موجونه
په نم د سترګو باغ د زړه اوبه کومه

ستا د راتلو په انتظار کښې
ستا د راتلو په طمع طمع
ستورو ته ګورم شپه صبا راباندې شینه
د ژمي شپه بهر چنۍ ته تیرومه

عالمه لرې شي له مخه
عالمه نن مې ورته پرېږدۍ
د دیدن وږي په دیدن نن مړومه
زۀ ئې دیدن ته د وختي ولاړه یمه

کاته د ګلو منع نه دي
ښائسته د خدای خوښ دې عالمه
اشنا مې ګل ما تر په څه منع کوینه
زۀ ګناهګار به ئې په سترګو ښکلومه

ثواب د یار دیدن کښې ډېر دي
تر مستانه یار نه مې ځار کړئ

ځکه مې مور او پلار جوړه پرینښودي دینه
چې تش دیدن ته ئې خیمې وهلې دینه

چرته به ګرځې خو شکیه
چرته کښې ته وې چرته زۀ ووم

په ما دې ځان د قطب ستورې کړو مئینه
مینې اشنا کړم په دیدن پسې دې مرمه

چې په دیدن غلطه نه شي
دیدن مې کورته ورله یوړو

موړ سودا ګر دې د دیدن سودا کوینه
په قدر مند اشنا مې ځان بې قدره کنه

چې د دیدن نصیب ئې نه وي
په کوڅو تیر شوې بیا راتیر شوې

په یو کوڅه کښې سره وړاندې وروستو شینه
په دغه وخت کښې زۀ په بام ولاړه وومه

چې زۀ کور نه یم ته رامه شي
چې زۀ کو رنه یم ته رامه شي

ستا د زړګي د تسلي څوک نه وینمه
تاته به لار په بنړو څوک جارو کوینه

چې ورته ګورم خوشحالېږم
چې ورته نه ګورم شان ګران دي

د چا یادونه دې په زړه کښې ئې ساتمه
چې ورته ګورم په دا هم حیرانه یمه

څو چې مې موړ په دیدن نه کړې
خود به مئین په دیدن موړ کړم

مخ به تر هغې ستا په در کښې شوکومه
بې بخته نه یم چې مئین آزارومه

خوب تصور مې دواړه خوښ دي
خوب چې کوې خاورې به یوسې

چې د خواړه جانان دیدن په کښې کومه
شاه د هغو چې شوګیرې ورته کوینه

دا چرته ته وې چرته زۀ ووم
د لوے لارې مسافره

نصیب اشنا کړو په دیدن پسې دې مرمه
په دیدن موړ شوې که مخ بیا درواړومه

د دیدن کله کله خوند وي
د دیدن وږې به ماړه که

مدام دیدن د عاشق مئینه کمه وینه
که شاه لیلیٰ له مخه لري کړې لاسونه

د سر د سترګو مې پناه ئې
د زړۀ په سترګو کښې مې ګرځې

د زړه په سترګو د همیش دیدار کومه
د سر په سترګو به د کله اووینمه

د سره تیرشه دیدن اوکړه
ماته دیدن د یار آسان دې

چې سر ساتې خاورې به اوکړې دیدنونه
هغه ته ګران دې چې د سر خطره لرینه

د لیلی دوه ځایه دیدن دې
د لیلی دوه ځایه ناستي دې

یا په بلۍ یا به د سیند په غاړه وینه
یا د سیند غاړه یا د لوړو غرو سرونه

ته د دیدن په طمع ناست ئې
ور خو دې پورې شه محبوبې

ملنګه پاسه لیلی ورپورې کوینه
چې فقیران دې بې نوا له دره ځینه

وصال به خوند درله در نه کړي
وصال جنت بیلتون دوزخ دې

څو د هجران په لمبو وریت نه شي مئینه
زۀ د دوزخ سختې جنت له تیرومه

وصال د باد په شان تیر شو
وصال د برق په شان تیریږي

بېلتون د زړه په سر خیمې وهلي دینه
بیلتون د عمر سره اوکړه قسمونه

زۀ تر نه خپله برخه غواړم
په دروازه کښې دې ولاړ یم

شاه د دیدن په انبار لاس پورې کوینه
د دیدن برخه مې راوړه چې بیرته ځمه

د یار دیدن آب حیات دې
جانان مخ دې را څرګند کړه

زۀ ئې تلاش کښې حضرت خضر لټومه
لکه نرګس دې انتظار د دیدن کړمه

ستا جدائي د زړه سوکړه ده
د زړه چمن پرې تازه کیږي

چې دیدن اوشي په زړۀ نه راځي قحطونه
چې د دیدن ورباندې اوشي بارانونه

دیدن مې کورته ورله یوړو
دربان رخصت کړم ستا له در

په قدردان اشنا مې ځان بې قدر کنه
رخصت هغه کړم خو ګیله تانه کومه

په رڼرا ورځې توره شپه شوه
په رڼرا هر انسان مئین دې

چې رانه پټ شو ستا د سپین مخ دیدنونه
د ښکلو بخت دې چې روښن جمال لرینه

په سر ویریږې راتلے نه شې
د سر تیر شه دیدن اوکړه

په خله کمرے نړوي چې دربه شمه
چې سر ساتې خاورې به اوکړې دیدنونه

پــه تناره ولاړې پيغلې
اشنا مې اوبړې رانه لاړو

ډوډۍ دې نه خورم د ديدن اوږې دې يمه
چې دستر خوان لره ورځم ژړا راځينه

په ورۀ کښې نيمه راښکاره شوه
په وره کښې نيمه راښکاره شوه

زما په نيم بدن ئې اور اولګونه
لکه د هاړ چنار پوستکې غورزومه

ستا د ديدن باران دې اوشي
ستا د ديدن برسات رامات شوے

که ملک چقړې شي همسا به لګومه
چې څۀ شيبه ورته سرتوره اودرېږمه

ستا د ديدن په طمع طمع
ستا د ديدن په طمع طمع

په توره ږيره کښې مې سپين ولګيدنه
د انتظار انګار مې اوسول اندامونه

ستا د ديدن په طمع ناست يم
ستا د ديدن چې طلب ګار شوم

خوږه جانان د دونهې ملنګ دې کړم
له دنيا خلاص شوم دغمونو کار کومه

ستا د ديدن باران او نه شو
ستا د ديدن باران د اوشي

د مقصود بوټې مي اونه نيول ګلونه
که زمکه خټه شوه امسا به لګومه

که دې زما ديدن يادېږي
که دې زما ديدن ياديږي

اوبه بهانه کړه په ګودر به ناسته يمه
د ګودر غاړه اجاره واخله مئينه

که ملاقات مو سره اوشي
که په پالنګ سره يو ځاے شو

د غم قيصې به په رو رو درته کومه
د غم قيصې به تر صبا درته کومه

لنډې قيامت په کلي راغلے
لنګې دې واغسته روان شوې

يار مي راوړې ديدن بيا په بيرته وړينه
په زړه دې نشته د يارۍ سوي داغونه

له تورو غرونو پناه کيږي
له تورو غرونو راپناه شوم

ديدن ثواب دې مخ راواړوه مئينه
ديدن خو ګران دي تش په نوم دې يادومه

ملک الموت راته ولاړ دي
ملک الموت ساه مې مه اخله

ستا تر ديدن پورې غواړم مهلتونه
زۀ د اشنا په ديدن ځان مشغولومه

مخ ته دې غټ کتلے ته شم
مخ ته کاته دې ناروا دي

په تش کتو دې په انکار ختلے یم
په ما روا دي چې مئین درباندې یم

مخ په قبله سر تور ولاړ وم
مخ په قبله مې د یار کور دې

قبول مې نه شو د دیدن سوي سوالونه
مونځ مې بهانه دې د اشنا دیدن کومه

ماښام زمونږه چم ته راشه
چې مې پرون د وصال ویش وو

زۀ د دیدن په انبار لاس پورې کومه
تا لیونې کچکول په ښټ نیولې وونه

یو ځل مې بیا په دیدن موړ که
یو ځل ما په خولګې موړ که

زۀ به قیمت د خپلو اوښکو درکومه
بیا د بابا له توره ورکړه چې راځینه

تیر شو هغه وختونه تیر شو
تیر شوې عمر به را نه شي

چې په دیدن به د اشنا نه مړیدمه
که اوچه ګرګه زرغونه په اوښکو کړمه

د یار کوڅه زما کعبه ده
چې د دیدن نصیب مو نه وو

چې په کښې کیږي د جانان سره دیدنونه
په یو کوڅه کښې سره وړاندې ورستو شونه

چې ما بللے ته را نغلے
دیدن د ولې په ما بند کړو

اوس چې ته راغلې ما بند کړي دیدنونه
کومه ګناه ده چې پرتا نیولے یمه

چې سر ئې وي په تنه پورې
دیدن د سر په بدله دې

خوشې امید ئې د اشنا د دیدن وینه
چې سر ساتې خاورې به اوکړې دیدنونه

خبرې ډیرې مې په زړۀ دي
خبرې سل مطلب ئې دا دي

هیرے شي ټولے چې د سترګې اووینمه
چې په دیدن پسې دې بې اجله مرمه

خبر مې ولې ناخلې یاره
خبر مې یار ته نه رسیږي

چې بې دیداره په ما ګران شو ساعتونه
لار کښې څو کئ د بیلتانه ولاړې دینه

د خوب ویښ شه که دیدن کړې
د خوب ویښ شه ځواني مرګ شي

په پټو سترګو چرې نه شي دیدنونه
خولګۍ مې واخله په بهانه راغلې یمه

د سحر باد ورله ورشه
د سحر باد ورته وايه

په ګل اندام جانان مې وايه سلامونه
د ګلو لښتې په ديدن پسې دې مرينه

ديدن د يار چې په کښې نه وې
ديدن د يار مې نصيب نه شو

په باغ دې راشي د خزان تاوده بادونه
د رقيب غشې مې په زړۀ اولګيدنه

ډير د ديدن دې طمع دار دي
جانان ستا په انتظار کښې

سخ د هغو دې چې څوک شپې شوګيروينه
ستورو ته ګورم شپه صبا راباندې شينه

راشه حصه دې خپله واخله
چې دې پرون د ديدن ويش وو

شاه د ديدن په انبار لاس پورې کوينه
زۀ په رسو د بيلتانه تړلے وومه

ما درته مخ تا راته شا کړه
ما درته او خاندل تا شاه کړه

د بره پريوځي چې معلوم دې شي حالونه
نور به اونه خاندم که اوژاړې مئينه

نن مې بې طمع ديدن اوشو
ديدن د خوږ اشنا اختر دې

ځکه دوه نيم ګزه اوچت له زمکې ځمه
چا چې روژه د فراقت نيولے وينه

نه مې ابۍ نه مې دادا شته
نه مې څوک وو نه مې پکار شو

زۀ نيزوړې اباسين راوړې يمه
د ونې پاڼړه ووم ګړنګ ته پريوتمه

نه مې خپل حال چاته بيان کړو
نه مې ديدن شي نه مې صبر

نه رانه چا اوکړه د خوږ زړګي پښتنه
په غم لړلې يارانې ستړې دې کړمه

د سر تيرشه ديدن اوکړه
د سر به تير نه شې دروغ دي

چې سر ساتې خاورې به اوکړې ديدنونه
داسې مې ستا په شان ډير ليدلي دينه

ته پرون نه وې نن پيد اشوې
چې ما بللے ته رانغلے

ما د وصال تړي پرون پاللي دينه
اوس چې ته راغلے ما بند کړي ديدنونه

ديدن په لکھ خندا په زر ده
ديدن په لکھ روپۍ ارزان دي

په بادشاهی تخت به ور نه کړم شنه خالونه
پلو مې باد واغست ويړيا دې اوليدمه

دیدن په هر ویلے شه دي
دیدن خو کله خوند کړي

د مازیګر دیدن شکرې ورروینه
دا همیشه دیدن خو قدر کموینه

دیدن د هر وخت مزه کړي
دیدن کوه مه حصاربېږه

د مازیګر دیدن دي کلي ورانیوینه
که چا پر مړ کړي ځوانان تل په دیدن مرینه

دیدن د خدای په اراده دي
دیدن د خدای په اراده دي

دا لیوني زړه مې منګلي لګوینه
ما لیونۍ ورته ډیرې وهلي دینه

دیدن په ډاک کښې راپارسل کا
دیدن د ګلو غنچه نه ده

د نشه دار په شان نشه درپسې یمه
چې د ډاکې په لاس ئې یار له اولیګمه

دیدن کوه مه منع کیږه
دیدن کوه مه منع کیږه

آخر به خاورې شي دا دواړه وجودونه
په تش دیدن به دې څوک سر نه پریکوینه

دیدن مې ستا بهانې مې نورې
دیدن مې ستا بانې مې نورې

په لویه لار کښې څهٔ بهانه کړم اودربېږم
لکه ګوجره چم په چم نعرې وهمه

د دیدن وخت د آسمان پړق وي
که دیدن کله بیلتون وي

د جدائي یوه لحظه کلونه شینه
زهٔ د جانان سترګې په کال کښې نه وینمه

دیدن پسې دې لیونے شوم
که نا کله دیدن راوړه

راپورې خاندي د کوڅې کوچنیانې جونه
ستا د دیدن به ارمانژن لاړ شم مئینه

په دروازه کښې د ولاړ یم
پرون زما د دیدن ویش وو

د دیدن برخه مې راوړه چې بیرته ځمه
پرون رانه غلے ما بند کړي دیدنونه

څنګ دې ځان له ما راغونډ کړو
د ما خوارې در حواله شه

تپوس مې نه کړې په دیدن پسې د مرمه
چې سرے واورے وریدے زهٔ به درتلمه

ستا په دیدن به مړه نه شم
ماله د دومره دیدن بس دي

که مې بدن تمامې سترګے سترګے شینه
چې په کوڅه کښې پښه نیولے شے مئینه

بې ستا ليدو به روغه نه شم
ستا په ليدو مې دومره سود شي

که د په اس بار کړي راشي سلامونه
لکه بيمار په همسا واخلي قدمونه

بيرته مې مه شړه نيمګړې
ديدن کوه مه منع کېږه

زۀ د په طمع د ليدو راغلے يمه
له تش ديدن د څوک نه منع کوينه

ډيوه راوخله نړا راوړه
په ما د زر شندلي نه دي

ستا په ديدن پسے سيلۍ راوړے يمه
چې د چراغ په رڼړا غواړې ديدنونه

ستا د ديدن په طمع راغلم
تا ځان د زړکې په شان پټ کړو

د انتظار انګار مې اوسول اندامونه
زما د سترګو باز خالي منګلے ځينه

دا خو انصاف نه دے جانان
خدائے د انصاف په لاس کښې درکړي

چې دې مئين کړنم اوس مې نه کړې تپوسونه
زما د خوږ زړګي نه مه اخله لاسونه

ستا د ديدن سوکړه اوږده شوه
ستا د ديدن قحطي د نه وي

په نم د سترګو د زړه باغ اوبه کومه
که د اور بشو قحطي وي تيره به شينه

ستا د ديدن دونهے ته ناست يم
ستا د ديدن په طمع طمع

خوږه جانان د دونهۍ ملنګ د کړمه
په توره ږيره کښې مې سپين اولګيدنه

ستا له ديدن خله په روژه شوم
ديدن دې ولے قيمتي کړو

د اختر مياشتے راښکاره شه په ملکونه
زۀ د په کوم ګناه اونيوم مئينه

ستا په ديدن به مړه نه شم
ديدن د بادو پيمانه ده

که تمامي بدن مې سترګې سترګې شينه
نه به پرے موړ شے نه به ئې اوترے پنډونه

ستا د ديدار دونهےته ناست ووم
ستا د ديدن باران اونه شو

د عشق اور مې په زړګي کښې تازه شونه
زما د زړه په باغچو جل اولګيدنه

ولے د بله ډيوه مړه کړه
ډيوه رڼړا کړه ديدن اوکړه

په سود مئينه تيل به ما راوړي ونه
صبا به وائے چې ما خوب ليدلے وونه

مخ ته دې غټ کتلے نه شم
په تش کتو د لیونے کړم

په تش کتو دې په انګار ختلے یمه
جانانه مخ د راړوه چې صبر شینه

نن مې بې طمعے دیدن اوشو
زړه مې هوا کړي خوشحالېږي

ځکه دوه نیم ګزه اوچت له زمکے ځمه
چاپیره ګرځم ناستے خوند نه راکوینه

که دې زما دیدن یادېږي
امید زما د دیدن مه کړه

سپوږمې ته ګوره زۀ به کور ولاړه یمه
نادانه ما په لباس ډیر وژلي دینه

پر هر مې بیا د زړه زولن شو
دیدن د کله کله خوند کړي

څه موده پس مې د یار اوکړل دیدنونه
دا همیشه دیدن د قدر کمونیه

په دیدن مئینه نه ماتیږي
څو دې د دنګې غړي تاؤ نه کړم لاسونه

یو ځلے جوخته سینه راکړه
دا ځل سینه په سینه راشه

بیا مې جدا که چې کارغان مارغان مې خورینه
اوس خو مې تورې شړې لنګ کړې یار د یمه

یو ځلے غاړه غتې راشه
لاس په ولاړه راچا پیر که

چې د زخمي زړه درته اووایم حالونه
د کیناستو پورې زړه وار نه راکوینه

یو ځلے غاړه غتې راشه
لاسونه هسک که غیږه راکړه

بیا دې راپرېږده توریالي چې مړمې کړینه
ما به دا ستا د غیږې ډیر ارمان کونه

په دیدن مینه نه ماتیږي
والله باالله که به دې پریږدم

څو د دنګې غړې تاؤ نه کړم لاسونه
څو دې په سپینه غاړه تاؤ نه کړم لاسونه

خله مې غوستله غیږ ئې راکړه
په یو اختر کښې بل اختر شو

خدایا خیالي لیلی ته ورکړې جنتونه
چې مرور اشنا په غیږ کښې اونیومه

راولاړېږه غاړه راکړه
راولاړېږه چا پیریږه

زړه مې په تا پسې رنځور دې روغ به شمه
په تا بائیللے زړۀ مې ځاے له نه راځینه

مسافري نه سترې مه شي
مسافري خوږلې یاره
اول غیږ درکړم که دې جیب اولټومه
قربان قربان دې د خیرنو جامو شمه

اختر خو نن دې پرون نه وو
اختر دې تاته مبارک شي
پرون یار نه وو نن به غاړه غټې شونه
چې لاس و پښې دې په حنا اور لګوینه

ربه ته بیا هغه ساعت کړې
ربه زما جانان زما کړې
چې د یار غیږ کښې بوړې بوړې اولویږمه
که زما نه شو بیا دې تورې خاورې شینه

کچکول په لاس شړۍ مې لنګ دې
یو ځلې غاړه غټې راشه
جا مې مې رنګ دې یار ستا په تهمتونه
اوس خو مې تورې شړۍ لنګ دې یار د یمه

سپینې په سپینه ورځ ځان جوړ کړو
سپینې پنډۍ سپینې دې پیلے
په سپین میدان د سپین جانان غیږې له ځینه
په حجره لاړه زلمو اوکړه دیدنونه

کټه ځلور دې بازوګان دې
ما سره غاړه غټې ځمله
پنځم اشنا شپږم زۀ در اوختمه
نن صبا مرګ دې په ارمان به جدا شونه

سحر صبا دې روانیږه
سحر د وخته خلق پاڅي
د پیر بابا د بنړ طاوس نعرې وهینه
زۀ د لیلی د غیږې ځنګه پاڅیږمه

ټینګه غیږ راکه چې دمه شم
ټینګه مې اونیسه په غیږ کښې
ما د هجران د میرو کړې سفرونه
ستړې ستومانه له زیارت راغلے یمه

ټوټې ټوټې زړه به راټول کړم
ټوټې ټوټې زړه مې راټول شو
راټول به نه کړم په اشنا خواره لاسونه
زۀ چې وړوکې یار په غیږ کښې اونیومه

جینۍ په لار کښې غیږه راکړه
جینۍ په لار کښې غیږه راکړه
بهانه ئې اوکړه چې سینډل زۀ سمومه
خوشي کښې زمکې نه اوچت دوه فټه ځمه

جخته غیږ راکړه سترې مه شے
مسافري خوږلې یاره
مسافري کښې دې کړه تیر میاشتې کلونه
پیزار اوباسه چې تلې د ښکلومه

جانان ته به اوس اوده ئې
جانان ټینګ راغاړه اوځه

ماته د غم د لاسه خوب کله راځینه
بیګاه مې مړ په خوب لیدے دلګیره ووم

چې چرته ځې حال راته وایه
په سفر ځې په خدای د سپارم

چې مخه ښه کښې سینه جخته درکومه
زۀ پښتنه یم ستا په پټ کښې ناسته یم

ځوک چې د یار په غیږ کښې پروت وي
چې مې جانان په څنګ کښې ناست وي

په بادشاهانو د خاکروب نظر کوینه
زۀ د دهلي د بادشاه څه پروا لرمه

داسې نرۍ ئې لکه لښته
غیږه په غیږ راشه جانانه

خدای دې زما په غیږ کښې ماته کړه مئینه
تا به زما د غیږې ډیر ارمان کوونه

د ښارو غیږ د ګلو باغ دې
چې په پالنګ کښې غیږ په غیږ شو

لکه طوطي مې په کښې روح دوري کوینه
د غم قیصې به تر صبا درته کومه

دغه احسان راسره اوکړه
د مخې لرې شي لار راکړي

ما د جانان په غیږ کښې مه وژنه بیلتونه
زۀ مسافر جانان له غاړه ورکومه

رخصت چې اخلې غاړه راکړه
رخصت ئې واغستلو لاړ شو

تر قبرستان پورې سود به پرې کومه
پیوند ئې نه کړل په ګولۍ ویشتلي زړونه

ربه ته بیا هغه ساعت کړې
قدیمه ډیر صبر مې اوکړو

چې د یار غیږ کښې بوړې بوړې اولویږمه
نصیب مې نه شو د جانان د غیږ خوبونه

راولاړیږه چاپیریږه
راولاړیږه زړه مې نیسه

بیګاه مې مړ په خوب لیدے ویر مې کاونه
په تا بائیلے زړه مې ناخلي کو شیرونه

زما ارمان دې پوره نه کړو
زما ارمان وتلے نه دې

هسې مې ټوله شپه شوګیر کړه بیرته ځمه
لاسونه اوچت که غیږ ته بیا راشه مئینه

زما نه دواړه کاره نه شي
ستا یارانه درنه میچن ده

چې یو میچن کړم بل دې غاړه ورکومه
زۀ ئې د برمه لاده باده اوویستمه

زما جانان مخې له راغلے
جانان راشه سترې مه شے

زۀ د شيرين اشنا په غيبر کښې
د جانان غيبر د ګلو باغ دې

زۀ په زوال د کبر پوهے شوم
کبر مې کړو زوال مې بيا موند

زما هغه ساعت يادېږي
سوال دې په کوم زيارت قبول شو

صورت مې ټول زخمي زخمي وۀ
صورت مې ټول لعل و جوهر شو

شه په ولاړه راتر غاړه
دا په ولاړه لاس چاپير کړه

که سرې ډير په زړه محکم وي
که سرې ډير په زړه محکم وي

يو وار مې ټينګه کړه په غيبر کښې
دا ځل مې ټينګه کړه په غيبره کښې

په ديدن تنده نه ماتېږي
لاس مې د دنګې غاړې تاؤ کړه

لاسونه هسک کړه غيبره راکړه
لاس مې د غاړې راچاپير کړه

لاليه رو مې غيبر کښې نيسه
ټينګه مې مه نيسه په غيبر کښې

د خوشحالي ورسره غاړه غتۍ شومه
ما په کچکول پترې وهل درپسې تلمه
له خوشحالۍ نه تر سحره رپړديدمه
ما دجانان د غيبرې ډير ارمان کونه
اوس مې د غيبرې اشنا لاس نه راکوينه
لکه سپوږمۍ په ځوانۍ تندر اونيومه
چې بوږې بوږې به دې غيبر کښې غورزيدم
چې ړنګه بنګه دې په غيبر کښې پريوتمه
يار مې غيبر راکړه بيرته جوړ شو پړ هرونه
سنګ پارس اشنا په غيبر کښې اونيومه
په کيناستو خولګۍ مزه نه کړې مئينه
تر کيناستو مې زړګې صبر نه کوينه
چې د اشنا د غيبرې ځې ژړا ورځينه
خو چې اشنا ئې د غيبرې ځې ژړا ورځينه
بيګا مې مړ په خوب ليدے ليونۍ شوم
دا ما به ستا د غيبرې ډير ارمان کونه
څو دې د دنګې غاړې تاؤ نه کړم لاسونه
خله مې په سرو اننګو کېږده روح مې ځينه
ما به دا ستا د غيبرې ډير ارمان کوونه
نرۍ نرۍ خندا دې ډير خوند راکوينه
چې خوږ مې نه کړې مور په ناز ساتلې يمه
ځوانۍ مې نوې غندل کړې مات به شينه

ما د جانان غیږ کښې حلال کړئ
که مرګ راځي خفه پرې نه یم

چې زر زري جامې ئې سرې په وینه شینه
زما سلګۍ دي د اشنا په غیږ کښې وینه

مه خفه کیږه خپل یاره
مه خفه کیږه خپله یاره

زۀ د ګلونو امیل ستا د غاړې یمه
نا ترسو خلقو بند په بند ترلې یمه

ما سره غاړه غتې شمله
ما د اشنا د کټ بازو کړې

نن صبا مرګ دې په ارمان به جدا شو نه
چې اړخ اړئي لاس په ما را اچوینه

باده خبر یې راله راوړه
وړوکې ما په غیږ کښې لوے کړو

چې د پیروان میر من د چا په غیږ کښې وینه
اوس چې د بل غیږې له ځي ژړا راځینه

قدیمه ډیر صبر مې اوکړو
ګریوان به څیرې تر لمن کړم

نصیب مې نه شو د اشنا د غیږ خوبونه
په هغه ورځ چې د اشنا غیږې له ځمه

ګل د ګلاب بوئ د ښنځلے
خاونده ما ګل د ګلاب کړې

سورې د ولے غیږ د یار مزه کوینه
چې د خپل یار په غیږ کښې پانړې پانړې شمه

خپله ځواني راپورې اور شوه
خاونده پلار مې لیونے کړې

لکه سنني په کور کښې پټه ناسته یمه
د اشنا غیږ پسې ړنده شمکوره شومه

یو د افسوس نعره به اوکړم
څه شو که ناسته مې دلي ده

په کومه ورځ چې د اشنا غیږې له ځمه
روح مې د یار په غیږ کښې ښکته پورته ځینه

امین پرې اوکړئ سوالې دا دې
ما سره غاړه غتې شمله

چې مې جانان راسره غاړه غتې شینه
ما ستا د غیږې ارمانونه کړې دینه

بیګا مې یار په غیږ کښې پروت وو
د جانان غیږ به پر ور نه کړم

بادشاهي تخت راته خځله ښکاریدنه
که شاهي تخت راله بدله کښې راکوینه

په اړولي لاس مې اووه
خاونده ما د ریدي ګل کړې

چې په خندا خندا ستا غیږې له درځمه
چې د اشنا په غیږ کښې پانړې پانړې شمه

څوک چې د یار په غېږ کښې پروت وي
څوک چې د یار په غېږ کښې پروت وي

خدای د زما غېږ کښې بیمار که
خدای دا ټول خلق ړانده کړې

خدای د زما غېږ کښې بیمار که
د ټول جهان طبیبه زۀ ووم

راځه چې دواړه کټ ته خېژو
راشه په سترګو کښې مې خوب شه

شین اسمان کانړې په ما پریوزه
مرور یار په ګوتو راغلے

خدای ماښام کړې زر تیاره کړې
خدای دا ټول خلق ړانده کړې

دا بیګانۀ عجیبه شپه وه
زۀ د شیرین اشنا په غېږ کښې

کۀ څوک مې ښه بولي که بده
ګل د ګلاب بوئیږ د څنځلے

خدائے دې په تنګه لار کښې راکړه
د لیلونړې تنګے کوڅے دې

راولاړېږه غاړه راکړه
راولاړېږه بیا ځارېږه

دنګه د غاړه دنګه ته ئې
لاس مې د دنګے غاړې تاؤ کړه

په نورو خلقو د ړندو ګمان کوینه
په بادشاهانو د خاکروب نظر کوینه
چې ته فریاد کړې زۀ دې رو رو ښکلومه
چې زه د یار غېږې له ځان اورسومه
چې ته فریاد کړې زۀ دې رو رو ښکلومه
اشنا زما غېږ کښې رنځور شو څه ئې کړمه
د پیغلو قدر د زلمو په غېږ کښې وینه
زۀ شوګیرو د بیلتانه وهلې یمه
چې مې د غېږې یار د بل سره راځینه
زۀ د ګلاب په شان بیا او غوړېدمه
خلق مې څارې ماجانان ته نه پرېږدینه
چې د یار غېږې وته ځان اورسومه
د یار په غېږ کښې لکه پاڼه رپیدمه
له خوشحالۍ نه تر سحره رېږدیدمه
زۀ د اشنا په زنګانه سرلګومه
سورے د ولے غېږ د یار مزه کوینه
چې دې د دنګې غړې تاؤ کړمه لاسونه
دغه مزے دې جانان خوا په خوا راځینه
زړه مې په تا پسے رنځور دې روغ به شینه
په تا بائیلیے زړه مې ځای له نه راځینه
شرینے یارے په دیدن پسے د مرمه
خله مې په سرو اننګو کېږده نازنینه

اختر خو راغلے یار بیمار دې
د کالو ډکه راله راشه

د کالو ډکه به د چا غیږے له ځمه
په لا علاجه مرض پروت یم روغ به شمه

بس د اوربدې غرې میرمنې
په دیدن مینه نه ماتېږي

اور په لمنے ګرځوے ستي د کړمه
څو د دنګې غرې تاؤ نه کړم لاسونه

په کډېدو کښې پیره راوړه
ټینګه مې مه نیسه په غیږ کښې

چې ساه نیولے دې په غیږ کښې اونیسمه
بیا به د بوئین د محبت د غیږے ځینه

آسمان کښې ستورو غیږے ورکړے
لاسونه هسک که غیږه راکړه

ماله بې ننګه جانان خوا نه راکوینه
ما به دا ستا د غیږې ډیر ارمان کونه

چې چرته ته وے هلته زۀ وے
ما سره غاړه غتې خمله

دواړه پراته وې د ریښم په بالښتونه
نن صبا مرګ دې په ارمان به جدا شونه

عاشق سړي نه غلطیږي

سترګې ئې سري وي شونړي وچې ګرځوینه

عاشق باچا معشوقه تاج وي
عاشق باچا معشوقه تاج دې

تاجونه تل د بادشاهانو په سر وینه
چې باچا نه وي د تاج څوک عزت کوینه

عاشق په اور کښې خوشحالیږي
عاشق په سره اور کښې ایره شو

لکه پتنګ د سینې مینځ په شمع ږدینه
معشوقه خاندي تجربې ورباندې کړینه

عاشق سړې نه غلطیږي
عاشق سړې زخمي زمرې وي

سترګې ئې سرې وي شونډې اوچې ګرځوینه
څوک په زمریانو ګوتې نه وهي مئینه

عاشق سړې د رنګ تور وي
عاشقي اونه کړې عالمه

سوے په اور وي معشوقې رټلې وینه
عاشق سړې په لیونو بللے شینه

عشق اول سړې بادشاه کړي
عشق اول سړې بادشاه کړي

د ګدائي په تخت ئې ورستو کینوینه
د ملنګۍ خطاب ئې ورستو ورکوینه

عشق د پردو خپلو پردې کړم
عشق دې دومره لیونے کړم

زۀ په دنیا کښې بې پرواه له خلقو شوم
چې په خندا غلطوم د زړۀ غمونه

عقل وهوش مې اشنا یوړو
علاج د هر مرض کیدې شي

اوس مې عالم په لیونو حسابوینه
د عاشقۍ د مرض نشته علاجونه

که د چا روغ زړګې پکار وي
که عاشق ځان ځنې قربان کړي

د عاشقۍ په لار دې نه ږدې قدمونه
نه منظورېږي معشوقو ته خدمتونه

که عاشقي صادقه نه وي
که عاشقي مې کړې نه وے

بورا پتنګ بلبل به چا لیدلے وونه
د کور کمان په شان به ولے زیړیدمه

که له پېغوره څۀ ویرېږې
په عاشقۍ کښې زړۀ سندان که

د عاشقۍ په لار کښې مه ږده قدمونه
په کښې پېښېږي د پلکونو ګزارونه

ما نه په ګل هم خفه مه شے
ګیلې کوومه غوږ پرمه ږده

په عاشقي کښې وې ګیلے کله جنګونه
که ته پوهېږې دا دې مینه زیاتومه

څوک چې د عشق په دریاب ګډ شي
څوک چې د عشق دریاب ته پریوزي

جهاز د صبر کښې دې شپې صبا کوینه
که لامبوزن وي ترې خطا شي ګودرونه

په عاشقۍ کښې داسې کېږي
په عاشقۍ کښې داسې کېږي

ځنې بادشاه شي څوک ملنګ د دونهے شینه
څوک اشنا خپل کړې د چا مات شي اورمېږونه

تخت د شاهي مې پکار نه دې
تخت د هغو خلقو پکار دې

زۀ دجانان سره په لو خوشحاله یمه
چا چې د عشق د کار لاس وینځلې وینه

توده ئې مه شوم پرسوزي
توده ئې نه ښنم ورته ناست یم

د عاشقۍ خبرې ډېرې ګرمې وینه
پیاله د عشق به په صبر ګوټ کومه

چې خفه نه شي خوږه یاره
چې عاشقي شته باچائي څه کړم

عشق له تخت بادشاهان پریستي دینه
بادشاهان هیر شي عاشقان تل یادوینه

څه حاجت نشته چې څو ګند کړم
د عاشق دوه نښې ښکاره وي
تاته معلوم دي د عاشقو تکليفونه
د شپې شوګير د ورځې شور فرياد کوينه

د عاشقانو تريخې نشته
د عاشقانو دا مزاج وي
يار ئې کنځل کړې دې خندا ورته کوينه
چې په خله خاندي په زړهٔ پټ لري داغونه

د عاشقانو زړهٔ ته ګوره
د عاشقانو زړهٔ که ګورې
د يار د پاره د خپل سر سودا کوينه
اول د خپل زړګي نه پورته کړه لاسونه

د عاشقانو سترګې سرې وي
د عاشق دو نخې ښکاره دي
تيز ماره تا په ژړا ځان اوشرمونه
د خلې فرياد له سترګو اوښکې تويوينه

د عاشقۍ بازار ته لاړم
د عاشقۍ بازار ته مه ځه
خوشحالي نه وه ټول غمونه خرڅيدنه
په دې بازار کښې بادشاهان ځان خرڅوينه

د عاشقۍ بازار وران شي
د عاشقۍ بازار دې وران شي
اباد خو ما کړې سودا نور در کښې کوينه
چې هميشه په سود ورځم په زيان ترې ځمه

د عاشقۍ به تبه پريوزې
د عاشقۍ په توره غوځ يم
چې په خورو زلفو مچان درنه شړمه
پرهر مې نشته د زړه سر مې درد کوينه

د عاشقۍ په درياب ګډ شوم
د عاشقۍ په سيند کښې ډوب شوم
دعا د خير راته کوه چې اوځيژمه
که مې را اوباسې اشاره اوکړه مئينه

د عشق رنځور خداى دې جوړ که
د عشق رنځور به د روغ نه شي
درتګ مې نه شي دعا کور درته کومه
څو چې ورنه کړې د سور کو شونډو سرونه

د نړۍ ټول مريان آزاد شول
د نړۍ ټولے ډيوې مړې شوې
عاشق د يار په غلامي فخر کوينه
د مينې نمر مې په عالم او ځليدنه

عاشقي اور دې روغه خلقه
عاشقي نيمه بادشاهي ده
څوک چې په اور لوبې کوي ستي به شينه
څوک چې پوهېږي په هنر ئې چلوينه

عاشقي اور دې خلقه واورې
عاشقي روغه آزادي ده
چې عاشق نه وي بادشاهي ژوند تیروینه
د یار غلام شي د نړۍ نه آزاد شینه

عاشقي داسې بد مرض دې
عشق خو مرض د نري رنځ دې
په ټول بدن کښې د زړۀ سر راټینګوینه
یو ځل چې راشي ډیر ئې ګران شي علاجونه

په زړه مې ډیر داغونه کیږده
په سر ښندلو به خلاص نه شې
چې په قطار د عاشقانو حساب شمه
ما دې د زړۀ په سر پانے وهلي دینه

عاشق د خدای ملامت نه دي
په دې ښائسته ؤ خدای مئین دې
په شائسته و د هر چا مینه راخیښه
چې هر اندام ئې رغوي په قدرتونه

عاشقان واړه لیوني دي
عشق د دومره لیونے کړم
له لیونو څۀ لیوني ګیلے کوینه
چې په خندا غلطوم د زړۀ غمونه

عاشق د ښکلو سودا ګر دې
عشق کچکول په لاس کښې راکړو
چرته د حسن بازار وي هلته ورځینه
لکه فقیر د حسن غواړم خیرونه

عشق مې دننه زړه قلم کړو
صبر د قیر نه کم نه دي
اشنا طبیب ګولۍ د صبر راکوینه
زۀ چې مدام صبر کوم خاورې به شمه

عشق ثواب دې که عذاب دې
عاشق د خدای ملامت نه دي
ملیانو اوګورې د علم کتابونه
په ښائستو د هر چا مئینه راځینه

زۀ ستا په عشق کښې دومره ډوب شوم
دومره دې مینې لیونے کړم
ته مې کړے هیره نور نومونه یادومه
چې په جنون کښې فاش کوم د زړۀ رازونه

عاشق دې نر معشوقه ښځه
عاشق مهے معشوقه ډنډ دې
سړي له نه ښائي د ښځو منتونه
ډنډ چې اوچیږي مهے لتې ټکوینه

په هغه عشق د تندر پریوځه
په هغه مئینه دې اور بل شي
چې یو فریاد کړې بل ئې نه کوي پښتنه
یار چې د یار له حال ځان نه خبروینه

تاؤ دې دوزخ په تر نه یخ وې
تاؤ مې د زړۀ د سره خیژي
په چا چې تاؤ د عاشقۍ تیر شوي وینه
ځکه مې سرو شونډو پټري نیولي دینه

ستا عاشقي به هیره نه کړم
تاؤ د دوزخ به ترې نه یخ وي
که مې د سر ویشتان شي سپین لکه غاښونه
په چا چې تاؤ د عاشقۍ تیر شوې وینه

خلق له عشقه امان غواړي
زۀ خو په عشق کښې داسې خوښ یم
یو په کښې غم وي بل په کښې وي تهمتونه
لکه مهے چې په اوبو خوشحاله وینه

د عاشقانو تریخې نشته
د عاشقي عمر د ورک شي
یارمې کنځل کړي زه خندا ورته کوم
ناسته د سپي کا ته د بور په شان کوینه

د عاشقۍ په مدرسه کښې
د عشق باب چې راپه زړه کړم
اول سبق د بیلتانه شروع کوم
د ډیره غم مې زړۀ پانړې پانړې شینه

د معشوقو مثال د پیر دې
د معشوقو مثال د پیر وي
پیر چې کامل وي سړې نه بدرنګه وینه
پیر چې ټک مار شي خله کښې دوه ژبې ساتینه

د معشوقو دغه دستور دې
د مصلحت یاران ئې نور دي
یو ئې اشنا وي لس په طمع ګرځوینه
دا زۀ ئې هسې بې ګاري نیولے یمه

ډوډۍ خو نه ده چې به موړ شي
ډوډۍ خو نه ده چې به موړ شي
عاشق دې خوار شي چې به صبر قبلوینه
وصال پسته ده لوړه نوره زیاتوینه

ستا په قسم مې باور نشته
په قسمونو ئې دهوکه کړم
معشوقې تل خوري په دروغه قسمونه
په غاړه ئې پټ وو د کفارو زنارونه

عشق ډاکو چپاؤ ئې اوکړو
عاشقي نیمه بادشاهي ده
جرنیل د عقل ورته پریښود میدانونه
څوک چې پوهیږي په هنر ئې چلوینه

عاشقي ښه ده بده نه ده
عاشقي غټه نوابي ده
خو چې عاشق د معشوقې رضا کوینه
چې معشوقه چا سره څنګ په څنګ راځینه

عاشقان واړه لیوني دي
عاشقان لاړل خپل وطن ته

د لیونو څۀ لیوني ګیلے کوینه
معشوقې ګرځي لیوني د غم مرینه

عاشقان واړه جنتیان دي
عاشق بې شکه جنتي دي

غمازان ولې جنتیان آزار وینه
چې په چرګ بانګ د خلې اوباسي افسوسونه

لاس به زۀ وانخلم له عشقه
لاس به وانخلم څو ژوندې یم

که ناصحان راته تمام کړي کتابونه
یا به د خپل کړم یا به تورې خاورې شمه

که خدای کول ته به محتاج شي
د عاشقۍ په لوي بازار کښې

د عاشقانو هیڅ کمې نشته مئینه
کچکول په غاړه ګرځوم غواړم خیرونه

نه په دعا نه په دوا شي
نه خو مې دین نه مې دنیا شوه

د عشق رنځ دې پریکوي د زړه رګونه
مل مې سودا شوه سر ګردان مې ګرځوینه

عشق ثواب دې که عذاب دې
عشق ثواب دې که عذاب دې

ملیانو اوګورې د علم کتابونه
صادق عاشق شه چې ایمان د روزي شینه

معشوقه ګل عاشق بلبل وي
بلبل چې ګل باند شیدا شو

غماز ازغے دی خوار بلبل ازارووینه
هلته رسوا شو مدام سور په وینو دینه

عالمه پاکه شهیدګي ده
څوک چې په مینه کښې شهید شي

چې معشوقه عاشق جوړه حلاله وینه
زۀ د هغه مزار ته تل سلام کوومه

عشق دریاب دې ناپایابه
د عاشقي په دریاب ګډ شوم

ډیر ئې ډوب کړي څه خبر ئې نه راځینه
دعا د خیر راته کوه چې اوځېژمه

که دیدن غواړې دلته راشه
تربې کوهي له ځي جانان

دا معشوقے په عاشقانو پسے نه ګرځي مئینه
کوهي د تربې خواله نه راځي مئینه

که عاشقي صادقه نه وي
جهان خو ډک مخلوقات ډیر دي

پورا پتنګ بلبل به ولے یاددینه
دا بې د عشقه سر خو خر پورې هم وینه

زۀ که دارو خورم دارو ماخوري
مرض مې ګران علاج آسان دې

دارو د عشق په مرض راست کله راځینه
په تش دیدن د یار رغیږم نه راځینه

د عشق رنځور خدائے د جوړ کړه
د عشق رنځور به دې روغ نه شي

درتګ مې نه شي دعا کور درته کومه
څو چې ورنه کړې د سورکو شونډو سرونه

ډیوه د مړه کړه کټ ته راشه
ډیوه د مړه کړه کټ ته راشه

سترګے زما رنړا کښې ډیر شرم کوینه
د عاشقانو ګپ تیاره کښې خوند کوینه

د معشوقے مثال د غل دې
معشوقے واره بې وفا دي

په یوه خله کښې همېش دوه ژبے ساتینه
یو یارته خاندي بل په طمع کښې ساتینه

په ویر ژړا به کامیاب نه شے
که په ژړا اشنا موندے شوے

په معشوقے پسے شړې لنګ کړه غمژنه
ما به په اوښکو بیولې وے رودونه

د عاشق دوه نخښے ښکاره وي
د عاشقانو زړه نازک وي

یواځے ناست شونډو ئې پاړ نیولې وینه
معشوقو مه کړئ دا تاؤ کړې ګزارونه

په ویر ژړا به کامیاب نه شے
په تعویزونو کار اونه شو

په معشوقے پسے شړې لنګ کړه عمژنه
اوس مې شړۍ درپسې لنګ کړې یار دیمه

کټ ته دې اوختے اوده شوي
په عاشق خوب خندا حرام دي

په زړه د نشته د یارئ سوي داغونه
ته عاشق نه ئې چې بې غمه کړې خوبونه

بیلتانه غرق بادشاهي کړې
دا لیونې عاشق ګیلې چانه کوینه

د بیلتانه ظالم د لاسه
بیلتون د ظلم په کرسۍ ناست دې

د زړۀ د پاسه مې پولې ولاړې دینه
زما د سوي زړګي اخلي ازارونه

د بیلتون یو ساعت هم کال شي
بیلتون په هر چا ډیره کیږي

د سترګو رپ کښې د وصال تیر شي کلونه
په ما چې راشي تیر وي میاشتې کلونه

د بېلتانه نه خبر نه ووم ما وې جانان به تل زما په څنګ کښې وينه
د بې غمۍ په خوب اوده ووم بېلتون په مخ څپېړه راکړه ويښ ئې کړمه

اول روژه ده بيا اختر وي په بېلتانه پسې وصال وي رابه شينه
په بېلتون بد مه وائي خلقه د اشنا ئې خواږه بېلتون پيدا کوينه

جيل تربېه سل ځل بهتر دي چا که ژوندون د جدائي ليدلے وينه
جيل ته مې واچوه رضا يم داسې خو مه وايه چې نه دې پېژنمه

چې د بېلتون د جګړو نه يم ځان به عبث له ملک ولې ورکومه
چې د بېلتون د زور خبر شوم په چغو سر شوم چې به ولې لوئېدمه

حال دې غربت راباندې تير شو يار مې رضا شو اوس بادشاه د وطن شوم
حال د غربت چې په چا راشي لکه د سريښ په مازيګر کښې مړاوي شينه

خار چې د چا په زړه کښې ښخ شي مرګې ئې خوښ شي له ژوندون ويزاروينه
خارمې د هجر په زړۀ ښخ دې ځکه د اوښکو په ځاے وينې تويومه

خيال دې د وصل نه کم نه دې په خوږ زړګې مې خيال کوه سود به مې شينه
خيال دې د وصل نه کم نه وي زۀ تسلي د زړګي ځکه پرکومه

ورک شي بېلتون غم زرغونه د عاشقانو په زړه ږدې سوي داغونه
ورک شه زما بده قسمته چې څوک اشنا کړم هغه ورک له ملکه شينه

اوبه زما د لاس اوڅښه چې د هجران تنده دې ټوله شاته شينه
اوبه مې څښې ته راته ياد شوې د خلې شپه وه جام مې کټ کښې واړونه

جرنده د غم چې په سر ګرځي زما شرين بدن ئې خاورې ايرې کنه
جرنده د غم مدام چلېږي بېلتون په کښې وي اوړوې د خلقو زړونه

جغ مې په اوره چوکه په لاس کښې زۀ د بېلتون يوي ترم ازغي کرمه
جغ مې د عشق په څټ کښې پروت دې بېلتون د اوغسه غږ کوي کري غمونه

بیلتون دومره ظلم مه کړه چې ستا د لاسه هر سړې فریاد کوینه
بیلتون ستا به څۀ مجال وي چې ته زما په جانان واچوي لاسونه

بیلتانه خو نه دې تالاشه ما لا جانان لیدلے نه وو بیل دې کړمه
بیلتون خور به درنه واخلم که مې د یار په شونډو اولیدل ګردونه

بیلتون صبر راته اوکړه یو مې ځواني ده بل مې ډیر دي ارمانونه
بیلتون مه راځه لا ځوان یم که زوړ مې وینې دا د یار د غمه یمه

په بیلتانه مې جرګه اوکړه مخلوق دې وائي د دښمن سلامې شونه
په بیلتون بد مه وائي خلق د اشنائي خواږه بیلتون پیدا کوینه

د بیلتانه احسان راباندې زۀ د جانان د قدره اوس خبره شومه
د بیلتانه د خلے نه زار شم ما د جانان د غم رو رو خیر وینه

د بیلتانه په مدرسه کښې حساب ئې اوکړو غم زما ورسیدنه
د مدرسې اسباق تقسیم شو زما په باب د غم کتاب اورسیدنه

د بیلتانه سره مې جنګ دې د صبر توره به خپل څنګ ته اچومه
د بیلتانه د جګړو نه یم پخې مورچې ورته پریږدم په ماتے ځمه

د بیلتانه سپاهیان ګرځیږي هر څوک ویریږي چې به ما تالا کوینه
د بیلتانه راسره څه دي یار ئې جدا کړو نور ئې څه پروا لرمه

د بیلتانه ګرمه سیلۍ ده زما د زړه په ګلو اور اولګیدنه
بیلتون اوسوزې ایرې شي چې د وصال د سیلۍ مخ شي په ملکونه

د بیلتانه نه به خلاص نه شم که فولادي قلعه د ځان چا پیره کړمه
د یبلتانه کاروان راغلے د وصالت متاع به یوسي له وطنه

د بیلتون غږ په غوږو اوري یار د غفلت په خوب اوده دې نه راځینه
د بیلتون شور په غوږو اورم په خواږه خوب مې یار اوده دې نه پاڅینه

د بیلتون زور په چا ورمه شه
بیلتون کور د مولا وران که
زړه فولادي لکه د موم اوبه کوینه
په عاجزانو ورانوي ودان کورونه

بیلتونه دا حال راته وایه
بیلتون جواب کښې راته اووې
چې دوه مئین جدا کوي فائده دې کومه
زغملے نه شم د دوه زړونو پیوندونه

بیلتانه سازي کړي ناسازي
بیلتانه غرقې بادشاهي کړے
ځکه یواځے درپه در ژړا کومه
دا لیونے عاشق ګیله چاته کوینه

بیلتانه غرونه په ژړا کړل
بیلتانه غرونه په ژړا کړل
د جدائي په اوښکو ډک راغلل سیندونه
ډیر په خندا مې خواله مه راځه مئینه

بیلتون باتور مې په سر ګرځي
بیلتانه هله په ما اوکړه
لا به مې وژني لا به یار جدا کوینه
مال مې تاله شو اوس په سر ویریدمه

بیلتون په لوړه غنډي ناست دې
بیلتون په ما نه دې چې ژاړم
قلم په لاس کښې دوه مئین جدا کوینه
بیلتون شمال دې هره ونه شوروینه

بیلتون په هر چا میلمه کیږي
بیلتون په هیچا میلمه مه شه
چې په ما راغلے هم خانه راسره شونه
په چا چې راشي تیروې میاشتي کلونه

بیلتون په لار په مخه راغلے
بیلتون په شان د عزرائیل دې
ما وې سلام ده وئیل کور ته زۀ درځمه
هره ګړۍ مې روح له تن قبضه کوینه

بیلتون د زړه په سر سورې کړم
بیلتون خدای دې آباد مه کړه
په تور لحد کښې به ښیرې ورته کومه
په ما دې بند کړل د ښائسته یار دیدنونه

بیلتون مې نه پرېږدي وطن کښې
بیلتون کچکول په لاس کښې راکړو
خدایا په کوم ملکو به غواړمه خیرونه
اوس به دیرې د ملګانو لټومه

بیلتون وې ځه له مانه خلاص ئې
بیلتون خه لاس دې آزاد دې
د یار بیل شه لاړ شه ورک شه له وطنه
جانان دې بیل کړو نور دې څه پروا لرمه

بیلتون مې خوږ جانان جدا کړو
بیلتون ښنګه دې جدا کړو

د سترګو اوښکې به جرګه ورله لیږمه
مونږه په یو بادام کښې دوه مغزونه وونه

بیلتون خوار شې زۀ دې خوار کړم
بیلتون خوار شې زۀ دې خوار کړم

چا دله ګانو درته زۀ ښودلے وومه
د بادشاهي دور مې ترہ ملنګ دې کړمه

بیلتون زور دې رامعلوم شو
بیلتون کور دې راته ښایه

اوس به سلام په دو لاسې درته کومه
د زور دې نه یم تنواتے به درځمه

حلالولو له مې بیائي
حلالولو له مې بیائي

که په قصاب مې خرڅوي درسره ځمه
زۀ په قصاب د بیلتانه خرڅ شوې یمه

د بیلتانه نه ښه دوست نشته
د بیلتانه شکر ګزار یم

ما د جانان د قدر رو رو خبروینه
د اشنائي په خوند ئې پوهه کړم مئینه

د بیلتانه په مدرسه کښې
د بیتلتانه په مدرسه کښې

زما په باب د غم کتاب اورسیدنه
لوے او واړه دجدائي درس کوینه

د بیلتانه په ژرنده دل شوم
د بیلتانه په ژرنده راغلم

د پردو غل شوم خپل مې نه کوي پښتنه
ټکاري خیژې عاشقان پرې دلوینه

د هجران زهر مې خوړلي
د هجران تور منګري نوش کړم

ستا د وصال زهر موره نشته دې مرمه
ستا د وصال د زهر مورے محتاجه یمه

د هجران تنده نه ماتیږي
د هجران تنده نه ماتیږي

که دا ټک په سیند کښې تیر کړمه کلونه
څو چې د نرمو شونډو رانه کړي جامونه

ډاکوان د هجر راپسې دي
ډاکو ډاکه راباند اوکړه

ظالمان ما د یار دیدن ته نه پریږدینه
یار ئې زما د غیرې ټول اوتښتونه

کور به د سرې کندړې پروت وو
د بیلتون کور نشته چې وران شي

که چا عاشق دې کور لیدلے وې بیلتون
په عاشقانو ورانه وي ودان کورونه

که په دولت څوک خلاصیدے شوے
که په دولت نا چاري نه وي

ما به اشنا له بیلتانه خلاص کړې وونه
ما به خپل ځان له بیلتانه خلاص کړې وونه

بیلتون خدای دې سزا درکړي
که چرته کور دې رامعلوم وي

زۀ دې په کوم ګناه بیل له یاره کړمه
ما به ښخوا په چا وژلے وې بیلتونه

له بیلتانه مې خلاصې نشته
له بیلتانه به خلاصه نه شم

ما ته ښځپله بخت کړلي دې غمونه
که د فولادو قلعه تاؤ له ځانه کړمه

ورک شه بیلتون په چا ورمه شه
ورک شې بیلتونه غم زرغونه

د بیلتانه د لاسه ژاړي عالمونه
د عاشقانو په زړۀ ږدې سوي داغونه

د وصال عمر یو ساعت وي
د وصال کال د سترګو رپ وي

د بیلتانه یو ساعت کال راباندې شینه
د هجر شپه راباندې وي میاشتې کلونه

د وصال باب مې پیدا نه کړ
د عشق مکتب د غم کتاب دې

د عاشقۍ کتاب مې پاڼې پاڼې کنه
باب د بیلتون شروع کوم ژړا راځینه

د وصال سل پیالے مې نوش کړې
د بیلتون یو ساعت هم کال شي

د هجر یو ګوټ چې مې اوکړو ړنده شومه
د سترګو رپ کنبې د وصال تیر شي کلونه

ستا د وصال په بدله کنبې
ستا د وصال په طمع طمع

زما قبول دي د دنیا ټول تهمتونه
ما قبول کړي تمامي عمر غمونه

ستا د هجران لمبو کنبې سوزم
ستا د یوه دیدن دپاره

د خداے نا ترسه دیدن راوړه ګنې مرمه
اور مې بهانه کړو کور په کور اوګرځیدمه

ستا د مجلس نه مې زړه نه ځي
بیلتون دا دې څه عادت دې

بیلتون دې خوارشي ما او تا جدا کوینه
چې دوه مئین زړونه جدا کړے سود دې شینه

شپه د هجران په ما صبا شوه
بیلتون ورک شه مخ دې تورشه

چې د اشنا مې راته راغله سلامونه
جانانمې خپل شو زۀ ستا څۀ پرواه لرمه

شمع بلیږي پتنګ نښته
شمع پتنګ دې څنګ کښې نښته

راته ښکاریږي بیلتون بند کړه ګودرونه
بیګاه شو ګیر وو چرته خوب به وړي وینه

شاخو دې ماته کړه روان شوے
یو ځله یبا دې مخ راستون کا

د اوښکو ډکې سترګې څوک راپاکوینه
زما په غاړه دې ژړا شوه د عمرونه

آسمان ته لار د ختو نښته
آسمانه لار راکه در خیژم

د زمکې سر د بیلتانه اورسیدنه
په سر د زمکې بیلتون ځاے نه راکوینه

چې دې پرون د وصال ویش وو
چې مې پرون د وصال ویش وو

زۀ په رسو د بیلتانه تړلے وومه
تا لیوني کچکول په څټ نیولي وونه

د وصال باب مې پیدا نه کړو
د عاشقۍ په مدرسه کښې

د عاشقي کتاب مې پاڼړې پاڼړې کنه
وصال خو نښته د بیلتون دې نوبتونه

که د وصال زیرې دې راوړو
که د وصال طمع مې نه وي

قاصده لاس به دې په سترګو ښکلومه
خوږه جانانه اوس به تورې خاورې وومه

ما وې په وصل به دې موړ شم
د وصال کور مې ځان ته جوړ کړو

چې ورکوزیږم سر و مال سره مې وړینه
بیلتون ظالم په توپو لوټے لوټے کنه

ما د وصال قصې کولے
بیلتون روئ د خداى ته ګوره

د بیلتانه څپیره راغله چپ ئې کړمه
زۀ دې د کټ د پاسیدونه اوویستمه

بیلتون په هر چا میلمه کیږي
ما وے میلمه دې اوس به لاړ شي

په ما چې راشي تیره وي میاشتے کلونه
بیلتون زما په زړه قلعه آباد وینه

یو د بیلتون په ژرنده دل شوم
هسے دې دل رانجه د نه کړم

بل غمازان راپسے مالګې ګرځوینه
رانجه بهتر دې بیناي سیوا کوینه

ما خو وئیل چې بیلتون شته دې
بیلتانه غرقے بادشاهي کړے

کم عقل یار به راته شین د خندا شونه
لیونے یار مې اوس ګیلے چاته کوینه

د تن نه وینے مې وچیږي
بدن مې اوچ لکه لرګې شو

د زړه په جرړو مې چینجے اولګیدنه
بیلتون ظالم په اوچ لرګي اور لګوینه

د زړه په باغ مې خزان راغلے
د زړه بلبل مې هوا نه خوري

د بیلتانه شمال مې پاڼې ریژوینه
د بیلتانه لمبو ئې سوي دې څانګونه

تن مې ګانړي زړه مې شړ شم دې
تن مې پتے زړه مې شړشم دې

بیلتون تیلي د غم سندا پر ګرځوینه
بیلتون د غم ګانړي کښې ورکړم تیل ئې کړمه

وصال به خوند درله در نه کړه
هجران د قدر رامعلوم کړو

ځو د هجران په لمبو وریت نه شي مئینه
اوس به سلام په دو دسته درته کومه

خوب د خداے دپاره ورک شه
شپه د اختر ده که د قدر

د وصال شپه یار سره ویښه تیرومه
چې د جانان سره ئې یو ځاے تیرومه

که وصال غواړے تل به ژاړے
که په ژړا جانان موندے شي

شبنم د ګل سره واصل په ژړا شونه
زۀ به د اوچے جاړے شنے په ژړا کړمه

راغلے نه وے چې روان شوے
د زړه تناړکے مې تازه شوے

زۀ د وصال په ساعت اونه پوهیدمه
د بیلتانه لمبے ترې پورته شوے مئینه

ماته تر خپله برخه راکړه
صبر کوم طاقت مې نه شي

تا به د صبر خزانے موندلے وینه
زړه مې د یار دغمه شین په ژړا شینه

دا صبر لویه خزانه ده
صبر کوه صبر صابر دې

چې خزانه چا څخه وي بادشاه به وینه
د صبر ناکو خلقو خداے ملګرې وینه

که یاري کړې آخري وخت دې
بیا به منت راته کوې نه به ئې منمه

چې د یار مینه پرزیاتېږي
چې د یار مینه په اغیار شوه

د یار په مخکښې د اغیارو سلام کړمه
د یار له مخ د اغیارو غلام شومه

چې د یارۍ د مخې نه شوه
چې دې یاري د مخه نه شي

ماته دې ولې د بنړو لاندې کاتنه
مه کوه ماته په بنړو اشارتونه

که یاري کړې اخري وخت دې
که یاري نه کړې جواب راکه

بیا به منت راته کوې نه به ئې منمه
زه به تر څو پورې په لار کښې ناسته یمه

که یارانه کړې زړه زخمي کړه
که یاري نه وې روغ رمتې یم

په زړګې روغ د یارې څه پرواه لرینه
زۀ د یارۍ په غشو تا ویشتلے یمه

که یاري کړې نو یار دې زه یم
که یاري کړم مخ مې توربړې

که یاري نه کړې ماته بل وئیلي دینه
که یاري نه کړم ارمان ژنه ناسته یمه

ماته پریکړې جواب راکړه
تاته پریکړې جواب دا دې

زۀ ځنګیدلے یاري نوره نه منمه
چې بله مومې ماته مه ګوره مئینه

ماته یوه خبره اوکړه
تاته یوه خبره دا ده

زۀ دې د نورو یارانو ویستلے یمه
چې بله مومې ماتهمه ګوره مئینه

ما چې دا ستا یاري کوله
وایمه چې ځان مې چرته ورک کړې

ما وې چې خوئ به دې د رنګ په شان وینه
چې ستا دې ډیرو ناکردو ته اوګورمه

ما پرې اعتبار کړو ځان مې خوار کړو
ولې دې بد راسره اوکړه

بې وفا یار په نیمه لار کښې پریښودمه
زۀ په ځوانانو کښې په تا مئینه ووم

ما د طوطیانو یاري کړې
هلکه زما د یاري واوړه

د جبې ډنګه راته مه وهه ښانګونه
دا تورې زلفې مې ماران اوبه دې خورینه

چې راپه یاد شي حال مې نور شي
چې راپه یاد شي خپله یاره

جامې مې اور شي اندامونه مې سیزینه
دیوال ته شا کړم زړه ته پټه اوژاړمه

د یارانے سل کشالے دي
د یارانے کول آسان دي

سل ځل به مړیم چې یو یو په ځاے کوم
مخلوقه ګرانه ده د یار د زړه ساتنه

د یارانے مزې مې پرېښود
د یارانې مطلب دې نه وو
د خپله لاس مې کچه تاؤ کړي وونه
زما وده زړګې دې څله ویښونه

د یارانې مې ورته اووے
د یارانے لائق مې نه ئې
د غلامې درخواست کوم قبول دې شینه
جینۍ ترکوره پورې ځي کنځل کوینه

د یار د زلفو خوشبوئي شوه
د یار د زلفو قیمت نشته
ځکه زۀ مست د خوشحالي وهم ټوپونه
که غرونه زر شي شګې سره لعلونه شینه

د یار د مینې په تخت ناست یم
د یار د مینې پامته دار یم
غم به ئې تاج د سر دپاسه کرځومه
ځکه به ئې غم په زړۀ دننه تیرومه

د یار د لورې جوابي شوم
د یار د مینې به وا نه وړم
لکه ققنس په بوټي شنه لوخړه شومه
که په سر او خورم د مصري تورې وارونه

د یار کنځل د ګل ویشتل دي
د اشنا دې ظلم ته ګوره
بدئ خندل دي چې د بل سره کوینه
چې ماته شا کړي په بل واچوي لاسونه

د یار نه څنګه ځان خفه کړم
د یار نه زړۀ بیلول ګران دي
که ځان خفه کړم چرې یار به خفه شینه
لکه پیروتے تاؤ راتاؤ دې ټول رګونه

د یار نه زړۀ صبرولے نه شم
د یار نه زړۀ صبرول ګران دي
غلام به څنګه د بادشاه نه صبر شینه
په دریابونو کرښې چا راښکلې دینه

د یار یاري مې خوښه نه شوه
یار د هر چا شو زما نه شو
د چیلم نل دې هر سړې پرې شونډې ګدینه
زړه له په زور د غم اشر راخبرومه

د یارۍ پت دې کړه تر سره
د یارۍ پت مې کړو تر سره
آب کوثره تشنه لب ولاړه یمه
سیحون جیحون مې له بصره روان شونه

یار مې د ورایه په نظر شو
یار مې د لرې ښه ښکارېږي
د نمر پرست په شان کږه ولاړه یم
زۀ ئې هم زرکه د چمن ساتلے یمه

يار مې روان دې نه ستينېږي
قطر ته مه ځه ځان حصار کړه

زۀ نـنواتې ورته ځم چې ستون ئې کړمه
پکار مې نه دي بې ديدنه دولتونه

يار مې زيارت زۀ ئې ملنګه
شکر دې خدايه يار رضا شو

خورې ورې زلفې ورتلم پرې پريوتمه
ګنې په کومو زيارتو به ګرځيدمه

يار مې کوچې وو کوچ ئې اوکړو
يار په څه به دې سود وکړم

ما ئې خالي انګنړ ته اوکړل سلامونه
نښه دې نشته زۀ حيرانه ناسته يمه

يار که تا کښې څه وفا وي
ياري دې ټوله د ټګۍ ده

زۀ به د بل يارۍ ته څله پسخيدمه
زۀ دې د دې په مطلب اوس اورسيدمه

ياري د زړۀ په مئينه کيږي
ياري د زړه په اخلاص کيږي

پيټے خو نه دي چې په زور ئې په شا کړمه
درغله يار د يارۍ نوم اوشرمونه

ياري د زور خبره نه ده
يار په ياري کښې غرضدار دې

جانان ته وايه چې خله سمه خوزوينه
زۀ بې غرض د چا څه پرواه لرمه

يار مې په سرو ګوليو درومي
يار مې په خپله خله رخصت کړو

صبا به مړ وي مخ ترې څۀ له پټومه
له پښيماني اوښکې مې ځي په مخ رودونه

يار مې نادان دې نه پوهيږي
يا رمې په ګپو مرور کړو

ما په خورو زلفو واهه مرور شونه
دا سپينه خله به نـنواتې ورله وړمه

ياري د سيال سړې پکار ده
ياري د سيال سره مزه کا

کم اصل يار په ياري بل او شرموينه
کم اصل يار که شهزاده وي ورک دې شينه

ياري د کور محلت مزه که
ياري د لرې وطن خوند کړي

چې څوک دبل محلت له ځي سپي به ئې خورينه
چې هر کاغذ ئې د اختر په دود راځينه

ماته دې داسې جواب راکه
يا مې د خپله لاسه مړه که

لکه ژوندي چې په مړو خاورې واړوينه
يا دا دې ستا په مخ کښې ځان په اوبو وړمه

چې تلل راتلل ورسره نه وي
په تګ راتګ ياري پخېږي
رب دې په داسې يارۍ اور اولګوينه
د يار ديدن د سړي مئينه زياتوينه

که ياري کړې سړنې کال دې
که ياري کړې نو يار دې زۀ يم
تربله کال به دې رنګ تغيره وينه
که ياري نه کړې ماته بل وئيلي دينه

که يارانه کړمه شرمېږم
که يارانه کړې ريبار نيسه
که ياري نه کړم ارماني به ګورته ځمه
چې ريبار نه وي يار په لاسونه راځينه

که يار زما ئې رب دې جوړ که
که زما يار ئې خفه کېږم
که يار د بل ئې تورې خاورې شي مئينه
که يار مې نه ئې زۀ دې څه پرواه لرمه

که مې په يار کښې څۀ وفا وي
که زه خبر وي چې يار تګ دې
زۀ به د بل يارۍ ته ولے پسخيدمه
ما به د زړۀ ستر تر ولې ماتونه

که رښتيا وايم بيا به ژاړې
که رښتيا وايم خفه کېږې
تا د يارۍ په مينځ کښې څۀ پرېښودي دينه
ستا د يارۍ نه زۀ بيزاره يم مئينه

که د يار غږ راباندې اوشو
مبارکي راکړې عالمه
مال په خيرات کړم سر به زيرې ورکومه
د مسافر اشنا مې راغله سلامونه

که ډوډۍ خورې نو درې به درکړم
په تناره ولاړې پيغلې
د ديدن اوړې دې ماښام ته اوګورينه
زۀ ارزو مند ستا د ديدن راغلے يمه

که سر مې بائيلو فکر نشته
ديدن د سر په بها مومې
که دجانان ديدن مې بائيلو ډوب به شمه
دغه سودا کښې د نقصان نشته مئينه

که سر و مال واړه قربان کړې
که سر ومال مې دواړه غواړې
د نازولو ياري ګرانه ده مئينه
دواړه سوغاته په يو ان کښې ورته ګدمه

لونګۍ دې واغسته روان شوې
لونګۍ دې بيا په سر کړه کړه
په زړه دې نشته د يارۍ سوي داغونه
تر خپله کوره به کړه درسره ځمه

ما ئې د کبر سلام نه اغست
ستا د دیدن په طمع طمع
اوس ئې ژړا په تش دیدن پسې کومه
سترګو مې اوکړه د چینو په شان موجونه

نه د یارې راسره اوکړه
په یارانه دې نه پوهېږم
نه دې ټکې په زړه کښې شته چې صبر شمه
کله غصه شې کله اوخاندې مئینه

ورکه د بل وطن یارې شه
ورکه یارې ورک ئې بیلتون شه
تلې مې سوزې په غرمو ولاړه یمه
اول ما ورک کړې چې په تامئینډم

ورشه د یار خبر دې واخله
ورشه خارو بې بې ته وایه
په زمکه پروت دې د خلے وینې تویوینه
هلک مئین دې خون به ئې ستا په غاړه وینه

یارانه کله پیوند اخلې
یارانه هله پیوند اخلې
چې یو سود خور او بل غمخوار دیارې وینه
چې کله کله پر بیلتون پیښه کوینه

یار په دکن د سرې یاد وې
یار په دکن وو زما یار وو
ته د ورې ډیرې پناه شوې هیر دې کړمه
زۀ د یوې شپې مسافره هیره ئې کړمه

یار خو دې یاره سره مړ شې
یار چې په یار پسې مړ نه شې
تشه ژړا دکور محلت خلق کوینه
لباسې اوښکې د هر چا په مخ راځینه

یار په بارې کښې غرض دار وې
یار په یارۍ کښې بې وفا شو
زۀ بې غرض د چا څۀپرواه لرمه
لما جدا شو یک تنها ولاړه یمه

یار خو مې ته ئې بل به نه کړم
یار خو مې ګل د لاس نه اخلې
که بل مې یار کړو په ایمان دې خواره شمه
زه ئې د زهرو ګولۍ تل دلاس خورمه

یار مې جوپے پسې دې تلے
د سترګو یو ځله کاته دې
زۀ خواره ناسته د کاروان لاره ساتمه
ماټوله ورځ په کتو تیره کړه مئینه

یار مې د بل په خوا کښې اولید
د یار کنځل د ګل ویشتل دې
جامو مې اور واغست صورت مې لمبه شونه
بده ئې دا چې خندا بل سره کوینه

یار مې د لرې چمه ګوري
یار مې د ورایه په نظر شو
ماله بائیده دي چې سر توره اودریږمه
د نمر پرست په شان کړه ولاړه یمه

یاره خاطر دې په ما ګران دې
خاطر دې ډیر راباندې ګران دې
ما په دا سپینه سینه نه پریښول لاسونه
زۀ د سینے په بستر کله څوک پریږدمه

پتنګ له شمع په څنګ نه ځي
پتنګ نه شمع زړګې اوړي
زۀ به دیار له غم ولي په څنګ ځمه
ځکه سینه د لمبو مینځ ته رسوینه

رامعلومیږي اجل راغلے
رامعلومیږي چې ورکیږم
یار د غضب کاته کوي چیچي غاښونه
راته په کور کښې کښران مشران شونه

ربه ته بیا هغه ساعت کړې
ربه زما جانان زما کړې
چې د یار غیږ کښې بوړې بوړې اولویږمه
که زما نه شو بیا دې تورې خاورې شینه

ستا په یارۍ کښې لما لاړل
ستا په یارۍ کښې مې دا حال شو
عقل د سر حجاب د مخ دلیل د زړۀ نه
حال مې بر باد شو په خپل سر اویریدمه

ستا یارانه کښې دومره سپک شوم
ستا یارانه مې کړې نه وے
لکه د توت پاڼره ضائع شي باد ئې وړینه
ځان مې په شنو جامو کښې سوے وے مئینه

ستا یارانه کښې مې زړۀ بائیلود
ستا یارانه مې سود ګڼړله
زۀ په بائیللي زړګي څه تکیه کوومه
سود مې او نه کړو د زیان راغله انبارونه

شاتوپے زیرے مې درباندې
زما د یار د راتلو غږ دې
یار د په ډکه بیړۍ ناست دې رابه شینه
په تورو زلفو ورته لار جارو کومه

شرمنده یاره مخے له راغلے
ملامت ما مه کړې خاونده
د خپلو بدو شرمیده کوز ئې کاتنه
یار ملامت بنۀ دې چې کوزي سترګې وړینه

که تښتې تښتې خلاص به نه شې
که تښتې تښتې خلاص به نه شې
د ګوتې چاپ مې د یارۍ درپورې شونه
ما د پانے د زړۀ په سر وهلي دینه

که څوک یاري کړي ما دې پوهښتي
که حال دې وایم رسوا کیږم

ماوې یواځې زما یار ئې
ما وئیل یار به مې سم یار شي

ما وې د غم نه به دې مړ شم
ما وې د غم نه به د مړه شم

نارې وهم مخ دې په ښټ کړو
نارې وهم نارې مې ناورې

ورکه د خوشو یارانه شه
بې ننګه خلقو کښې دې کور دې

زما په پت کښې ژوند پکار دې
په پت کښې تور مصلې ښه دي

ناز مې کوو پیاز مې خوراک شو
یار که تا کښې څه وفا وي

زۀ دې له شرمه نه اوبه کړم
تا چې بې سوده زه رخصت کړم

ته چې د خپل اختیار خاوند شوي
خدای به دې بیا زما محتاج کړي

په یارانه دې نه پوهیږم
په یارانه خو دې پوه نه شوم

په یارانه کښې داسې کیږي
په یارانه کښې زړه سندان که

د یارۍ دوه شپې خوشحالي نور ئې غمونه
که حال دې نه وایم فراق مې ژړوینه

د اختر ټال ئې خلقې د څنګوینه
زۀ به کومه د وصال خوارۀ خوبونه

قسم دې یاره بې نیتې نشته مرګونه
مړه خو تر نه شوم قیامتي رنځوره شوم

ظالمه یاره د سیالۍ دې اویستمه
بیا به جهان راپسې ګورې نه به یمه

لکه د کور د څیلی هر بوټي له څینه
پښې تر اوباسه چرته سپک نه شي مئینه

بې پت ژوند د تخت په سر نه قبلومه
بې پت یار که شهزاده وي څه به ئې کړمه

بیا به او نه کړم په بې نیازه یار نازونه
زۀ به د بل یارۍ ته ولې پسخیدمه

تا چې د خلقو مخکښې راکړه پېغورونه
یار له هم داسې ورکوي څوک رخصتونه

اوس دې زما د یارۍ واغستل لاسونه
ډیر په خوبرو یو پسې مه ګرځه مئینه

کله غصه شي کله اوخاندې مئینه
په جدای دې لکه مالګه اوبه شوم

کله معشوق کله عاشق مرور شینه
په کښې پیښیږي د پلکونو ګزارونه

ټوپک راواخله ما پرې مړه که
ټوپک ویشتلے به خدای روغ کړي

په ژوندانه له یاره نه توبه کومه
سترګو ویشتلي به تړ کیږي مړ به شینه

چا راته وي چې یار دې کور دې
چا راته وي یار دې شاخیل دې

د ګلو شکور دې چې زما په رضا ځینه
ماته خان خیل دې چې زما په رضا ځینه

چې دوه یاران سره بیلېږي
چې دوه یاران سره جوړېږي

له زړونو خیژي سوي سودي فریادونه
عماز ژړېږي دوه دسته تندي وهینه

یاري خو تا کړه ما خو نه کړه
یارې خو تا پریکړه سترمه شے

چې اوس ئې لنډه پریکوي ژړا راځینه
که ما پریکړې وي ژړلي به دې وونه

یاري دې اوکړه بیا دې پرینښوه
یاري دې اوکړه رانه لاړې

لکه مرغۍ چې جاله اوکړې پرې ږدینه
لکه ویشتلے مرغۍ ځان له ناسته یمه

یاري د سیال سره مزه کا
یاري د سیال سره مزه کا

کم اصل یار که شهزاده وي ورک دې شینه
که غوښے توي شي تش هډوکي پت ساتینه

اختر ته ځکه خوشحالېږم
اختر ته ډیره خوشحالیږم

چې مرور اشنا مې کلي ته راځینه
زما د یار وعده اختر وي رابه شینه

اختر د واړو مبارک شه
اختر د هغه چا اختر وي

زۀ به خپل سره لاسونه یار له ورکومه
په خپل وطن کښې چې ئې یار په څنګ کښې وینه

الله دې بیا راته محتاج که
الله دې بیا راوله یاره

غنچې غنچې خنږې مې بیا په مخ راځینه
مغموم زړګې مې په ژړا دریسې چوینه

بار مې د ولو په مینځ کیږدې
بارونه وړم طاقت مې نشته

خوک چې کم اصل یار لري بار به ئې وړینه
دا الف قد مې لکه لام تاؤ کړې شونه

په انتظار کښې به د اوسم
په انتظار مې اوسه یاره

ستا د شریني خلے به څه جواب راځینه
که مې په زړۀ کښې چرته تیر شوې دربه شمه

اشنا د بد په ما ثبوت کړي
په يار مې بد دې ثابت کړي

بې بدو زړهٔ زما نه ولې بدوينه
چې هره ونه د ګلاب دي بوئيوينه

تا په يارۍ کښې کړم ستومانه
تاته يوه خبره داده

لکه سايه راپسې مه ګرځه مئينه
چې بله مومې ماته مه ګوره مئينه

د ښاپيريانو ياري مه کړه
د مازيګر اوبو له مه ځه

دوي بې پروا دي بې پروا کوي کارونه
زلميان پيريان دي جينۍ وا به د ړوينه

د مالدار يار ياري جواري ده
چې په ديدن غلطه نه شې

دې په خپل کور لما نه غواړي ديدنونه
موړ سوداګر دې د ديدن سودا کوينه

د يار د دره جوابي شوم
د يار د دره جوابي شوم

ځکه زما په مخ د غم اوښکې راځينه
ځکه مې کړه په زيړي مازيګر ځينه

د يار ديدن آب حيات دې
د يار ديدن آب حيات دې

آب حيات د بختورو خلقو وينه
که مې نصيب شو د جنت ماليار به شمه

د يار ديدن چې په کښې نه وي
د يار ديدن چې په کښې نه وي

زهٔ هغه ورځ په ژوندون نه حسابو مه
که د سمسورو ګلو باغ وي څه به ئې کړمهٔ

د يار نه زړه بيلول ګران
د يار نه زړه صبرول ګران دي

لکه پيروتے تاؤ راتاؤ دي ټول رګونه
په درياب نه ښکاري د ګوتو نشانونه

د يار زړه صبرولے نه شم
د يار زړه کله صبرېږي

که مې په سر د کانړو جوړ شي انبارونه
که غمازان مې په تيرو چړو وهينه

ما وئيل زهٔ به تا د ځان کړم
ښه دې چې تا نه پوره نه شوه

ته خو مې نه شوې زيات مې اوګټل غمونه
د يارانے خبرې ګرانې وي مئينه

نوې اشنا د مبارک شه
نوې يارې دې خداى غضب دې

ماته رخصت راکړه د ډيرې مودې شومه
لکه د هاړ غارمه تلې تندې سيزينه

چې یارانه دې نه کوله
چې یارانه کښې یار غدار شي

چې یارانه وه زما ستا وه
چې یار خیرخور شي مخ دې تور شي

چې یاري کړې تهمت به اخلې
چې یاري کړې سر ته ئې نه کړي

حاصلول د یار آسان دي
یو ځلے راشه په خندا شه

خدای په دې لویه دنیا کښې
خاونده دا به دې رضا وه

خدای دا ټول خلق ړانده کړي
چې یار له ځم خلق مې ویني

داسې جواب ئې راله راکړو
داسې سپیره جواب دې راکړو

دا ستا یاري اور او اوبه دي
دا ستا یاري مې کړې نه وي

دا نوي یار دې مبارک شه
دا نوې زۀ نوي مې یار دې

د اختر ورځ ده یاري مه کړه
یاري په تور او سپین کښې نه ده

د تا یاري پریکړې کټ دې
د تا یاري د غم ځانګو ده

د چا په خلے به دې جواب راکړې وونه
جوړ ترې ښامار شي ټک اشنا له ورکوینه
چې جدائي شوه ټول جهان په خبر شونه
چې هر درې وي بیا ئې مه کوه پښتنه
د مخلوق خلې به تورې خاورې بندوینه
خدای دې په داسې یارۍ اور اولګوینه
دې چې ولاړ وي زۀ به شنه د خندا شمه
چې رانه لرې شي درانه غمونه
بغیر دیاره ژوندون ځان له تیرومه
همزولي ګل شوي زه کلي ولاړه یمه
چې زه د یار غیږې له ځان اورسومه
خدایه ماښام کړې چې ملک توره تیاره شینه
وې نه د یار یم نه یاري د چا کومه
لکه ژوندي چې په مړو خاورې واړوینه
اور مې سیزي اوبه مې رو رو ډوبوینه
تر انار سره ووم د نارنجه زیړه شومه
زوړ له رخصت ورکړه د ډیرې مودې شونه
نوې مئین شوم نوې نوې غم راځینه
په داسې ورځ جینکۍ ټول ښکلې وینه
چې زړۀ مئین شي سترګې غواړي دیدنونه
نه پرې خملم نه ئې بل ته ورکومه
کله ځنګېږي کله اوچه ودرینه

خلق جوړه جوړه ګرځيږي
آواز مې شته جوړي مې نشته

زه کم نصيبه يار په خوب کښې نه وينمه
لکه کونتره بې جوړې نعرې وهمه

ځوک چې ياري کړي خداى دې واخلي
ځوک چې ياري کړي ما دې پښتي

يو کال مې کړې رنګ مې ځاى له نه راځينه
يو کال مې کړې رنګ مې ځاى له نه راځينه

پريږده چې سپي مې غوښې اوخوري
پرېږده چې ستا کوځه کښې مړ شم

زه به د يار د کوځې نه منع کيدمه
چې عاشقان مې په مزار ګلونه ګدينه

تخت مې بې ياره قبول نه دې
زما په خپل حسن قسم دې

تخته مې خوښه ده چې يار راسره وينه
چې بې لتا نه بل انسان نه قبلومه

چې دولت راشي عزت راشي
که د بهلول په شان دانا وې

چې دولت نه وي يار د يار نه کړې پښتنه
چې دولت نه وي ځوک ئې نا اخلي سلامونه

خلقو زړې يارې تازه کړې
خلقو خو نوې يارې اوکړې

زما په نوي يارۍ اور اولګېدنه
زۀ به زړې يارۍ ته ټوکې اوګنډمه

خلقه بې يار څه ژوندون وي
خلقه بيلتون پل صراط دې

يوه ګړۍ په زمانه شميرلي شينه
اشنا مې پورې زه راپورې پاتې شومه

خلقه په بند ئې نه پوهيږم
ياري په زور په دولت نه شي

جانان کنځل په دلالانو راليږينه
جانان ته وايه چې خله سمه خوزوينه

خلق اختر ته خوشحالېږي
خلق زما به څۀ اختر وې

زۀ خفه کيږم چې جدا له ياره يمه
زۀ چې د يار ديدن له ځم خوشحاله يمه

خلق به وائي چې اختر دې
خلقه زما به څۀ اختر وې

په ما خو نه دې چې جدا له يار يمه
چې بيلتانه راته مورچې وهلې دينه

قدر زما يار سره نشته
قدر زما به در معلوم شي

که سر په مثل د تحفې ور اوليږمه
جانان کله چې زۀ تورې خاورې شمه

ما يارانه كله كوله
ما يارانه كله كوله
د دې نرو شونډو مسکا د مئين کړمه
سر تور ولاړ وې د ښيرو دې ويريدمه

يارانه پټه بادشاهي ده
يارانه كله پيوند اخلي
چې څوک هوښيار وي په هنر ئې چلوينه
چې يو غم خور او بل سود خور د مينې وينه

يار بې رضا رانه رخصت شو
يار بې ګناه رانه جدا شو
معلومه دا شوه مرور له ملکه ځينه
نه ئې لاس راکړو نه ئې مخ راواړونه

يار په يارۍ کښې ضامن غواړي
يار په يارۍ کښې ضامن غواړي
زۀ په پردي وطن کښې څوک ضامن لرمه
راشه چې خط د غلامۍ درکړم مئينه

يار ته په لمسه غماز اووې
يار په يارۍ کښې بې وفا شو
مئين په بل دې غم په تا غلطوينه
لما جدا شو يک تنها ولاړه يمه

يار چې په يار پسې مړ نه شي
يار چې په يار پسې مړ نه شي
تشه ژړا د دنيا دود پوره کوينه
تشه ژړا د چم ګاونډ خلق کوينه

يار مې په سرو لاسو مئين دې
يار مې په سرو سترګو مئين دې
زۀ به نکريزے په خپل کور کښې شنې کومه
زۀ به دا تورې سترګې چرته بدلومه

يار مې په سره غرمه کښې ګرځي
يار مې د ډاک ګرميو اوسو
کونتره نه يم چې پرې سورې کړم څانګونه
ځم چې خيمه د تور اوربل پرې اودرومه

يار مې هندو زه مسلمان يم
يار مې هندو زه مسلمان يم
د يار د پاره درم سال جارو کومه
د کليمې سره رام رام هم يادومه

نن مې د يار سترګې يادېږي
ياره په خوب کښې را حضور شه
خدايا ماښام کړې چې ئې خوب کښې اوينمه
چې تر غرمې پورې خوشحاله اوګرځمه

د مال دار يار يارې خوارې ده
د مال يارې خوشې خوارې ده
دې په خپل کور کښې لما غواړې ديدنونه
يارې هغه ده چې د زړۀ په مينه وينه

راکړې ګل دې بیرته واخله
ګل د ګلاب مې کورته دروړه
نه دې یاري کړم نه دې ګل په سر کښې ږدمه
که ته پوهېږې د یاري درخواست کومه

راشه رانجه د سمال د واخله
د کلي مینځ کښې به نعرې کړم
نه دې یاري کوم نه دې نخښې ګرځومه
لیلی زما له یاري واغستل لاسونه

زما او ستا د یارۍ څه دې
زما او ستا یاري به نه شي
هسې مې ستا د غم خدای نه خلاصوینه
لالیه ته ئې خانتما زۀ کبر ژنه

زما او ستا پټه یاري وه
زما او ستا لیونۍ مئینه
په شین بادرنګ د اوویشتم رسوا دې کړمه
چا غمازانو په کښې او کړل لمسونونه

زما د سر پکار دې یاره
زما دې سر پکار دې یار
دولت دې دروزه شې چې اور په بلومه
ډیرې پیسې خو د هندوانو سره وینه

زۀ چې د یار په کور تیرېږم
د ملاقات په ځاے چې راشم
دیدن دپاره په رو رو ږدم قدمونه
چې جانان نه وي زۀ مخ پټ کړم اوژاړمه

څوک به دې مړ کړي خپله یاره
زۀ به لتا نه منع نه شم
په خطرناکو کوڅو مه کوه ګشتونه
که مې له تنه سر جدا کړي څوک مئینه

ستا یارانه د شمکي ده
ستا یارانه د کمر ګل دې
شمکي تریخ دي له نا کام ئې تیرومه
ګل مې بوئېن نه کړؤ له کمره پریوتمه

ستا له یارۍ مې طمع پرې شوه
ستا له یارۍ به توبه نه کړم
اوس دې د غم لیونې ګرځم مئینه
که جلاتیان مې سر د تورو سره وړینه

ستا په یارۍ کښې مې دا حال شو
ستا په یارۍ کښې مې دا حال شو
مال مې برباد شو په خپل سر اویریدمه
خپل مې پردي شو پردي ځای نه راکوینه

ستا په یارۍ کښې سودائي شوم
ستا په یارۍ کښې لما لاړل
لکه مجذوب په لارې ځم ګوتې شمیرمه
عقل د سر حجاب د مخ دلیل د زړۀ نه

سلام سلام یاره سلام دې
سلام سلام یاره سلام دې

پس د سلام د کلام درخواست کومه
دا مې کلام دې چې مې هیر نه کړې مئینه

سلام سلام دې یو کلام دې
سلام سلام ورستې کلام دې

عرض مې دا دې چې مئین دربانذې یمه
عذر تمام دې یاري نه درسره کړمه

خاوند څه کانې را اوشوے
خاوند څه کانې را اوشوے

یا رمې بیمار شو څه علاج ئې نه راځینه
چې نه مې یار شو نه ئې خلاص د غمه شومه

خاوند څه کانې را اوشوے
خلقه په جمع دعا اوکړئ

یار مې بیمار شو څه علاج ئې نه راځینه
چې د اشنا رنځ مې په کانړو بوټو شینه

خلقو خو نوي پارې اوکړې
خلق د نوي یارۍ بند کړي

زۀ به زړې یارۍ ته ورکړم پیوندونه
زۀ د زړې یارۍ ټوټې پیوندومه

دا شهزادګان مخې له راغلل
دا ښائسته میندې دې مړې شي

بدرنګه یاره په شپاله دې ورمنډمه
ښائسته راوړې عاشقان پر سوزوینه

ستا د یارئ نه توبه ګار شوم
بس ده په دغه ځاے پرېږده

د رسوائ په رنګ د زه اوشرمیدمه
کانړې پرکیږده پښه پر راکاږه مئینه

په چا چې تور د یارۍ پور شي
د یارئ سختې کشالے دي

حال ئې د چور شي سر سر تور له کوره ځینه
چې نه پوهېږې هغه خاورې کړې ځانونه

یار مې چاړه په مرئ کېښوه
شابه تیرے چړے ته لاس که

زۀ د حلاله شم چې یار خوشحاله شینه
زه به د سپینه غړئ پښو کښې غزومه

په تېښته نه خلاصېږې یاره
په سر خنډلو به خلاص نه شے

مهر محکم مې د یارۍ اولګونه
ما دې د زړه په سر پانے وهلې دینه

یارې اصل سره پکار ده
اصیل زاده نه وي هلکه

چې ځان ته ګورې د خپل یار صلاح کوینه
اصیل زاده په مئین سرو مال شندینه

مخې له راغله په خندا شوه
یاري د زور خبره نه ده

معلومه دا شوه یاري بیا تازه کوینه
خوښه د خپله زه د نه مجبوره وومه

د زورورو یاري کړمه
منت زاري مې نه قبلېږي

په مخ مې سیند د اوښکو ځي خله ورکومه
جانان په غټو خلقو ځان حسابوینه

یار مي یاري راسره نه کړي
صدق د زړه اقرار د ژبې

مرور ګرځي راسره نه کړي دیدنونه
جانان د دواړو نه منکر شو څه ئې کړمه

اشنا یاري د کړې نه ده
یاري د نر زلمي مزه کا

ځکه د رق وهي د ویري انداموننه
نران زلمي په لښکر ماتې ګډوینه

د یار کوڅه زما قبله ده
چې دا ستا په کوڅه راشم

ځکه د یار کوڅې ته مخ په قبله رډمه
لکه په تخت د بادشاهي چې اوخیژمه

د نغري په غاړه نه شي
یاري په هغه دغه نه شي

څو چې یارۍ پسې بېدر نه شي مئینه
څو له اخلاص ځان ملنګ نه کړې مئینه

ښه دي چې ستا د یارۍ خلاص شوم
ستا یارانه مې نرۍ رنځ وو

د شرم باز به مې په ولو ګرځونه
د نري رنځ نه کم رغیږي اکثر مرینه

سترګې یاري راځخه غواړي
د زورورو یاري مه کړه

د زورورو په دربار مې خیژوینه
هم به ژړېږي هم خولګۍ به ورکوینه

زما د یار رضا پکار ده
د دنیاګۍ غرضي نه یم

پرواه مې نشته که فراق که وصال وینه
دنیا پلاله شه چې اور په بلومه

زما او ستا یاري دروغ ده
اشنا مې کوز کړو تور لحد ته

چې ته په ګور ئې زه په کور ګزران کومه
خیرا زه ګرځمه زۀ ځنګ لاڤې وهمه

ګریوان نیولې ئې جیل ته بوتلم
لاس مې ترې په بند مې بیائې

ښارو زۀ ستا په یارانه غل شوې یمه
خفه پرې نه یم ښارو ستا په چالان ځمه

دا ته مې يار ئے د يار خياله
غم د له تانه وفادار دې

چې نا قلار زرګې په تا قلاره وومه
ته کله کله غم د تل راسره وينه

دا سوي زۀ سوې مې يار دې
دا سوي يم سوې به ګرځم

سوې بازار دې غم سودا په کښې کومه
سوي به اخلم سوي ځان به پرسيږمه

دا د پښتو خبره نه ده
يو مې جانان راباندې ډير دې

چې يار زما دې ناز پر نور خلق کوينه
ختلے نمر دې په جهان رنړا کوينه

دا د کم اصل سړي کار وي
مبارکي دې خله راکړه

چې نوې يار کړي زوړ له ورکړي رخصتونه
زۀ زوړ اشنا په نوي يار نه بدلومه

دا ته مې يار ئې د يار خياله
تر تا دې خيال لا وفا دار دې

چې نا قلار زړګې په تا قلاره وومه
ته کله کله خيال د تل راسره وينه

د دوستۍ نوم ځکه بدنام شو
دوستي د زور خبره نه ده

ياران د يو بل په عزت حملې کوينه
جانان ته وايه چې خله سمه خوځوينه

د يار مې ريره په مخ راغله
د يار مې نوي ريره راغله

زما باغچې سينې غوټۍ نيولي دينه
دا نري بريت به ئې په ژبه سمومه

د يار ليده تبه شليده دي
د يار ديدن د تخت خاته دي

جدا کيده ئې بابيړې سړې تر مرينه
چې جدا کيږي سړې خير ته کينوينه

د يار پيغام ناساپه راغلے
نن په جامو کښې نه ځائيږم

لکه چې نمر په توره شپه رااوخيژينه
د يار د لوري مې راغلي سلامونه

د زورورو مې ياري کړه
ډبرې واخله ما پرې اوله

په مخ مې سيند د اوښکو ځې خوله ورکومه
د زورور په يارۍ ډيره نازيدمه

راشه ياري راسره اوکړه
راښکاره مه شې سپينه مخه

هسې د سترګو ليدل څه مزه کوينه
يو ګړې د خوشحالۍ بيا د غمونه

صورت مې زر يار مې زر ګر دې
صورت مې زر يار مې زرګر دې

ځکه د غم په انګار هره ورځ مې ږدينه
خود مې د غم په سندان ږدي سرمې وهينه

ښه ده چې ستا د يارۍ خلاص شوم
يارې د زړه په احلاص کيږي

د غلامۍ طوق مې له غاړې اوواتنه
درغله يار د يارۍ نوم اوشرموينه

کله به يم کله به نه يم
کله به يم کله به نه يم

بې ما ياري په رنګه مه شميره مئينه
په بورجلونو مې داړه ګرځه مئينه

د خپل يار به وانه وړم
يار مې بادشاه د ولايت دې

که د چړو په څوکو نوکې نوکې شمه
زهٔ ملغلره د درياب د غاړې يمه

ما د قيامت طمع کوله
ما تر د ژوند طمع لرله

تا رانه واغستل په دې دنيا لاسونه
نا ترسه يار په نيمه لار کښې پريښودمه

نوې ياري نوې خانه ده
نوي ياري د خدای غضب دې

نوي خانه به په رو رو ابادومه
لکه د هاړ غارمه تندې تلے سيزينه

ولے دې بد راسره اوکړو
ولے دې بد راسره اوکړه

زهٔ په ځوانانو کښې په تا مئيندمه
ما په دنيا کښې دا وئيل چې يار لرمه

يار مې راته ولاړه نه شوم
مسافر تلې در جګه نه شوم

خدايه ما ماته کړې په برغو زنګونونه
په زړه مړه ووم ما وې تل به ديدن وينه

يا رمې د اور ګاډې ته ښېژي
يار مې د اور ګاډي ته خيژي

په ما وربرې د سکروټو بارانونه
زهٔ د منت ځولۍ بابوته غوړومه

که ياري کړې سړنې کال دې
ياري په عقل فکر نه شي

له بله کال به د مخ تغيره وينه
څو چې ازل وهلي نه وي قلمونه

اشنائي غم دې ښادي نه ده
که څوک د غم طاقت لري اشنا دې شينه

اشنا مې وربې رانه لاړ شو
په تناره ولاړې پيغلې
چې دستر خوان لره ورځم ژړا راځينه
ډوډۍ دې نه خورم د ديدن وږې دې يمه

دا مې قسم په لوی الله دې
په ما به دا زمکه جنت شي
چې بې لتا مې پکار نه دې جنتونه
که خوږ اشنا مې په مرضي کوي کارونه

د زړه چمن مې خزان شاړ کړو
خزانه کور دې مولا وران که
زۀ ورته ناست يمه ماتم ورته کومه
په عاجزانو ورانوې ودان کورونه

په طمع طمع دې زۀ زوړ کړم
عمر عبث راباندې تير شو
نه دې اشنا کړم نه دې راکړه جوابونه
که زۀ سړې ووم ستا به نوم نه يادومه

ټق دې دواړو لاسو خيژي
چې تلل راتلل ورسره نه وي
اشنا ئې هم له دواړه خوا مزه کوينه
رب دې په داسې يارۍ اور اولګوينه

د اشنا دې ظلم ته ګوره
د باد ګولے درد مې پيدا شي
چې ماته شا کړي په بل واچوي لاسونه
چې په خندا دې د بل خوا کښې اووينمه

روح مې په تن کښې ځکه پائي
روح مې په تن کښې ځکه پائي
زۀ ورته وايم اشنا نن صبا راځينه
ورته بانے کوم چې نن صبا راځينه

ستا اشنائي ته مې زړه کيږي
ستا اشنا ئې درنه ميچن ده
په څه خبره به اشنا درسره شمه
زړګې مې ستړې شي دمه پۀ کښې کومه

ستا اشنائي کښې داسې اوچ شوم
ستا اشنائي مې کړې نه وے
لکه چې غز په نري باد فرياد کوينه
ځان مې د سيند په چپو وړې وې مئينه

شپه د اختر وه که د قدر
اختر تل ترتله اوسے
چې د اشنا سره مې اوشو ديدنونه
چې دې جانان زما نصيب شو ديدنونه

که اشنا غواړي مرګ قبول کا
اشنا زما په تهمت رنګ دې

په اسانۍ نه شي د يار د غيږ خوبونه
زۀ تهمتي يار سره ځم وطن پريږدمه

که څوک مې ښه بولي که بده
که خپل جانان مې خوشحالېږي

زۀ د اشنا په زنګانه سر لګومه
زۀ به له دوو جهانو ټک وهم لاسونه

د رب تلې اشنا غواړم
له کومه راغلے سترې مه شې

ځکه سرتور ګرځم مدام په زيارتونه
زۀ هم په تا پسې د بر ليونې وومه

اشنا مې ټک د بنګالے دې
اشنا مې ځي زه ورته ګورم

زۀ جادو ګره دپنجاب راغلے يمه
خلقه رخصت ورکړم که زۀ ورسره ځمه

اشنا مې ګل بيلتون ازغې دې
اشنا مې ګل د لاسه نۀ اخلي

لاس ورته اچوم ازغې لاس له راځينه
زۀ ئې د لاس ازغي په زړه پورې لرمه

اشنا ئې روغ سرې رنځور کړي
اشنا ئې غم دې ښادي نه ده

څه مې غرض دې چې روغ ځان رنځورومه
که څوک د غم طاقت لري اشنا دې شينه

اشنائې مه کړې روغه خلقه
اشنائي مه کوه روغ ګرځه

يو کال مې کړې ليونۍ به ګرځيدمه
لکه چې ما په ځوانۍ اور اولګونه

په اشنائې دې ډير خوشحال ووم
د زړه چمن مې تاله کېږي

په جدائي دې لکه ګل اورژيدم
ښکلے آشنا مې ورستو پاتے زۀ ترځمه

اشنايه ستا له بې نيازي څۀ
د اشنا خيال راباندې نشته

په لارې ناست يم په سر خاورې بادومه
خوشې مجنون د ځان څه له جوړومه

اشنا په ټوقه نه پوهېږي
د اشنا زلفې کروړے دي

په خورو زلفو مې واهه مرور شونه
زما په ډډو کښې مورې ولاړې دينه

د اشنا غم په ما ميلمه دې
د اشنا غم زما ميلمه دې

خلق هميش د ميلمنو عزت کوينه
د چرګ په ځاے به ورته ځان حلالومه

د اشنا کور به غلط نه کړم
د اشنا کور د ګلو باغ دې

ماته ترې بوئې د محبت شمال راوړینه
ځکه د هر ځاے بلبلان ورله راځینه

اشنا مې بیا وطن ته راغلے
که اشنائي کړې نن دې وار دې

زۀ په خندا یم نرې سترګې تورووم
صبا به نه وي ستا ځواني زما خواستونه

ستا اشنائي نه وه بلا وه
ستا اشنائي مې کړې نه وې

په اندامونو مې خوره شوه اوس ترې مرمه
ځان مې د سیند په چپو وړې وې مئینه

مبارکې دې خله راکړه
نوي یاري د خدای غضب دې

زۀ زوړ اشنا په نوي کله بدلومه
لکه د هاړ غارمه تندي تلے سیزینه

اشنا د باز په شان راغې
اشنا مې باز و رانه لاړو

زما ئې زړۀ په منګل یوړو حیران شومه
ما ئې خالي دربار ته اوکړو سلامونه

اشنا نظر د کرم اوکړه
اشنا یاري راسره نه کړې

یو مسافر یم بل مئین دربانډې یم
ما مسافر کنړي چې نن صبا به ځینه

اشنا یو وارې په ما راشه
اشنا دا دې څۀ عادت دې

یو دوه خبرې د ګیلے درته کومه
چې په ما راشې تیر په منډه شي مئینه

اشنا مې شته بې اشنا نه یم
اشنا نزدې نه دې چې واورې

په هندوستان کښې مسافر دې رابه شینه
زما د خلے ور پسې خیژې فریادونه

اشنا سوربېرې روانیږې
اشناپه ښکته روانیږې

زما ورانیږې د محکم زړګي برجونه
کونتره نه یم چې په هوا ورسره ځمه

اشنا چې ځې اخربه لاړ شې
اشنا که لرې ځې له مانه

زۀ به دې څو د لونګې نیسم پلونه
زړه ئې زما په زلفو بند دې رابه شینه

اشنا دې لاړو مسافر شو
اشنا د مور و پلار خوږ دې

جلکۍ په تورو ځنړو مه واهه لاسونه
ځکه مې اوښکې په مخ لاړې جوړوینه

اشنا زما په تهمت رنګ دې
اشنا زما په تهمت رنګ دې

څکه ملنګ دې رنګ پهرنګ اواز کوينه
زۀ تهمتي يار سره څم وطن پريدمه

اشنا زما په رضا نه دې
اشنا زما په ژړا خاندي

کم اصلو خلقو ورته څه وئيلي دينه
بې قدره اوښکې مې په مخ چپې وهينه

اشنا زما نه مرور دې
اشنا زما نه مرور دې

د قطب ستورې به جرګه ورله ليږمه
زۀ مروره د تمام جهان يمه

پريږده چې اوښکې مې بهيږي
پريږده چې ځان د ملک ورک کړم

اشنا رټلے يم ژړا راله راځينه
چې د بې ننګه اشنا سترګې نه وينمه

خوا دشمنانو را سړې کړې
خوارشې بيلتون زۀ دې خوار کړم

کوڅے خالي شوې له اشنا د قدموته
ژړا کوکار کړم چې د يار جدا شومه

د زوررورو زور اوبه شه
د زوررورو زور د بس وي

زما اشنا ئې لاس نيولے تيرونه
زما اشنا په کوڅه غلے تيريدنه

که زړه مې ډير ورځنې بد شي
نوي اشنا دې مبارک شه

زۀ له زاړه اشنا توبه کله کومه
ماته رخصت راکړه د ډيرې مودې شومه

نشته د زړه مجال مې نشته
نشته د سود اشنا مې نشته

چې په اشنا پسې په زوره اوژاړمه
چې ورته اووايم د خوږ زړګي حالونه

يو وفا دار اشنا مې بس دې
يو ځل ازميښت راباندې اوکړه

سل بې وفا که اشنا يان شي څه به ئې کړمه
که نا قابل ووم بيا مې اوشړه مئينه

په خوږ اشنا مې سلام وايه
په خوږ اشنا مې سلام وايه

بيا ورته وايه چې مې هير نه کړې مئينه
ټکرې دغه دي که نورې به لاخورمه

زما اشنا ګل د نر ګس دې
زما اشنا ګل د نرګس دې

چاته په ترس دي ماته سم کاته کوينه
د نمر پرست په شان غړې ورپسې ورمه

زما اشنا ګل د نرګس دې
زما اشنا ګل د بادام دې

زما په نام دې نور ئې تش ديدن کوينه
زما په نام دې نور ئې هم ديدن کوينه

سر مې ببر شونډې مې اوچې
سر مې خوږېږي جوړه نه يم

د کبر جن اشنا سلام ته ناسته يمه
په ما مئين جانان اوکړه تعويزونه

يواځے ځانته بيله ښه يم
په تصور د تصوير جوړ کړم

چې تصور د خپل اشنا راسره وينه
بيا تسله پر د غمژن زړګي کومه

زما د سل سمند زيان شي
زما د سر پکار دې ياره

د اشنا زړه د رانه بد نه شي مئينه
دنيا د دروزه شي چې اور په بلومه

زما ئے هسے خاطر بد کړو
اشنا يو وارے تر ما راشه

چې نن اشنا راکړل رټلي جوابونه
يو څو خبرے د ګيلے درته کومه

اشنا رشتيا به راته واي
ستا يارانه د ونے سورے

ته يار د چا ئې چې زړه صبر کړم مئينه
کله په ما کله په نورو خلقو وينه

په سر د دار ختل آسان دي
لکه منصور په سر د دار وي

عالمه ګران دي د اشنا د زړه ساتنه
رانه جدا هغه دلدار نه وے مئينه

د ډاکخانے بابو رانغے
يا سرکاري ډاکونه بند شو

خلقه دا خوشے انتظار مې ژړوينه
يا بےوفا اشنا کاغذ نه راليږينه

پرېږده چې اوښکې مې بهېږي
يار که ياري راسره نه کړي

اشنا رټلے يم ژړا راله راځينه
بې بدو زړه زما نه څه له بدوينه

ته مې ارواح زۀ د کالبوت يم
روح مې په تن کښې څکه پائي

چې ارواح نه وي کالبوت تورے خاورے شينه
زۀ ورته وايم اشنا نن صبا راځينه

د قند خوږې راباندې لګي
چې څوک خبرې د جانان راته کوینه

جادو ګر یار چې مخامخ شي
جانان څه جادو دې اوکړو

لکه د بت مې ځان ته مخکې اودروینه
په لویه لار کښې دې په چغو کړم مئینه

جانان مې ګل د لاس نه اخلي
جانان مې ګل دلاس نه اخلي

د اسمان ستورې به جرګه ورله لیږمه
زۀ د جانان د لاس زهر قبلومه

د ټولو بدو مې توبه ده
د جانان مینه به پرې نه ږدم

جانان ستا له مینے نه توبه کوم
که مې پښې پرې کړې په لوړ به ورله ځمه

د جانان کور په نمر خاته دې
د یار کوڅه زما قبله ده

که په قبله وې ما به مونځ ورته کاونه
ځکه د یار کوڅې ته مخ په قبله ږدمه

د جانان یو نیمه خبره
جانان حال به هله وایم

په زړۀ مې لیک ده تورو خاورو له به ئې وړمه
چې نور څوک نه وي تش ولاړ وي دیوالونه

د سکول په ګیټ ورته ولاړ یم
د سکول کړکۍ به در سورۍ کړم

استاد جانان له اجازت نه ورکوینه
رومال به درکړم په مخ مه پریږده ګردونه

د سود جانان چې د چا نه وي
د سود او زیان پرواه مې نشته

د زړه ژرندې دي چاته نه بیرته کوینه
خفه په دې یم چې بې ځاے تالا شومه

د قند خوږې راباندې لګي
تر مستانه یار خو مې ځار کړې

چې څوک خبرې د جانان راته کوینه
چې تش دیدن ته ئې خیمے وهلے دینه

رنځور مې کړي مړ خو مې نه کړي
رنځور جانان دې خدای رانښه کړي

بیا به کیږې په ښنو کوم چې مړ دې کړم
فال به زما په نرمو شونډو ماتوینه

که ټول جهان جانان جانان شي
که ټول جهان جانان جانان شي

د غنم رنګي مې ثاني نه شته مئینه
زما د یار په شان جانان به چرته وینه

که جانان بد کړي زۀ به ښه کړم
چې جانان بد کړي زۀ به ښۀ کړم

که خپل جانان راسره نه وي
که خدای زما جانان زما کړي

جانان مري که پاتې کيږي
جنګ مې په تور اوربل جوړيږي

خدايا ته ما بيماره مه کړې
دا رانګه بانګه به درجارشم

جانان مرے که پاتې کېږې
که ته زما په طمع ناست ئې

چې ځان ئې هير زه ئې په ياد يم
درنه به لاس وانخلم ياره

اول په ښپې د جانان ښکل کړم
مسافري خوړلې ياره

جانان په اوږد خوب اوده شو
جانان به سر راپورته نه کړي

جانان په خپله راته وائي
جانان بې وخته رانه بيل شو

جانان په تلو کښې ورستو ګوري
جانان چې ځې مخ ته دې ښه شي

جانان که غل دې زما خپل دې
جانان زما دې د چا څه دې

چې د بل يار شي زما ښۀ به يادوينه
چې څو مې نيت د ياراني وي بد به ئې وړمه
که زه د درست جهان بادشاه شم څه به ئې کړمه
زۀ به تازه کړم تورې سترګې شنه خالونه
په تور اوربل مې سودا ګر او ګرځيدنه
جانان لاس د لاس کښې را درسره ځمه
جانان بيمار کړې چې پښتنې له ورځمه
لکه انګور په ونه واچوي تاکونه
په تور اوربل مې سودا ګر او ګرځيدنه
طمع د غوښه که ما پلار نه درکوينه
زۀ به له داسې جانان خنګه توبه کړم
که مې په سر باندې باران د تورو وينه
بيا به ژړا کښې ورته او وايم حالونه
پيزار اوباسه چې تلي دې ښکلومه
زۀ په دنيا کښې شوګيرې ورته کومه
که تمامي عمر ملنګ د قبر شمه
جانان ځه ياري د نوره نه کومه
ډک د ارمانه زړه به چاته تشومه
په پر هاري زړګي مې مالګې دوړه وينه
زړه ئې زما په زلفو بند دې را به شينه
په ميا ملا باندې ئې کله بد لومه
ما پرې اغستي دي د کلي تهمتونه

جانان په زين کښې راته کوز شو
جانان مې جګ او زۀ مندرې يم
د پنړو څوکې لګوم خله ورکومه
د ديدن ځاے له کنړا وي په ترخ کښې وړمه

جانان مې ځي نه پاتې کيږي
جانان زما د مخ دستمال دې
خلقه رخصت ورکړم که زۀ ورسره ځمه
چې دستمال نه وي مخ مې ډک د خاورو شينه

جانان څومره بختور ئې
جانان دومره په ما ګران ئې
نوکر د بل يم خدمت ستا هميش کومه
د تلو خاورې دې په جيب کښې ګرځومه

چې خپل جانان مې راسره وي
چې خپل جانان راسره نه وي
که په ما ګټې د صحرا راچلوي خوشحاله يمه
زۀ به جنت کښې عمر څنګه تيرومه

جانان راشه سترې مه شې
جانان راشه رانزدې شه
زۀ هر کلي کښې درله زړه خپل درکومه
چې رانه لرې شي ژړا ژړا راځينه

چې د جانان کلي ته لاړ شم
که زۀ يو سل قسم او خورم
هزار توبې مې په يو دم کښې ماتې شينه
چې د جانان کلي ته ورشم مات ئې کړمه

د جانان مرګ راته آسان دې
ستا دې قسم وي زما ياره
چې دې ولاړ وي زۀ به بل ته اوخاندمه
چې زۀ ولاړ يم په بل مه اچوه لاسونه

زماجانان بې له تانه
جانان زما نه رخصتيږي
په ما ودان دنيا وران شوه مئينه
په ګريوانه مې اوښکې ځکه سيلاب ځينه

زما جانان خداى دپاره
جانان نزدې نه دې چې واورې
چغې مې واوره ليونے درپسې شومه
زما د خلے ورپسې خيژې افسوسونه

زما جانان دې رب زما کړې
جانان ستا په انتظار کښې
زۀ کړيدلے کال و سر ورپسے يمه
ستورو ته ګورم شپه صبا راباندې شينه

د مسافر جانان دپاره
زما جانان په ګودر ناست دې
زۀ د ګودر غاړې ته پټې سترګې ځمه
زۀ به د يو په ځاے اتيا پيرې کومه

د جانان باده په ما ګران	تاله جانان ماله څۀ راوړې دينه
دجانان بوئ مې درته راوړه	ته پرديسي ئې ستا تخفې دې دا څيزونه
د جانان بد د ولو مينځ دې	هلته به ئې وينم چې مې سترګې شاته شينه
چې جانان بد کړي زۀ به ښه کړم	د يار جفا مې په وفا قبوله کړله
د جانان زړۀ دې له ما بد کړو	د ژبې سره په قينچې دې پريکومه
د جانان زړۀ چې رانه بد شو	د هر سړي د ږيرې لاس لاندې کومه
کله به سود کله به زيان وي	که جانان دواړه قبلوي ورسره ځمه
سفر د زيان باند بدل شه	زما ژړا ده ستا خندا راپورې شينه
ورشه خبرې راله راوړه	چې مې جانان ناسته د چا سره کوينه
ورشه خبر مې ورله يوسه	ملهم د سرو شونډو راواسته وه چې مرمه
جانان اشنا سترګې ناشنا کړے	الله د هيڅوک د چانه محتاجه وينه
جانان مه راپورې خانده	ډير يم محتاجه چې زارې درته کومه
جانان به کله راشي خدايا	زما چشمان په کتو سترې شو مئينه
جانان خداى دپاره راشه	دغه لويدلے زړه مې چوي اوبه مرمه
جانان حال به سره وايو	که يار دې بل دې ماته راکړه جوابونه
جانان په خپله راته وائې	جانان ځه يارې دې نوره نه کومه
جانان په هيڅ نه رضا کيږي	د دروغژن ملا دې ورک شي تعويزونه
جانان زما نه مرور دې	که چا پخلا که سپينه خله به ورکومه
جانان ټکي راسره اوکړه	په خوشے لار کښې ئې يواځے پريښودم
جانان ته به هم ښاد نه شے	چې مې دا خوږ زړګې ښيرې درته کوينه
جانان د بل د خلے سرې دې	خدايا زما زړګې تر صبر کړې مئينه
جانانه تۀ خو داسې نه وې	د چا خبرې دې ضرور منلې دينه

جانان څه داسې بوله نه دي — چې په لمسون به له ما پورته کړې لاسونه
جانان مې ګل دې زما خپل دې — د غیر غمازو په کښې نه پرېږدم لاسونه

جانان دېخدای مرور نه کړي — ده د په سر مې دشمني اغستې دینه
جانان دې دا واري پخلا شي — بیا به ناکامه د جانان په خله کومه

جانان له ما څۀ مرور دې — په ما محشر دې زمکه ځاے نه راکوینه
جانانه تانه خفه نه یم — زۀ د قسمت د لاسه تل ټکرې خورمه

جانان زما په خلے باچا دې — زۀ به باچا له تخت ولي کوزومه
جانان زما په سر جانان دې — که لاس تر واخلم د دونهے ملنګ به شیند

چې مې جانان په څنګ کښې ناست دې — زه د دهلي د باچا څه پروا لرمه
دا شاهي تخت مې پکار نه دې — زۀ د جانان سره په لو خوشحاله یمه

جانان زما زه د جانان یم — که په بازار مې خرڅوي ورسره ځمه
جانان ته خوشحاله اوسے — که په ما ټول عمر د غم وي تیر به شینه

جانان زما نه جدا کېږي — د لیونو په شان کوڅے به لټومه
جانان زمانه مرور دې — نه ئې لاس راکړونه ئې مخ راښکاره کړونه

جانان مې یو ټبر ئې ګنړ دې — زۀ د دې یوله مخه ټول ټبر پالمه
جانان تور چیلي حلال کړه — خسنړے اوشو په کاله دې پاتې شومه

جانان مې لرې د وطن ځي — که مې خبر د حال شي راستون به شینه
جانان مې مخ راښکاره نه کړو — پرېږده چې مړه ئې د راتلو په طمع شمه

جانان ته چې رخصتېږې — دا نا قلاره زړه به څنګ خوشحاله وومه
جانان مې لاړو مسافر شو — زۀ ئې د لاس نخښوته عمر تیرومه

جانان ټکه حرمونیه — چې په رو رو دې راته وي راضي دې کړمه
جانان دا دې څه عادت دې — چې پټه پټه یاري کړې خورې سوګندونه

جانان دا دې څه عادت دې
ياري دې پټه پاتې مه شه

چې پټه پټه ياري کړې خوري سوګندونه
خداى دې رسوا که چې تاوان درباندې شمه

جانان داسې درته وايم
ياري د زور خبره نه ده

که مې د بدو زور لرې درسره ځمه
خوښه دې خپله زۀ دې نه مجبورومه

جانانه ولې دې پردې کړم
جدائي ستا د لورې راغله

تاوې د عمره به دې زړه کښې زۀ ساتمه
ما وئيل ټول عمر به يو ځاے تيرومه

جانان جار دې تر نامه شم
جانان چونګ کښې اوبه راکړه

چې نوم دې واخلم د زړه باغ مې اوبه شينه
زۀ ترې نه يم خو ستا نيت معلومومه

خلق تپوس له د رنځور ځي
خلقه لاس پورته کړې دعا کړې

زۀ چې رنځور شم د جانان تپوس له ځمه
په بې علاج رنځ اخته شوم که روغ شمه

عالم د هر څه هر څه وائي
خلق به هر څه هر څه وائي

زۀ د جانان په باب د هيڅا نه منمه
جانان مه د چا منه نه به ئې منمه

څوک د جانان د غم نه مري
څوک خوشحالي خندا هوس کړي

ګني اشنا پسې مې ډير ژړلي دينه
څوک د جانان په غم کښې اوښکې تويوينه

جانان حال د راځرګند که
جانان حال به هله وايم

چې په زخمي زړګي دې څه تير شوي دينه
چې نور څوک نه وي تش ولاړ وي ديوالونه

څانګه زما په طبع پوهے ده
نن مې جانان ليدلے نه دې

په ديواله څپياکے ږدې سوري پريدينه
په ديواله څپياکے ګډې وډې ږدمه

د جانان دې ټکي ته ګوره
د جانان دې ظلم ته ګوره

يو راته خاندي بل مې تيغ په مرې ږدينه
يو مې وهي بل مې ژړا ته نه پرېږدينه

د جانان يوه نيمه خبرۀ
دا ستا يوه نيمه خبره

په زړه مې ليک ده تورو خاورو له به ئې وړمه
چې راپه ياد شي کله کله اوژاړمه

زما جانان د ونے ډنګ دې
زما جانان ژوندے اوسے
د دښمنانو ورته نه رسي لاسونه
زۀ د مستۍ ټوپونه ستا په سر وهمه

ډوډۍ مې اوخوړه مړه شوم
زما دې مئې وريژې ګنډير شی
ته به په کوم درګاه ولاړ ئې مسافره
زما جانان به د دونهے ککوړي خورينه

زما د تور اوربل جانانه
زما د ځان په خوا کښې خوښ ئې
زۀ بې لتا عمر په اور کښې تيرومه
نصيب تقدير دې رانه لرې ګرځوينه

زما څلور څانکے جانانه
ستا د چار ګل څلور پرې دې
د هرې څانګې دې جولۍ ګلونه وړمه
څلور پرې نوري کړه چې بلے لمبې شينه

زه د خپل سرو مال نه تير يم
جانان ته خوشحاله اوسې
په جانان ګرانه ده د تشې خلے پښتنه
که په ما ټول عمر د غم وي تير به شينه

زۀ د جانان په مئينه مست يم
خلق شراب وڅښې نشه شي
خلق ګمان د شرابي په ما کوينه
زۀ شرابي سترګو د يار نشه کښې کړمه

زۀ به شړې له ځانه تاؤ کړم
که د دنيا ناچاري نه وې
دا ستا جوړه به د بخملو جوړه ومه
ما به اشنا د سرو په تول اغستې وونه

عالم د کال مريض ته ژاړي
عالم د مړو سترګو ته ګورۍ
ما په ژوندي جانان کمر او نړاونه
تا په ژوندي جانان کمر اونړاونه

نن د پرون نه سخته ورځ ده
نن د پرون نه کار خراب دې
پرون جانان وو نن يواځے پاتې شومه
که پرون مړ وې نن به ولے غمژن وومه

نن د خواږه جانان راتله دي
نن د خواږۀ جانان وعده ده
په ځيګر ځم په بنړو لار جارو کومه
چې د باد کش شي سلامي ولاړه يمه

نن مې جانان ليدلے نه دې
نن مې جانان وطن کښې نشته
په ديواله ښپياکے ګډې وډې ګډمه
په نړيدلو پانړ کو چاته اودريږمه

نن به مې ولې زړه ښه نه وي
نن چې زۀ خاندم هوسیږم

چې مې جانان دې رالیږلي سلامونه
جانان مې خط دې رالیږلے چې راځمه

وار چې خطا نه کړې جانانه
وار خطا مه شې خپله یاره

په توره شپه پسې رنړا د صبا وینه
د وار خطا په ځاے د زه ولاړه یمه

یو ځل مرګ وي بیا ژوندون وي
یو ځلے مرګ وې بیا ژوندون وې

چې را معلوم شوې د پردو خپلو نیتونه
چې نیمه خوا جانان مې اوکړې دیدنونه

یا مې د سترګو نظر کم شو
یا مې خوشحال په خپل وصال کا

یا مې جانان د مخ اونه شرمیدنه
یا مې حلال که چې خپل خون در اوبه ښمه

یا مې د ځان سره ځان کا
یا مې د خپله لاسه مړه که

یا مې پیزار که چې تلي د ښکلومه
یا دا دې ستا په مخکې ځان په اوبو وړمه

چې خپل جانان مې راسره وي
چې خپل جانان راسره نه وي

که په ما ګټے د صحرا راچلوي خوشحاله یمه
که زۀ د ټول جهان بادشاه شم څه ئې کړمه

خاونده ما بیماره مه کړې
رب دې بیمار کړه خپل یار

جانان بیما رکړې چې پښتنې له ورځمه
چې د تپوس په بهانه اوکړم دیدنونه

خپل خوږ جانان به پر ورنه کړم
جانان زما د کالبوت روح دے

که د جنت حورے غلمان را اوبخښینه
چې ارواح نه وي کالبوت خاورے ایرے شینه

جانان لاړے آسماني شوے
زما د څه اوکړل چې لاړے

آسمان چې زمکے له راځي قیامت په وینه
نرې نرې زړګې به ستا راپسے چوینه

خلق خو وائي دوه یاران دي
ما به وئیل جانان زما دي

جانان په ما پسے ټوپکے ګرځوینه
جانان په ما د چړو اوکړل ګزارونه

خاونده ما بیماره مکړې
چې مې یار مرې لاله بیمار کړې

جانان بیمار کړئ چې پوښتنے له ورځمه
چې د لاله په بهانه یار ته اوژاړمه

زما په خپل جانان باور دې
په نيمه ژبه مې نوم واخله
که په شيبو باران وريږي را به شينه
که د پردي وطن بندي ووم دربه شمه

په سر مې رو منګز راکاږه
په سر دې رو منګز راکاږم
په کښې زما د جانان کور دې وران به شينه
ولے به ستا د جانان کور زۀ ورانومه

بې د جانان جنت څه کړم
سود مے په بل چا باند نه شي
د خپل اشنا سره نهره خوښه يمه
که تمامې خوبان د غاړے اميل کړمه

توره په لاس ټوپک په غاړه
جانان ستا په انتظار کښې
سترګې مې دواړه ستا په لور نيولې دينه
په نيمه لار کښې په بهانه ولاړه يمه

سر مې د غم په زنګون کيښود
د زنګنونو سر اوچت کړه
په تصور کښې د جانان پر کاله شومه
خداى به آسان کړي د دنيا مشکل کارونه

لالې خوهم په ما مئين دې
خلق يوائې ما په مئينه ګرموينه

نيستي د خداى له لوري راغله
نيستي خو راغله نا چاري شوه
لالے په ما منت کوي چې خوار دې کړمه
لالے پيغور اوس راکوي اخلي لاسونه

زما لالے ګل د سوزن دې
زما لالے په زړۀ ظالم دې
ډير ارمان ژن دې ځان تر نه جدا کومه
نه به ګيله کړم نه به زړۀ ترې بدومه

زما لالے لکه بورا دے
زما لالے که بتيارے دے
د ګل په شان په ما وزر راخوروينه
جانان د بټ کړي زۀ به اور ورا چومه

زما په خپل لالې باور دې
زما لالے چې پکښې اوسي
که تر دکن پورې لاړ وي رابه شينه
هغه وطن دې مولا ګل و ګلزار کړينه

خلق به وائي لالې تور دې
د سترګو تور لالې مې ورک دې
تور مې په زړۀ د غم شتي منډلې دينه
په زرګر ناسته يم څيره ئې جوړومه

زما لالیه لیونیه
لالیه تاته ګناه نشته
ته لیونے وې زۀ دې هم لیونۍ کړمه
لیونۍ زۀ وم چې په تا مئیندم

د آسمان ستوري پرې جرګه کړي
لالیه دا وارې پخلا شه
د مرور لالي مې اوکړې منتونه
بیا مې وعده ده زۀ به ستا طبع کومه

لالیه پاخه راونیږه
لالیه لاس په دعا اوچت که
غازیان تیریږي ته به پاتے شې مئینه
چې خدای راضي شي بیا به اوکړو دیدنونه

زما د زړۀ د کومې یار
زما د زړۀ دیوال پرې جوړ دې
په برخه ستا یم نور دې خاوري شي مئینه
خدایه زما لالي له ورکړې جنتونه

لالے خو هم په ما مئین دې
لالے زما د زړۀ بادشاه دې
خلق یوائے ما په مینه ګرموینه
زۀ به بادشاه له تخت ولې کوزومه

لالے زما زه د لالي یم
لالے زما د تن کالے دې
که مې په خله کښې ژبه غواړې وربه ئې کړمه
زۀ به کالے له تن ولے کوزه ومه

لالے مې لعل د بد خشان دې
لالیه تا ته ګناه نشته
زنړا ئې خیژي مینه نه لري مئینه
لیونۍ زۀ ووم چې په تا مئینیدمه

لالي زما زۀ د لالي یم
لالیه راشه چې خله درکړم
که مې په خله کښې ژبه غواړې وربه کړمه
زمونږ په کلي کښې مرګو ده مړه به شمه

لالے خو هم په ما مئین دې
لکه چې زۀ په تا مئین یم
خلق یوائے ما په مئینه ګرموینه
داسې دې پټه مئینه ستا راسره وینه

د حجري کټ ورپسې ګوري
کټ خو ئې شته لالې مې نشته
زما لالې به په شلیدلي کټ کښې وینه
زما بغیر به لالي چرته تلے وینه

ښا ئسته لالے د مخ کالے دې
په رنګ ښائسته وے کوتي لال
بدرنګه یاره زۀ په تا وشرمیدمه
په خوئي بدرنګه په نامه دې شرمیدمه

روکے چې سور شي د خپل کور شي
دوه مې دې ورونه زیړ ګلونه

لالے دې سور شي چې سوره ورسره ځمه
دوه مې ورینداريې د تیرا بلبلې دینه

لیلی په جونو کښې ښکاره ده
تور ئې پیکې لنډې ځنړې شنه خالونه

په لیلیٰ هرڅوک مئینیږي
اسمان په ستورو ښه ښکاریږي

بخت د هغو دې چې لیلیٰ پرې شي مئینه
لکه لیلی چې په مخ اووهي خالونه

ښارونې لاړه خپل وطن ته
ښارونې لاړه ملک خالي شو

طوطي ئې د غم پنجره کښې پریښوده دننه
زۀ به ئې دلاس نخښو ته عمر تیرومه

دنیا د سود په لور کږه شوه
دنیا د سود په لور کږه شوه

شاه له نیستګاره یار واغستل لاسونه
لیلی د هغو یاري کړې چې سود مند وینه

ښکار پسې تلم په خپله ښکار شوم
ښکار ئې زما غریب صورت کړو

د لیلی سترګو د لار مینځ کښې اوخوړمه
د مینې باز ئې په منګل کښې اونیومه

لیلی د حسن په خیال راغله
لیلی د یو ځل خولګۍ راکړي

خاونده خیر کړې لیونے نه شم مئینه
که د ولس کاله بیا مړې نه راکوینه

آب و دانه مې شوه تمامه
آه مې د سپینے خلے نه خیژي

لیلی په زړۀ راکړل د تورو ګزارونه
په قمري مخ مې سیلاب د اوښکو ځینه

په نیمه شپه کډې باریږي
باران رو رو پرې وریږه

زړۀ مې درزیږي چې لیلی د کلي ځینه
کډې باریږي لیلی بل وطن ته ځینه

د لیلی پښو ته مې ځان فرش کړو
خلق د پیر لاسونه نیسي

ځکه په عرش د عاشقۍ ختلے یمه
ما د شین خال لیلی پښې نیولې دینه

ډولۍ سره د ورایه ښکاري
مورې لنډې ټوپک راواخله

که د لیلی مړې د قبر خواله وړینه
په ما مئینه جینۍ بل ته وده وینه

زۀ پرې باور کولے نه شم
ټينګه وعده راسره اوکړه

ليلى په هره وعده خوري سل قسمونه
د ښائستؤ په وعده نشته اعتبارونه

ليلى سيالي دې د مخ نشته
زړه ته مې سل څوګنده ورکړل

ځکه په سرو منګلو وړې د خلقو زړونه
سترګو ليدلے ليلى کله هيروينه

ليلى د خيال ليونۍ شوه
ځواني مې ستا مينې برباد کړه

په غاړه اخلي د مئينو آزارونه
زۀ لا تر اوسه ستا په خيال کښې نه راځمه

ليلىٰ د قيس په حال اګاه شه
ليلى د مور سره صلاح کړي

ستا په کوڅه کښې د خيرات اواز کوينه
بهر ملنګ ځم ورځم خير ورکومه

ليلى ته مور وئيل خير پوسه
ليلى خير واغست وره له لاړه

په خوار غريبو باندې کيږي خيراتونه
د قيس مجنون سره به ئې اوشي ديدنونه

ليلى چې مخ سالو کښې پټ کړو
ليلى پلوله مخ واخست

لکه سپوږمۍ چې په وريځ کښې پټه شينه
دې سپينے خلے ته مې شونډان اور پيدنه

ليلى به باغ کښې مسته ګرځي
ليلى د ګلو سيل له راغله

ټيکرې ئې نشته مخ په پاڼړو پټوينه
ګلاب شر ميږي مخ په پاڼړو پټوينه

ليلى په جونو کښې ښکاره ده
که په ليلى باندې چا مړ کړم

تور ئې پيکي لنډې ئې څنړې شنه خالونه
دغه دستور دې مئين تل په مينه مرينه

ليلى کوچۍ وه کوچ ئې اوکړو
ما د کوچۍ د عمر ځار کړې

ما ئې خالي بورجل ته اوکړو سلامونه
اور به بليږي دوي به کډې باروينه

لکه مجنون د يار کوڅه کښې
بيا خو به تانه سوال اونه کړم

کاسه د خير مې ليلى ماته کړه مئينه
ته ماته وې د فقيرانو کچکولونه

زه ئې ادا باند مئين يم
ته به مې بولې کبرژنه

ګنې خبر يم چې ليلى ده کبرژنه
زۀ له حيا نه مخ له تانه واړومه

ليلى په کور دننه ناسته
چې ليونے راپسے نه شي
زه ليونے ئې په ميرو کښې لټومه
اوبه مې نه خوري د سورکو شونډو سرونه

ليلى په پټه پټه ژاړي
مجنون له ځايه مجنون نه وؤ
مجنون په چغو خبر وي کلي کورنه
چې په ليلى باندې مئين شو مجنون شونه

آخر به ورک شم له وطنه
د ليلى سترګو کښې مستي ده
د ليلى سترګو راته جوړ کړ فسادونه
چې ورته ګورم سرګردانه غند شمه

زۀ د ليلى باغ کښې باغوان يم
راګ د ارم راته غبرېږي
په زيړو ګلو کښې شپے سبا کومه
چې شاه ليلى راته د ناز خندا کوينه

زه به د سرو مال تير شم
که په ليلى باندې چا مړ کړم
که شاه ليلى زما د ژوند ملګري شينه
دغه دستور دې مئين تل په مئينه مرينه

زړه مې مئين دې نه صبرېږي
د خلاصيدو اميد مې نشته
د شاه ليلى زلفې هر دم رايادوينه
ليلى د زلفو په رسو تړلے يمه

ليلى د حسن په خيال راغله
عاشقان ټول سوي سکاره دي
خاونده خير کړے ليونے نه شم مئينه
ليلى په تورو سکرو مه ږده قدمونه

ليلى د باغ د لوري راغله
خداى مې د هغې باغ باغوان که
د سور ګلاب پاڼې په خله شونډې ذبيخينه
چې سره ګلاب په کښې ليلى کرلي دينه

ليلى په باغ کښې مسته ګرځي
د باغ مې هر بوټې لونګ دي
ټيکرے ئې نشته مخ په پاڼو پټوينه
چې شاه ليلى په کښې په ناز ږدې قدمونه

د غم پوليس راپسې ګرځي
د ليلى دوه ځايه ناستے دي
زۀ د ليلى په يارانه غل شوې يمه
يا د سيند غاړه يا د لوړو غرو سرونه

د شاه ليلى مينے موړ نه کړم
د ديدن وږې به ماړه که
زه که هر خوږے يادوم مزه کوينه
که شاه ليلى د مخه لرې کړي لاسونه

د قلا سر کنډ او کنډاو دي
ګلونه ځکه په خندا دي

په هر کنډاو کښې ليلى سترګې توروينه
چې شاه ليلى په باغ کښې سترګې توروينه

ليلى اوس هغه ليلى نه ده
د محملونو ليلى لاړه

مجنون مخ نه ئې اوچت کړه نقابونه
اوس په کلبو نو کښې ليلى کوي رقصونه

شاړې بنجرې شوے آبادے
د غره په سر چې درسره وي

اوس به ليلى غوا ګانے کوم ځاے څروينه
ته به واښه کړے زه به ګډے څرومه

ليلىٰ د قيس پښتنه اوکړه
ليلىٰ د قيس پښتنه اوکړه

ستا محبت کښې ليونے د غرونو شونه
واړه ئې اولى بيا هم ستا نوم يادوينه

لکه مجنون د يار کوڅه کښې
مجنون کوڅه کښې په ګډا شو

کاسه د خير ئې ليلىٰ ماته کړه مئينه
ليلىٰ ته پته زه مجنون د ليلىٰ يمه

زهٔ د ليلىٰ باغ کښې باغوان ووم
زهٔ د ګلونو اموخته ووم

په زيړو ګلو کښې مې شپې صبا کيدنه
اوس په تالا باغونو راغلم پاڼړے خورمه

د ليلىٰ کور ماته معلوم دے
د ليلىٰ کور به غلط نه کړم

مجنون ئې ايښې په کوڅه کښې قدمونه
په کښې پرتے دي د قيس وينے زيړ ګلونه

ليلىٰ خير واغست وره له لاړه
خير به د يار د دره يوسم

د قيس مجنون سره به ئې اوشي ديدنونه
که په پردو کوڅو کښې ئې خورم خوشحاله يمه

زما هغه ساعت يادېږي
زهٔ پر باور کولے نه شم

چې د ليلىٰ لکې وعدے ډير قسمونه
ليلىٰ په هره وعده خوري سل قسمونه

ريبار فکر پکښې اوکړه

ليلى ښائسته ده که رب زه ليونې کړمه

لاس په نامه ورته ولاړ يم
راشه خبر مې درته راوړه

چې د ليلى ريبار به څهٔ وائي حالونه
چې نازولي جينۍ ځان سنبالوينه

ریبار حال به راته وائي
ریبار زما نه بختور دې

چې مې جانان مجلس د چا سره کوينه
چې مې د يار سره د خوند مجلس کوينه

که د وصال زیرے دې راوړه
ریبار راشه چې دې ښکل کړم

ريبار لاس به دې په سترګو ښکلومه
تابه په دې سترګو جانان ليدلې وينه

ریبار مې ډیر ګرځندې راغلے
زما او ستا روغه ئې اونه کړه

چې مرور اشنا به څۀ وئيلي وينه
په ناقابل ريبار دې اوشي فسادونه

قلم زرشه کاغذ لیک کړه
کاغذ څه زمونږ ریبار شه

ريبار د يار په لوري ځي ناوخته شونه
په بې پرواه اشنا مې وايه سلامونه

ما تر وړوکي ریبار ځار کړي
خبر دې ګډ وډ دي راوړي

په ګنګړيا ژبه ئې او نه پوهيدمه
ورځه ورځه ريبار بيا به دې ليږمه

ریبار څه سلام مې وایه
ریبار ورشه ورته وایه

په هغې يار چې ئې مئين په سترګو يمه
پس له ماښامه ځوکيداره ناسته يمه

ریبار فکر پکښې اوکړه
ریبار زر شه ورته وایه

چې مې د کال خواري عبث نه کړي مئينه
ستا واړه بد مې په ليمو منلي دينه

ریبار فکر پکښې اوکړه
ریبار فکر پکښې اوکړه

ليلى ښائسته ده که رب زه ليوني کړمه
چې شال شړي سره يو ځاے نه کړي مئينه

ورشه د یار خیر دې واخله
ریبار ورشه ورته وایه

چې بې ديدنه دې ساتو ليونے شونه
هلک مئين دي خون به ئې ستا په غاړه وينه

د ریبارانو ځاے دوزخ دې
چې شیطاني کړې زویه ئې مړ شه

خدايه زما ريبار ته ورکړې جنتونه
چې ريباري کړې رب د ورکړي جنتونه

د قدمونو نه دې ځار شم
خدایا قدم ئې بختور کړي

ما د ريبار منت کاوه راغلے پڅپله
اشنا د ناز قدم زما په انګنړ ږدينه

شونډې مې اوچې کيږي
ريبار ما اشنا له بوځه

ماته ريبار د يار ګيلے راوړي دينه
که مرور زړګي مې بيا خوشحاله شينه

ريبار را نغلے خدايه دې خير کړي
ريبار لما نه بختور دې

مازيګرې دې نمر د غرونو په سر شونه
چې مې د يار سره د خوند مجلس کوينه

ريبار مې ډير ګرندې راغلے
ريبار واپس په چغو راغلے

چې مرور اشنا به څه وئيلے وينه
جانان ورکړې دې رټلي جوابونه

عاشقي مه کړه عاشق خوار وې
ريبار خداى د سزا در کړي

که دې سردار وې د ريبار محتاج وينه
په ايرو پټ اور دې ليدو ستي دې کړمه

جانان خپله تر ما راشه
جانان خپله راته وايه

زۀ به تر کومه د ريبار منت کومه
ريباران کله قبلوي پردي غمونه

جواب مې زر راوړه ريبار
ريبار رانغلے خداى دې خير کړي

زۀ له صبا په سرو غرمو ولاړه يمه
مازيګري دي نمر د غرونو په سر شو نه

د قدمونو نه دې ځار شم
ستا په راتلو خلق خبر شو

ما دې ريبار منت کاوه راغلے پخپله
اوس به دا سپينه خولګۍ تاسو کره وړمه

دلاله خداى دپاره ورشه
دلاله شنے لښتے به او خوري

د ګلو لښتے زه په زړه ويشتلے يمه
که په ورتلو د جانان اونه ژړاونه

د لاله فکر پکښې اوکړه
د لاله فکر پکښې اوکړه

چې شال شړۍ سره يو ځاے نه کړي مئينه
چې مې د عمر سودا او نه کړي زيان منه

د هر قدم بلا د واخلم
د هر قدم د قربان شم

ما د ريبار منت کاوه راغلے پخپله
هغه قدم چې دې زماپه لوري وينه

ريباره ورشه ورته وايه
ريباره ورشه ورته وايه

که د بديو زور لرې درسره ځمه
واړه بديدې قبلوم زړه درکومه

زما ربیار په ژړا راغلے
ربیاره ما اشنا له بوځه
یار جوړ ورکړي دې رټلي جوابونه
که مرور اشنا مې بیا خوشحاله شینه

ماله ورکوټے ربیار ښه دې
ماله ورکوټے ربیار ښه دې
چې په یوه خبره سل قسمه خورینه
چې په شپیړو ئې وهم لاس به مې وړینه

ما د وړوکي ربیار ځار کړې
ما دهغه ربیار ځار کړي
د اشنا یو خبره څو ځله کوینه
چې هر زمان ماله خبر د یار راوړینه

رنګ به مې ولے تغیر نه خوري
رنګ به مې ولې نه زیږیږي
چې د ربیار په خله د راکړل جوابونه
چې خپل اشنا راغځه واغستل لاسونه

د غمازانو کور دې وران شي
پخلا اشنائي رانه بیا مرور کنه

د غمازانو له هیبته
ښکاره په خله وئیلے نه شم
د جانان لوري زه په خله نه یادومه
د مینے راز دې له غماز ئې ساتمه

غماز اور دې ګور کښې واخله
غماز خوار شي مونږ دې خوار کړو
چې دې زمونږ په یاري اور اولګونه
شړې دې لنګ شه چې شلوي پردې شالونه

ښه شوه چې ته د خیره راغلے
که عمازان په مینځ کښې نه وي
د غمازانو په کور پریوتل ویرونه
ما به له تا سره همیش کړو مجلسونه

چې سود و زیان دې پکښې نه وي
غمازه مخ به دې خدای تور کړي
غماز ولے بدوي د خلقو زړونه
زما اشنا ته زیاتي مه کړه غیبتونه

د عمازانو کور دې وران شي
ستا د قسم په پاک الله وي
پخلا اشنائي رانه بیا مرور کنه
ما د غماز په توره مه وژنه مئینه

ولے به نه ژاړم جانان
غماز غیرګ زامن دې مړه شه
چې په لمسون دې د غماز رټلے یمه
چې یو ښخیږي بل د مرګ سلګۍ وهینه

معشوقه ګل عاشق بلبل دي
ګل به له څنګ جدا نه کړم
غماز ازغي شي خوار بلبل آزار وينه
که غمازان مي سر له تنه جدا کړينه

د غمازانو خوا سره شوه
د غمازانو خوا سره شوه
کوڅه خالي شوه د جانان له قدمونه
ما وفا دار اشنا ته ورکړه جوابونه

د غمازانو دا ژوندون دې
د غمازانو کور تالاشه
چې رنګوي د معشوقو د زړه برجونه
په ما ئے بند کړلو د خپل يار ديدنونه

د غماز کور نشته چې وران شي
د غماز هسے نوم بد نام دې
په نورو خلقو ورانه وي ودان کورونه
يار ته د يار د لاس رسي نقصانونه

د غماز سپي به دې بيا اوخوري
جانانه مه ګرځه قلار شه
جانان مه غواړه بې وخته ديدنونه
چې په پردو کوڅو کښې ځي سپي به دې خورينه

د غمازانو د خندا شوم
د غمازانو له هيبته
نور د جانان په يارئ ته ترم شرطونه
د جانان لوري زۀ په خله نه يادومه

د شپے د يار د غم ژاړم
د شپے وصال په ورځ بيلتون کړه
ورځ د اولس د غم ګوټ کښې تيرومه
چې غمازان مو ترمينځ نه کوي فکرونه

تاته يوه کړي ماته بله
تاته يوه کړي ماته بله
غمازان خپله مدعا سره کوينه
دلال د خپلې يارئ بند پکښې ترينه

چاره راواخله ما حلال کړه
چاره راواخله سر مې پرې کړه
د غير غماز په خله چې رانه کړې زورنه
لائق د مرګ يم چې په تا مئيندمه

چې ما وئيل هغه دنه کړل
چې ما وئيلے تا کولے
خاورې ويرے شوې اوس د باد راپسے وړينه
غماز ناولے په مخ تور د مينځه تنه

چېمې جانان پرې خوشحاليږي
چې مېجانان راسره ګرځي
زما د حال د سر ببرو په شان وينه
د غمازانو بيا زۀ څۀ پرواه کومه

چې غمازان په کښې شریک شي
چې غمازان پکښې شریک شي
عاشقان در په در د دوي د لاسه وینه
هغه دوستي په دښمني بدله شینه

ستا په جفا نه یم چې ژاړم
ولے به نه ژاړم جانان
ما ژړوې د عمازانو پیغورونه
چې په لمسون دې د غماز رټلے یمه

خبرې کړې رنګ دې تغیر دې
خبرې لنډې لنډې وایه
لکه چې لار کښې دې غماز لیدلي وینه
اوس به غماز د پاسه راشي چې پاسونه

د غمازانو خوا سړې شوے
دغمازانو خوا سړے شوے
قطرے قطرے د خپل اشنا د لاس شومه
یار مرور شو زهٔ یواځے پاتے شومه

د غمازانو دا ژوندون دي
د غمازانو کور تالا شه
چې ړنګه وي په معشوقو د زړه برجونه
په ما ئې بند کړلو د خپل یار دیدنونه

ګناه را زباط کړه سر مې واخله
غماز برغ ځامن د مړه شه
څوک د غماز په وینا نه کوي مرګونه
چې یو ښخیري بل د مرګ سلګۍ وهینه

غماز ورک شه مخ دې ورک شه
عماز مخ به دې خدای تور کړي
چې دې زما جانان ته څه وئیلي دینه
زما اشنا ته زیاتي مه کړه غیبتونه

غماز ستا په شرارت کښې
عماز زړه د زما وریت کړو
د خپل لاس مې یار دار ته خیژوینه
دا مې دعاده خدای د تا اوسوزوینه

غماز د خاورې کورته یوسي
غماز د خپله غمازي کړي
زهٔ د ګلونو غنچه لاس کښې ګرځومه
چې ستا کرم وې غماز څه کولي شینه

غماز جواب کښې راته اووے
غمازه کور دې الله وران کړه
عادت مې نه دې د دوه زړونو پیوندونه
چې ورانوي د عاشقانو سم کورونه

غماز تانه څه ګیله ده
غماز ستا د لاس آزاد وي
زهٔ ګیله من د بي وفا جانان یمه
که یار زما وي ستا به نه اوري لمسونونه

لارو کوځو کښې غمازان دي
لارې کوځې راته بندي شوي

زهٔ د جانان دیدن له تلم اوي نیومه
یاره ښامار شه په بلې راشه مئینه

غمازه ماته چغلي مه خوره
چغل خوري بده بلا ده

ستا په چغلي زهٔ خوږ جانان کله پرېږدمه
چغل خوري باند ورانیږي سم کورونه

غمازه دا دې څه سودا ده
غماز جواب کښې راته اووې

چې دو مئین جدا کوي فائده د کومه
عادت مې نه دې د دوه زړونو پیوندونه

ورک شوې یار په ګوتو راغلې
غمازه ورک شې مخ د تور شه

لکه د ګل په شان پرې زهٔ اوغوړېدمه
چې دې زما اشنا ته څهٔ وئیلي وونه

د غمازانو د خندا شوم
یار چټاکې دیدن رانه کړو

نور د جانان په یارۍ نه ترم شرطونه
زهٔ نادیده ورته خمبې اوزګارومه

خبرې کړې رنګ دې تغیر دې
اوس راته وایه څه به کېږي

لکه چې لار کښې دې غماز لیدلے وینه
که غمازانو مونږ یو ځاے اولیدونه

اشنا غماز سره ولاړ دې
غمازه مخ به د خدای تور کړي

ځکه مې اوښکې په مخ لارې جوړوینه
زما اشنا ته زیاتي مه کړه غیبتونه

حال راته وایه څه به کېږي
زهٔ له غمازه ګیله نه کړم

چې غمازانو مونږ یو ځاے ولیدونه
ازغي د ګل سره مدام اړه لرینه

غماز که سل ځله ځان خوږ کړي
که د غمازو لمسون نه وي

هیر به مې نه شي د هجران سوي داغونه
ما به د یار په څنګل تل کول خوبونه

رقیب بې شکه چې رقیب دې
په تا مئین دې زهٔ مئین وربانده یمه

په ذوالفقار مې مري پرې کړه
تیر مې رسا په زړه کښې ښخ شو

په رقیبانو باندې مه اچوه لاسونه
چې په رقیب باندې دې واچول لاسونه

په اخرت خوار شې رقیبه
دیدن د یار مې نصیب نه شو
په لاس راغلے یار د بیا مرور کنه
د رقیب غشي مې په زړه اولګیدنه

دا ټول زما د مرګ ترون دې
رقیبه مه راپورې خانده
چې رقیبانو ته کوي اشارتونه
صبا به ستا په کور نعرې د بیلتون وینه

رقیبان ډیر جمع ولاړ دي
رقیبان سو کښې راته ناست دي
خپلو کښې شونډې رپوي کړي سازشونه
ته اشارت په سترګو کړه زه به درځمه

رقیب چکے راباندې اولي
غاړه غتې راسره ګرځه
زۀ د جانان دپاره داؤ به پرې ترړمه
چې د رقیب په زړه کښې جوړ شي پرهرونه

ذبیحه بې تکبیره نه شي
ګریوان نیولے ئې روان کړم
ما رقیبان په بسم الله حلالوینه
نن مې رقیب ظالم قصاب ته رسوینه

تیر مې رسا په زړه کښې ښخ شو
ستا د قسم په ذوالجلال وي
چې په رقیب باندې دې واچول لاسونه
زما په مخکښې به بل مه اچوه لاسونه

که د جانان ایمان مې یو وے
که د جانان سره یو ځاے شوم
په ما به ئې نه کړل د رقیب سپي خدمتونه
زۀ به ګیلے د بد رقیب ورته کومه

ګل به په زلفو کښې ترې پټ کړم
د رقیب غیرې له ورنه شي
چې رقیبان ئې په لټون ستومانه شینه
د ګلو لښته به راماته شه مئینه

ملک الموت که مې اشنا وې
مئین په زۀ خفه رقیب دې
ما به پرې خپل رقیبان ټول وژلي وونه
دا مې نصیب دې چې تالا په دنیا شومه

نن مې ښه پوخ یقین پیدا شو
زما جانان ژوندے اوسے
چې یار رقیب کافر ته ورکړه جوابونه
زه د مستي ټوپونه ستا په سر وهمه

یو ځلے ته په خندا راشه
تا د رقیب مخکښې کچه کړم
بیا د رقیب د لاسه مړ خوشحاله یمه
جانان داسې خو څوک نه کوي کارونه

رقیب بې شکه چې رقیب دې
زۀ خو په تا پسے رنځور شوم

په تا مئین دې زۀ مئین ورباندې یمه
ته په رقیب پسې رنځوره شوے مئینه

رقیبه تا باندې زیریږم
په جانان چرې مه غلبږه

بې وفا یار چې درته ایښي دې دامونه
بچ تر نه اوسه نصیحت درته کومه

جانان ستا کوڅے ته لاړم
هیڅ مې حسد درسره نشته

رقیب سره مې د کور اوکړل طوانونه
رقیبه ستا رقیب راتلو چې زۀ ورتلمه

د رقیب کور مې دے کوڅه کښې
جانان زیرے راله راکړه

ځکه خوزه د اشنا مخې له ورځمه
نوے رقیب به ستا تر کوره را ولمه

خدایه له دې به سخته څه وي
ربه په داسې اور مې سیزې

د یار تلاش کښې د رقیب کور له ورځمه
نه ئې لوګے شته نه ئې تاؤ چاله ورځینه

جانان یو سوال درته کوومه
زۀ دې په ژوند باندې پښیمان کړم

چې زۀ ولاړ یم په چا مه اچوه لاسونه
چې دې رقیب په اوږه کیښوده لاسونه

زۀ د جانان جانان د بل دې
زۀ د جانان د جواب نه یم

که په رقیب مې خرخوي ورسره ځمه
رنځور ناتوانه د روغ څه جواب لرینه

په ما دې ځان د انځر ګل کړو
په ما دې ځوانه ځواني اور کړه

په رقیبانو دې دیدن کړې بارانونه
په تا دې اور شي دیدارانو مجلسونه

ګله خندا کړې تشه ماته
ګله خندا کړې تشه ماته

ځان د رقیب د غاړې هار دې کړو مئینه
ته د رقیب سره جوړه ګرځې مئینه

تق مې د ښت پټونو اوکړو
جانان به څۀ مانه رضا شي

چې مې جانان په رقیب واچول لاسونه
چې رقیبان راته په کور کښې پیدا شونه

سوړ اسویلے مے د خلے لاړو
دزړه په سرمي انګار جوړ شو

چې مې اشنا د بل په ښنګ کښې اولیدنه
د اسویلو سره سروټکے غور ځومه

دا ټول زما د مرګ ترون دې
ستا د قسم په ذوالجلال وي
چې رقیبانو ته کوي اشارتونه
چې زۀ ولاړ یم په بل مه اچوه لاسونه

یا رمې د بل په خوا کنبې اولید
ستا د یارۍ به توبه نه کړم
جامو مې اور واغست صورت مې لمبه شونه
که تن مې اوسوزي هډوکي ایرے شینه

د دشمنانو خوا سرے شوے
څنګه قلاره خاموشي شوه
کوڅے خالي شوې د اشنا له قدمونه
چې لیونې اشنا مې ورک شو له وطن

باب: 5

ښه او بد خصلتونه

دا ما په خپله په ځان کړي
ګيلې د خلقو نه کوم ليونې يمه

هغه ده راغله څۀ به وائي
ما ورته غوږ په غور نيولے
درشل ئې اونيوه ګيلے راته کوينه
چې په وړه کوکۍ ګيلې راته کوينه

شمع پتنګ نه ګيله اوکړه
شمع تپوس به درنه کيږي
چې ستا وزرو راته وران کړه سنګارونه
ډير پتنګانو له دې سوي دي ځانګونه

دا راله راغله څۀ به وائي
ګيلے د ټولے په ما بار کړي
کټکې ئې واچوؤ اوس ګيلې راته کوينه
راته ښکاريږي د دوستۍ اخلي لاسونه

ګيله د خپله ياره کېږي
ګيله له ما مه کړه جانان
له بيګا نه خلقو به څه ګيله کومه
ګيله د خپل زړګيه کړه چې ټول دې کنه

جانان زما نه ګيله مند دې
زما په دې کښې څه قصور دې
چې کور او کلي کښې ئې زۀ رسوا کومه
چې يار مې ياد شي زنځيرونه اوشلومه

پتنګ د شمع خواله راغلے
پتنګ د شمع ګيله مند دې
شمع مخ پټ کړو وائي نه دې پيژنمه
زه ګيله مند د مرور اشنا نه يمه

په صبر صبر مې زړۀ شين شو
په صبر صبر پوره نه شوه
يار شو شبقدر په لاس نه راځي مئينه
صبا مې نيت دې بې صبرې ته ملا تړمه

شونډې مې شونډو پاسه کيده
ښه شوه چې خپله دې پوره کړه
پو خو ګيلے درته کوم بيا درنه ځمه
اوس دې ګيله له ما بې ځايه ده مئينه

که د جانان ايمان مې يو وې
که د جانان سره يو ځاے شوم
په ما به ئې نه کړل د رقيب سپي خدمتونه
زۀ به ګيلے د بد رقيب ورته کومه

چاړه راواخله سر مې پرې کړه
دا ما بڅپله په ځان کړي

ګناه مې دا ده چې په تا مئیندمه
ګیلې د خلقو نه کوم لیونے یمه

زۀ له غمازه ګیلا نه کړم
زما له خپل یاره ګیله شي

ازغي د ګل سره مدام اړه لرینه
نه ئې اشنا کړم نه ئې راکړه جوابونه

زما ګیلې به له چا څه شي
زۀ له خوبانو ګیله نه کړم

په نصیبه د خوارو خواری برخې وینه
ګیله د ځان ده چې په دوي مئیندمه

زما له تانه ګیله نشته
ستا به زمانه ګیله کېږي

زۀ ګیله مند د خپل زړګي کمبخته یمه
زۀ ګیله مند د تمام جهانه یمه

ډیرې ګیلې زما په زړۀ دي
په زړه مې بار د ګیلو جوړشي

هله به ئې وایم چې یار مخامخ شینه
بیا تار په تار شي چې د سترګې اووینمه

ډیرې ګیلې زما په زړۀ دي
په زړه مې بار د ګیلو پروت دې

چې جدائي شوه اوس ګیلې چاته کومه
اوس به ئې د ځان سره تور لحد ته وړمه

په زړۀ دې څۀ دي راته وایه
په زړۀ مې ځای د ګیلو نشته

خمارو سترګو دې ګیلې راوړې دینه
هلته به ئې وایم چې د سر په څنګل ږدمه

ته په قلاره خپل معاش کړې
ته رانه لاړې زۀ دې پرېښوم

یاره انبار د کړه په ما باندې غمونه
کله ژړېږم کله هسې خفه شمه

په خله د یوه په زړۀ دې بله
په زړۀ یوه په خله ئې بله

د سپلمې ګله تش په رنګ دې تیروتمه
په دورنګي د جانان ډیره خفه یمه

ته مرور له ما په څۀ ئې
په ما دې بد لالے ثبوت کړي

ګناه را اوښایه چې نور ئې نه کومه
بې بدو زړۀ زمانه څله بدوینه

جانان مې بد راسره اوکړو
ته چې هر څه کړې بې ګناه ئې

عجیبه دا ده چې ګیله له ما کوینه
زۀ دېپه یو اسویلي ورک له ملک کړمه

جانانه داسې خو څوک نه کړي
جانان ته خو داسې نه وې

جانان ولې دې پردې کړم
تا وې زۀ ستا یم ته زما ئې

چې مې باور ورباندې ډیر وو
ته چې زما د یارئ نه وې

جانان ولې بې وفا شوې
پربېږده چې خاورې په سر نولم

ته له جانان ګیلې مه کړه
زما له هیچا ګیله نشته

زړۀ مې د سترګو ګیله مند شو
سترګو نه کمه ګناه شوې

پټ به په زړۀ دردونه تیر کړم
پخوا د صدق یارانې وې

څه به دې ښۀ ورځې خاوند شي
د جانان دې ظلم ته ګوره

ګورې زمانه خفه نه شې
ګیلې کووم غوږ پرمه ږده

ښه شوه چې حال د رامعلولم شو
ښۀ شوه چې حال دې رامعلولم شو

ښۀ ده چې ستا د لورې پرې شوه
ښۀ شوه چې خپله دې پوره کړه

لکه د سوال قطره دې اور ته اونیومه
د چا خبرې دې ضرور منلې دینه

تا وې تر مرګه به دې زړۀ کښې ګرځومه
اوس راته وائې مانه اونغاړه لاسونه

هغه جانان د زړۀ په سر راکړه داغونه
زما وده زړګې دې ولې وینښونه

چې بې ګناه دې ماله راکړه جوابونه
په بې وفا لباسي ولې غلیدمه

ظالم دې زړۀ دې چې مدام دې ژړوینه
زړګیه خوار شې تا د ژوند نه اوویستمه

چې ته دیدن کړې زۀ غمونه تیرومه
چې زړۀ مئین شي سترګې تل کاته کوینه

بې درده یار ته به اونه وایم حالونه
یار به د یار سترګو ته عمر تیرونه

چې بې ګناه په ما غریب کوي ظلمونه
یو مې وهي بل مې ژړا ته نه پربېږدینه

زړۀ مې ګیلې درته لیږي زۀ سلامونه
که ته پوهیږې دا دې مئینه زیاتومه

پټ خبر نه ووم په ظاهر دې نازیدمه
د سپلمئ ملخه تش په رنګ دې غولیدمه

چې ملامته درته زۀ نه شوم مئینه
اوس د ګیله زما بې ځاے ده مئینه

ښه ده چې ته په کور پورا شوې
ښۀ ده چې تانه پوره نه شوه
زما سبب دې مولا بل اوکړي مئینه
چې ملامته درته زۀ نه شوم مئینه

خود به یواځې پاتې کیږم
پردي راوړې نه خپلېږي
خپل مې پردي کړه پردو اونه پیژندمه
که د طوطي په شان ئې اوکړې خدمتونه

ډیرې ښیرې به درته نه کړم

مرګ د میلمه شه چې دې خلاص له غمه شمه

په مرګ دې نه مري آشنا خوږ دې
په تبه پریوزې مړ په مه شې
بده نیستي ده په نیستۍ دې بدرنګ شینه
چې د غرمۍ غرمۍ پښتنې له درځمه

په سترګو ړوند شې راته ګوره
زما دې سترګې دوزخي شي
په تش کتو به دې څوک سر نه پریکوینه
که بې له تا مې چاته غټ کتلي وینه

په خله به غږ درته اونه کړم
ظالمه ظلم دې ګندېر شه
په زړۀ کښې پټې به ښیرې درته کومه
چې د مظلوم زړګي په امن پاتې شینه

جانان ته به هم ښاد نه شې
جانان خدای دې سزا درکړي
چې مې دا خوږ زړګې ښیرې درته کوینه
په مخ مې اوښکې مدام ستا د لاسه ځینه

شوله ورږۀ کې ځواني مرګ شې
تنکے تنکے ځواني مرګ مړ شې
تر غټېدو مې زړګي نه کوي صبرونه
زۀ دې په تش دیدن پسې لیونې کړمه

رب خو دې وار د ځوانۍ تیر که
ډیرې ښیرې به درته نه کړم
چې کبر ژن ځان ته دې فکر شي مئینه
خدای دې په سرو جامو کښې کنده که مئینه

خدای دې د بام راګزار کړۀ
رب دې زما په غیږ کښې مړ که
چې ړانګه بانګه دې په ځان راواړومه
چې ته سلګۍ وهې زۀ د شونډې ښکلومه

تنکے تنکے ځواني مرګ مړ شے
تنکې ځواني دې اور پسې شه
زۀ دې په تش دیدن پسې لیونۍ کړم
په اور لمبه شي چې سیزې د خلقو زړونه

یار بې رضا رانه رخصت شو
خاوند دې دا وارې رضا کړه

معلومه دا شوه بې رضا د ملکه ځینه
خوره جانان بیا به ستا رضا کومه

یاره یاري راسره اوکړه
چې محبت راسره نه کړې

د بیلتانه دریاب لاهو کړم مړه به شمه
خدای دې ما مړه کړي چې د غمه خلاصه شمه

ته د ټوپکو خله کښې ورشې
په شپږ مخي ټوپک سورې شې

یاره په ما باندې دې کړي دي ظلمونه
چې دې دننه زړه کښې جوړ شي پرهرونه

ډیرې دعا راته ښیرې شوې
ډیرې ښیرې به درته نه کړم

نورې ښیرې راته کوه چې دعا شینه
مرګ دې میلمه شه چې د خلاص له غمه شمه

صبر به کړم ښیرې به نه کړم
صبر په هر څه کښې پکار دې

صبر ډېر ښه دې بریالے به شم مئینه
په صبر صبر معشوقې لاس له راځینه

صبر په هر څه کښې مزه که
صبر چې اوکړې هغه موړ شي

په عاشقې کښې بې صبرې مزه کوینه
عاشق دې خوار شي چې به صبر قبلوینه

صبر د قبر نه کم نه دے
صبر د لوے کمال جامه ده

زۀ چې مدام صبر کوم خاورې به شمه
رب په قرآن کښې صابرین وئیلي دینه

صبر کوم صبر مې نه شي
صبر کوه بې صبري مه کړه

صبر د ورک شي چې جانان به هیروینه
زور د الله د صابرانو سره وینه

صبر کوه که درنه کیږي
صبر مې ډیر ورپسې اوکړو

د صابرانو سره خدای ملګري وینه
نور مې د صبر جام لبریز دې وابه وړینه

صبر کوه صبر به کومه
صبر که هر څو زړه ته ورکړم

په بې صبرې معشوقې چا موندلي دینه
له نازنین اشنا نه نه اخلې لاسونه

صبر مې کړو سود مې او نه کړو
صبر مې نور د مخې نه شي

صبا له لاس په بې صبرۍ پورې کومه
زړۀ مې د خلے پورې راډک دې مړ به شمه

زما دعا ورته ښیرې شوې
دا ستا دعا راته ښیرې شوې
اوس به ښیرې ورته کوم چې دعا شینه
لړې ښیرې راته کوه که دعا شینه

صبر کوه خدای به مې ستا کړي
صبر کوه صبر صابر دې
په بې صبرۍ معشوقې چا موندلې دینه
د صبرناکو خلقو خدای ملګرې وینه

صبر کوم صبر مې نه شي
صبر د زړهٔ راکړې خاونده
بې صبره زړهٔ مې د شپې کورته نه پرېږدینه
چې نور او نه ګرځم په ورانو بورجلونه

خالق دې ما په سترګو ړوند کړي
په تورو سترګو مې ړنده کړې
چې یار مې لاړ د نورو نه کړم دیدنونه
چې اشنا نشته زهٔ ئې څله تورومه

په خټه ځي په خټه ډوب شي
دا په دکن دې ځلي جوړ شه
جواب دې راشه چې د غمه خلاصه شمه
کاغذ د راشه چې د بند خلاصه شمه

خدای ښیرې ورته دعا کړې
خدای دعا راته ښیرې شوې
کا ښیره لور مې د زړهٔ اخلي ازارونه
لړې ښیرې راته کوي که دعا شینه

زما د زړهٔ غلبیل غلبیل کړو
شوله وړوکې ځواني مرګ شي
غندل غندل ځواني دې خاورې شه مئینه
تر غټیدو مې زړګي نه کوي صبرونه

لاس دې ټوټې ټوټې قیمه شه
ظالمه ظلم دې ګنډېر شه
ظالمه تا مې په مخ جوړ کړل نشانونه
چې د مظلوم زړګي په امن پاتې شینه

نه مې زړګي درته دعا کړې
نه مې سرغوخ نه مې لاس مات دې
نه دې دښمن په شان ښیرې درته کومه
زهٔ د جانان د یارۍ څنګ واخلم لاسونه

سترګې د شرم و حیا ځای دې
چې مئینه راشي حیا واخلي رخصتونه

له خپل یاره پرده نشته
نقاب د پورته کړه له مخه
په پیکي ولي پټوي شنکي خالونه
خپلو خپلوانو کښې خو نه وي حجابونه

لباس د شته اخلاص دې نشته
لباس د شته اخلاص دې نشته
خوشې د اوونه راکوے ستې دې کړمه
ما چې اخلاص کولو خلاص له حيا شومه

زما د زړۀ په سر ولاړه
زما د زړۀ په تخته ليکه
حيا مې لاړه چې په تا مئيندمه
بيا بيا د نوم په بې خودې خلے له راځينه

حيا و شرم په کښې نه وي
حيا و شرم په کښې نه وي
ځوک چې بندې د محبت په جال کښې شينه
ځوک چې عاشق شي خپل مطلب اغستې وينه

په خله مې مهر د حيا دې
ځان سره ځکه پټ پټ ژاړم
د زړۀ د حال مخلوق نه خبرومه
نور خلق ولے ځان سره اوژړومه

ښۀ دې چې بې نقاب ګرځې
سپين مخ نه تور نقاب اوچت که
د حيا چشمو پکار نه دي حجابونه
چې حيا وې ضروري نه وي حجابونه

له ډيره شرمه ئې مخ سور شي
د جانان سترګو کښې حيا ده
چې د جانان په لورې سترګے واړومه
چې مخ ئې سور شي سترګے بل خوا واړوينه

نقاب د پورته کړه له مخه
زړګيه ځان ورته تيار که
خپلو خپلوانو کښې خو نه وي حجابونه
جانان د سپين مخ نه نقاب اوچتوينه

ته چې په برندو راته ګورې
زۀ دې لا نور په ځان مئين کړم
زۀ له حيا نه مخ له تانه واړومه
تا چې له کبره مخ له مانه واړونه

ته به مې بولے کبر ژنه
په خلے مې مهر د حيا دے
زۀ له حيا نه مخ له تانه واړومه
وئيلے نه شم چې په تا مئينه يمه

ګوره چې مانه خفه نه شې
د حيا مهر مې په خله دې
زۀ له حيا نه مخ لتانه واړومه
د زړۀ رازونه په خله ځنګه راولمه

چې پام ئې نه وي ورته ګورم
زما پرې تنده ماته نه شوه
چې راته اوګوري مخ بل خوا واړومه
د يار په مخ باندې پراته وو نقابونه

حيا زما سترګو کښې نشته
حيا زما سترګو کښې نشته
ته مې کنځې زۀ درته شين د خندا شمه
يار سل وارې دې زه تش شړلي يمه

که د دنيا شرمونه نه وي
که د دنيا شرمونه نه وي
تا به منګي وړه زه به تش درسره تلمه
شاخيله ياره درسره به ګرځيدمه

سترګو ته ئې غټ کتلے نه شم
سترګې د سترګو نه شرميږي
ماله حيا د يار د سترګو نه راځينه
اشنا زما نه شرميده نه ئې ليدمه

سترګے د شرم و حيا ځاى دې
چې سترګې تورې کړم شرميږم
چې مينه راشي حيا واخلي رخصتونه
چې شونډې سرې کړم شرم شاته واړومه

شرمنده يار مخے له راغلے
خاونده ما ملامت مه کړې
د خپلو بدو شرميده کوز ئې کاتنه
ملامت يار ښۀ دي چې سترګې کوزې وړينه

په خله زما چرته جوړيږي
په خله مې مهر د حيا دې
چې ورته اوکړم مخامخ ښه تقريرونه
د زړه د حاله زه مخلوق نه خبرومه

په خندا هر جينۍ خاندي
ليلى چې خاندي ملغلري تويوينه

خندا دې ټوله لباسي ده
خندا دې ډير خلق تباه کړل
په لباسي خندا دې تيره کړم مئينه
خله دي کړه بنده چې نور نه کوي مرګونه

خندا دې ماله مزه راکړه
ګلان په زمکه کښې کرل شي
چې دې انار د سينې برغ اوړقيدنه
ما خپل جانان له په سينه کرلي دينه

خندا کوه که درنه کيږي
خندا کوي بيلتون دې هير دې
ماته پراته دي په دلو دلو غمونه
که در په ياد شي په ژړا به شي مئينه

خندا په غم کښې کله کيږي
خندا هوس راته پيغور دې
ماته له ډيره غم نن خندا راځينه
د عاشقانو دود ژړا خود به ئې کومه

پرون د مور په خوا کښې ناست وو
پرور دګار به ترې خبر وي

نن به ئې سپينه لمن کوم ځاے باد وهينه
د خندا ډکه خله به چرته ناسته وينه

په خندا هره ليلی خاندي
په خندا هره جينۍ خاندي

دا يوه نيمه د زړۀ زنګ لرې کوينه
ليلی چې خاندي ملغلرې تويوينه

څنګ له مې راشه په خندا شه
څنګ د ورايه په خندا شوے

چې رانه بيرته شي درانه غمونه
لکه چې غم دې د زړۀ پاک هير کړې وينه

خدائ د خلقو د خندا شوم
د وړو لويو د خندا شوم

يار مې بنړيا شو اوس پيسے پيدا کومه
خداى دې په مينه کښې څوک نه رسوا کوينه

دا ګل دې راکړو په خندا شوے
دا ګل دې راکړو خداى دې ګل کړه

زۀ دې د ګل نه په خندا خوشحاله يمه
مولا دې ستا عمر د ګل نه کړې مئينه

د تبسم خندا دې اوسوم
خندا د بې اجله مرګ دې

د قهقهو خندا دې باد د فلک کړمه
په بې اجله مرګ مې مه وژنه مئينه

د خندا ډکه خله دې راکه
د خندا شنه شوه مخ ئې ستون کړو

که بيا مې وژني هيڅ ارمان به نه لرمه
زما قرار زړګې ئې بيا بې قرار کنه

د خلے خندا دې ما سره ده
ستا لباسي خندا دهوکه کړم

د زړۀ تمبې د غير غماز بيرته کوينه
ځکه مې اوښکې له نيازبينو سترګو ځينه

په حال مې مه کوه پښتنه
په حال مې يو الله خبر دې

زه لا وارثه مړې پروت يم بې کفن
د چا د غم لار کښې شنه شم او خاندمه

جبل وهه دنيا پرسته
ماته په سترګو کښې موسکې شه

زما د ناز خندا دې هيره شوه مئينه
تا مردې بيا د سرو لمبو ته اونيومه

چې ستا وصال مې راپه ياد شي
چې مې په ياد شي خپله ياره

د خندا ډکه خله زما په غاړه شينه
که خله مې ډکه له خندا وي اوژاړمه

ځنګ ته مې راشه په خندا شه
ځنګ په خندا شمه دلبره

چې رانه بېرته شې درانه درانه غمونه
تل راکوي د عاشقۍ سوي داغونه

خندا له تا سره جوړېږي
خندا له تاسره جوړېږي

چې اننګي د پرې ځلور ترازې شينه
ماته پراته دې په دلو دلو غمونه

خندا په غم کښې کله کېږي
خندا په هغه خله مزه که

ماته له ډېره غمه نن خندا راځينه
څوک ئې چې هر ماښام د يار سره کوينه

د خيال خندا به ولې نه کړم
خندا کوه چې درنه کېږي

بېګاه مې يار په خوب ليدلے رابه شينه
مدام به نه وي خندا ګانې محفلونه

د ګلبدن خندا که غواړې
څوک چې ژړا په لوې سحر کړې

لکه شبنم په سحر تل ژاړه مئينه
خدای به ئې پوره کړي د خوږ من زړګي سوالونه

د ليونۍ داسې خندا ده
يو وارې دا ځلے ځله شه

د سلو کالو مرور ځلا کوينه
دوران به تير شي نيمه خوا به پاتے شونه

دومره دې ترس په ما نشته
دومره لائق د خندا نه ووم

زۀ درته ژاړم ستا خندا راپورې شينه
لکه چې تا دا د دنيا د خندا کړمه

دولت د يار د سرا ځار شه
دولت دې ستا نصيب شي ياره

دولت هميش وي ياران کله کله وينه
ماته د ناز خندا کوه خوشحاله يمه

ډېره خندا مې ځنګ کښې مه کړه
بيلتون خدای دې ځواني مرګ که

بيلتون روان دې دوه مئين جدا کوينه
مالا جانان ليدلے نه وو بيل دې کړمه

خدای دې زما په حال خبر که
خدای دې زما په شانتے حال کړه

چې د شرينے خندا پاتے شې مئينه
چې د شرينے خلې د واورم فريادونه

زما په حال الله خبر دې
زما په حال دې خدای خبر که

د دنيا ګۍ عالم پرې ځله خبرومه
چې د شيرينې خندا پاتې شې مئينه

زما او ستا د یارۍ څۀ وو
زما به لاس ستا به ګریوان وي
نرۍ نرۍ خندا دې کړۀ مئین دې کړمه
که دا خندا دې د ټګۍ راسره وینه

زما په هسې نوم بد نام دې
زما په هسې نوم بد نام دې
جانان په پټه خندا بل سره کوینه
د امرسو دسمال ئې برکندي له ځینه

زما د یار داسې خندا ده
زما د یار داسې عادت دې
د سلو کالو مرور پخلا کوینه
چې په خندا شي د زړۀ غم اوزغلوینه

ستا به د تشې خله خندا وه
زما او ستا د یارۍ څه وو
زۀ به دې مخبنکې د نوکر په شانتې تلمه
نرۍ نرۍ خندا دې کړه مئین دې کړمه

ظاهره اوخاندمه شین شم
ظاهره خلقو ته خندا کړم
زړۀ پیمانه د یار د غم ګرځومه
دننه زړه مې د بټۍ کودرې شونه

طوطي خفه پنجره کښې ناست دې
طوطي دغم پنجره کښې ناست دې
ښارو په سر د بلۍ اوکړل آوازونه
ښارو لنډې دیوال ته راشي اوخاندینه

که دې خندلې راته نه وې
که دې خندلې راته نه وې
غریب سړې ووم خپل روزګار به مې کاونه
نرې نرې زړۀ به مې ولې خوړیدنه

ماته د ورایه په خندا شه
ماته د لرې په خندا شه
چې خطرې مې دزړۀ لرې شي مئینه
زۀ د په لار کښې څوکیداره ناسته یمه

ما ئې له سرو اننګو ځار کړې
خندا له تاسره جوړېږي
نرۍ خندا چې پرې خوربږي خوند کوینه
چې اننګي د پرې څلور ترازې شینه

نه به مې یار په خندا راشي
نه به یار بیا په دې لار راشي
نه به زما د غم ژړا قلاره شینه
نه به زما د زړګي ډک شي پرهرونه

په ما خو ځائ د خندا نشته
چې جانان او وینم مسکې شم
د نا خوالئ نه ستا په مخکې او خاندمه
د زړۀ خفګان چرې په خله نه راولمه

مينې د دومره ليونے کړم
چې زۀ عمژن يمه ته خاندې

چې په خندا غلطوم د زړۀ غمونه
سره د دې درله اشنا قدر کومه

ته چې غصه کښې په خندا شوے
جانان تۀ چې په خندا شې

هغه ادا به دې زۀ څنګه هيرومه
ستا په خندا زۀ د ګونګرو ګمان کومه

ولے به زۀ تري نه ځاريږم
په خندا مئينه نه ما ماتېږي

چې مورته شا کړي ماته شنه د خندا شينه
څو ئې د دنګې غړې تاؤ نه کړم لاسونه

په خندا شنه شوے په ملا ماته
له خنېدا شنه شې په شا لاړه

په زړۀ دې نشته د يارۍ سوي داغونه
چې څوک ئې غوږ کښې د جانان نوم يادوينه

د خيال خندا به ولې نه کړم
که هر څو ډير فکر مې اوکړو

بيګاه مې يار په خوب ليدلې رابه شينه
په لباسي خندا دې اونه پوهيدمه

دا ستا به هيڅ پرې هم کم نه شي
که راکوي کوکۍ دې راکړه

تشه خندا دې په ما پريوزي په لکهونه
زۀ دې په تشه خندا نه يم راضي منه

شوله د زړۀ کرکه دې اوشه
شوله وړوکې ځواني مرګ شي

زۀ درته ژاړم ستا خندا راپورې شينه
تر غتيدو مې زړګې نه کوي صبرونه

ښه ده چې مړ ورباندې نه يم
عالمه يار مې بازاري شو

ستا لباسي خندا د هر چا سره وينه
د تشې خلې خندا په بيعه خرڅوينه

که دې خندلي راته نه وي
که مې خندلي درته نه وي

پردې سرې ووم خپل روزګار به مې کونه
حيران ولاړ وي په ايمان ويريدمه

ماته دې ورايه په خندا شه
ماله خندا کښې خولګۍ راکه

چې خطرې مې د زړۀ لرې شي مئينه
غمژن زړګې مې سود په بل څه نه کوينه

ما درته اوخاندل تا شاکړه
ما درته مخ تا راته شا کړه

نور به او نه خاندم که اوژاړے مئينه
د بره پريوځې چې معلوم دې شي حالونه

یو ځلے راشه په خندا شه
نه به مې یار په خندا راشي

بیا مې د زړۀ په پرهر کیږده ملهمونه
نه به زما د غم ژړا قراره شینه

یا د جوهرو خریدار ووم
په اسویلي مې ګریوان اوسو

اوس بقایا د جان فروش د خندا شوم
اوس ئې ایرے په اندیښنو راټولومه

یو ځلې ته په خندا راشه
ستا په راتلو مې دومره سود شي

بیا د رقیب د لاس مړ خوشحاله یمه
لکه بیمار د کټه پاڅي اوګرځینه

خندا دې واړه لباسي ده
ښائسته واړه بې وفا دي

په لباسي خندا دې تیره کړم مئینه
په لباسي خندا اعتبار کله کومه

په زړۀ منلي یار مې ته ئې
ښه ده چې مړ درباندې نه یم

دا لباسي خندا د نورو سره کړمه
ستا لباسي خندا د هر چا سره وینه

اختر خو راغلے یار مې نشته
ته به په کوم ځاے کښې خندا کړې

د خندا ډکه خله به چاله ورکومه
زما په مخ د اوښکو جوړ شو پر هرونه

په زړه منلے یار مې ته ئې
تګي د اوکړه ټکه یاره

دا لباسي خندا د هر چا سره کړمه
ستا د ټګي زما دې صبر په خدای وینه

په خندا چرے یار رانغلے
یو ځلے راشه په خندا شه

مدام په بوټ اوربوز راځي راوړي غمونه
دوران به تیر شي نیمه خوابه پاتے شونه

مینه مې تا سره ده خاصه
داسے جانان خو مې خوښ نه دے

دا لباسی خندا د هر چا څخه کومه
لکه پخه د چلم هر څوک پرے خله ږدینه

خله مې خندا ته نه جوړیږي
خندا له تا سره جوړیږي

د اشنا غم په مخ څپیړے راکوینه
ماته پراته دي په ځولو ځولو غمونه

خدای دې د غاښو وتکے ښه کۀ
د یار خندا د ګل پاشل دي

چې په خندا شي زړه زما درپسې چوینه
بدئ کتل دي چې سرې رنځوره وینه

زما د هسے نوم بد نام کړو
خندا د یار سره ښائیږي

د تبسم خندا د بل په خوا کښې وینه
بې ننګه یار ئې غمازانو سره کړینه

که حال د وایم رسوا کیږم
که د زړه حال مې درته اووے

که حال د نه وایم فراق مې ژړوینه
خندا به پرېږدې په ژړا به شي مئینه

سترګو د زخم د زړه راکړو
خندا له تا سره جوړیږي

نرۍ خندا دې پري لا مالګے دوړوینه
ماته پراته دي په جولو جولو غمونه

یو ځلے راشه په خندا شه
مخ د راستون که په خندا شه

پاتے دنیا ده نیمه خوا به پاتې شونه
زما به ټول عمر ژړا درپسے وینه

حاصلول د یار آسان دي
ولے به زۀ تر نه ځاربږم

چې دې ولاړ وي زه به شنه د خندا شمه
چې مور ته شا کړي ماته شنه د خندا شینه

خدمت برباد ګناه لازمه
نور به د زړه په قطرو نه ساتم بازونه

خدمت برباد ګناه لازمه
خدمت مې خړو اوبو یوړو

نور به د زړۀ په قطرو نه ساتم بازونه
وړوکے یار چې مې رالوے شو د بل شونه

خلق به هر څه هر څه وائي
خلق به هرڅه هر څه وائي

جانان مه د چا منه نه به ئې منمه
زۀ زوړ اشنا په نوي یا رنه بدلومه

خلقه په دې ډیر ګیله من یم
د غرض خپله خپل مې نه کړې

چې مې ضائع شو دټول عمر خدمتونه
زما تباه شو هغه کړې خدمتونه

پردي راوړې به خپل نه کړم
پردي راوړې نه خپلېږي

که د خدمت د باشنګۍ په دور کړمه
که د طوطي په شان ئې اوکړې خدمتونه

دومره په ضد راسره مه ځه
لکه کتکي به دې د ځان لاندي کړمه

نور به دې نوم په خلې وانخلم
بیا به دې نوم په خلې وانخلم

که د شودو سره پیروي شي مئینه
بیګاه د مور د دروازې شړلے یمه

خاوند صبر دزړۀ راکے
که د دیدن په طمع ناست ئې

چې کال و سر ئې دروازې ته نه ګورمه
طمع دې قطع کړه مونږ ورپورې کوونه

زما جانان غټ نسواري دې
که چلم کش ئې خله به درکړم

په یو چونډې کښې روغ ډبلې خالي کوینه
چې نسواري ئې په اور بوز دې اودانګمه

که اصل وصل پکار نه وې
کم اصل یار د بنګو بوټې

زاغ په پیسه باز به زر نه خرڅیدنه
د بنګو لښته په تش ګواښ کښې ماته شینه

د غره په سر دې ښامار اوخوره
د غره په سر دې ښامار اوخوره

چې ډلې ډلې پاړو ګان درخیژومه
چې جنازه دې په شپنو راکوزومه

راشه په ضد راسره مه څه
ضد د ابلیس سره پکار دې

په ضد وران شوي د خانانو دربارونه
چې بابا آدم ئې له جنت ویستلے وونه

که راته ګورې درته ګورم
ورځه ورځه پکار مې نه ئې

که راته نه ګورې پرواه دې نه لرمه
دومره مئین درباندې نه یم چې مړ به شم

نور مې د لاس پوره نه ده
ما درته وې پوره به ئې نه کړې

چې همیشه دې په جرګو پخلا کومه
د یارانې خبرې ګرانې دي مئینه

د مور او خور چې عزت نه کړې
که مې ستا پت تر سره نه کړو

هغه پښتون دې پټکې نه پسروینه
زۀ به تاؤ کړې پټکې نه پسرومه

هلکه ځان ته غره مه شې
ما دې چندنړ لښته ګنړلے

که ته چنار ئې زۀ د ګلو لښته یم
د میرے زوزه د اغزو دې ډکه کړمه

پړه به دې کړم پړ به مې نه کړې
پړ به دې کړم پړه به مې نه کړې

زۀ ځان سره د ټپو ګوډې ګرځومه
ما د سندرو سیپارې لوستلې دینه

ډیر مې سوالونه درنه اوکړل
یاري د سوال او جواب خوند کړي

ولے تا هیچرے رانه کړل جوابونه
زۀ به سوالونه کړم ته راکه جوابونه

پرون پرون وو پرون تیر شو
پرون دې څۀ وې نن څۀ وائې

نن به د نن خبرې نن شپه کښې کومه
په کومو شونډو راکوے دا جوابونه

د دله ګانو دله ته وې
دومره په ضد راسره مه څه

کنجره زۀ ووم چې په تا مئیندمه
لکه کټکے به دې د ځان د لاندې کمه

دومره په ضد راسره مه څه
چاټورې چپ شه په قلار شه

لکه میچن به در کښې غاړې واچومه
لکه د کړکے چړګے ګوټ ته به دې کړمه

دومره په ضد راسره مه څه
جر به دې کړم جر به مې نه کړې

ما په تهانه کښې تهانیدار جر کړې دینه
د دیواله د سر ځپیاکه دې ګنړمه

دا ظاهري شوشا دې ډیره
په تیز تپاس کښې توره باز

ور بشي خورې پوسکې د وازدو واچوینه
کورته دې لاړم مور د لنګ وهلې وونه

ما د شاهانو یاري کړې
ما د بازانو یاري کړې

شړې مو لرې ځنډوي دوړې راځینه
د جبې ډینګه راته مه وهه ځانګونه

په بنارس کښې واده مه شي
هلکه داسې راته ښکاري

خدای دې په ما پسې متیزه کړه مئینه
لکه چیندخه چې په لوټه ناسته وینه

بوتله تا نه کنډه ښه یم
بوتله ورک شه مخ د ورک شه

توره ځر خه به ګرځوم ځان به ساتمه
دا کاغذي وجود مې تاته زړاونه

زما په شرم د کار نشته
د دله ګانو دله ته ئې

بې شرمه زۀ ووم چې په تا مئیندمه
کنجره زۀ ووم چې په تا مئیندمه

زما د باز بیعه په لاړه
ما پرې ګمان د نارینه کړو

اشنا ګونګټ اوخت تروټه راباند شونه
هلک د خور په وار پیدا دې ډوبه ئې کړمه

چې ته ګیدړ وې ما سړے کړې
چې زۀ سړے ووم ته مې سړې کړې

چې ته زمرې شوے زۀ د اوخوړم مئینه
چې ته سړے شوې زۀ د ورک له ملک کړمه

د سترګو تور به دې نسکور کړم
شکر اوباسه چې خدای در کړم
زړه به دې تور کړم د ملا په تعویزونه
ما به د داسې خیټا درته نه کاتنه

خدای به د بیا زما محتاج کړي
ته به مې بیا په لاس کښې راشې
زه دې په خپل ژوندانه ډیر پښیمانه کړم
د منګل باز چې د سترګي اوګندمه

ستا په وعده مې باور نه شي
که سل وعدې خورې هم به راشې
جانان ستا وعدې لتا نازکې دینه
ما د دیدن پسې ډیر کړې زیارتونه

یاره که پړ شوم بیا مې مړ کړه
زۀ بې تپوسه تاته پړ یم
که چرته وړ شوم ما بخښلې دي پورونه
څله کوي راسره د مړ او پړ دو دونه

یا مې د خپله لاسه مړه که
ځان به په ډک دریاب لاهو کړم
یا دا دې ستا په مخ کښې ځان په ابو وړمه
هلته به خیژم چې مې قدر په چاوینه

جانان دې دا واري پخلا شي
بیا مې توبه ده جنګ به نه ورسره کړمه

یار مې نادان دې نه پوهیږي
یار مې په ګپو مرور شو
ما په خورو زلفو واهه مرور شنه
دا سپینه خله به ننواتې ورله وړمه

اختر ته ځکه خوشحالیږم
اختر ته ډیره خوشحالیږم
چې مرور اشنا مې کلي ته راځینه
زما د یار وعده اختر دې رابه شینه

جانان په هیڅ نه رضا کیږي
جانان زما نه مرور دې
د دروغژن ملا دې ورک شي تعویزونه
که چا پخلا که سپینه خله به ورکومه

جانان دې خدائ مرور نه کړي
جانان دې دا وارې پخلا شي
د ده په سر مې دشمني اغستې دینه
بیا مې توبه ده جنګ به نه ورځه کومه

جانان زما نه مرور دې
جانان زما نه جدا کیږي
نه ئې لاس راکړو نه ئې مخ راښکاره کنه
د لیونو په شان کوڅې به لټومه

ته مرور لما په څه ئې
په ما دې بد لالے ثبوت کړي

ګناه را اوښايه چې نوره ئې نه کوومه
بې بدو زړه زمانه ولې بدوينه

يار بې رضا رانه رخصت شو
خاوند د داورې رضا کړه

معلومه دا شوه بې رضا له ملک ځينه
خوره جانان بيا به ستا رضا کومه

جانان دا وارې پخلا شه
جانا راشه چې پخلا شو

بيا مې توبه ده جنګ به نه درڅه کومه
زما ستا څوک دې چې به مونږ پخلا کوينه

په ټوقه ټوقه مې ګڼړله
په جدائي دې خفه نه يم

يار مې خفه کړو نور وطن راته پرېږدينه
خفه په دې يم چې رقيب د خپلوينه

زما نه ولې مرور ئې
اشنا زما نه مرور دې

ماشومه ياره په پردي اختيار کښي يمه
زۀ مروره له تمام جهانه يمه

که دې په مئينه کښې کوټ نه وې
جانان دا وارې پخلا شه

جانان مجبور دې چې به تا پخلا کوينه
دا مې وعده ده بيا به ستا په رضا ځمه

جدائي راغله جدا کېږو
جدائي ستا د لورې راغله

زنه مې ريږدې اوښکې لار نه راکوينه
چې ملامته درته زۀ نه شوم مئينه

چې مرور شې ځان به خوار کړي
مرور مه څه بيرته راشه

معشوقے کله عاشقان پخلا کوينه
که ملامته ووم ناغه به درکومه

دا به زما نه پوره نه شي
د مرور اشنا دلاسه

چې هر ساعت دې په جرګو پخلا کومه
زۀ د هر چا د پېغورونو شوم مئينه

دا مې پخپله په ځان اوکړو
دا ما پخپله په ځان کړي

يار مې خفه کړو د سنګسار لائقه يمه
ګيلے د خلقو نه کوم ليونۍ يمه

د تن جامو کښې نه ځائېږم
نن به مې ولې زړۀ ښه نه وي

د مرور اشنا مې راغله جوابونه
چې مې جانان دي راليږلي سلامونه

راځه چې دواړه سره یو شو
راځه چې دواړه غم شریک کړو
زما ستا څوک دي چې به مونږ پخلا کوینه
یواځې ما په لمبو مه سیزه مئینه

راځئ چې ټولے پرې جرګه شو
راځئ چې ټولے پرې جرګه شو
چې مرور اشنا به څنګه پخلا شینه
که مرور لالے مې بیا اوکړې پښتنه

راشه آئین رانجه دې واخله
راکړے ګل دې بیرته واخله
نه دې یاري کړم نه دې نخښې ګرځومه
نه دې یاري کړم نه دې ګل په سر کښې ګدمه

راشه صنت واوره پخلا شه
راځه چې دواړه څه پخلا شو
مدام به نۀ وي ستا ځواني زما سوالونه
دوه ورځې ژوند دې نیمه خوا به پاتے شونه

ستا په رضا زما رضا ده
ستا په رضا زما رضا ده
ته مې باچا زۀ دې په در کښې ګدا یمه
خپله رضا په رضا نه حسابومه

مانه په ګل هم خفه مه شې
جانان دا وارې پخلا شه
په عاشقۍ کښې وي ګیلے کله جنګونه
دا مې وعده ده بیا به نه کړمه جنګونه

ما مرور جانان پخلا کړو
غمازه ولې راپسے ئې
غمازه خاورې دې په سر دې ډیرانونه
دا راته وایه ما دې څه بد کړې دینه

مرور ګرځم لویه خدایا
چې ګرځې ګرځه غم دې خپل دې
په زړه ظالم اشنا مې نه پخلا کوینه
په یارانه کښې عاشق څوک پخلا کوینه

دواړه د یو بل نه مرور یو
جانان زمانه مرور دې
ته ما پخلا که زۀ به تا پخلا کومه
نه پخلا کېږې ډیر مې اوکړل کوششونه

جانان زمانه مرور دې
اول به تا پخلا کولم
څکه استازے په بار بار ورله لیږمه
چې مرور شے اوس دې زۀ پخلا کومه

اشنا له دې نه خبر نه دې
اشنا زمانه مرور دې
چې زۀله هر چانه مرور دنیا نه ځمه
زه مروره له تمام جهانه یمه

جانان مې ځي نه پاتکېږي / کوشش مې ډېر اوکړو خو نه اوري منتونه
په ما جانان د ځان نه ګران دې / ځان به خفه کړم جانان نه خفه کومه

ګناه مې خپله د چا نه ده / زۀ خپل ګناه په بل چا ولے واړومه
تانه به ولې خفه کېږم / زۀ خپل ګناه د بل په سر نه اړومه

جانان له مانه مرور دې / د آسمان ستوري به جرګه ورته لیږمه
راځه راځه چې صلح اوکړو / زما ستا خوک دې چې به مونږ رضا کوینه

په خله به جنګ درسره اوکړم / د زړۀ کوځے به درنه ولے بیلومه
راځي چې ټولے پر جرګه شو / که مرور لالے مې بیا اوکړي پښتنه

ټول دې راټول کړه و خپل ځان ته / چې دې په تورو سترګو ماته اوکاتنه
ټول مې د ځانه کړه ویزاره / که مې قریب که مې اشنا که مې خپل وونه

جانان زمانه مرور دې / خلقه زما د پاره اوکړئ منتونه
جانان زما نه مرور دې / زه مرور د ټول جهان پخلا کومه

جانان دې خدای مرور نه کړي / د دۀ په سر مې دشمني اغستې دینه
جانان دې دا واړې پخلا شي / بیا به ناکام نز ژوندانه پورې کومه

جانان څه داسې بوله نه دي / چې په لمسون به لما پورته کړې لاسونه
جانان ته خو داسې نه وې / د چا خبرې د ضرور منلي دینه

جانان د بل د خلې سرے دے / خدایه زما زړګي ترې صبر کړي مئینه
اشنا زما په رضا نه دې / کم اصله خلقو ورته څه وئیلي دینه

جانان ته مې امو خته کړې / چې خله درنه کړم مرور ګرځي مئینه
په سپینه خله دې اموخته کړم / اوس دې اوربشو ډوډۍ خوند نه راکوینه

میم ملامته راته شوے / نون ننواتے درته زۀ درځم مئینه
میم مرور جانان مې لاړو / نون ننواتے ورله ځم که رضا شینه

نن مې په کور باندې اختر دې
نن په اختر کښې بل اختر شو
چې مرور اشنا پخلا راسره شونه
چې مرور جانان په غېږ کښې اونیومه

یا به زما نصیب خراب وي
یا به زه ځان ورپسې ورک کړم
یا به زما په شان ټوله دنیا وینه
یا مرور اشنا به بیرته راولمه

یار مې په کټ کښې مرور شو
په پالنګ پاس ورسره ناسته
د زنې سر ترې نه چاپیره ګرځومه
کوځه چې نه شې چرې تانه ګیله منه

بابو ټیکټ راله تیار که
بابو ټکټ دې بیرته واخله
یار مې خفا شو ځکه تور دکن ته ځمه
ما مرور اشنا پخلا کړو بیرته ځمه

زۀ د مخلوق په قانون ګرم شوم
زۀ د منت وابنه په خله کښې
اوس به اپیل و خپل جانان وته کومه
پرې په غاړه نرواتے له درځمه

یو ځل ته هم ما پخلا کړه
اول به تا پخلا کولم
جانان زۀ خو تا مدام پخلا کومه
چې مرور شے اوس دې زۀ پخلا کومه

کله سیلئ کله باران وي
ستا یارانه سخته خواري ده
چې د ګودر یارانے کړے زړه به د چوینه
کله پخلا شے مرور ناخلے ګلونه

مرور ګرځم لویه خدایا
په نرواتے به زۀ ورشم
په زړه ظالم اشنا مې نه پخلا کوینه
په مرور جانان به واچوم لاسونه

بې وفا یار راسره نه وي

راسره پروت وي تور میلو ببر غوږنه

ما پرې اعتبار کړو ځان مې خوار کړو
ولې د بد راسره اوکړو
بې وفا یار په نیمه لار کښې پرېښودمه
زۀ په ځوانانون کښې په تا مئینیدم

یاري دې ټوله د ټګۍ ده
یاري دې سیال سړې پکار ده
زۀ دې د دې په مطلب اوس اورسیدمه
کم اصل یار په یارۍ بل اوشرموینه

بې وفا یاره خدای دې واخله
بې وفا یار داسې ورک شي

د ژوندانه نه دې په مرګ خوشحاله یمه
ښنګه چې تیره ورځ په بیرته نه راځینه

بې وفا هله راته وایه
بې وفا یار باندې داغي شوم

چې ته لوګے شې زۀ لمبه نه شم مئینه
د وفا ډک اشنا مې خوا ته نه پرېږدینه

په بې وفا مې سترګې لګې
حیا مې ټوله پر تالا شوه

ربه مرګ راولے چې خلاص د غم شمه
بې وفا یا رمې اشنا نه کړو د بل شونه

تا به سوال وو رانه کړې
تا خو کړه خپله وعده ماته

ما به په تورو سترګو ایښې وو لاسونه
زۀ به په خپله وعده ټینګه ولاړه یمه

ټینګه وعده راسره اوکړه
ټینګه وعده درسره دا ده

چې په وعده مې حیران پرېږ نه دې مئینه
په ښځواني کنداؤ به بیا ولاړه یمه

ټینګه وعده راسره اوکړه
ټینګه وعده راسره اوکړه

چې لیونې زړګې مې نه کړي فریادونه
د جینکو په وعده نشته اعتبارونه

ځان به په ډک دریاب لاهو کړم
د بې وفا غمونو تنګ کړم

بې وفا یار ستا به او نه کړم پښتنه
لکه قیدي په ژوندانه ستومانه شومه

چې لوظ اوکړې بیا ئې مات کړې
چې قسم اوکړم بیا ئې مات کړم

ژبه تر پریکړې چې بیا نه کوي لوظونه
بې وفا یار زه قسم خور د جهان کړمه

د وفا نخښه درکې نیشته
د وفا نخښه درکې نشته

خوشې عبث لومے د خیال درپسې وړمه
ستا په ظاهره سیقه ډیر اوغلیدمه

سود مې په هیڅا باندې نه شي
سود مې په صبر کښې او نه کړو

که بې وفا مخلوقات ډیر دي څه به ئې کړمه
صبا به لاس په بې صبرۍ پورې کومه

سره د عقل نه پوهېږم
سره د عقل نه پوهېږم

جانان لباس کړي زۀ اخلاص ورسره کړمه
په یوه خبره یار ته تیر د سره شمه

کوکے مې ډیرے پسے اوکړے
نارې وهم مخ دې په خټ کړو

بې وفا یار په کوکو مخ نه راړوینه
ظالمه یاره د سیالۍ دې اوویستمه

که په هواشے خلاص به نه شے
که تښتې تښتې خلاص به نه شے

ما د یارۍ غوټې درکړې دې مئینه
د ګوتے چاپ مې د یارۍ درپورې شونه

ماله د ښاره قینچې راوړه
چې بې وفا د چا جانان شي

زۀ د بې لوظه یاره ژبه پریکومه
لکه انسان چې په خپل قام کښې غریب شینه

نه دې وفا راسره اوکړه
نه دې یاري راسره اوکړه

نه مې زړګې ستا په جفا صبر کوینه
نه د ټکي په زړۀ کښې شته چې صبر شمه

نه به وفا چا کښې پیدا شي
بې انصافي ده څکه ژاړم

نه به یاران چرته د صدق اووینمه
حق خو زما دې بیګا نه ورله راځینه

وعده خلاف جانان رانغے
وعده دې اوکړه بیا رانغلے

وعده د ورځ کړې پکښې تیر کاندې کلونه
د انتظار ګرۍ تر قتل سختې وینه

یا په جهان کښې وفا نشته
یا به زما نصیب خراب وي

یا بې وفا جانان زما په برخه شونه
یا به دا ټولے یارانے دغسے وینه

جانان تا کړه وعده ماته
جانان تا کښې وفا نشته

زۀ به په خپله وعده ټینګ تر عمره یمه
ما به د بل د وړاندې نه نیول لاسونه

جانان ته چې زما نه شوے
جانان تا نه خفه نه یم

په کومه خله به بل ته وائیې چې یار دې یمه
زۀ د قسمت د لاسه تل ټکرې خورمه

جانان تور چیلے حلال که
جانان خانده خوشحالېږه

خسنړے اوشو په کاله دې پاتې شومه
دا د ازل کښلي به وران شي ستا به شمه

ځان به په ډک دریاب لاهو کړم
خلقه په مخ باندې راتو کړې

بې وفا یاره ستا به او نه کړم پښتنه
د بې وفا یار که مې بیا اوکړه پښتنه

چې بې وفا جانان خبرېږي
چې بې وفا د چا جانان شي

د ده کوڅه کښې به زۀ سپو خوړلے يمه
عمر ئې ګران شي په خپل ژوند ستومانه شينه

چې رنګ ئې وي او لوظ ئې نه وي
چې لوظ اوکړي بيا ئې مات کړي

رب دې د داسې اشنا مرګ له تيغه کړينه
ژبه ترې پرې کړي چې بيا نه کوي لوظونه

حيات مې ټول پسې برباد شو
حيا مې ټوله پرې تاله شوه

بې وفا يار د نورو وو د نورو شونه
بې وفا يار مې اشنا نه کړو د بل شونه

خدايه مرګ راولے ما واخلے
خدايه په داسې ځاے مې مړ کړې

يار بې وفا شو په ژوندون پښيمانه شومه
چې نه مې اوشي جنازه نه مې مونځونه

د بې وفا په يارانه کښې
د بې وفا پېغور دې راکړو

ما بې وفا اشنا ته ورکړه جوابونه
تا څۀ ليدلي دي اشنا داغلي زړونه

د بې وفا جانان د لاسه
د بې وفا نه وفا غواړې

د زړه د پاسه مې پولۍ ولاړې دينه
سروي په کوم باغ کښې ثمر نيولي دينه

د قرباني د وفا نه وي
د سر به تير نه شي دروغ دې

دا هيڅ بې هيڅه دې وئيل چې ستا به يمه
دا ستا په شانے مې نور ډير ليدلي دينه

د وفا طمع ترې نه مه کړه
د وفا طمع ترې او نه کړے

څوک چې په ځان د معشوقې ګمان کوينه
چې معشوقے د خپل عاشق صفت کوينه

د وفا نخښه په کښې نه وه
د وفا نخښه در کښې نشته

ما په اخلاص پرې هسې ځان اوشرمونه
ستا په ظاهره سيقه ډير اوغليدمه

ستا په قسم مې يقين نه شي
ستا په وعده مې اعتبار نشته

عاشقان تل خوري په دروغه قسمونه
تا راته ډير عمر دروغ وئيلي دينه

ښه ده چې تانه پوره نه شوه
ښه ده چې تانه وه جانانه

چې ملامته درته زۀ نه شوم مئينه
که چرې مانه وې ژړلي به دې وونه

ښه ده چې حال دې رامعلوم شو
ښه شوه چې حال دې رامعلوم شو

د سرو مال درته تیره ناسته وومه
ما سرو مال په تا شینده هښیاره شومه

ښه ده چې ته په کور پوره شوے
ښه شوه چې خپله دې پوره کړه

زما سبب دې الله بل اوکړي مئینه
اوس دې ګیله زما بې ځاے ده مئینه

لباس دې شته اخلاص دې نشته
لباسي یاره رنګ دې ورک شه

ما چې اخلاص کولو خلاص له حیا شومه
ما اخلاصي صورت په تا او شرمونه

وفا دار یار په دکن ښه دې
بې وفا یار رب دې واخله

بې وفا یار که په ګاونډ دې څه به ئې کړمه
زۀ ستا د لاسه ارماني لاړم مئینه

آه و فریاد به مې نصیب شي
آه و فریاد مې نصیب شو

چې مې د خوږ زړګي یار نه کوي پښتنه
زۀ چې په داسې بې وفا مئیندمه

آره مې روغه په سر کیږدئ
نادان زما نه چرته نشته

په سترګو روغ په بې وفا مئینیدمه
چې بې وفا نه د وفا طمع کومه

بې وفا یار مې تن پلیت کړو
بې وفا یا رمې زړه چولے

لکه د سرو به ځان انګار کښې پاکومه
اوس چې ښائسته په مخه راشي ترنه مرمه

بې وفا یار د حمام لنګ دې
بې وفا یار د سرائے کټ دې

په میاشت کښې ئې سل اوشل له ځان تاووینه
د سرائے کټ باندې هر څوک پښې غزوینه

تر تا دې غم لا وفا دار دې
ښه ده چې غم د راسره دې

ته کله کله غم دې تل راسره وینه
چې په سفر کښې دم په غم غلطومه

نادان به ما نه چرته نه وي
بې وفائي د زړه مرض دې

چې بې وفا نه د وفا طمع کومه
د بې وفا د زړه به څه علاج کومه

د وفا بوئي چې په کښې نه وي
سر مې په دې فکر کښې خوږ شو

داسې ګلشن باندې به اور اولګومه
چې بې وفا نه به ځان څنګه خلاصومه

زۀ په وفا کښې سر نه تیریم
عالمه پرې مې بردي چې مړ شم

جانان تانه بې وفا به چرته وینه
د بې وفا د لاسه ډیر اوکړیدمه

بې وفا یار راسره نه وي
پریږده چې خاورې په سر نولم

راسره پروت وي تور میلو ببر غوړونه
په بې وفا لباسي ولې غلیدمه

تا په رینبتونے ځان جدا کړو
ما د وفا طمعه کوله

زۀ لا تر اوسه د وفا په طمع یمه
په غلي غلي چل دې ځکه تیروتمه

بې وفائي د روح مرض دې
د بې وفاؤ ضمیر مړ وي

دیار علاج به زۀ په چا باندې کومه
د ضمیر مړؤ نه به څه ګیله کومه

د دې صدې ته کلیو پیتړائي
بازاري ښځه تا نه ښه ده

مارک اینتهیاؤ ته د ایښې دې دامونه
ځان خرڅوي خو چاته نه ایږدي دامونه

رښتیا ویونکي سو ګنډ نه خوري
سوګنډ دلیل دې د دروغو

زۀ دروغژنو له سوګنډ نه ورکومه
ته دروغژن خوري بې دریغه سوګندونه

جوړي په نیت کښې ئې فتور دې
بس که په دغه ځائ ئې پریږده

چې ئې شروع کړل بې مطلبه سوګندونه
جانان مه خوره د دروغو قسمونه

تا راته وئیلے خله به درکړم
تا خپل جانان ته جواب ورکړو

اوس راته وائي یاره نه دې پیژنمه
بې وفا یاره زۀ دې څه پرواه لرمه

ټینګه وعده راسره اوکړه
ټینګه وعده راسره اوکړه

چې د راتلو په لار دې اوکړم ګلونه
چې لیونے زړګې مې نه کړي فریادونه

په تشه خله د کړم غلطه
ستا په وعده مې باور نه شي

نا مړده یاره په میدان د پریښودمه
جانان ستا وعدے له تا نازکے دینه

چې لوظ اوکړي بیائے مات کړي
ماله د ښار قینچي راوړه

ژبه تر پرې کړئ چې بیا نه کوي لوظونه
زۀ د بې لوظه یاره ژبه پرې کومه

بې وفا یاره رب د واخله
خدای د سزا درکړي جانان
د ژوندانه نه د په مرګ خوشحاله یمه
په خوب اوده اوښکې مې ستا د لاسه ځینه

هغه یاران مې پکار نه شو
د وفا نخښه په کښې نه وه
چې حلالولو له ئې بوتلم ورسره تلمه
ما په اخلاص په هسې ځان او شرمونه

چې قسم واخلم بیا ئې مات کړم
چې راپسې نه شي قرآن
بې وفا یار زۀ قسم خور د جهان کړمه
هره ګړۍ دې د اشنا دپاره خورمه

راشۍ په ګټو مې سنګسار کړۍ
ټوله خواري مې اوبو یوړه
چې ما پر مال و سر شینده د نورو شونه
یار بې وفا شو زه یواځې پاتې شومه

جفا دې ډیره اوکړه یار
اوس د وفا په انبار پورې کړه لاسونه

په اسویلو باندې څه کېږي
همت پیدا کړه زړه د ټینګ کړه
همت پیدا که چې دې مات شي زنځیرونه
د زنانوؤ په شان مه کوه ویرونه

جفا دې ډیره اوکړه یاره
جفا د یاره سره ښائي
اوس د وفا په انبار پورې کړه لاسونه
وفادارۍ د جانان قدر کموینه

د چا آزار به درپسې شي
د چا آزار به راپسې وي
ډیر په عاجزو خلقو مه کوه ظلمونه
ما به د قصده رژول تازه ګلونه

د عدالت په کرسۍ ناسته
د عمر رضؓ عدل پسې ژاړم
عرضي مې واخله فریادي راغلې یمه
په کوم وطن چې بې انصافي اووینمه

د عدالت د کرسۍ پریوځې
د عدالت په کرسۍ ناسته
په ما دې حکم د پانسۍ اوخېژونه
عرضي مې واخله فریادي راغلے یمه

تا چې په مخ سپیره راکړه
ستا نا کړدي به مې په زړۀ وي
د اوښکو ډکې سترګې چاته واړومه
که چرې راغله د فاني دنیا وارونه

ترس مې په هر چا باندې کېږي
ترس په ناترسه يار کې نشته
ظلم په خپل زړګي کوم بد حال شومه
چې مې د خوږ زړګي قطرې په انګار بړدينه

جور و جفا ته سينه ډال کا
جور و جفا ته سينه ډال کا
په زړه سورې په سينه پاس کوي خوبونه
څوک چې سرې شونډې ښکلوي خوري ګزارونه

ظالم دا ظلم دې بس دې
ظالم دومره ظلم مه کړه
چې دې د خوږ اشنا نه څنګه جدا کړمه
چې مې محتاج زړګې ته اچوې قلفونه

له سترګو اوښکې بهير جوړ کړې
په مخ مې سيند د اوښکو راغلے
چې مې اشنا په مخ سپيرے راکوينه
قجير بانړه مې ګنګخر په مخکې وړينه

بارونه وړم طاقت مې نشته
جانانه دومره ظلم مه کړه
دا الف قدمي لکه لام تاؤ کړے شونه
خزان د حسن به دې اوچه پاڼړه کړينه

اسره مې خدائے ته وه بيا تاته
تا چې په مخ څپيړه راکړه
جواب د راکړو خپل طالع مې ژړوينه
کاروان د اوښکو مې په مخ ګريوان ته ځينه

د اشنا دې ظلم ته ګوره
د عاشق مرګ راته آسان دې
چې ماته شا کړي په بل واچوي لاسونه
دي به ولاړ زه به په بل واچوم لاسونه

ياري دې ټوله د ټګئ ده

زه دې د دې په مطلب اوس اورسيد مه

ټګي د اوکړه ټګه ياره
ټګي د اوکړه ټګه يار
په زړۀ مې ليک ده ستا ټګي ګورته به ئې وړمه
په نيمه لار کښې دې يواځے پريښودمه

ټپوس د باز په بيعه لاړو
ټپوس د باز په نرخ خرڅيږي
زۀ دې ړانده بازار ته فکر واغستمه
خداى د په داسې بازار اور اولګوينه

رنګ دې د سپينے پاغوندې وو
رنګ دې د ګل خوئي دې د پياز دې
په خوئ خصلت توره بلا او دې خوړمه
زۀ کور د ليله ستاپه رنګ اوغوليدمه

دا کوي يو څه وائي بل څه
په زړه يوه په خله دې بيله

زه په ايمان د جانان اوس پوهه شوے يمه
په دو رنګي د جانان ډېره خفه يمه

ټټو د اس په بيعه نه ځي
ټټو طاقت دې دومره نشته

د لاله سر باندې مه خوره څوګندونه
چې به د اس نه مخکې کيږدې قدمونه

ټکي دې اوکړه ټکه ياره
ټکي دې اوکړه زما ياره

په نيمه لارې کښې دې يواځے پريښودمه
ستا د ټکي زما د صبر په خدائ وينه

جانان دا دې څه عادت دې
ياري دې پټه پاتې مه شه

چې پټه پټه ياري کړې خورې څوګندونه
خداى دې رسوا که چې تاوان درباندې شمه

جانان خداى ته نظر اوکړه
جانان څه ښادي به نه کړې

مناسب نه دي تمامي عمر چلونه
چې په خوږ من زړګي ښيرې درته کومه

د جانان دې ټکۍ ته ګوره
د اشنا دېظلم ته ګوره

هم راته خاندي هم مې تيغ په مرئ ږدينه
يو مې وهي بل مې ژړا ته نه پريږدينه

باب: 6

همزولي زلمي پېغلې او زاره

زۀ خو هغه مسته ليلي يم
که رنګ مې زيړ دي له همزولو بيله يمه

عالمه يو بل نه زاربږئ
سترګې په کوم لوري کړې کړم

همزولو تل کړئ صحبتونه
همزولے يار د چا مړ مۀ شه

که روح مې ځي په مخه ئې ښه شه
که اختر تېر شي بيا به راشي

د مازيګر ګودر چې ياد کړم
د زړۀ د درد مې آواز کړو

جانانه جنګ نه په شا نۀ شي
ستا د غلبېل قميص د پاره

نقش د کربښې په سيند نه شي
يا به ياران ټول بې وفا وي

زۀ خو هغه مسته ليلي يم
نۀ څوک لرم نۀ به مې ياد کړي

خاونده دا به دې رضا وي
زما دې څه نصيب کړو خدايه

رب دې ښائست در پورې اور کړي
په ما به يوه خونه ورانبږي

ما د مجلس ياران ليدۀ چې خاورې شونه
چې د مجلس ياران مې خاورې ايرې شونه

په نري ګور کښې نۀ دريا شته نۀ ډولونه
همزولے يار د زړګي ولي پريکونيه

يار مې دې نۀ ځي زړۀ مې پړق ورېسې چوينه
يار به رانه شي چې د خاورو لاندې شينه

زړۀ مې همزولې جينکۍ راځخه وړينه
د چم ګاونډ همزولي ټول په ژړا شونه

چې د همزولو مې رانۀ شي پېغوررونه
زۀ په همزولو باندې ډېر فخر کومه

وفا د دهر آشنايان کله کوينه
يا به زما وي بدبختي سپېره به يمه

که رنګ مې زيړ دے له همزولو بېله يمه
د بڼ بلبله ووم له سېله جدا شومه

همزولې ګل شوې زۀ کلۍ ولاړ يمه
زما همزولې خوشحالي کړي زۀ غمونه

په ما دې اور کړل د همزولو مجلسونه
په تا به وران کړم د همزولو محفلونه

د ناستې ځاے دې رامعلوم کړه
د ناستې ځاے دې راته ښايه
چې د همزولو نه دې نۀ کړم تپوسونه
چې سپينه خُلۀ درته په نيمه شپه دروړمه

همزولو يو بل نه ځاربږي
په ژړا هغه خلق ژاړي
ما د مجلس ياران ليدل چې خاوري شونه
چې د مجلس ياران ئې تورے خاورې شينه

په ياري زوړ سړې ځوانيږي
زۀ د بې ننګ په ياري ځوانه زړه شومه

که مې رباب وهل زده نۀ وې
که مې رباب وهل ايزده وے
ستا اندېښنو به مې زړۀ پړق چولے وونه
ما به د خپل ځوانۍ وير پکښې کاونه

خداے چې زما په مخ مئين کړې
ځوک به دې مړ کړي خپله ياره
زلميه مرګ به دې د چا د لاسه وينه
د سپينې خُلې طمع مې مۀ کوه مئينه

خاونده عفو راته اوکړې
خاوند تعالي به مې معاف کړي
زۀ چې زلمے ووم په خپل ځان نۀ پوهېدمه
د زلميتوب ګناه به نۀ حسابوينه

چې زلميتوب په زړۀ راياد کړم
ستا زلميتوب د مرګه تېر شه
په سپينه رېره مې سېلاب د اوښکو ځينه
درپسې لاړې پښتنې سر تور سرونه

ملک الموت ساه مې مۀ اخله
بېلتون مۀ راځه لا ځوان يم
يو مې ځواني ده بل مې ډېر دي ارمانونه
که زوړ مې ويني دا د يار د غمه يمه

پرون دې دور د ځوانۍ وو
مرګي خو ښۀ دے پرده پوښ دے
نن په خورو لاسو دعا درته کومه
بده نيستي ده چې ځوانان رسوا کوينه

ځواني مې ستا په انتظار ده
ټول به د خپل يار ځار کړم
ځکه مې حُسن ته رخصت نۀ ورکوينه
سرۀ اننګي لوړه ځواني شونډې لعلونه

ځواني مې ستا مينې برباد کړه
وار د ځوانۍ چې نيمه خوا شو
زۀ لا تر اوسه ستا په خيال کښې نۀ راځمه
يار بې وفا شو ارماني به ګور ته ځمه

په یارۍ زوړ سړے ځوانېږي
چې د ځوانۍ دوران مې تېر شي
زۀ د بې ننګ په یارۍ ځوانه زړه شومه
جانانه ستا که بادشاهي وي څه به ئې کړمه

سپړلے راغلي نوبهار دے
سپړلے همېش مدام ځواني وي
د زلمو وار دے زاړه نۀ کوي سیلونه
چې په رڼا د څوارلسمې ګرځېدمه

چې مې جانان چرته ور شي
زما جانانه ژوندے اوسې
زلمي راپاڅي ورته سر په سلام شینه
زۀ د مستۍ ټوپونه ستا په سر وهمه

زلمیه خدائے که به خُلۀ درکړم
توره د هغه زلمي کار دے
په سر دې نشته د مصري تورې وارونه
چې یا عاشق وي یا ئې ملک د لاسه ځینه

کبر غرور په ځوانۍ مۀ کړه
که د ځوانۍ دور مې تېر شي
ځواني د ژمي مازیګر دے تېر به شینه
دومره به پاتې شي چې تا پرې زورومه

خاونده عفوه راته وکړې
د ماشومتوب ژوندونه راشه
چې زۀ زلمے شوم په خپل ځان نۀ پوهېدمه
د زلمي توب اواز مې دار ته خېژوینه

زۀ چې وړوکے ووم بادشاه ووم
د دې نه نور وړوکے ښۀ ووم
اوس چې زلمے شوم غلام د خلقو شومه
د جینکو سره به یو ځاے ګرځېدمه

په سرۀ رخسار دې مۀ نازېږه
پام کوه ځان درنه ورک نۀ شي
وخت تېرېدو سره شي مړاوي سرۀ ګلونه
د ځوانۍ حُسن باندې مۀ کوه نازونه

تر دې ښائسته ځواني دې تېر شه
جانان ته ورشه ورته وایه
زۀ به د مور پلار په ناموس د راوخېژمه
چې که د بدو زور مې وړے شي درسره ځمه

تږ دې د زرکې ایراني دے
تل به شباب دربانديې نۀ وي
سترګې دې دواړه خونړۍ دې ښکار کوینه
دومره کاږۀ د خیاله مۀ ږده قدمونه

ځواني مې خاورې شوه ایرې شوه
ځواني مې ستا مینې برباد کړه
شراب د مینې مې په لپو څښلي دینه
زۀ لا تر اوسه ستا په خیال کښې نۀ راځمه

څنګ چې زما ځواني عبث شوه
څنګ دې ځواني ده لکه لښته

ستا دې عبث شي دا شينکي خالونه
چې د انکار په مينځ کښې ئې بردې خاورې به شينه

څنګه په سپين بشر مغرور ئې
څو چې د زيړو ګلو وار دے

دغسې ډېر د تورو خاورو لاندې شونه
بورا دې کبر تر هغې پورې کوينه

څنګه چې تۀ ئې داسې زۀ ووم
څنګه چې زۀ خاورې ايرې شوم

داسې به تۀ شې لکه زۀ چې څنګه شومه
داسې به خاورې شي دا ستا سپين مړوندونه

خپله ځواني راپورې اور شوه
چا ته مې بد رسولي نۀ دي

لکه هوسۍ په مېړتون شپه تېرومه
په ما دې خپلې ځوانۍ اور اولګونه

کبر مې کړو زوال مې بيامونډ
کبر غرور په ځوانۍ مۀ کړه

لکه سپوږمۍ په ځوانۍ تندر اونيومه
ځواني د ژمي مازيګر دے تېر به شينه

زۀ د ګلاب د ګل نه سره ووم
زۀ دې په ځوانه ځوانۍ خوار کړم

ستا په يارۍ کښې له نارنجه زيړه شومه
خدامے دې په ځوانه ځوانۍ خواره که مينه

تير شوے وار به بيا را نه شي
که اختر تير شي بيا به راشي

که سره مهران په لپو لپو اوشيندمه
بيا به را نه شي د ځوانۍ تلي وارونه

په زلميتوب خوښه زلمي ئې
که ياري نه کړې جواب راکړه

که د دهلي نښے راوړې ياري د کړمه
زۀ به تر څو پورې په لار کښې ناسته يمه

پېغله چې نوي پېغلتوب کړي
لکه چار ساله آس د نوکو په سر ځينه

د پېغلو زړونو ته سلام دے
د پېغلو زړونه فولادي دي

چې د جانان د پاره مور او پلار پرېږدينه
يو يار ئې مړ وي بل ته سترګې توروينه

د پېغلو هغه زلمي خوښ وي
د پېغلو هغه تړي خوښ وي

چې کارتوسان ئې په ګټه ټومبلي وينه
چې مازيګر شي د ګودر په لوري ځينه

راځه چې دواړه کټ ته خېژو
کلال د زر په قدر څه پوهـ
د پېغلو قدر د زلمو په غېږ کښې وینه
د زرو قدر د زرګر په لاس کښې وینه

پېغلې دا ستا دې مبارک شي
خاونده پېغله مې وفات کړې
لوړه ځواني سرۀ اننګي شینکي خالونه
چې څه موده مې یار په خوب دیدن کوینه

زما د پېغلو په شان یاره
ستا به په پټ کښې ناسته اوسم
زۀ به له تا نه زړګے څنګه صبرومه
که مې کارغان په سر کښې جالې جوړوینه

د پیکړو شنړا راخېژي
په ګودر جنګ د پېغلو جوړ شو
رامعلومېږي پېغلې بر ګودر له ځینه
پورې راپورې په منګو ویشتل کوینه

چرې مې غم لیدلے نۀ وو
په غم مې هیڅوک پکار نۀ شو
لکه د پېغلې په پرده کښې لوئېدمه
په خوشحالۍ کښې هر سړے یاري کوینه

پېغلتوب ورځې د روژې دي
پېغلتوب نیمه بادشاهي ده
د ناوې توب اختر ته شپې صبا کوینه
ورک ناوې توب شه چې دوه نیمه ورځې وینه

دا پېغلتوب مې دې خدائے دود کړي
ستا پېغلتوب دې اور پسې شي
راپسې مرې نرې ځوانان کاږۀ برېتونه
په سر دې مړۀ شو ښۀ ځوانان جګ ورمېږونه

پېغله چې نوې پېغلتوب کړي
وار به دې تېر د پېغلتوب شي
لکه چار ساله اس د نوکو په سر ځینه
څله د زرکې په شان ږدې لنډ قدمونه

ما درته وے چې پېغله اوکړه
دنیا په هغه کس جنت وي
پېغله ګڼے دے بند په بند مزه کوینه
چې چټه پېغله ئې په مینه مسته وینه

ناوې به ولې ژړا نۀ کړي
ولې دلګیر دلګیر ولاړ ئې
څوک چې پردي وطن ته ځي ژړا ورځینه
دلګیره زۀ یم چې د پلار د کوره ځمه

روژه د صبر مې نیولې
پېغلتوب ورځې د روژې دي
د یار دیدن ته د عمرونو ترږې یمه
د ناوې توب اختر ته شپې صبا کوینه

زما ښائست د حده تېر دے
ستا پېغلتوب دې اور پسې شي
چې عاشقان راپسې مري خونړۍ شومه
په سر دې مړه شو ښۀ ځوانان جګ ورمېږونه

ما له د حُسن زکواة راکړه
زکواة د خلے به زۀ در نۀ کړم
په شل کلیزو پېغلو اوړي زکاتونه
په قلندرو جونو نشته زکاتونه

چې خوږمن زړۀ پرې ټکورېږي
ځوک چې په خپل زړۀ باندې روغ وي
زۀ د هغې شونډو مېرمن راغلې يمه
هغه د بل د زړګي څه پروا ساتينه

بچ شه چيخني دې مينځ کښې نۀ کړي
بچ راته وايه نابينا يم
د مستانه پېغلو ټولګے ګودر له ځينه
چې مې د پېغلو ټپل کښې مات نۀ شي هډونه

غاښ دې کنډاؤ او رېره سپينه
د بنګړو شړنګ ته تر سبا کړې شوګيرونه

غاښ دې کنډاؤ او رېره سپينه
په سپينه رېره ليونے شوې
د بنګړو شړنګ ته تر سبا کړې شوګيرونه
چې شين خالی رايادوې مرې لاسونه

غاښ دې کنډاو رېره دې سپينه
په سپينه رېره ليونے شوې
په يارانه پسې ملنګ ګرځې مينه
چې زغلوې د مستانه جونو سيلونه

هغه ساعت به لوے قيامت وي
د کوټې تير راباندې پروت وې
چې زوړ سړے په جينۍ واچوي لاسونه
راباندې نۀ وے د بوډا سړي لاسونه

زما په برخه کښې بوډا شو
بوډا به هېڅ کله يار نۀ کړم
بوډا زما په مخ کيازې غوررزوينه
بوډا چې ځان سنبالوي صبا به وينه

په سپينه رېره دومره مينه
سر ته مې کينه راته ژاړه
په تور پيکي مې لاس وهي ژړا راځينه
په تورو زلفو راته مۀ وهه لاسونه

دا تا ته چا وې چې مئين شه
وار د ځوانۍ درباندې تېر شو
په سپينه رېره دې په مخ اوښکې راځينه
دا سپينه رېره دې اوس څوک نۀ قبلوينه

زړې زړې کنډې شوې ناوې
زاړه قبرونه لټوي ګورې مړونه

ډول د پېغلې سره ښائې   کونډه دې نۀ کوي په تېر دور ډولونه
په سرو جامو کښې ئې ځان جوړ کړو   يو يار ئې مړ دے بل ته سترګې توروينه

په کاسيري کړه خوا يخه   اوس زرغونه امسا په لاس مکې له ځينه
خلق مکې ته لاړ حاجيان شول   زۀ د جانان کوڅے ته تلم حاجنړه شومه

چې پېغلتوب په زړۀ راياد شي   په ګنجي مخ مې اوښکې غټې غټې ځينه
چې پېغلتوب وو بادشاهي وه   چې اوس بوډۍ شوم د اولس د خندا شومه

بوتله تا نه کنډه ښه يم   توره ځرخه به ګرځوم ځان به ساتمه
خلق زيارت له پتاسې وړي   زۀ د جوارو پولۍ وړم چې کنډه شمه

خلق زيارت ته پراټې وړي   د دله لور ورله ځپياکې زغلوينه
که تۀ مې خدائے وې رانه لاړې   که خدائے مې بل وي تا نه ښه به مې سائينه

کنډې په هر محلت کښې ډيرې   د ګل ستار سره رانې کونتون کوينه
کنډې کونتون دې اوبو يوړو   زوې دې د ښځې شاګردي کړې تا پرېږدينه

کنډې کونتون دې مبارک شه   زوې دې زلمے شو په برېتو وهي لاسونه
زوې مې ځوانې کښې قدم کښود   دا واده غم ورله کوم که رضا شينه

بوتله کنډه درنه ښه يم   تا دې رب واخلي زۀ دې ځان له پاتې شمه
ورځه ورځه پکار مې نۀ ئې   دومره مئين دربانډې نۀ يم چې مړ به شمه

بوتله ورک شه مخ دې ورک شه   دا کاغذي وجود مې تا ته خاورې کنه
هلکه ځان ته غره مۀ شې   که تۀ چنار ئې زۀ د ګلو لښته يمه

د دې ورکړې ياري مۀ کړه   صبا به سرې سترګې ولاړ ئې دا به وړينه
يو په ورکړې مئين مۀ شې   صبا ئې بل ته درنه سره لاسونه وړينه

په کنډاوګي مې سر اوچت کړو
په کنډاوګي دې غنې کېښوې
د کنډې لور لکه سپاهي ځان جوړونه
زۀ د بخمل پنړې لرم دروابه وړمه

چې ستا ډولۍ ئې په ما راوړه
ډولۍ مې رو بيا يه ساربان
لکه يتيم د ديوال خوا کښې اودرېدمه
د ديوال خوا کښې مې جانان سلګۍ وهينه

رېباره ورشه يار خبر که
رېباره ځاے به دې دوزخ شي
صبا به ما د کوره سره ډولۍ کښې وړينه
که يار زما نه ناخبره پاتې شونه

شهې زړه شوه وار ئې تير شو
وار مے د تورو زلفو تير شو
له منګو پزيوته کوزے راډکوينه
اوس مې په سپيو زلفو نه نښلې بازونه

يا مې د سترګو نظر کم شو
وار د ځوانۍ راباندې تير شو
يا مې جانان د مخه او نه شرميدنه
اوس مې په سپينو زلفو نه نښلي بازونه

يا مې د سترګو نظر کم شو
وار د ځوانۍ راباندې تير شو
يا مې جانان د مخه اونه شرميدنه
يار د دکن نه چې راته زۀ زړه وومه

مخ د پواړے ښځے ورک شه
پواړه ښځه نه غلطېږي
د قلفے سر ئې په اوړو لړلے وينه
پوزه ئې بهېږي مخ په اوړو لړلي وينه

ګزران د برغو بنو نۀ شي
که ور په سر کړې بادشاهي زرين شالونه

زما د بنو جنګ يادېږي
ما له يوه ملاله بس ده
ستا دې قسم وي ياره دوه اوکه ودونه
ځانګې چې برغې شي جوړېږي فسادونه

د سرو مال خطره پکښې وي
ګزران د برغو بنو نه شي
چا چې دوه بنې په يو کور ساتلي وينه
که ور په سر کړې بادشاهي زرين شالونه

د بنې غبر راباندې اوشو
د ټوپک ډز ورته آسان وي
د وړې لور سره د کټه پرېوتمه
د بنې غبر ئې ورانه وي د زړۀ کورونه

د زلمو زړونه فولادي دي
د پېغلو زړونه د فولاد دي
يوه ئې کور وي پاس په بله راولينه
يو يار ئې مړ وي بل ته ستړګې تورروينه

د بنې کور د غنو شپول وي
زما په بنې سلام وايه
پنړې په پښو که پرې ډاډه ورځه مئينه
که تۀ شين باغ ئې زۀ سېلاب دراوختمه

طلاق هغې ښځې له ورکړه
د ښځې مرګ ته حاجت نشته
چې ستا خبرې له جواب پېدا کوينه
بله پرې اوکړه دا ئې مرګ دے مړه به شينه

بنې بنزے راباندې تير شو
د داسې ژوند نه مرګ بهتر دے
زۀ د دوزخ د لمبو څه پروا کومه
چې به د بنې لاندې شپې صبا کوينه

په هزار وار ترې قربانېږه
طلاق هغے ښځے له ورکړه
چې ارتينه دې مسته دوک بيانړه وينه
چې قت قتي کوکاري نا فرمانه وينه

موذي په مينه نۀ پوهېږي
په نس ئې ډک که تر صبا کوي خوبونه

خُلۀ مې تر نوي کچ پسته ده
موذي د کټ د ختو نۀ دے
موذي بوډا ئې په زنګنو غاښو خورينه
اندرپايه ورله د دروزې جوړومه

چې سيند ته دانګم سيند مې نۀ وړي
ځان به په ډک درياب لاهو کړم
بخت د موذي دے بيا مې غاړې له راوړينه
هلته به خېژم چې مې قدر چرته وينه

شاه د موذي لائقه نۀ ده
په نصيبه مې دا پرته وه
خداے ورله ورکړه مسخرې پورې کوينه
ما خو د داسې خلقو در ته نۀ کاتنه

که زما برخه خواره نۀ وې
خاورې راواخله موتې اوخوره
چرته موذي چرته زما سپين مړوندونه
خوښه مې نۀ وه پاک الله درکړې يمه

که مې ديدن کړې رارسېږه
موذي په خپله تبه نه مري
صلاح ئې کړې موذي خان مې مړه کوينه
صبا مې نيت دے چې ژوندے ئې ښخوم

موذي د کټ د ختو نۀ دے
موذي د کټ د ختو نۀ دے
اندر پایه ورله د دروزو جوړومه
د کټ په پښه کښې ورله پاټکے جوړومه

موذي ټپوس ناسته د باز کړي
زړۀ مې په داسې موذي بائيلو
زۀ کم نصيبه په ټپوس غلطه شومه
نۀ ئې دولت شته نۀ د خُلې لباس ورځينه

موذي په مينه نۀ پوهېږي
خاونده بيا دې ماسختن کړو
په نس ئې موړ که تر سبا کوي خوبونه
بيا به مې خوا کښې موذيګې کوي خوبونه

په ګلې ګنړې تبې ګډې
موذي په خپله تبه نۀ مري
په خوار موذي دې تبه راشي چې ومرينه
صبا مې نيت دے چې ژوندے ئې خښوم

د موزيګې د زور نۀ يم
په خُلۀ مې مچ پريښے نۀ دے
د لاس بنګړي مې خرخوي ژړا راځينه
د موذي خان لاړې مې ښکته تر خُلې ځينه

زما خندا ورپورې کېږي
د موذي درنګ ته جوړه نۀ يم
موذي نارې کړي چې مئين درباندې يم
که د ريښمو راته اوپيري کټونه

خدايه موذيانو کښې مرګ ګډ کړې
د دلالانو بچې مړۀ کړې
چې د غيرت لېونی جونه خلاصې شينه
د ګلو لښتې په موذيانو زړه وينه

چا راته وې موذيان تمام شو
سل جوارګر خونيان آزاد کړئ
زما د برخې موذي شته ما کړوينه
يو موذي مړ کړئ چې وطن تر خالي شينه

توتان پاخۀ ممانړې تورې
د توتو پانې مې خوراک وې
زۀ د موذي د ډوډۍ څه پروا لرمه
دلبره نۀ وے د موذي د کور غمونه

نصيبه څه درسره اوکړم
زما دې څه نصيب کړۀ خدايه
زما په برخۀ دې موذي اورسونه
دا ابۍ غاړے يار دې ما له لويونه

په مورچه بيا ټکونه اوشول
د ميړنو خوښدې به ژاړي
نران به مري موذيان به بيا کور ته راځينه
د موزيګې خوښدې به سترګې توروينه

چې د سنګر دختونه وو
ښاغلے يو ځلې په ځاے مري
موذيګي څله په تور بېخ جنګريز له تنه
موذيګي هر وختې په ځاے بې ځايه مرينه

صبا ته بيا د جنګ نېټه ده
موذي له جنګ ترپله اوکړه
موذيانو اوتړل په سرو لتو سرونه
په بيګانۍ ورکړې خلهٔ ستومانه يمه

خُلهٔ دې د سپينو زرو جام دے
خُلهٔ مې د موټو پېټې نهٔ ده
زما پر پام دے چې موذي پر اوبه څښينه
چې هر موذي به ئې په غاښونو خوري مينه

خوا بدي مه شي زما ياره
د انار ګل غندې تنکۍ ئې
زهٔ د موذي په لاس کښې يم چې جدا يمه
په تور موذي خو مې پيرزو نه ئې مئينه

د بابا ادم دومره اولاد کښې
که مې نصيب د بدو نه وي
زما په برخه دې موذي اور ساونه
چرته موذي چرته د ګلو صورتونه

د موذيګي نخښه ښکاره ده
موذي توله دے نهٔ ماشه دے
خولۍ خيرنه ککرۍ نمر وهينه
نهٔ دنداسه دے چې پر شونډې سرې کومه

په نصيبه مې دا پرته وه
نصيبه څه درسره اوکړم
ما خو د داسې موذي درته نهٔ کاتنه
زما په برخه دې موذي اورساونه

د موذي دې تورې ته ګوره
د موذي سترګې د ليوهٔ دي
بهر بهړوا په کور سوباړي چلوينه
دا ړت کاته ئې له غوائي زده کړي دينه

موذيګے خر زهٔ پرې سوربېږم
د موذيګي مېړانه ګورئ
په ډتاډت مې د پبو زيارت له وړينه
په شين کبل کښې د مېږي نه مخکښې شونه

موذي په مينه څه پوهېږي
موذي څلور ډوډۍ پوره کړې
په نس ئې موړ که تر صبا کوي خوبونه
د سحر سوټے له ئې خچر کته کوومه

موذي د کټ د ختو نهٔ دے
موذي دې خوب په پالنګ نهٔ کړي
د کټ په پښه کښې ورته پاټکے جوړومه
حق د هغو دے چې وطن په توره خورينه

موذيګې ښۀ دي بد خو نۀ دي
موذيګې ښۀ دي بد خو نۀ دي
چې تنور تود کړم قلپګې راله راوړينه
د تش پالنګ نه کټ پر ډک ښکاري مئينه

موذې په مينه نۀ پوهېږي
ډوډۍ دې اوخوره خملې
په نس ئې موړ کړه تر صبا کوي خوبونه
د سندا رور ئې په بې غمه کړې خوبونه

په غړ غړو مرګ مې قبول دې
د موزېګې نه کنده ښه يم
د موذې خان سره يو ساعت نه تيرومه
توره څرخه به ګرځوم ځان به ساتمه

اندر پائے مې جوړولے
موذې د کټ د ختو نه دې
ما وے لالے به سپينے خلے ته خيژومه
اندر پايه ورله د دروزے جوړومه

زما د مرګ صلاح ئې کړے
څو چې بې غوره يار خبرېږي
موذې رضا دي ما درياب ته غورزوينه
زه به موذي په درياب ښکته وړې يمه

خاونده بيا د ماسخوتن کړو
د موذې درنګ ته جوړه نه يم
چې نارضا کټ ته مې رېږدي اندامونه
که په ريښمو راته او پيرې کټونه

که مې ديدن کړے رارسيږه
که د تا دې اونه کړه ياره
صلاح ئې کړے موذې ځان مې مړه کوينه
چې ته راځے زۀ به ئې پخوا وژلے يمه

زړه مې په داسې موذې بائلو
سترګے مې غلې غلې خاندي
نه ئې دولت شته نه دخلې لباس ورځينه
چې زۀ په داسې بولګۍ مئيندمه

پلار ته مې ډېرې روپۍ ورکړه
چې زۀ دې تا شم بيا به ئې ګډې پريکونه

پلار ته مې ډېرې روپۍ ورکړه
پلار به دې موړ زۀ په دنيا کړم
چې زۀ دې تا شم بيا به ئې ګډې پريکونه
د مال په زور به دې اخر تر خپله کړمه

تا لا خو نۀ وم اوس تالا شوم
بانړه دې مړۀ دي ښکته ګورې
زما قسمته پلار په ستر کړې مئينه
لکه چې پلار دې نوره کور کښې بندوينه

بابا مې نۀ درکوي یاره
په تعویذونو به اونۀ شي

ورشه بابا باندې مې اوکړه تعویذونه
دکن ته ځم چې ورله راوړم دولتونه

جانانه راشه دا دې وخت دے
لیلي ستا د زړۀ د پاره

کور ته زما په سر جرګې راغلې دینه
پړے په غاړه به دې مور او پلار له ځمه

سوال د الله په در کښې اوکړه
سوال دې په کوم زیارت قبول شو

پلار مې سودي دے ما مالدار له ورکوینه
پلار مې راضي شو اوس مې تا له درکوینه

سوال دې په کوم بابا قبول شو
سوال به مې ولې نۀ قبلیږي

چې مې بابا او ابې دواړه راضي شو نه
زۀ به سرتور د مئینې بابا له تلمه

بابا کوچیانو ته مې ورکړه
بابا کوچیانو ته مې ورکړه

چې تور وربل مې د لغمان شمال وهینه
چې د کابل او د کشمیر اوکړم سیلونه

بابا کوچي ته مې وادۀ کړه
بابا کوچي ته مې ور نۀ کړې

د اوښ په شا به مې کابل ته خېژوینه
زۀ به اوښان ساتم که ځان به جوړومه

بېګاه له راشه پلار مې نشته
بېګاه مې بیا جانان راياد شو

مور مې ړنده ده چې دې مور په دیدن کړمه
لکه هوسۍ مې روح وهل تن کښې ټوپونه

جانان مې مري که پاتې کیږي
که تۀ زما په طمع ناست ئې

په تور اوربل مې سوداګر اوګرځېدنه
طمع دې قطع که ما پلار نۀ درکوینه

خولګۍ مې واخله مۀ یریږه
خداے مې د دې جانان زار کړې

پلار مې بیمار دے مور مې هېڅ هم نۀ واینه
چې بې وئیلو خولګۍ ما له راکوینه

وطن او مور او پلار خوارۀ دي
وطن کشمیر دے نۀ پرېښوے شوي

یاره دا درې واړه پرېږدم تا سره ځمه
ما د جانان د پاره واړه پرېښودنه

غمژنه یاره چرته لاړې
دا خدایه ښکه ښۀ دې اوکړه

زۀ د دادا انګنړ کښې ځان له ناسته یمه
چې په دې لوے انګنړ دې کېښود قدمونه

سپینه د خله سپینے د بانکے
سترګې دې وې څه ړوند خو نۀ وې

د پلار په غولي لوئېدې رنځور دې کړمه
چې په کالۀ دې لوئېدم نۀ دې لیدمه

سپینه دې خُلۀ سپین دې زنځیر دے
ځان خو به ستا د پلار نوکر کړم

پلار دې امیر دے جینۍ نۀ دې راکوینه
په نوکرۍ کښې به دې تش دیدن کومه

چې ډوډۍ خورم دادا قهربږي
منت پر مۀ کړه زما یاره

چې روپۍ شرنګ کړي دادا شین د خندا شینه
درځیني غواړي په قچرو دولتونه

ځوانانو ننګ راباندې اوکړئ
زلمیه ننګ راباندې اوکړه

پلار مې ظالم دے ما ښامار لره لیږینه
پلار مې ظالم دے ما سور اور ته غورزوینه

ډاډه راځه څه خطر مۀ کړه
ډېر عمر پس مې جانان اولید

مور مې ړنده ده پلار مې غوانو پسې ځینه
د شلو کالو غم مې بیا راتازه شونه

سوے دې یم سوے به ګرځم
چې زما ستا زړۀ ئې اونۀ کړو

سوې ښېرې به جینۍ ستا پلار ته کومه
په ناقابله پلار دې پریوزه تندرونه

سپینه دې خلۀ سپین دې زنځیر دے
هندوستانے شه روپۍ راوړه

پلار دې امیر دے جینۍ نۀ دې راکوینه
په کورنو روپو مې پلار نۀ درکوینه

جانانه راشه دا دې وخت دے
جانانه راشه دا دې وخت دے

پلار مې د سر سودا د بل سره کوینه
زما په سر باندې جرګې راغلي دینه

ارمان ارمان د دادا کوره
د بابا کور لکه جنت دے

د ډکه شکور به چاپېره ګرځېدمه
ما په دې ښه جنت کښې کړي دي سیلونه

د بابا کور به غلط نۀ کړم
د بابا کور لنډے لاهور دے

د سرو ئې ستنې د روپو ئې دیوالونه
ما په لنډي لاهور کښې کړي دي سیلونه

په سر مې مۀ وهه لالیه
د دې ریښمینو کمڅو زار شم

تورې کمڅۍ مې د دادا د کوره دینه
قطار قطار مې په مخ څنګه خوند کوینه

خاونده پلار مې لېونے کړې
خاونده لرې مې وادۀ کړې

د اشنا غېږ پسې ړنده شمکوره شومه
چې د اشنا د غاړې هار شمه مئينه

چې پلار ئې نۀ ئې لور ئې ودېږي
چې مور ئې نۀ ئې لور ئې ودېږي

لکه کاروان چې په مېره کښې تالا شينه
لکه په شاړه زمکه اوشي بارانونه

جانان د مور او پلار خوږ شي
جانان د مور او پلاره خوږ دے

چې د سينې خولې ئې ګډې وډې شينه
ځکه خو مور او پلار پرېږدي ورسره ځينه

مبارکي راکړئ يارانو
خدايه د پلار عمر ئې ډېر کړې

چا وئيل نن د جينۍ پلار بللے يمه
زړۀ ئې اسير کړې چې په ما اوکړي رحمونه

جينۍ سپين ږيرے پلار دې مړ شه
خدائے دې د پلار قبر دوزخ که

د ورځې خوب د شپې په تا پېره کوينه
زما د خوږ زړګي اخلي ازارونه

ورته پرته په اور کښې ښه يم
که زۀ سوره راغلے نۀ وے

زۀ په سوره کښې خپل نصيب راوستي يمه
نۀ به سلګۍ وې نۀ د خوابښې پېغورونه

لالا مې خپل ارمان پوره کړو
په خواري خوار شي خپل پلاره

زۀ ئې په اور د رواجونو ستي کړمه
په ظالمانو څوک خرګئ نۀ خرڅوينه

په پلار مې بله جرګه اوکړه
په متېز توب درسره نۀ ځم

که در ئې نۀ کړم بيا به ستا رضا کومه
په پاکه مينه درسره يم څو چې وينه

زما ئې تش ديدن پکار دے
زما ئې تش ديدن پکار دے

زوي د خپل پلار دے نور عرض پر نۀ لرمه
زوي د خپل پلار دے خدائے دِ روغ ورله لرينه

سوي چې دوه شي اور په لګي
سوے دې يم سوے به ګرځم

په ما غريب باندې يواځې بلېدنه
سوې ښېرې به ګله ستا پلار ته کومه

ثواب د يار ديدن کښې ډير دې
جانان د مور او پلاره ګران دې

ځکه مې مور او پلار جوړه پرښودي دينه
ځکه مې اوښکې په مخ لارے جوړوينه

شونډې د اوچې رنګ د زېړ دې
تالا خو نه ووم اوس تالا شوم
بیاې په کور کښې درته څۀ وئیلې دینه
زما قسمته پلار به ستر کړي مئینه

جینۍ بوډۍ ادې دې مړه شه
ټوله شپه ستا څوکۍ کوي په ورځ خوبونه

چې په فریاد مې خوشحالېږې
چې په فریاد مې پروا نۀ کړې
زۀ به دې در کښې شپه او ورځ فریاد کومه
اوس به دې مور ته ګریوان پښو کښې اوشلومه

ښنګه نرۍ ئې لکه لښته
په ملا نرۍ په رنګ زیړې ده
مور دې ړنده شه چې په تا اوبۀ راوړینه
مور ئې د زیړې غوا شودۀ ورکړي دینه

د مور او پلار مئینه پښه ده
د مور او لور سخته بیلتونه
دا نورې مینې عارضې تېرې به شینه
مور ئې ولاړه لور ئې شا ورته کوینه

ډاډه راځه څه خطره مۀ کړه
راځه راځه شرینه یاره
مور مې ړنده ده پلار مې غوانو پسې ځینه
انګنړ خالي دے زۀ یواځې ناسته یمه

ډکه ټوپۍ ملالے سترګې
مور ئې په چم کښې شومبلې غواړي
مور د کرکښې په بازر کښې خرڅوینه
لور ئې میر ګاټ په اشرفو اولګاونه

راشه زما په حال خبر شه
راشه قسم راسره اوکړه
ستا په تهمت کښې مور په کور بند کړے یمه
که نازولې مې ساتې درسره ځمه

روح مې د یار په کټ کښې پروت دے
روح مې د یار د مخ غلام دے
خالي تنه د مور په غېږ کښې ناسته یمه
چې چرته ځي روح مې جوړه ورسره ځینه

شونډې دې رېږ رنګ دې زیړ دے
دا ستا د دوه سترګو د پاره
بیا درته مور ظالمې څه وئیلي دینه
د مور خبرې ورړم د کلي تهمتونه

غمژنه راشه دا دې وخت دے
غمژنه زۀ غمژن مې یار دے
مور مې کور نشته زه یواځې ناسته یمه
غمژن به دواړه په غمژنه لاره ځونه

لاليه رو مې غيږ كښې نيسه
لږه په خيال مې پورې باسه

چې خوږ مې نۀ كړې مور په ناز ساتلې يمه
چې نازولې خال مې وران نۀ شي مئينه

ما به په څنړو كښې خوندي كړې
په خپلو زلفو كښې مې پټ كړه

مور مې مېره د څنړو ول مې لټوينه
چې دشمنان مې په كتلو سترې شينه

ما به خولګۍ كښې اوبۀ درورې
مور دې په تا پسې ړنده شه

مور مې مېره ده ساعت په ساعت مې ژغوينه
چې بې ګناه مې د زړۀ اخلي ازارونه

مورې څلور څنړې مې پرېږده
چړې به دوه كمڅۍ اونۀ كړم

دوه مې د خيال دوه مې د لوے اختر ټالونه
په دوه كمڅو كښې جينكۍ متېزې ځينه

وركوټے ما په غېږ كښې لوے كړې
چې ستا د مور نه نه رغېږي

اوس دې كټكے د مور په خوا كښې واچونه
زۀ دې د پلار د كوره څله راوستمه

مورې مانړو ورته لوګے كړه
د نظر ماتي دم په پوهه كړه

زيارت له تلې چا به ئې مخ ليدلے وينه
خدائ دې د بد نظره اوساته مئينه

ټوخے اونۀ كړې ياره چپ شه
ټوخے په رو كوه سر اوخورې

ستا په ټوخي به مې مور ويښه شي مئينه
مور مې مېره ده اوس به نېغه ناسته وينه

په مور دې كوډې اثر نه كړې
په مور مې پټه جرګه اوكړه

د بنګال ټګه ده ما ځان ته نۀ پرېږدينه
پلارمې سودي دے ما مالدار له وركوينه

زما په مخ دې پرهار جوړ كړو
زما د غاښ په انبور اوځي

زۀ به بخيلې مور ته څه بهانه كومه
كه به مې ستا زنې له زور وركړے وينه

د هلك مورې جنتي شې
خدايه د مور عمر ئې ډېر كړې

هلك دې لوے كه د لونګو بوټي تر ځينه
له ګل ښائسته جانان ئې ما ته لويونه

مورې د مخه دې شرمېږم
موركۍ سوال به درته اوكړم

ما له كوژدن چا كره اوكړه زوړ دې كړمه
نور مې د خوږ زړګي غم اوكړه ګني مرمه

دا نهٔ مې مور ئې نهٔ دې لور يم
دا نهٔ مې لور شته نهٔ مې زوے شته

بيا به دې نوم په خُلهٔ وانخلم
بيا به دې نوم په خُلهٔ وانخلم

خدائے دې د مور عمر دراز که
مازيګرے دې تل آباد وي

بانړه دې مړهٔ دې ښکته ګورې
نن خو دې بيا سترګې لوندې دي

دا هره مور به زامن راوړي
د تيرا څوکو کښې غږ اوشو

ما ته دا خپل نصيب معلوم دے
مورې که ستا کارونه نهٔ وې

خدايه دا مور ئې لېونۍ کړې
مورې لنډے ټوپک راواخله

زما د مور زړګے کوشېر دې
عالمه خپله مور مې نهٔ وه

نن د بې موره زوې وادهٔ دے
نن مې وادهٔ دے خوشحالي ده

د حرامونې ښځې زويه
جانانه ټکه حرامونيه

خدائے دې د مور قبر دوزخ که
ستا د ديدن په طمع طمع

يار مې د ژمې شپه کوڅه کښې تېروينه
ځکه ځولۍ د اوښکو ډکه ګرځومه
بېګاه دې مور د دروازې شړلے يمه
زهٔ دې د دره بې نوا راغلے يمه
هر مازيګر دې چې ګودر له رالېږينه
چې د ګودر په غاړه اوشي ديدنونه
لکه چې مور دې نوره کور کښې بندوينه
ذر راته وايه مور دې څه وئيلي دينه
د احمد شاه په شان به لږ لږ پېدا شينه
پښتنې څه شوې چې پښتون زوي لويوينه
مورې زما په نصيب مهٔ کوه جنګونه
د ګل ښائسته ووم ما به هم ګل خوښونه
مئين پرې زهٔ يم اوس ئې بل له ورکوينه
په ما مئينه جينۍ بل له ورکوينه
نهٔ چې زما په انتظار به وي خواشينه
ځکه مې کډه په زيړې مازيګر ځينه
زمکه ژړېږي آسمان دړې غورځوينه
ابۍ مې نشته چې پرې اوغورزي لاسونه
په ما دې خپله مور دلاله کړه مئينه
چې په رو رو دې راته وې راضي دې کړمه
ما زړهٔ ويشتلے ستا ديدن ته نهٔ پرېږدينه
سترګو مې اوکړهٔ د چينو په شان موجونه

وړوکے ما په غېږ کښې لوے کړې
دا زړۀ مې ډک دے د ګيلو نه

اوس دې کټکے د مور په خوا کښې واچونه
هله به ئې وايم چې دواړه ځان له يونه

هندوستانے شه روپۍ راوړه
هندوستانے شه روپۍ راوړه

مور مې مېره ده په سور اور مې سوزوينه
په کورنو روپو مې مور نۀ درکوينه

تۀ به زما په طمع ناست ئې
ستا د وصال ماښام ته ناست يم

څه پورته کېږه ما مې مور نۀ درکوينه
زما روژه به تر قيامته پورې وينه

جينۍ بوډۍ ادې دې مړه شه
په بنارس کښې وادۀ مۀ شې

ټوله شپه ستا ښوکۍ کوي په ورځ خوبونه
خدائے دې په ما پسې مټېږه کړه مئينه

جينۍ بخيله مور دې مړه شه
خدايه دا مور ئې لېونۍ کړې

چې پيشو ګړب کړي دا به ويښه ناسته وينه
مئين پرې زۀ يم اوس ئې بل له ورکوينه

باور مې نۀ شي که يار راشي
زما دې څه اوکړۀ چې لاړې

مور مې ورکړې دې رټلي جوابونه
پردے سړے وې ځان دې ورک کړۀ له وطنه

ظاهر د خلقو سره خاندم
چې په فرياد مې پروا نۀ کړې

پټې مې اوښکې په ګرېوان درپسې ځينه
اوس به دې مور ته ګرېوان پښو کښې اوشلومه

مورې منګے راکه ناوخت شو
چې مازيګر په ښائسته کېږي

ما ته جينۍ په انتظار ولاړې دينه
هغې جينۍ له مور منګے نۀ ورکوينه

دا سر ترلې مور دې مړه شه
خدائے دې د مور قبر دوزخ کړه

چې پيشو ګړپ کړي دا بېداره ناسته وينه
ما زړۀ ويشتلے ستا ديدن ته نۀ پرېږدينه

دا سر ترلې مور دې مړه شه
مور دې په تا پسې ړنده شي

چې تۀ کور نۀ ئې ما د سپي په ځاے ترينه
چې بې ګناه مې د زړۀ اخلي آزارونه

خولۍ به زۀ درته چکن کړم
ما به دا ستا خولۍ چکن کړې

توره لنګۍ به درته مور وکړي مئينه
د موره يو ئې نظري نۀ شې مئينه

مورکې مهٔ راته قهرېږه
ما د کوچې د عمر ځار کړې

د ارمان ژنو کډې تلې وراووتمه
اور به بلېږي دوي به کډې باروينه

خداے دې د مور عمر دراز کړه
خدايه د مور ئې ورته پام کړې

د ګلو څوکې تا به ما له راکوينه
چې ورله کېږدي په لنډۍ زنه خالونه

خداے دې د مور عمر دراز که
که د دنيا شرمونه نهٔ وې

د ګلو څوکې تا به ما له راکوينه
تا به منګے وړه زهٔ به تش درسره تلمه

خدايه د مور عمر ئې ډېر کړې
زهٔ به ترې ولې نهٔ ځارېږم

چې مازيګر شي لور اوبو له رالېږينه
چې مور ته شا کړي ما ته شنه د خندا شينه

مورې راپورته شه اور بل کړه
مومن په لوړه غونډۍ کېږدئ

د مومن خان په وينو رنګ دي بالښتونه
چې خواره مور ئې هر ساعت زيارت کوينه

د مور او لور سخته بېلتونه
د تورو غرونو دې فنا کړم

مور ئې ولاړه لور ئې شا ورته کوينه
په زړهٔ کافرې مورې نهٔ دې يادېدمه

زوي مې ځوانۍ ته قدم کېښود
نصيب مو خپل دے رارسېږي

د وادهٔ غم ورته کوم چې راضي شينه
عالمه مهٔ مو ګرموئ مياندې پلارونه

چې بخت منير ئې ورله راوړو
د محبت مور نهٔ وه مېره وه

مور ئې ړنده شوه په بازو خُلهٔ لګوينه
نهٔ لېونۍ شوه نهٔ ئې واغوستل کندونه

آسماني تندر شوے جانان
زما په تا پسے رنګ زېړ دې

په ما راپريوتے ذرے ذرے د کړمه
کم عقله مور مې د زيړي علاج کوينه

په سپيرو بد مه وايه مورے
خاورې راواخله هغه ښکل کړه

سپيرے خو خاورې دي ګلان زرغونوينه
دې کښې پراته دي ډير ښائسته ښکلي مخونه

بهر را اوځه څاځکي اوشو
په ديوال هسکه شه خله راکړه

مور ته د وايه چې خشاک سنبالومه
مور ته بهانه کړه چې څپياکے ټولومه

تهٔ به زما په طمع ناست ئې
ته به زما په طمع ناست ئې

چې د چنے دیوال د شا اوسولوله
زهٔ پورته کېږه ما مې مور نه درکیونه

دا نازولې لور د چا ده
چې هر سحر توروي سترګې ږدي خالونه

دوه مې دي وروته زیږ ګلونه
شکر دے وروته مې جوړه دي

دوه مې وربنداري د تیراه بلبلې دینه
چې دواړه غبرګې ملا تړي دشمن به مرینه

ورور خو مې شته بې وروره نهٔ یم
وریندارې ستا د مبارک شي

که ننګ مې نه کړي نو خپل ورور به مې ساتینه
ورور مې د سرو زرو غمے دے دِ تاشونه

تربور اوږه په اوږه خوند کړي
تربور ته مهٔ وایه چې وروره

چې اوږه ماته شي تربور به د ساتینه
د سرداري پړونے خپلې خور له وړینه

دا خُلهٔ به خاورې تا له درکړم
ما درته خور وئیلي نهٔ وو

تا په سختۍ کښې ما ته خور وئیلي وونه
دادا دې ناست وو د اوربوز نه ئې شرمېدمه

دا نازولې لور د چا ده
دا نازولے زوي د چا دے

چې هر سحر توروي سترګې ږدي خالونه
مور ئې لګیا ده ورله سترګې توروینه

ورور ئې غذا له روانېږي
وروره د تور ټوپک دې ځار شم

خور ئې په توره لاس وهي ورسره ځینه
دا د کنداغ ښونډي ې خور جوړ کړي دینه

دا جمعه داره خور د چا ده
د جمعه دارې جینۍ وروره

په بلو ګرځي ورانوي ودان چمنونه
ما به نوکر کړې که زهٔ هسې ملا تړمه

د پلار ئې خر د کتے نهٔ وو
د پلار ئې خر د کتے نهٔ وو

لور ئې میرګاټ په اشرفو ونښلاونه
لور ئې سوریږي د نباتو په ټوپونه

دواړه وړوکي شهزادګان دي
دواړه د یو بل نه ځارېږي

دواړه وریندارې د چمن ګلونه دینه
ښهٔ په خندا خوشحالۍ عمر تېروینه

روکیه لرې وادۀ اوکړه
روکیه لرې وادۀ اوکړه
چې چغاچغ پنړې په لاره زړومه
زما یادیږي لوے لارې لوے سیندونه

زما په ستا مینه ماتیږي
زما په ستا مینه ماتیږي
چې وړه خور دې دربندې کښې اووینمه
وړوکے وروروَر دې رالیږه چې شوملې وړینه

که دیدن غواړے زما یاره
مونږ په شریکه باند ښکار کړو
مونږ دواړه خویندے په کوټه څرخے کوونه
مشره دام کیږدي زۀ دانے وراچومه

په کوټه دوه کونترې ناستې
که د زمونږ دیدن پکار وي
یوه کوکو کړي بله ځان سنبالوینه
مونږ دواړه خویندے په کوټه څرخه کوونه

مخے له دواړه خویندے راغلے
ډیر په نصیب به تر بچ کیږي
مشره ویشتل کړي کشره غشي ورکوینه
غشې چو سار دي د زړه سر سوري کوینه

اختر شبقدر مې رانۀ غلې
خوابښې مې مړه ده سخر مې نۀ کوي دودونه

لالا تۀ هم د خبره ورشه
خوابښې د زوم نه قربانیږي
د ناوې مور درله ساتلې ده بلبله
خو د انګور به چرته اونۀ کړي صفتونه

دا سخر مې نمر خوابښې سپوږمۍ ده
کور دې اسمان تۀ پکښې حوره
د قطب ستورے مې چنغول اورسیدنه
نمر او سپوږمۍ دې نوکران نیولي دینه

اختر شبقدر د دنیا دود دے
زما په خوابښې سلام وایئ
یار مې بیمار دے زۀ ترې نۀ غواړم دودونه
خلق اختر کړي زۀ زاړه پېوندومه

خوابښې مې ښه ده بده نۀ ده
که دې پیړې راته په شمار کړې
په تنارۀ راته پیړې په شمار کوینه
زۀ غل چکۍ د پیړو څوکې پریکومه

اختر په ټوقو ټوقو راغے
اختر شبقدر مې رانه غے
ورکړې جونه د کالو په طمع دینه
خوابښې مې مړه ده سخر مې نۀ کوي دودونه

زما غوړونه کاغذونه
نۀ به خزان کښې ګلان راشي
سخر مې دښمن دے راله نۀ جوړي دورونه
نۀ به د سخر د کوره راشي سره دورونه

زما ليورونه زيړ ګلونه
دوه مې دي ورونه زيړ ګلونه
که زه سرتوره پۀ کښې ځم پټه به شمه
زما وراندارے د تيراه بلبلے دينه

جينۍ چې مسته شي خندا کړي
هلک زلمې شي نو په پلار ځکم کوينه

جينۍ چې مسته شي خندا کړي
جينۍ چې غټه شي کلچه شي
هلک چې ځوان شي نو په پلار حکم کوينه
هلک چې غټ شي پوکښې دې پړسوينه

د هلک تورو بڼرو غوخ کړم
هلک د رنګه شهزاده دے
د جينۍ تور اوربل د غرۀ لېونے کړمه
ځکه ئې خوښدې بغدادۍ کونترې دينه

هلکه ځان ته غره مۀ شې
يار مې د لرې ښۀ ښکارېږي
که تۀ چنار ئې زۀ د ګلو لښته يمه
زۀ ئې هم زرکه د چمن ساتلې يمه

هلک مئين شي وطن پرېږدي
خوک په رضا د ملکه نۀ ځي
جينۍ مئينه شي مخ پټ کړي اوژاړينه
يا ډېر غريب شي يا د يار د غمه ځينه

هلکه ښنګه راته ګورې
هلکه داسې راته ښکارې
تا په دې زيړګونه کښې څه ليدلي دينه
لکه چيندخه چې په لوټه ناسته وينه

هلکه زما د يارۍ واوره
هلکه لرې رانه ګرځه
دا تورې زلفې ښاماران اوبه دې خورينه
ستا په يارۍ کښې په انکار اوکړېدمه

هلکه مرې که پاتې کېږې
يو مې له هغې جينۍ مرګ شي
دا مې دستور دے نرۍ سترګې تورومه
چې سترګې تورې کړي لکۍ ورله پرېږدينه

په کټ کښې پړوکے پروت يم
تۀ کټ کښې سپينه سپينه اوړې
په بازوګانو راته ناست دي ستا غمونه
زما د سترګو نه دې خوب اوتښتونه

دا تهٔ چې بې زما نه خوب کړې
پاس په سینه مې اموخته شوې
کټ دې ښامار شه چې دې خوب ته نهٔ پرېږدینه
اوس به په تش پالنګ کښې ځنګ کوې خوبونه

نجلې په خپله ښائسته ده
نجلې ولاړه په مانځه ده
زرګر ستا په کالو اور پورې کوینه
پیرزو مې نه شي چې اوربل په خاورو ږدینه

بې یاره خوب مې دشمن شو
ته چې مدام لما بیلېږې
کټ مې سور اور شو اوس مې خوب ته نه پرېږدینه
کټ د ښامار شه چې د خوب ته نه پرېږدینه

موري د مخه دې شرمېږم
ما له کوژدن چا سره اوکړه زوړ دې کړمه

ځوک چې په سپین هلک مئین شي
یاري د تور هلک مزه که
پس له ماښامه دې پنځ ډزے ګرځوینه
تور لونګین دے چې باچا ئې بویوینه

د هلک مورې جنتي شې
هلکه لوے شې برخوردار شې
هلک دې لوے کړو د لونګو بوئي ترې ځینه
روزي د پلار شې مونږ دې تش دیدن کوونه

زهٔ دې د ټول عمر پرې خرځ کړم
هلک د خپلې چنغلې دے
چې د منګي لاندې دې اوخوړل ځرخونه
چاټوري مهٔ خوره د منګي لاندې پېرونه

یو دې غریب پېدا کړم خدایه
تهٔ به مې بولې کبرژنه
بل دې مئین په کبرژنه جینۍ کړمه
ما د حیا نه تا نه مخ راواړونه

دیدن دې ما باندې قیامت که
بیا به دې نوم په خُلهٔ وانه خلم
زهٔ ستا د دره بې نوا راغلے یمه
بېګاه دې مور له دروازې شړلے یمه

ښه ده چېې ښهٔ مې خمبیره کړې
ښه ده چې وې خوړلې یاره
زهٔ د چالاک ټبره نهٔ منع کېدمه
د تور ښامار سره ځوک ځان بلدوینه

سترګې دې تورې په چل ګورې
سترګې دې تورې په چل ګورې
د لیلي خورې په کتو دې عاشق شومه
د کاکا لورې ما به ورک کړې له وطنه

سترګې مې ډېرې ولیدلې
شونډې دې سرې لکه کهجورې
د جینۍ سترګې مې ټپر سورے کوینه
د ظالم لورې لېونے درپسې شومه

زۀ به د سرومال تېر شم
که په لیلي باندې چا مړ کړم
که شاه لیلي زما د ژوند ملګرې شینه
دغه دستور دے مئین تل په مینه مرینه

ښائسته هلک مخې له راغے
د ګلو ونه شې هلکه
د چندنړ لښته تاووي غواړي کوژدنه
رب دې زما په لوري راوله شاخونه

مخې له راغلې مخ دې پټ کړو
که هر څو مخ زما نه پټ کړې
د کاکا لورې زۀ دې پوندې پېژنمه
په منګي باندې سرۀ لاسونه پېژنمه

وړوکے رور ئې دلاسه کړه
ما ئې د ورور د سترګو ځار کړې
چې درته اووائي د شیریني خور حالونه
کارۀ بانړه ئې خپلې خور ته تلې دینه

مریم زیړه خربوزه ده
ولې به زۀ ورپسې نۀ مرم
زۀ رضو ګل ئې د پوټکو سره خورمه
چې مور ته شا کړې ماته شنه د خندا شینه

مورې لنډے ټوپک راواخله
مئینه یم منکره نۀ یم
په ما مئینه جینۍ بل له ورکوینه
که جلاتیان مې سر د تورې سره وړینه

دا کمر بند ټوپک مې راکړه
خداے دې د مور قبر دوزخ کړه
زۀ پرې مئین یم مور ئې بل له ورکوینه
زما ویشتلے زړۀ بې ځاے آزاروینه

ورشه په زوره ورته وایه
ورکوټے نۀ ئې چې شرمېږې
هلک مئین دے خون به ئې ستا په غاړه شینه
خپله نعرې کړه چې مئین دربانديې یمه

مورې د مخه دې شرمېږم
و ما ته مۀ قهرېږه مورې
ما له کوژدن چا سره اوکړه زوړ دې کړمه
نرے شمال د مازیګر یم ورک به شمه

نن د بې موره زوي وادۀ دے
خدایه تۀ مور ئې جنتي کړې
زمکه ژړېږي آسمان دړېږي غورزوینه
دا د وادۀ جوړې دې تل خوشحاله وینه

کږه وږه په لاره درومې
ښارو په تګ دې خدای مئین کړم

لکه د زرکې په شان اخلې قدمونه
ما ته په لویه لار کښې کېږده قدمونه

سپینې د خدای د بلا ډېرې
سپینې د خدای د بلا ډېرې

سکنړې پېښېږي یوه نیمه په ملکونه
سکنړې رنځور کړم کټ مې واچوئ دننه

مخې له راغلې مخ دې پټ کړو
مخ مې نن ځکه درنه پټ کړو

خدای دې سیلۍ کړي چې دې ټوله اووینمه
بېګاه کوژدن شوم نن حیا درنه کومه

زما دې وران کلي کښې څه دې
زما دې سوي رنګ ته ګوره

دا لنډې ورځې غونډې تا ته تېرومه
که عاشق نۀ یم بیا مې اوشړه چې ځمه

په دېوال ګرګې راته مۀ ږده
په دیوال غنې راته مۀ ږده

زۀ به درواوړم ستا به خوشې خواري شینه
د شرمخانو لارې چا بند کړې دینه

زما په زړۀ کښې ورته څۀ دي
ما ورته خور وئیلي نۀ وو

جینۍ لالا لالا کوي حېران ئې کړمه
دادا ئې ناست وو له اوربوزه ئې شرمېدمه

تمبل په شرق وهه محبوبې
تمبلونه پاس به بلې کېږدئ

صبا به ګورم ستا د ګوتو پرهرونه
چې انګازې ئې د دشمن کره ورځینه

خدای دې زما کره ښکلې ګله
خدای دې زما کره غونډې منډې

لنډې قچر به چلومه تا به ساتمه
په سر به غونډې چلوم تا به ساتمه

لکه د ستورو چې رڼا کړي
لکه د ګل غندې موسکۍ شه

دا ستا د لاسه دا زما سوي داغونه
چې مې ټکور شي اندرون د زړۀ داغونه

جهان خبر په ما اکثر شو
جهان د ژوند فاني بازار دے

چې د دلبر په غم کښې وریت نارې وهمه
د عمر بیعه نور څه نشته بې غمونه

چې پیچکے دې ورله پرېښود
چې سور قمیص دې ورله جوړ کړو

اوس ئې زما د کوره منع کړه مئینه
اوس ئې زما د کلي بوځه پسې مرمه

مولا دې ما سره يو ځاے کړه
بادشاهي تخت مې پکار نۀ دے
تۀ به وانښۀ کړې زۀ به ګډې ځرومه
اشنا دې لو کړي زۀ به وګي ټولومه

خبرې ډېرې پکار نۀ دي
خبرې ډېرې پکار نۀ دي
د مطلب يو خبره اوکړه چې زۀ ځمه
زۀ فېصله په تور ټوپک باندې کومه

د دې مصرعې جواب مې راکړه
کور دې نزدې کوڅه دې لرې
کور مې د سين په غاړه دے له تندې مرمه
ياره ديدن د شي په مياشتو په کلونه

ستا د لالا دې لاس آزاد وي
چې ستا رضا راسره مل وي
که بې رحمي راسره ستا نۀ وي مئينه
زۀ د دهلي د باچا څه پروا کومه

خدايه تۀ ما د لارې پل کړې
خداے خو به تا د لارې پل کړي
چې جينکۍ مې په سينه وهي ټوپونه
جونه هوښيارې په لښتو وهي ټوپونه

په سيالانو کښې دې خړ کړم
تا ته مې يو ځلې وئيلي
که زۀ پښتون يم سم به لاس دوراچومه
چې زۀ ولاړ يم په چا مۀ اچوه لاسونه

په شرم ډېر درنه شرمېږم
دا زړۀ مې ډک دے د ګيلو نه
د زړۀ د حاله به دې رو رو خبرومه
هله به ئې وايم چې دواړه ځان له يونه

زما غېرت په جوش کښې راشي
د پښتنو پښتو ته ګوره
مقررېږي چې د جونو قيمتونه
چې لور او خور لکه څاروي بيعه کوينه

په طمع طمع د زه زوړ کړم
ستا د راتلو په طمع طمع
نه دې اشنا کړم نه دې راکړه جوابونه
زما په تور اوربل کښې سپين اولګيدنه

د جينۍ درې څيزه مزه که
ارتې پينځې لويه سينه لنډ قدمونه

د بابا کور ورکوټے تخت دے
د چا چې خپله ابۍ نۀ وي
موذي کم بخت دے ما له تخته غورزوينه
د دادا کور دې په کنډر حسابوينه

قربان قربان د دادا کوره
زما ابۍ دادا ته وایه
له ډکه شکوره به چاپېره تاوېدمه
خوشحاله نهٔ یم له ناکامه ناسته یمه

د جونو پلاره سوداګره
د پښتنو پښتو ته ګوره
د کشرۍ بیعه دې کوه راغلے یمه
چې لور او خور لکه څاروي بیعه کوینه

زما د وروره ښائسته نهٔ ئې
ناوې دې تا دې مبارک شي
وراندارې مهٔ خوره د منګي لاندې پیرونه
زما لالا د لاس غمے دے د تا شونه

ودې لیدم چې ټس مې درکړو
سترګې دې نهٔ دي روغ آفت دے
تهٔ مې مئین کړې زهٔ قراره کېناستمه
چرته کمتر به درنه روغ لاړ شي مئینه

نور به دې هره سوبه یوسم
مینه خو تا کړه ما خو نهٔ کړه
یو دې په مینه کښې شریک نهٔ قبلومه
نرۍ نرۍ به خندېدې مئین دې کړمه

اختر پرون تېر شو عالمه
اختر پرون وو پرون تېر شو
د بغدادو کونترو نن راغلهٔ سېلونه
د دادا خان کونترو نن سرهٔ کړهٔ لاسونه

پالنګ ته اوخته خملي
پالنګ کښې اوخته اودهٔ شوه
په زړهٔ ئې نشته د شیرین جانان غمونه
د ډډې لاندې ئې کړل چاودي چاودي زړونه

په بسم الله کټ ته ورخېژه
پالنګ مې دنګ دے صبر اوکړه
د جینۍ کټ د چلغوزو دے مات به شینه
زلفو ته لاس کړه چې راودې خېژومه

په خوبولي کلي راغلم
له خوبه پاسه ځان بېدار که
خدایه نعرې اوکړم که غلې تېره شمه
د کالو ډکه دې په سر ولاړه یمه

جینۍ په باغ کښې الوچې خوري
جینۍ په باغ کښې الوچې خوري
چې یار ئې راشي مخ په پانړو پټوینه
سورکے پېزوان ئې ورته څانګې لټوینه

جینکۍ نهٔ دي سرې مچۍ دي
د مازیګر ګودر ته راغلم
زما په زړهٔ ئې ګېبنه اونښلونه
لکه د سرو مچو په سېل ور اوختمه

چې مسافر په کاڼو اولي
په مسافر مې زړۀ خوږېږي
جينۍ لمن به دې خدائے نۀ زرغونه وينه
په ځنګدن کښې خپل وطن رايادوينه

ګورے چې ځان ته غره نۀ شې
ګوره چې ځان درنه ورک نۀ شي
که تۀ چامبېل ئې زۀ رامبېل خوشبويه يمه
دومره مئين درباندې نۀ يم چې مړ به شمه

ديدن مې ستا بهانې مې نورې
نن مې جانان ليدلے نۀ دے
لکه ګوجره چم په چم نعرې وهمه
په ديواله ښپياکۍ ګډې وډې ړدمه

سپرليه ستا د برکته
دا پسرلے راته ښکارېږي
د جينکو په غاړه ځانګې زيړ ګلونه
جينۍ په ښنړو کښې ګلاب ټومبلي دينه

زما په هسې نوم بدنام دے
پېزوانه بخت ته دې حېران يم
د جينۍ سرې شونډې پېزوان خوړلي دينه
هم دې زخمي کړم هم دعا درته کومه

اباسين بيا ولې ولې شو
اباسين بيا په چپو راغے
جونې ټولګي ټولګي په سېل ورله ورځينه
جونه منګي ورزغلوي چې کم به شينه

خله مې توره توره بولې
نۀ ګلابي يم نۀ بدرنګه
زۀ توره نۀ يم مور په ناز بللې يمه
زۀ غنم رنګه يم ځوانان رنځوروومه

د رنګه سپينه پاغونده ده
رنګ دې د ګل خوئي دې د پياز دے
په عقل فکر د جولا د ذاته دنه
زۀ کم دليله ستا په رنګ اوغليدمه

د جينکو د خويه زار شم
د جينکو نه کلکې نشته
چې لوظ اوکړي بيا پرې کلکې وي مئينه
چې په پردي وطن کښې عمر تېروينه

د اشنائۍ مې ورته اووې
د يارانې تپوس مې اوکړو
جينۍ دړۍ کانړے په ترخ کښې ګرځوينه
جينۍ د کور پورې ځي کنځل کوينه

شيرينه ياره دا دې وخت دے
شيرين اشنا به ښوک خبر کړي
زما په سر باندې جرګې راغلي دينه
چې ماسلان مې د مرګې راغلي دينه

هلکه ښنګه راته ګورې
هلکه خدائے که به ښُلهٔ درکړم

تا په دې زيړه ګونه څه ليدلې دينه
په سر د نشته د مصرۍ تورې وارونه

چا راته وې چې يار د تور دے
که د دنيا شرمونه نۀ وې

د ګلو شکور دے چې زما په رضا ځينه
شاخيله ياره درسره به ګرځېدمه

د کاکا زويه به اونۀ کړم
زما په زړۀ کښې ورته څۀ دي

چرته به ما ورته لالا وئيلې وينه
جينۍ لالا لالا کوي حېران ئې کړمه

ما درته خور وئيلې نۀ وو
سترګې دې تورې په ترس ګورې

دادا دې ناست وو له اوربوزه ئې شرمېدمه
زما خو رور ئې خاطر جمع که مينه

تۀ به د بل د کور مېرمن شې
تۀ به د سرې ډولۍ خاوند شې

ما ته به پاتې شي ستا غم ستا فريادونه
زما به اوښکې په مخ لارې جوړوينه

تۀ بنجاري شه اواز اوکه
ديدن مې ستا بهانې مې نورې

لکه تنزرے په ټوپونو به درځمه
لکه سوالګرے چم په چم نعرې وهمه

شونډې دې سرې لکه د زرکې
که تۀ مې روغ لېونے نۀ کړې

د ظالم لورې لېونے درپسې شومه
بيا مې د بنګو پياله مۀ بوله مئينه

هلک چې تور شي لونګين شي
د رنګه توره مصلي يم

جينۍ چې توره شي بنګړي دې خرڅوينه
زړۀ مې بادشاه دے شهزادګان نۀ قبلومه

يو مې هغې جينۍ نه مرګ شي
هلکه مرې که پاتې کېږې

چې سترګې تورې کړي لکۍ ورله پرېږدينه
دا مې عادت دے نرۍ سترګې تورومه

بنګړي په لاس که اوګډېږه
چې ګډېدل کوې جينوټې

ګډه به تۀ شې خوند به ما له راکوينه
په تا دې اوشي د مهرانو بارانونه

د جينۍ درې ښيزه مزه کړي
د هلک دوه ښيزه مزه که

ارته کرته لويه سينه لنډ قدمونه
سپينه خولګۍ بل د ټوپک کاږۀ غوږونه

باد د بلغار پکښې لګېږي
د غرمې خوب خو جینکۍ کړي

د غرمې خوب به د لیلې غېږې له ورمه
چې ګل ګوتې ځنړې د سر لاندې کوینه

زمکه ګانه کور دې لیلام که
مینه اونۀ کړې په قلار شه

زما د مینې نوم هله اخله مئینه
یو کال مې اوکړه در په در به ګرځېدمه

د جینۍ دې فېشن ته ګوره
یو مې هغې جینۍ ته مرګ شي

چې سترګې تورې کړې لکۍ ورله پرېږدینه
چې سترګې تورې کړي لکۍ ورله پرېږدینه

تۀ خو جوړ لاړې د بل چا شوې
تۀ چې مدام له ما بېلېږې

زۀ د دنیا په مېدان خوشې پاتې شومه
کټ دې ښامار شه چې دې خوب ته نۀ پرېږدینه

ثبوت مضبوط د یارۍ راکړه
که مې د بدو زور راوړے شي

زۀ به د پلار نیکۀ په ننګ در اوخېژمه
خوږه جانانه زۀ هم اوس درسره ځمه

خدائے دې زما که خپله پاره
خدایه زما جانان زما کې

ما دې په سر الله ته ډېر کړي سوالونه
زۀ به د سوي زړۀ زاري درته کومه

دا بند په بند به در کړه شم
دا بند په بند به شم درماته

لکه د کور ښانګه کړه زمکې له ځینه
په بند ماتېږي د لاچي لونګو ونه

دا بې جانانه عمر ګران دے
دا بې له تا نه عمر ګران دے

که مې بستر په ګلو پروت خوشبویه وینه
مالیاره اوچ شو بې لتا سمسور ګلونه

اندیښنو لوے غرونه چپه کړل
اندیښنې مۀ کوه صورت

شاباش په ما چې زۀ په پښو ولاړه یمه
چې اندیښنې د زړګي وینې وچوینه

حجره د ټول کلي دَ سره
ټوټې ټوټې ربابه مات شي

د نیمې شپې منګے زما لالے وهینه
ربابه تا مې زړۀ کښې وچېړل غمونه

ما په پردو کښې عمر تېر کړو
پردے وطن راته سور اور شو

د خپلو قدر ئې سېوا راباندې کنه
دلته رسوا شوم اوس خواره وطن ته ځمه

ما خو وئیل تهٔ به زما ئې
ما ته یوه خبره اوکړه

د اختر ټال ئې هر سړے دې ځنګوینه
زهٔ دې د نورو یارانو ویستلے یمه

ما درته وې تا نهٔ منله
ما درته وې تهٔ صبر نهٔ شوې

پرېږده چې سپي دې په کوڅو کښې غوښې خورینه
شوک چې پردو کوڅو له ځي سپي به ئې خورینه

یو ځلې راشه بیا دردرومه
یو ځلې تهٔ مې خبر واخله

چې ناقلار زړګے زما په قرار شینه
بیا که پېغام د مرګ راځي خوشحاله یمه

اواز مې شته جوړه مې نشته
خدایه زما اواز توري کړې

لکه کونتره بې جوړې نعرې وهمه
چې د زرګل په وادهٔ ځم توري وهمه

خبر مې ډېر اوکه رانغلې
خبر دې درې ورځې رانغے

په زړهٔ مې جمع شو د ټول عمر غمونه
لکه چې کال په للمه نهٔ شي بارانونه

خبر مې کله کله اخله
خبر مې اخله خپله یاره

د لېونتوب آواز مې نن سبا درځینه
د غم اوبهٔ مې تر مرۍ راغلي دینه

چې ګډېدل کوي جینوټې
د ګډېدو ئې دومره خوند دے

په تا دې اوشي د مهرانو بارانونه
د ګډېدو سره ملکونه چورلوینه

لکه خزان وهلې پاڼه
لکه دا پاس آسمان چې شین دے

پرته په زمکه ستا د پښو د لاندې یمه
داسې مې زړهٔ درپسې شین دے مړه به شمه

نارې وهمه غوږ دې کوڼ کړو
نارې وهمه مخ دې پټ کړو

ولې دې ځان له ما انجانه کړو مئینه
ظالمه یاره د سیالۍ دې اوویستمه

د دې خبرې جواب راکه
د دې خبرې جواب دا دے

ګولۍ یوه مارغان ئې دوه ویشتلي دینه
جینۍ یوه یاران ئې دوه نیولي دینه

لاس دې زما په لاس کښې راکه
لاس مې په تا وار مې خطا دے

لاس راکول به دې تر عمره یادومه
دا بې لتا به عمر څنګه تېرومه

جانانه ستا په محبت کښې
اور دې راپورې کړو تهٔ لاړې
لکه سګرېټ سراسرې اوسوزېدمه
چې تهٔ راځې زهٔ به خاورې ایرې شمه

جینۍ د بام په سر کږه شوه
جینۍ د بام په سر کږه شوه
لکه چې میاشت په غرهٔ کږه ولاړه وینه
ورسره کوږ شوم له کمره اولوېدمه

جینۍ کږه شوه ماته نهٔ شوه
جینۍ کږه شوه ماته نهٔ شوه
کله ماتېږي د چنډښو شنهٔ ښاخونه
د کنډې لور ده مور غوړې ورکړې دینه

جینۍ لونده له ګودر راغله
جینۍ لونده له ګودر راغله
لکه بلبله چې باران وهلې وینه
په یار راپرېوته چې ډېره سترې یمه

چې چرته ځې حال راته وایه
چې چرته ځې د غرهٔ په سر ځه
چې دې خالي دربار ته نهٔ کړم سلامونه
د موره یو ئې نظرې به شې مئینه

خدایه ګور ګړې تورې مهٔ کړې
خدایه ممانې پخې مهٔ کړې
جینکۍ سرې شونډې وروړې تورې راوړینه
چې جینکۍ به سپینې خُلې پرې توروینه

خدائے دې زما په شان مئین که
مئین ئې مهٔ کړې مئین خوار وي
چې در معلوم شي د زخمي زړګي حالونه
ولاړ حېران وي د یارۍ کوي سوالونه

کفن د ځان سره راواخله
ځان د قربان که مینه اوکړه
پس له هغې زما طلب کوه مئینه
په ویره ویره مینه نهٔ کېږي مئینه

ما د جم د زلمي زار کړې
د پېغلو هغه زلمي خوښ وي
چې نري ملا ئې د کارتوسو ډکه وینه
چې کارتوسان ئې په ګټه ټومبلي وینه

چې ستا پېغور ئې راله راکړو
څوک چې مئین شي ملامت شي
سترګې مې کوزې کړې په زړهٔ خوشحاله شومه
د ملامتو کومک هیڅوک نهٔ کوینه

چې ما وئیل هغه اونهٔ شو
صبر که هر څو زړهٔ ته ورکړم
اوس به په زړهٔ د صبر ډال نسکورومه
له نازنین اشنا نه نهٔ اخلي لاسونه

صورت زما واک ئې د نورو
د خوشحالۍ نصیب مې نۀ وو
رب ته واخلې دا بې واک صورتونه
چې د غمونو ویش کېده ولاړه ومه

کارغه وزر به دې د سرو کړم
نن مې د لاس باهو شنړېږي
که حال دې اووې چې جانان دې نن راځینه
د مسافرو شپې نزدې دي رابه شینه

دا خدایه ښنګه ښۀ دې اوکړل
دا راشه راشه مارټلیه
چې په دې لوي انګن دې کېښود قدمونه
اوس مې د زړۀ ستنې کړې درپسې دینه

دا تیراه وال به خاوند نۀ کړم
دا ډرائیور به خاوند نۀ کم
سحر صبا به په قچر ګوټې وهینه
چې نیمه شپه شي د ډیزلو بوئي ترې ځینه

جانان ستاسو په کوڅو کښې
زۀ به لتا نه منع نۀ شم
په ما ماتېږي شنګې لښتې په بارونه
که مې له تنه سر جدا کړي څوک مئینه

نرۍ نرۍ اوبۀ دې یوسه
خدائے دې زما په حال خبر که
چې پلار دې شګې لټوي مور دې بندونه
چې نور د سوي زړګي نۀ اخلې ازارونه

یاره یاري راسره اوکړه
هیڅوک د بل د غمه نۀ مري
که بې وفا شوې زۀ به مړه درپسې شمه
شیرینه یاره چا دروغ وئیلي دینه

ما چې دا ستا یاري کوله
یاري دې ټوله د ټګۍ وه
چې دا باقي عمر به یو ځائے تېرونه
زۀ دې د دې په مطلب اوس اورسېدمه

هوښیاره ووم ځان مې بوله که
ښه ده چې وې خوړلې یاره
په تور ښامار مې لوبے کړې اوي خوړمه
د تور ښامار سره څوک ځان بلدوینه

هلکه خدائے دې ځواني مرګه که
یاري د زړۀ په اخلاص کېږي
چې په یارۍ نۀ پوهېدې رسوا دې کړمه
درغله یار د یارۍ نوم اوشرموینه

په تا به څه تېرېږي خدائے زده
په تا به کوم محفل روښان وي
زۀ دې له خیاله شوګیرو راخستے یمه
زۀ شوم پتنګ درپسې شمع لټومه

راشه جانانه که مې ګورې
ځان ئې په سرو جامو کښې جوړ کړو

په سرو جامو کښې لکه ګل ولاړه یمه
اور د عاشق په خېل خانه اولګېدنه

د جینۍ سرو لاسونو اوسوم
د زړۀ زخمونه مې تخنېږي

خدایه تۀ وران کړې د نکریزو دکانونه
چې په نکریزو سرۀ کوي اشنا لاسونه

راځه چې شرعه په ملا کړو
خاورې به خُله تا لره در کړم

په کومه خُلۀ باندې به ما غواړې مئینه
تا په سختۍ کښې ما ته خور وئیلي دینه

زۀ د جانان د جواب نۀ یم
دا ستا رسۍ زما د غاړه

رنځور ناتوان د روغ څه جواب لرینه
که په بازار مې خرڅوې درسره ځمه

جدائي راغله لارې دوه شوې
جدائي مۀ راولې خدایه

مرګ مې قبول دے جدائي نۀ قبلومه
ما جدائي لیدلې نۀ ده مړه به شمه

هلکه زما د یارۍ واوره
په ښامارانو مې اونه خورې

دا تورې زلفې ښاماران اوبه د خورینه
له اوږو ټول که د اوږدو کمڅو سرونه

ورشه ښارو بې بې ته وایه
خون به ئې ستا په غاړه پور شي

هلک مئین دي خون به ئې ستا په غاړه وینه
که په کاږه نظر د بیا ور اوکاتنه

خلق مې ټول تپوس له راغے
څانګے پښتنے له مې راشه

ته به رانه شے چې دې پروت له غمه یمه
صبا به عذر له راځے په زړه غمژنه

په مخه راغلے مخ د پټ کړو
که هر څو مخ زمانه پټ کړې

ګناه مې وایه چې توبه ترې اوباسمه
په منګي باندې سره لاسونه پیژنمه

چې ما وئیل نوکري مه کړه
راشه زما د پلار نوکر شه

آزار ګټلي اوس رخصت نه درکوینه
مزدور به ته شے کار به زه درله کومه

ما د اشنا د کټ بازو کړے
یار مې تندرست زه ماندګئې یم

چې اړخ واړئ لاس په ما راواچوینه
چې پښه راواچوي بختې مې ماتوینه

ماله په خوب کښې خندا راغله
مخ ئې د يار په لاړو لوند وو
چې د جينۍ په مخ مې لاس اولګېدنه
تر ماسخوتن مخ ناولے ګرځېدله

جام به د وصل بيا رانه کړے
څوک چې د چا د باغچے ګل شي
که په ژړا درته ټول عمر تيرومه
مناسب نه دي چې سوکړې پر تيروينه

څوک به د مړ کړي خپل ياره
ما چې دا ستا ياري کوله
ماته د لارے مينځ کښې مه نيسه ګلونه
ما د سپين لاسکو چړو مرګ په خوب ليدونه

جينۍ په خود که ليونۍ شوه
د يارانے مې ورته اووے
چې تر کوځے ئې مخ بربنډ نيولے وونه
جينۍ تر کوره پورې ځي کنځل کوينه

جينۍ د رنګه تورکۍ ده
داسې دي هر قدم د ناز دې
قدم د زرو روپو بږدي رنځور ئې کړمه
لکه چې زرکه ايراني رفتار کوينه

اختر پرون وو پرون تير شو
خلق رادو کړي پناه کېږي
د بغدادو کونترو نن راغله سيلونه
د بغدادو کونترو سيل دې تير به شينه

ځانګي پښتنے له مې راشه
خاونده ما جانان له بوځے
صبا به عذر له راځے په زړه غمژنه
چې د بيمار جانان مې اوکړمه پښتنه

دنيا د سود په لور کږه ده
غريب سړے د مئين نه شي
جينۍ د هغو ياري کړي چې سود مند وينه
دلته خو واړه ښکلې حسن خرڅوينه

بام ته په منډه اوختمه
په چنه راشه ختے نه شم
يار مې اونه ليد په ژړا راپريوتمه
لکه ويشتلے زرکه ځان له ناسته يمه

که هر څو زۀ درپسے زغلم
د جينکو سرداره زۀ شوم
ته غرځنے ئې په هوا وهے ټوپونه
چې مې اشنا څنګه په منډه اونيونه

وړوکې نۀ ئې چې شرمېږې
په جار نعرې که چې مئين درباندې يمه

يارې د کمکۍ جينۍ ښه ده
کمکۍ جينۍ يارې دې خوند که

ستره شرمېږې کمکۍ کوره ته درځينه
پېغله شرمېږې وړه غېږې له درځينه

الله وړوکے يار زلمے کړې
الهي تۀ مې فرياد واورې

چې د زړګې بازار مې لوټې لوټې کړينه
زړه مې زخمي دے ما ارام ته نۀ پرېږدينه

وړوکے ما په يارۍ پوهه کړې
وړوکے ما په يارۍ پوهه کړې

اوس راته وائې زما اومنه سوالونه
اس چې د بل غېږې له ځې ژړا راځينه

وړوکے نۀ ئې چې شرمېږې
وړوکے نۀ ئې چې شرمېږې

په جار نعرې که چې مئين درباندې يمه
که تۀ شرمېږې لاس به زۀ درواچومه

خدايه وړوکے چنغول راکړې
چې په وړه باندې شېدا شوم

چې په تتوړو ئې وهم وړې مې نازونه
پرېږده چې سر مې ورته سپينه وړۍ شينه

وړوکيه صبر دې په خدائے شه
ورکه د خوشو يارانه شه

په هغه ګل چې نازېدې د نورو شونه
لکه د کور د ځيلې هر بوټي له ځينه

ټبر دې ټول راباندې ګران دے
ټبر دې ټول راباندې ګران دے

زۀ ستا د پاره د وړو سلام کوومه
ځکه دې کشر ورور په غېږ کښې ګرځومه

عمر د سپي راباندې تېر شو
وړوکے ما په يارۍ پوهه کړې

که زۀ سړے ووم ستا به نوم نۀ يادومه
اوس دې په تورو زلفو بل وهي لاسونه

جينۍ وړه د وادۀ نۀ ده
وړه ئې درکړم روغه نۀ شوم

مورې نېزې ته خېژوي چې دنګه شينه
زما آزار دې د ابۍ په غاړه شينه

زۀ چې وړه ووم ناپوهي وه
د سپينې خُلې قيمت خو دا وې

د سپينې خُلې د قدر څه خبره وومه
چې سر پرې ورکړې باقي دار به څومره شينه

وړوکے ما په یارۍ پوهه کړې
ولې به زۀ ورپسې نۀ مرم

اوس چې د بل غېږې له ځې ژړا راځینه
وړوکے یار مې لویوو لېونۍ شومه

جانان زما لکه ماشوم دے
جانان وړوکے دے باک نشته

ما ته یوه خبره شل وارې کوینه
خلق وړوکے غمے سرو زرو کښې ږدینه

ما د کوچنوټي ریبار ځار کړې
کوچنوټے یار به خدائے رالوي کړي

د یار یوه خبره دوه واره کوینه
ما ته خبرې د طوطي په شان کوینه

چې په وړه باندې شېدا شوم
چې په کمکوټي یار مئین شوم

پرېږده چې سر مې ورته سپینه وړۍ شینه
اوس به په صبر تېروم میاشتې کلونه

زۀ چې وړوکے ووم بادشاه وم
د دې نه لا وړوکے نۀ ووم

اوس چې زلے شوم غلام د خلقو شومه
د جینکو سره به یو ځاے ګرځېدمه

وړه جینۍ په یارۍ پوهه شوه
کمکۍ جینۍ یاري دې خوند کا

لکه لړم په دیوالو خُلۀ لګوینه
پېغله شرمېږي کمکۍ غېږې له ورځینه

جینۍ وړوکي ده نادانه
وړه ئې ورکړم روغ نۀ شوم

مور بې ایمانه ئې پېغلتوب ته جوړوینه
زما ازار دې د ابۍ په غاړه شینه

الله دې زر جوړ کړه جانانه
الله ماشوم لالے مې غټ کړې

چې دا باقي عمر مې نۀ تېر شي مئینه
چې مې تالا کړې د زړګي د باغ ګلونه

څو چې وړه نانو لویږي
وړه وړه شې لویه مۀ شې

زما به درب د کېږۍ ختلې وینه
تر لوئېدو به دې وطن وران کړے وینه

خدائے دې وړوکے یار رالوے کړي
خدائے دې وړوکے چنغول راکړي

چې مې په سر د زنې جوړ کړي پرهرونه
چې په تتوړو ئې وهم وړي مې نازونه

خدائے دې ککوټے وړکے لوے کړي
دا ستا د زنې تر سر جار شم

چې په خیالي اوربل مې ماتې ګډوینه
وړې وړې خبرې کړې نشه دې کړمه

عاقل بالغ ته غم په سر شو
عاقله فکر ورته اوکړه
ماشوم بادشاه دے د چا څه پروا لرینه
څه له پیدا ئې کوې څه رنګه کارونه

باور مې نۀ شي چې به روغ شم
په طبيبانو نۀ رغېږم
زۀ د کمکي پيکي شمال وهلے يمه
د يار په تش ديدن به روغ شم نۀ راځينه

زما دې کم نصيب ته ګوره
ولے به نه ژاړم تالا شوم
دلبر مے مخ په دواړه لاسه پټوينه
چې مې جانان د ماشومانو خوئ کوينه

لاس به دې غاړې ته پرېنږدم
که تش ديدن چرې کوې رضا پرې يمه

مينه د يو الله پکار ده
افسوس افسوس ارمان ارمان دے
دا نورې مينې لباسي پاتې به وينه
په پاکه مينه چې غلط ګمان کوينه

په حُسن هر څوک شېدا کېږي
د خپل جانان په مينه پا يم
دا عالم ولې ما په مينه ګرموينه
د محبت کفن په غاړه ګرځومه

سترګو ته ئې غټ کتلے نۀ شم
د حيا غټ کتلے نۀ شم
ما له حيا د يار د سترګو نه راځينه
د يار په څنګ کښې بې ديدنه پاتې شمه

دا د ناپوهه سړي کار دے
يار خو مې تۀ ئې بل به نۀ کړم
چې نوے يار کړي زوړ له ورکړي رخصتونه
که بل مې يار که په ايمان دې خواره شمه

دا د اشرافو جونو کار دے
دا د اشرافو عادت نۀ دے
د پرديسي اشنا په پت کښې ناسته وينه
چې بې لوظي به د اشنا سره کوينه

په متېزتوب درسره نۀ ځم
زما اختيار د مور او پلار دے
په پاکه مينه درسره يم څو چې وينه
زۀ به رضا ياره د مور او پلار کومه

جينۍ د رب روئي مې راوړي
مخ مې نن ځکه درنه پټ کړو
چې په ما راشي مخ ته مۀ نيسه لاسونه
ببګاه کوژدن شوم اوس حيا درنه کومه

زما د مور جواب به وائي
زما اختيار د مور او پلار دے

د سپينې ځُلې واک مې ورکړے دے مئينه
زۀ به رضا د خپل مور او پلار کومه

جانان که خس دے ما له بس دے
يو مې مولا يو مې جانان دے

زما توبه ده د پرديو ديدنونه
ډمه خو نۀ يم چې به ډېر ياران ساتمه

روژه د صبر مې نيولې
ځان د پوزې په شان رانغاړم

د يار ديدن ته د عمرونو تږې يمه
ياران ټګان دي حاجتونه سر کوينه

ما له لاس مۀ راوړئ بدېږي
لاس به دې ځان وته پرېښږدم

زۀ مسافر اشنا په خداے سپارلې يمه
د مسافر اشنا په پټ ولاړه يمه

مينه د زړۀ کاتۀ د سترګو
مينه د زړۀ ليدل د سترګو

لاس لګول د رذيلانو خلقو وينه
لاس اچول به د کم ذاتو خلقو وينه

يوه روژه بله غرمه ده
يار مې روژه کښې خولګۍ غواړي

جانان جواب راولېږه چې را دې شينه
مخلوقه غور کا د دين ستنې ړنګوينه

دوه مې دي وروڼه زيړ ګلونه
په اشارت به دې راغواړم

دوه مې ورېنداړې د تيراه بلبلې دينه
په جوړه وروڼو به د پړوکې پړوکې کړمه

يو ځل مې تا اوکړے پښتنه
ستا به په پټ کښې ناسته اوسم

بيا مې پښتنه چا په ژوند نه کړې مئينه
که مې مارغان په سر کښې جالې جوړوينه

مخلوقه ځان تر نه رانغاړي
ياري د اوکړه رانه لاړې

ياران ټګان دي مطلبونه سرکوينه
لکه ويشتلې مرغۍ ځان له ناسته يمه

خواله د نه درځم ډارېږم
که د دنيا بدنامي نه وے

د لرې لرې ننداړې به د کومه
شيرين ياره درسره به ګرځيدمه

توره بلا يم نور څه نه يم
ځان بې وفا راته ښکاره شو

په يار مې خاورې اړوې هيڅ نه کېږمه
خاورې ايرې په جدائي نه شوم مئينه

ستا په تهمت کښې ګله رنګ شوم
پاکه به نۀ شم که دریاب ته ودانګمه

ستا په تهمت مې جامې رنګ شوې
ستا په تمهت کښې ټوله رنګ شوم
زۀ به رنګ کړې جامې کوم ځائے زړومه
پاکه به نۀ شم که دریاب ته اودانګمه

ستا په تهمت کښې بندیوان شوم
ستا په تهمت مې خلق اولي
لکه د مرګ مجرم چې قېد د عمر شینه
لکه چې قېس مجنون وړو ویشتلے وونه

ستا د تهمته نۀ خلاصېږم
ستا د تهمته نۀ خلاصېږم
که ګماني خلقو نه واخلم قسمونه
که زۀ هر څومره چا ته اوکړم قسمونه

ستا په یو غبږ داسې رنګ زیړ شو
خلق تهمت راباندې وائي
زۀ د تهمت جامې په غاړه ګرځومه
ما د تهمت په ډنډ کښې ډېر لامبلي دینه

که تهمتونه پرې انبار شي
مبارکي راکړئ عالمه
څوک دې له خپله یاره نۀ اخلي لاسونه
د تهمتونو سره یار قبوله کړمه

ما په تهمت ګټلي یاره
ما په تهمت ګټلي یاره
تهمت زما شو یار د نورو شوې مئینه
پرې به دې نۀ ږدم که مې سر پرېکړې مئینه

ما د جانان جامې وینځلي
ما د یار هېڅ لیدلي نۀ دي
د تهمت څاڅکي مې ځولۍ کښې پرېوتنه
خوشې تهمت ئې په سر پېټے ګرځومه

ما د جهان ننګې په تا کړې
یا خو دې مینه په ما نشته
ښه ده چې تۀ بې ننګه اوختې مئینه
یا ډېر هوښیار ئې ځان ساتې له تهمتونه

ملامت یار مخې له راغے
ملامت یار مخې له راغے
د خپلو بدو سزا ما له راکوینه
په خپلو بدو شرمیده کوز ئې کاتنه

ولې به نۀ ژاړم عالمه
ولې به نۀ ژاړم عالمه
یو مې یار بائیلو بل مې یوړل تهمتونه
تهمت زما شو یار د بل اورسېدنه

یو مې تهمت د ګلي واخست
یو مې ژوندون لاړو برباد شو
بل مې اشنا په رضا رانغے مئینه
بل د جانان په سر مې واخستل تورونه

اشنا زما په تهمت رنګ دے
اشنا زما په ژړا خاندي
ځکه ملنګ دے رنګ په رنګ اواز کوینه
بې قدره اوښکې مې په مخ چیچې وهینه

خدایه زما جانان زما که
خدایه سرتور درته ولاړ یم
ما پرې اخستي دي د ګلي تهمتونه
د خپل اشنا د خپلېدو کوم سوالونه

د تورې داغ به دې خداے روغ کړي
د تورې وار را باندې اوکه
د تهمت داغ به دې تر مرګه پورې وینه
راته رانۀ کړې د بې پتو پېغورونه

د تهمتونو پرې باران دے
د تهمتونو یار ئې زۀ ووم
اشنا د شرمه سترګې نۀ پورته کوینه
د سپینې خُلې خندا د بل سره کوینه

تهمت دې ټول په ما انبار کړو
تهمت زما د غاړې هار دے
په خوشحالۍ به ئې تر قبره پورې وړمه
زۀ به د غاړې هار تر مرګه ګرځومه

جامې مې ستا په تهمت رنګ کړې
جامې مې ستا په تهمت رنګ دي
زۀ د تهمت په ټکو برګ خوشحاله یمه
یا به دې یار کړم یا به رنګ په وینو شمه

زۀ په تهمت د جانان رنګ شوم
که تهمتونه پرې انبار شي
جانان مې لاړو زۀ یواځې پاتې شومه
څوک دې له خپله یاره نۀ اخلي لاسونه

یو چې د بل په تهمت رنګ وي
تا که زما په تهمت ورک کړي
هغه بې ننګ شي چې په څنګ ورسره ځینه
زۀ به خپل عمر په ژړا کښې تېرومه

ستا په تهمت کښې مې ځان رنګ کړو
زۀ په تهمت د جانان رنګ شوم
اوس به ئې په غټو غټو اوښکو پاکومه
جانان مې لاړو زۀ یواځې پاتې شومه

خلق تهمت راباندې وائي
خلق دې وائي تهمتونه
زۀ د جانان په غېږ کښې چا لیدلې یمه
ما د تهمت په ډنډ کښې ډېر لامبلي دینه

تهمت د یار بادشاهي غږ دے
تهمت د یار د ډيلي تخت دے

په ما چې اوشو شهنشاه د جهان شومه
زۀ د جانان په تهمت رنګ شوم بادشاه شومه

جامې مې ستا په تهمت رنګ دي
جامې مې ستا په وينو رنګ کړې

يا به دې يار کړم يا به رنګ په وينو شمه
په وينو رنګ جامې به ولې بدلومه

زۀ خو دې وينم چې ولاړ ئې
ستا د تهمت نه نۀ خلاصېږم

په تهمت ياد يم دروتے نۀ شم مئينه
که زۀ هر څومره چا ته اوکړم څوګندونه

عالم تهمت راباندې واي
عالم تهمت راباندې وائي

زۀ د جانان په غېږ کښې چا ليدلے يمه
زۀ بې قصوره تهمتي د خلقو شومه

له ورايه ګوره ديدن اوکه
له نزدې نۀ درځم ډارېږم

خوا له مې مۀ راځه اشنا بدنام به شينه
د لرې لرې ننداري به دې کومه

ما ته د لرې ګوره ياره
ستا د تهمت نه نۀ خلاصېږم

په نزدکيت کښې پېدا کېږي تهمتونه
که زۀ هر څومره چا ته اوکړم څوګندونه

اشنا ياري دې کړې نۀ ده
که خُلۀ مې اخلې راشه واخله

ځکه دې ړق وهي د ويرې اندامونه
د بلې سورې ته مې مۀ بوځه ډارنه

چاړه په لاس کښې يار له ورکړه
چاړه راواخله ما حلال کړه

زۀ به مرې ورته د خپلې اندې ړدمه
د داسې ژوند نه زۀ په مرګ خوشحاله يمه

چاړه راواخله ما ټوټے که
چاړه راواخله سر مې پرې کړه

د بل په خُلې مۀ رالېږه سپور جوابونه
لائق د مرګ يم چې په تا مئيندمه

کودې راواخلئ مخ مې تور کړئ
په څوګندونو نۀ پاکېږم

ما د بې ننګو ياري کړه اوشرمېدمه
که زۀ قرآن په سر په کلو اوګرځمه

دا يو دې مياشته د روژې کړه
مياشت د روژې ټکه غرمه ده

بل دې د سرو شونډو غرمه کړه او دې سومه
يار سوال جواب راولېږۀ چې رادې شينه

مئينه يم منکره نۀ يم
زۀ دې د مرګ نه نۀ ويريږم

زۀ پښتنه يم مرګ له غاړه ورکومه
پښتنې وينې د مرګ مخې له ورځينه

يار مې د چين زۀ د ماچين يم
يار مې د خوست زۀ د تيراه يم

په زړګي سپين يم يار په زړۀ کښې ګرځومه
خدايه خوست وران کړې چې جوړه تيراه ته ځونه

يو مې تهمت د کلي واخست
يو مې ژوندون لاړو برباد شو

بل مې جانان په رضا رانغے مئينه
بل د جانان په سر مې واخستل تورونه

خلق تهمت راباندې وائي
خلق جوړه جوړه ګرځيږي

زۀ تهمتي اشنا په سترګو نۀ وينمه
زۀ کم نصيبه يار په خوب کښې نۀ وينمه

ياري خو تا کړه ما خو نه کړه
ياري د پټه پاتې مه شه

چې تهمت راغے تا په ما کړه تهمتونه
رب د رسوا کړه چې تاوان درباندې شمه

د کور په خوا کښې دې ولاړ يم
زۀ خو د وينم چې ولاړ ئې

يا راته ګوره يا رخصت راکه چې ځمه
په تهمت ياد يم دروټے نه شم مئينه

هر څوک چې څه وائي رښتيا دي
زما په سپينو جامو پرېوته داغونه

څوک به دې مړ کړي زما ياره
عالم خو ډېر راته ګوابنېږي

ما ته د لارې مينځ کښې مۀ نيسه ګلونه
خدائے زده چې مرګ به مې د چا د لاسه وينه

څوک به دې سر له تنه پرې کړي
څوک به دې مړ کړي ځان سنبال کړه

په خطرناکو کوڅو مۀ کوه ګشتونه
پرون مې ورور ته ستا په سر لمسون کېدنه

تۀ چې اوس ځې په چا مې سپارې
تا چې رفتن د بل وطن کړو

که په بې ننګو مې سپارې سپي به مې خورينه
زۀ به د صبر په کفن کښې دفن شمه

تا ته چې زما پېغور بد ښکاري
په متېزتوب درسره نۀ ځم

پلو راغونډ که چې مونږ بل وطن ته ځو نه
په پاکه مينه درسره يم څو چې يمه

اخر به ما په لالا مړه کړې
خبره لاړه ډنډوره شوه
چې دې ریبار د ورځې درې پېرې راځینه
جانانه خپل غم دې کوه خپل به کوومه

جانانه ستا د زړۀ د پاره
که دې وطن راسره پرېښو
د پلار وهل د مور خبرې تېرومه
په دواړه لاسه به دې ښې چاپې کومه

اخر به ما په چړو مړ کړې
اخر به ما په دادا مړه کړې
تۀ چې دا سپینه سینه ږدې په دیوالونه
کم عقله یاره چې کوې اشارتونه

اخر به ما د ملکه ورک کړې
اخر به ما په دادا مړه کړې
تۀ چې دا دنګه غړې ږدې په دیوالونه
چې دې ربیار د ورځې درې وارې راځینه

اخر به ما په ګلي بند کړې
اخر به ما د ګلي غل کړې
چاتورې مۀ خوره د منګي لاندې پیرونه
تا چې په تورو ښنړو اوټومبل ګلونه

جانانه داسې درته وایم
راځه چې وتښتو جانانه
که مې د بدو زور لرې درسره ځمه
نورې خبرې به سپین ږیرې پاکوینه

اخر به ما په دادا مړه کړې
په ما دې ټول عالم خبر کړو
کم عقله یاره چې کوې اشارتونه
په تا دې یو دادا خبر شو زړۀ دې چوینه

نوم دې په خُلۀ اخستے نۀ شم
په غم کښې تا نه کمه نۀ یم
پټې سلګۍ دې په دیدن پسې وهمه
کم عقله نۀ یم چې به ګلي خبرومه

زۀ دې خالونو لېونے کړم
ستا په راتلو به څه اونۀ شي
صبرېدے نۀ شم په دیوال به دردانګمه
ما به په کور کښې رونه اندې اندې کړینه

دا د دیوال په سر ولاړه
که پسې ځم خلق پوهېږي
جینۍ ناپوهه راته کړې اشارتونه
که پسې نۀ ځم لیلي کړې اشارتونه

له ورایه ګوره دیدن اوکه
ښنګ له مې مۀ راځه جانانه
خوا له مې مۀ راځه اشنا بدنام به شینه
صبا به بوئي د لونګین درڅخه ځینه

هر څوک چې څه وائي رښتیا دے
داغ مې د سپینو جامو نۀ ځي

زما په سپینه جامه پرېواتۀ داغونه
که د جامو سره تنور ته اودانګمه

جانانه دې څولۍ ته ګوره
جانانه مۀ راپورې خانده

چې ما له جوړ نۀ کړې د خلقو پېغورونه
ډېر یم محتاجه چې زاري درته کومه

حلال حلال تیکه تیکه شوم
خنګه دې خواره کړمه یاره

جانان مې هغسې پردے حسابوینه
چې همسایه مې د خولګۍ طمع لرینه

جانانه ستا د زړۀ د پاره
زما په مخ تغمو ته ګوره

د پلار وهل د مور خبرې تېرومه
دا ستا په سر روڼو بېګاه وهلې یمه

زما او ستا پټه یاري وه
خبره لاړه ډنډوره شوه

په شین بادرنګ د اوویشتم رسوا د کړمه
جانان خپل فکر کوه خپل به کومه

په ما د ټول جهان خبر کړو
ستا یارانه مې کړے نه وے

دلبره اوس د رانه واغسته لاسونه
ځان مې په شنو جامو کښې سوي وي مئینه

په ما د ټول جهان خبر کړو
جهان اکثر په ما خبر شو

دلبره اوس د رانه واغسته لاسونه
چې د دلبر په غم کښې وریت نعرے وهمه

نوم د زما په سر کښې سپک شو
شابه تیرے تورے ته لاس که

بیرته به دروندشي که د زه حلاله کړمه
زۀ به د سپینه غرۍ پښو کښې غزومه

بیا به د نوم په خلے وانخلم
تبې راواخلئ مخ مې تور کړئ

که مې په یاد وي ستا رټلې جوابونه
چې د پردو خلقو په مینه نیازیدمه

زۀ دې په خپل کور کښې زړه کړم
د پېغلتوب باغ مې خزان لوټ کړو مئینه

روژه د صبر مې نیولې
د خربوزې په شان پخه شوم

د یار دیدن ته د عمرونو تېرې یمه
لالیه زر مې شوکوه ګیدړ مې خورینه

زۀ دې په خپل کور کښې زړه کړم
يو خو مې مور او پلار خداے مړۀ که
د پېغلتوب باغ مې خزان لوټ کړو مئينه
د دنياګۍ په سر ئې خاورې ايرې کړمه

د هلکانو مينې زور شوې
وار مې د تورو زلفو تېر شو
د پېغلو سپين شو په کورو کښې تور سرونه
اوس مې په سپينو زلفو نۀ نښلي بازونه

ځواني مې ستا په انتظار ده
چې د ځوانۍ دوران مې تېر شي
ځکه مې حُسن ته رخصت نۀ ورکوينه
جانانه ستا که بادشاهي وي څه به ئې کړمه

د ډمامې اواز دې راغے
يارې دې پټه پاتې مۀ شه
په زړۀ سورے شي ياره او دې کړه کوژدنه
رب دې رسوا که چې تاوان دربانديې شمه

ښائسته هلک کاله ته راغے
مورې د مخه دې شرمېږم
د چندنې لښته تاووې غواړې کوژدنه
ما له کوژدن چا کړه اوکړه زوړ دې کړمه

خدايه په دې لويه دنيا کښې
د مدينې سردار ته وايه
بغېر د ياره ژوند يواځې تېرومه
ستا په امت کښې زۀ بې ياره پاتې شومه

که يارې کړم مخ مې توربېږي
که يار لرې بې ياره مۀ شي
که يارې نۀکړم ارمان ژنه ناسته يمه
بې ياره جونه لاس تر زنې ناستې دينه

که خداے کول جانانه ستا يم
صبر کوه خداے به مې درکړي
مئينه مۀ شلوه تنۍ په زيارتونه
په بې صبرۍ معشوقې چا موندلې دينه

که يار لرې بې ياره مۀ شي
دا يار مې شته بي ياره نۀ يم
بې ياره جونه لاس تر زنې ناستې وينه
د مازيګر په سبل وتلے رابه شينه

يو کال به بل هم درته تېر کړم
زيارت خو نۀ ئې چې زيارت به دې کومه

پاکه الله که تۀ ئې واخلې
دا په دکن دې خلے جوړ شه
سرے سرے نۀ دے په بند ئې ناسته يمه
کاغذ دې راشه چې بندي ازاده شمه

ځوانانو ننګ راباندې اوکړئ
د تور ټوپک به خونړے شم

پلار مې ظالم دے ما ښامار لره لېږینه
چې ورمې نۀ کړي د ناکسو په لاسونه

جانانه ډېر کونتون مې اوکړو
که رسالدار ئې نامه کټ کړه

نور د کونتون طاقت زۀ نۀ لرم مئینه
په تور اوربل کښې زما سپین اولګېدنه

دا به د چا په ځان پېروز شي
دا به د چا په ځان پېرزو شي

چې به ګل رخ بدن په طمع زړوینه
چې ګل ښائسته عمر به باد ته تېرونه

یو کال به بل هم درته تېر کړم
د هندوستان سفر دې زر شه

زیارت خو نۀ ئې چې زیارت به دې کومه
زما په تور اوربل کښې سپین اولګېدنه

په هندوستان ورکه جانانه
د هندوستان سفر دې زر شه

رنګ مې دې هېر دے تش په نوم دې یادومه
زما په تور اوربل کښې سپین اولګېدنه

په ما دې وار د ځوانۍ تېر کړو
چې په ما دور د ځوانۍ تېر شي

ستا دې رانه شي له دکن مهرانونه
جانانه ستا که بادشاهي وي څه به ئې کړمه

د دنیاګۍ غمونه پرېږده
د دنیا وار په تېرېدو شو

زما غم اوکړه په جنجال کښې ناسته یمه
اشنا په تلو شو زۀ مخ پټې پاتې شومه

تا تور دکن ته سفر اوکړو
په ما دې وار د ځوانۍ تېر که

زما په تور اوربل کښې سپین اولګېدنه
ستا دې رانه شي د دکن نه مهرانونه

صبا اختر یار په سفر دے
مخ ته مې مۀ ګوره کافر شوې

د کالو ډکه به د چا غېږې له ځمه
زۀ مسافر اشنا په خداے سپارلې یمه

زما دې کوم کبر سبب کړو
زما دې څه نصیب کړو خدایه

چې نور دې ګل کړي زۀ غوټۍ اورژېدمه
زما همزولې خوشحالۍ کړي زۀ غمونه

تن مې زما زړه مې د بل دې
صورت زما واک ئې د نورو

لکه د بت په شان ډغرے راکوینه
ربه ته واخلے دا بې واک صورتونه

په نصیبه مې دا پرته وه
ما خو د داسې خلقو درته نۀ کاتنه

زمکې ته ټيټ شه خاورې واخله
شکر اوباسه چې خدائے ستا کړم

ثاني مې نۀ وې ياره خدائے درکړې يمه
ما به د داسې خلقو در ته نۀ کاتۀ نه

کړي بنګړو سره جوړېږي
کارغۀ د زرکې لائق نۀ دے

موذي دې ما سره جوړ نۀ شي مړ دې شينه
که د نصيب په تخته ليک وي وران دې شينه

خاورې راواخله موټے اوخوره
په نصيبه مې دا پرته وه

خوښه مې نۀ وه پاک الله درکړې يمه
ما خو د داسې خلقو درته نۀ کاتنه

شاه د موذي لائقه نۀ ده
که زما برخه خواره نۀ وې

خدائے ورله ورکړه مسخرې پورې کوينه
چرته موذي چرته زما سپين مړوندونه

اصل ګلاب چې خدائے رانۀ کړو
اصل ګلاب راڅخه ورک شو

په کار مې نۀ دي د رامبېل چامبېل ګلونه
کم اصل ګل چې بويوم ژړا راځينه

د انار ګل غندې تنکۍ ئې
که مې نصيب د بدو نۀ وے

په تور موذي خو مې پېرزو نۀ ئې مئينه
چرته موذي چرته زما د ابا خونه

د ګل د ذات پښتنه اوکړه
اصل ګلاب مې پيدا نۀ کړو

غنچه ترې هله جوړه وه چې اصيل وينه
که زۀ کم اصل بويه ووم ډک دي باغونه

بدن مې تول د ازغو ډک شو
اصيل ګلاب چې خدائے رانۀ کړي

بيا به د لارې ګل ته نۀ اچوم لاسونه
پکار مې نۀ دي د رامبېل چامبېل ګلونه

نيکي اصل سره پکار ده
نيکي د هېڅا نۀ هېرېږي

خوک چې کم اصل سره کړي بده به شينه
هېره د هغو شي چې په ذات کم اصل وينه

ياري د سيال سره مزه که
اصيل زاده نۀ وې هلکه

کم اصل يار په يارۍ بل اوشرموينه
اصيل زاده په مئين سرو مال شيندينه

فرق د اصيل کم اصل اوکړه
يارانو پرې مې ړدئ چې مړه شم
چې يار اصيل وي تر قربان کړه دولتونه
مئيندم د ذات مې نه کړله پښتنه

که ياري کړې اصيل يار ګوره
اصيله ووم کم اصلو يوړم
له خپله شرمه به ستا ډېر عزت کوينه
کم اصل داسې مې ساتي لکه مغله

تبۍ راواخله مخ مې تور که
پرېږده چې غم په ما انبار وي
ما د کم اصل ياري کړه وشرمېدمه
چې مې ياري د بې وفا سره کوله

ما چې دا ستا ياري کوله
زما په مخ باندې راتو کړه
کم اصله نۀ ووم چې مې ځان اصيلونه
که د کم اصل يار مې بيا اوکړه پښتنه

نۀ به ډېران کښې ګلاب اوشي
ورکه د سپکو يارانه شه
نۀ به کم اصل د اصيل د يارۍ شينه
درنه ئې نۀ کړم له بنې سپکه ئې کړمه

ما په ګمان د نارينه کړو
بيعه د باز پرې رانه لاړه
هلک د خور په وار پېدا دے ډوبه ئې کړمه
اشنا ګونګټ اوخوت تاوان راباندې شونه

فرق د اصيل کم اصل اوکړه
فرق د اصيل کم اصل اوکړه
که يار اصيل وي ترې قربان که دولتونه
بيا ئې په سر باندې تړه درانه بارونه

کم اصل ګل ته مې اسره کړه
ګل د اصيل بوټي پکار دے
اصل ګلاب رانه خزان اورېژونه
کم اصل ګل که بويوم ډک دي باغونه

د پېشمني اورونه بل شو
د پېشمني اورونه بل شو
ورته راکوز شول رنګينه سره پېزوانونه
زۀ د خېټو په طمع يم چې رابه شينه

ستا به وادۀ زما به مرګ وي
ستا به ډولۍ زما به قبر وي مئينه

وادۀ دې چارې په ما اوکړې
د زړۀ کمرو چاودي اوکړل
لکه تور سکور زۀ دوباره اوسوزېدمه
چې ستا ډولۍ په ما راوړه اولويدمه

ولې دې شولې نۀ کړلې
آسمانه ښۀ باران په اوکړې

سرنے کال مې د وادۀ وو تېر به شينه
يار مې د شولو کر کوي چې وتره شينه

بيګاه مې خوب ليدو رښتيا شو
زما د زړۀ ارمان پوره شو

اشنا په سره ډولۍ کښې کور ته وړې يمه
مرور يار مې زۀ په غېږ کښې اونيومه

زوي مې ځوانۍ ته قدم کېښود
خدايه وړوکے کاکے لوے کړې

د وادۀ غم ورله کوم چې راضي شينه
چې د خپل يار د سينې باغ لوټ کړي مئينه

رېباره ورشه يار خبر کړه
رېباره ورشه ورته وايه

صبا به ما د کوره سره ډولۍ کښې وړينه
که مې د بدو زور لرې درسره ځمه

لښ خو مې رو رو وړه ساربانه
چې ستا ډولۍ په ما راوړه

د ديواله خوا کښې مې يار سلګۍ وهينه
لکه يتيم د ديوال خوا کښې اودرېدمه

خاونده لرې مې وادۀ کړې
خاونده داسې اشنا راکړې

چې د اشنا د غاړې هار شمه مئينه
چې همېشه مې د خپل ځان څه ګرځوينه

زما ارمان چې پوره نۀ شو
په بنارسۍ کښې وادۀ مۀ شي

پاتې د زړۀ کښې د ډولۍ شه ارمانونه
خداے دې په ما پسې متېزه کړه مئينه

په کوژدن کړې مئين مۀ شي
چې ستا ډولۍ راباندې راوړه

تۀ به ولاړ ئې دا به سره ډولۍ کښې وړينه
لکه يتيم د ديوال خوا ته اودرېدمه

تا به په سره ډولۍ کښې يوسي
تۀ به د سرې ډولۍ خاوند شې

ما به په سرو لمبو کښې پرېږدي مړ به شمه
زما به اوښکې په مخ لارې جوړې کړينه

چې تيراه واله دې کوله
څوک تيراه وال به خاوند نۀ کړم

اوس ورته ټينګ شه د کټ لنګې د شلوينه
چې سحر پاڅي په خچر ګوتې وهينه

خاونده لرې مې وادۀ کړې
خداے مې دې لرې ځاے وادۀ کړې

چې د اشنا د غاړې هار شمه مئينه
چې بې پروا د جانان اوکړم ديدنونه

خدایه زما اواز توري کړې
اواز زما دې چې غږېږي
چې د زرګل په وادهٔ ځم توري وهمه
د جينکو په خُلهٔ تبق اولګېدنه

دا کمر بند توپک مې راکړه
د دې ورکړې ياري مهٔ کړه
په ما مئينه جينۍ بل څوک ودوينه
صبا به سرې سترګې ولاړ ئې دا به وړينه

روکيه لرې وادهٔ اوکړه
روکيه لري وادهٔ اوکړه
چې چغا چغ پنړې په لاره زړومه
زما يادېږي لوے لارې لوے سيندونه

زما په مرګ به ستا وادهٔ وي
ستا به وادهٔ زما به مرګ وي
ستا به ډولۍ زما به کټ لحد ته ځينه
ستا به ډولۍ زما به قبر وي مئينه

سترګې ډولۍ بانړه پر چتر
سترګې ډولۍ بانړه کاروان دي
د جانان مينه پکښې ناوې ګرځومه
د اشنا مينه پکښې ناوې ګرځومه

که غبرتي ئې ځان ځرګند که
نن د هغې پيغلې وادهٔ دے
سحر مې ستا په کوڅه سره ډولۍ کښې وړينه
چې له اوربل ئې بوراګان ګلونه وړينه

نن په هغې غولې ښادي ده
نن مې د مينې يار وادهٔ کړې
چې په خاطر مې تېرې ده چرې به وينه
زهٔ ملاقات د عزرائيل سره کومه

تا چې ديوال ته رانه مخ کړو
زهٔ دې د پلار د کوره څله راواستمه

عالمه راشئ مخ راتور کړئ
ما د چندڼ لښته ګنلې
د بادشاه لور ووم په جولا مئيندمه
د مېرې زوزه د اغزو دې ډکه کړمه

ما پرې ګمان د نارينه ؤ کړو
خدايه زما دې څه نصيب کړو
هلک د خور په وار پېدا دے ډوبه شومه
دا ابۍ غاړې يار دې ما له لوئيونه

ما د بازانو ياري کړې
ما د شاهانو ياري کړې
دا تور زاغان دې راته نهٔ وهي ځانګونه
شړۍ مو لرې څنډوئ دوړې راځينه

يار مې کوچے وو کوچ ئې اوکړو
ما د کوچي د عمره زار کړې

زۀ دې شم خواره په کوچي مئيندمه
اور به بلېږي دوي به ګډې بارونيه

هلکه ټګه حرمونيه
په قسمونو ئې دهوکه کړم

چې په رو رو دې راته وې رضا دې کړمه
په غاړه ئې پټ وو د کفارو زنارونه

زما دې څه نصيب کړو خدايه
نصيبه څه درسره اوکړم

دا ابۍ غاړے يار دې ما له لويونه
زما په برخه دې موذي اورساونه

چې ماسخوتن شي زړۀ مې تنګ شي
خاونده بيا د ماسخوتن کړو

برېستن کفن شي کټ مې ګور شي ورله ځمه
چې نا رضا کټ ته مې رېږدي اندامونه

عالمه راشئ مخ راتور کړئ
عالمه ما ته ګناه نشته

د بادشاه لور ووم په جولا مئېنديمه
ګناه د زړۀ ده چې ئې زۀ مجبوره کړمه

خاونده بيا د ماسخوتن کړو
د مينے کټ نه مې انکار دې

چې نا رضا کټ ته مې ريږدي اندامونه
جدا مې يار دې په کښې نه راځي خوبونه

زۀ خپل نصيب له کوره بوتلم
مبارکي راکړه جانان

عالمه ولے په جانان کړي منتونه
زۀ چې دا خپل کلي پرېږدم تا سره ځمه

ولے به نه ژاړم عالمه
يار مے ټپوس ناسته د باز کړي

نادانه زۀ ګړنګ مې يار اورسيدنه
خبر تر نه ووم په ټپوس مئينه شومه

زه د په دوو کښې کړم حيرانه
که پاتے کېږمه غرقيږمه

چې د پلار کور کړم که اشنا تاسره ځمه
که تا سره ځم بد نامي مې وير وينه

تا چې ديوال ته رانه مخ کړو
آخر به پړ مخے راواوړے

زۀ دې دپلار د کوره څله راوستمه
اشنا له تانه ګيله نوره نه کومه

کټه څلور د بازو ګان دي
ځان مې پخپله يار ته سپک کړو

پنځم جانان شپږمه زه درواختمه
د خپل ځانه ئې پالنګ ته اوختمه

باب :7

لقد خلقنا الانسان فی احسن تقویم

د قرآن حکیم د سورة التین ترجمه ده چې مونږه انسان په خائسته انداز کښې جوړ کړې دې. د تقویم لفظي معنی ده د څۀ څيز قوام او بنیاد درست کول د احسن تقویم نه مراد دا دې. چې انسان د جبلت او فطرت په اعتبار سره هم د نورو مخلوقاتو نه احسن دې. او د هغه جسماني هیئت او شکل و صورت هم د دنیا د تمام زنده سرو نه زیات بهتر او خائسته جوړ کړې شوې دې. حاصل کلام دا دې چې الله تعالی په خپل مخلوق کښې انسان د ټولو نه زیات ښائسته جور کړې دي. ابن عربيؒ وائي چې د الله تعالی په مخلوق کښې د انسان ته زیات خائسته څوک نشته ځکه چې الله تعالی د حیات یعني ژوند سره دې عالم ، قادر، متکلم، سمیع، بصیر مدبر او حکیم جوړ کړیدي. او دا صفات خپله د خدای پاک دي. ځکه خو د بخاري او مسلم په روایتونو کښې راغلي چې اِنَّ الله خَلَقَ آدم علی صورته. چې الله تعالی آدم علیه السلام په خپل صورت باندې پیدا کړي. یعني د خپلو صفاتو څه درجه ئې ده ته ورکړې ده. ورنه الله تعالی خو د شکل و صورت نه پاک دې.

په تمام مخلوق باندې د انسان د حسن فوقیت د ظاهر باطن، حسن و جمال بدني ساخت او هر حالت سره دې. ځان له په یو سر کښې څومره عجیب اعضاء دي چې لکه د کارخانو په شان کار کوي. او ډیر نازک باریک خود کار مشینان لګیا دي کار کوي. د هغسې په سینه او په خیټه کښې. د لاسو او پښو په ساخت کښې بې شماره حکمتونه پټ دي. علامه قرطبي فرمائي. چې انسان د عالم د تمامو څیزونو یو نمونه ده. ځکه ورته عالم اصغر وائي.

ستا د ښائست ګلونه ډیر دي
ځولۍ مې تنګه زۀ به کوم کوم ټوله وومه

په دې ښائستۀ خداې مئين دې

چې هر اندام ئې رغوي په قدرتونه

ستا هر اندام ګل نه نازک دے
که د جانان زړه وے د غوښے
ورسره نه ښائي دا دومره ستمونه
راوريدل به ئې په ما نوازشونه

د جانان کوم کوم ځاے به ستا يم
ستا د ښائست ګلونه ډير دي
آسماني ستړګې سره لبان سپين مړوندونه
ځولۍ مې تنګه زۀ به کوم کوم ټولومه

صورت مې ټول زخمي زخمي وو
صورت مې ټول لعل و جوهر شو
يار مې غيږ راکړه بيرته روغ شو پرهرونه
سنګ پارس اشنا په غيږ نيولے يمه

صورت مې خپل واک مې پردے دې
صورت مې خپل واک مې د بل دې
صورت خاورې شي چې نور د واک کوينه
خاونده واخلي دا بې واک صورتونه

قد دې د سروې په شان روغ دې
قد ئې په مثل د الف دې
قدم د زړکې په شان ږدې رنځور دې کړمه
لکه د دال د غم کوږ ورپسې شومه

ته مې مجنون د بيابان کړے
زما په خپل حسن غوګند دې
زۀ د نوارو په کټ اور درلګومه
چې اتنظار د ترقيامت پورے کړمه

زما د ستا په سر قسم وي
ستا د قسم په حسن خپل وي
چې په ژوندون له تانه نۀ توبه کومه
چې يار د بل وې ماته مه خانده مئينه

له لرے مرم له نزدے سوزم
ستا په جمال رو رو سوزېږم
زۀ ليونے طاقت د دواړو نه لرمه
پتنګ خو نه يم چې يو دم لوخړه شمه

ښارونۍ لاړه ملک خالي شو
زما په تا سترګے خوږے دے
زۀ به ئې د لاس نخښو ته عمر تيرومه
ځکه مې واغستل د هر چانه لاسونه

چې سر زما وي څنګل ستا وي
د هغه وخت په انتظار یم رابه شینه

سر دې په اوچه لوټه کېږده
سر خو په اوچه لوټه نه ږدم

مسافر نه غواړي د پرو بالښتونه
مسلماني ده څوک به راوړي بالښتونه

سر په کږه څنګله کېږده
سر په کږه څنګله کېږده

په کینړه لیچه مې بنګړي دې مات به شینه
مخ مې راستون کړه ښکلوه شینکي خالونه

سر په کږه څنګله کېږده
سر به دا ستا په څنګل کېږدم

تا به د دې خبرې ډېر ارمان کونه
خوب د کږې څنګلے ډېر مزه کوینه

سر مې د هغه یار څار شه
سر مې د یار تر سره څار کړې

چې ځان ئې هیر وې ما هر وختې یادوینه
دا میراتي خولګۍ به چاته ورکومه

بالښت د خاورې سر ته کېږده
بالښت د زلفو مې ساتلے

بې ننګ ته نه ږدم سر د لاندې مړوندونه
د غیرتي اشنا د سرلاندې به ئې ږدمه

چې سر زما او څنګل ستا وي
سر دې زما په څنګل کېږده

د هغه وخت په انتظار یم رابه شینه
تا به د دې خبرې ډېر ارمان کونه

دا ماله خوب راځي څملم
لاړه هغه زمانه لاړه

لیچے بالښت کړه چې پرې سر اولګومه
تابه د یار په څنګل تل کول خوبونه

ورشه د کور بالښت راوړه
تر سر به لوټه کړم د لاندې

مړوند مې خپل دې نور ئې نه در لاند ږدمه
زما خوښ نه دي د منت سپین مړوندونه

مړونده مات شې شل ټوټے شے
په بالښت دوه سرونه خوند کړي

چې بې د یاره دې د سر لاندې کومه
چې اشنا نه وي ماله خوب چرته راځینه

کانړې راواخله سر پرې کېږده
سر دې سادین په لوټه کېږده

مسافري ده دلته نشته بالښتونه
پردې وطن دې سترګې چاته واړومه

په اړولي سر مئينه
دا اړولي سر به اوکړم
چې جمنه اوکړم ليونے به شے مئينه
که ته شرميږې راله جوړکه تعويزونه

ټنډه دې نه ده زيړې نمر دې
توره تياره مې په زړه راشي
چې پناه کيږي په ما توره تياره شينه
جگر مې شق شي د فراق سلگۍ وهينه

زما په سر به دې څوک مړ کړي
څوک به دې مړ کړي ځان سنبال کا
د ميني ياره د ځان مه اخله ازارونه
پرون مې وروړ ته ستا په سر لمسون کيدنه

له سر به تير نه شي دروغ دي
د سر تير شه ديدن اوکړه
داسې مې ستا په شان ډير ليدلي دينه
که سر ساتے خاورې به اوکړې ديدنونه

که سر مې اخلے راشه واخله
بدن مې اوچ لکه لرگې دے
که وينے غواړې ستا غمونو څښلي دينه
لکه د للمې په باران گزران کومه

که سر مې بائيلو فکر نشته
ديدن د يار چې پکښې نه وي
که د جانان ديدن مې بائيلو ډوبه شومه
که د سمسورو گلو باغ وې وران دې شينه

که سر مې پريکړې ډير به ښه وي
زۀ به له تانه منع نه شم
له ژوندانه نه زۀ په مرگ خوشحاله يمه
که مې د تنه سر جدا کړې څوک مئينه

که سرومال مې دواړه غواړې
سر و مال دواړه به قربان کړم
دواړه سوغاته په يوان کښې ورکومه
که مې جانان د ژوندا نه ملگرې شينه

څوک به دې سر له تنه پريکړي
څوک به دې مړ کړي خپله ياره
په خطرناکو کوڅو مه کوه گشتونه
ماته د لارې مينځ کښې مه نيسه گلونه

ما سره سر په بالښت مه گده
ما سره سر په بالښت مه ږده
زما په غوږو با درې چيچل کوينه
ستا د سيگرټو بوئ مې خوب ته نه پريږدينه

دا اړولے سر به اوکړم
دا اړولے سر به جوړ کړم
چې په همزولو کښې سر داره ناسته يمه
که ته شرميږې راله جوړ که تعويزونه

رب دې زما کړه غنډې منډې
خدایه دې زما که زما یاره
چې ګرګې متې دې د سر لاندې کومه
زۀ شپه او ورځ د خدای په در کومه سوالونه

که مرور اشنا پخلا شي
زما د زلفو ارمان ژنه
بالښت د زلفو به ئې د سر د لاندې ږدمه
اوس ئې بالښت کړه په کوه بې غم خوبونه

سر د په څۀ ځنګله کېږده
سر به په تشه ځنګل کیږدم
په کینړه لیچې مې بنګړي دې مات به شینه
پکا رمې نه دي د اکبر بادشاه تختونه

سر دې راپورته که جانان
سر به د کټه پورته نه کړې
د ګلو ډکه دې په سر ولاړه یمه
په چا چې چارې د سرو شونډو شوې وینه

سر مې سرتور قرآن په غیږ کښې
سر به د خدای په نامه کېږدم
وفادار یار له ننواتې له ورځمه
که مرور اشنا پخلا راسره شینه

سر مې نرې نرې خوږېږي
سر مې د هغه یار ځار شه
د مئینانو بد بختي ده وبه مرمه
چې ځان ئې هیر وي ما هر وخت یادوینه

سر ئې په سور رومال تړلے
نا جوړ یار ښه دې زۀ نه یم
خدایا یار جوړ کړې مانا جوړه کړې مئینه
چې د غر مې غرمې پښتنے له ورځمه

په سر د دار ختل آسان دي
سر په تیشه وهل آسان دي
عالمه ګران دي د جانان د زړۀ ساتنه
فرهاد ګران دي د هجران سوي داغونه

په سر دې کوم غماز ولاړ دې
په سر ځنډلو به خلاص نه شې
چې دې زما له یارۍ واغستل لاسونه
ما دې د زړۀ په سر پانې وهلې دینه

چې سر ئې وي په تنے پورې
د سره تیر شه دیدن اوکړه
خوشې امید ئې د اشنا د دیدن وینه
چې سر ساتې خاورې به اوکړې دیدنونه

د سر و مال اختیار مې ستا دې
سراسري مې ستا رضا کړه
چې څه دې خوښه وي په سر سترګو منمه
تا خو زما په رضا اور اولګونه

یا مو لیدلې سره نۀ وي
یو په مشرق بل په مغرب وي
یا مې دا ستا په بالښت کړې وي خوبونه
چې نصیبونه سره یو شي یو ځاے شینه

زلفې دې ول په ول پرتې دي
په هر یو ول کښې ئې پراته د چل دامونه

چپه پیکي دې لیونے کړم
په طبیبانو نه رغیږم
یا ئې بیاتي که یا ئې غوټه کړه سرونه
زۀ د چپه پیکي شمال وهلے یمه

چرې زما د زلفو وار وو
وار مې د تورو زلفو تیر شو
جهان مې یار وو بې پرواه به ګرځیدمه
په سپینو زلفو باندې نه نښلي بازونه

چې پیچکې دې ورله پرېښود
د پیچکي بلا دې واخلم
اوس ئې زما د کور منع کړه مئینه
د نور بدن بلا دې مور واخله مئینه

د سټوکې سیلۍ دې یوړم
د سټوک مارو خویندو میاندو
د زلفو جاړو کښې د ترمې ترمې شومه
زلمې په شا او ټپوي چې جنګ له ځینه

ډیوه راواخله رڼرا راوړه
ډیوه راواخله دیدن اوکړه
ماله تیاره کښې ستا اوربل خلے له راځینه
صبا به وائې چې ما خوب لیدلے وونه

ښامار خوړلے خوبه روغ شي
ښامار د زلفو رانه تاؤ دې
زلفو خوړلے به رنځیږي مړ به شینه
د جادو ګر اشنا مې هیر شو منترونه

کاږه اوربل دې لیونے کړم
که دغه ستا اوربل زما وې
یا ئې بیتي که یا ئې پټ ساته سرونه
ما به د زرو روپو ټیک په ګرځونه

وار مې د تورو زلفو تیر شو
وار مې د تورو زلفو تیر شو
ځکه مې یار د مخه او نه شرمیدنه
اوس مې په سپینو زلفو نه نښلي بازونه

اور بل مې بیرته کړه لالیه
چې هوري ځي خال مې سهي کړه
چې دربنکاره شي تازه ستوري شنه خالونه
د هندوستان د جونو نشته دي خالونه

اوربل ئې بيا په مخ راخور کړو
ستا د ريښمو زلفو ځار شم

د چا آباد کورونه بيا به ورانه وينه
قطار قطار دې په مخ څنګه خوند کوينه

په ما به هغه ورځ اختر وي
په ما به هغه ورځ قيامت وي

چې د يار زلفې په سينه وهې ټالونه
چې د جانان په زلفو بل وهي لاسونه

جال دې د زلفو راته جوړ کړو
جال د يارۍ د راته کېښود

زړه مې بندي په کښې بندي د عمر شونه
زما د زړه طوطي دې اونيو پرمئينه

چې په کمند د زلفو بند شي
چې په کښې کېوتے پړقيږه

اوس به ئې د غم په ګوارو کښې ځنګومه
د تورو زلفو جال دې څله لټونه

د تورو زلفو ارزو منه
ګېډې ګېډې زلفو نه ځار شم

اوس ئې بالښت کړه پرکوه د ناز خوبونه
ما ستا د زلفو په ارمان ژوند تيرونه

د تورو زلفو شړق دې راکړو
د زلفو شړق دې راله راکړو

د مخ په ډډه مې تغمې ولاړې دينه
د فولادي تورې ئې زيات دې پروهرونه

د تورو زلفو يو تار راکړه
د تورو زلفو يو تار واخله

که مسافر شوم جينۍ ملا به پر ترړم
که ته زمرې ئې نو په اوتړه بارونه

د تورو زلفو يو تار راکړه
د زلفو تار په زر روپئي دي

که مسافر شوم تل به تا پرې يادومه
ما د جانان په لاس ګېډې ورکړې دينه

د زلفو يو تار ورله بس دي
د زلفو يو تار راله راکړه

رنځور سړې دې نرۍ ملا به پرې تړينه
چې مسافر شم جينۍ ملا به پرې تړمه

که ته مې روغ ليونے نه کړې
د تورو زلفو په تور تم کښې

زۀ به دا تورې زلفې خوشے ګرځومه
د خمارو سترګو ښامار خوړلے يمه

له تور کا کله دې خبر شوم
اوربل په توره نه ړنګيږي

غوځ په ځيګر شوم چې ئې ډمه بيلوينه
نا ترسه ډمه ئې په ګوتو ړنګوينه

محشر زما په زړه کښې جوړ شو
زلفې دې بیا په مخ خورې کړې

په سپینو ګوتو جانان زلفې خوروینه
د غم لښکر دې ورانوي د زړۀ کورونه

د زلفو بار ئې په اوږو دې
د هلک تګ د دراني دې

ځکه جانان مې رو رو اخلي قدمونه
لنډې قمیص عنبرې څنړې خوروینه

ستا د وعدو نه زه ترهیږم
زلفان دې څه عجب ماران دي

زلفو خوړلے ویره پړې نه کوینه
ستا د ښائست د خزانې پیره کوینه

زلفو ته هیڅ قصور هم نشته
زلفې د دام خال دې دانه ده

نا جانړه زه ووم چې راګیر په دام کښې شومه
زۀ خوار مارغه په دام د زلفو کیوتمه

جال دې د زلفو راته جوړ که
جال کښې د زلفو بندیوان شوم

زړه مې طوطي په کښې بندي د عمر شونه
چاړه د غم راته بیلتون په مرۍ ږدینه

زلفان دې څه عجب ماران دي
زلفان مې نه دي ښاماران دي

ستا د ښائست د خزانې پیره کوینه
پاس د سینې په خزانه څوکۍ کوینه

زلفې اوږدې پریږدم که لنډې
زلفې اوږدې پریږدم که لنډې

جانان لویشت ورباندې ږده خرپ ورکومه
دومره به ئې پریږدم چې جانان پرځنګومه

زلفې په ځان پسې راکاږي
زلفې مې ځکه اوږدې کړي

لکه خځله عاشقان جارو کوینه
چې زه په بام یم یار به لاندې ځنګومه

زلفو کښې ئې مخ هسې رنړا کړي
زلفې دې بیا په مخ خورې کړې

لکه په وریځو کښې سپوږمۍ رنړا کوینه
لکه سپوږمۍ چې په وریځ کښې پټه شینه

زلفې دې بیا په مخ خورې کړې
زلفو ته لنډې غوټې ورکړه

د غم لښکر د ورانوي د زړه کورونه
په زنه لګي شینکي خال دې ورانوینه

زلفې خورې که شونډې سرې که
نن مې د یار د راتلو غږ دې

نن دې د یار د راتلو غږ دې رابه شینه
په تورو زلفو ورته لار جارو کومه

زلفې دې دام بانړه دې غشي
زلفې مې دام خال مې دانه ده

زۀ مسافر په لارې تلم او دې ويشتم
ته مسافر په دام د زلفو کيوتينه

زلفې دې ول په ول پرتې دي
د زلفو دام دې راته خور کړو

په هر يو ول کښې ئې پراته د چل دامونه
زه مسافر په لارې تلم بندي دې کړمه

زلفې سنبل زۀ د بلبل يم
زلفې مې ټال دې د ريښمو

دا تور زلفان دې ټال وهي مئين دې کړمه
يار له ټالئ په سينه بره ورکومه

زلفې لونده ګودر نه راغله
د يار د مينې به وانه وړم

په يار ور پريوته چې ډيره ستړې يمه
که په سر اوخورم د مصرو تورو وارونه

زلفې مې روغې په مينځ پريکړه
د زلفو تار په زر روپئ دې

يا رمې بيمار دې ورته ئې زۀ لوګئ کومه
زۀ به ئې د يار سترګو ته ټولې لوګې کړمه

زلفې مې مه پريکوه مورې
زلفې دې ځان پسې راښکئ شي

په سر پريکړو اونو نه کينئ بازونه
د کبر ژنو غندې مه رډه قدمونه

په تورو سترګو دې مئين کړم
د تورو زلفو بنديوانه

بيا دې په زلفو کښې د عمر بندي کړمه
زما جانان په پنجرو کښې دې ساتمه

خلق په لومه مرغان نيسي
خلق په لومه مرغان نيسي

زۀ ئې بند کړې په خمارو سترګو يمه
زه ئې بند کړې د اوربل په لومه يمه

خلق په چرسو نشه کيږي
جانان د زلفي باد ته نيسي

ما د جانان د زلفو بوئې نشه کوينه
چې خوشبوئې د شمال هوا راوړينه

صورت مې ټول تغمې تغمې دې
زلفې دې نه دي کروړې دي

په تورو زلفو دې بيګاه وهلې يمه
زما په ډډو خو تغمې ولاړې دينه

ورځه ورځه په مخ دې ښه شه
ورځه ورځه تر دکن تير شه

ماته ګړئ په ګړئ مه وايه چې ځمه
زۀ چې په مخ زلفې لرم بل به يار کړمه

د زلفو دام دې راته خور کړو
د تورو زلفو بنديوانه

زۀ مسافر په لارې تلم بندې دې کړمه
د تورو زلفو به زندۍ درواچومه

يا ستا د زلفو خوشبوئي ده
ته د خوشبوئي په چينو راغلې

يا د تاتار په نافو ګډ شو تالانونه
که د خولو دخوشبوئي وږمې د راغلې په ملکونه

په تورو زلفو چې شهيد شي
څوک چې په مينه کښې شهيد شي

جونه هميش هم د هغه زيارت کوينه
ملالې جونه تل د هغه سلام کوينه

بالښت د زلفو نه مې جوړ که
زلفې مې ستا د سر بالښت دې

اوس پرې کوه د بې غمۍ خوارۀ خوبونه
څکه تر تار په بادشاهي نه ورکومه

خدای به دې زلفې په لاس راکړي
که خدای دې زلفې په لاس راکړي

ماته د ګلي ماشومان دعا کوينه
د زلفو تار د په جهان نه بدلومه

لب دې جړئ په خله کښې راکه
زما نصيب کښې رغون نشته

زۀ د د زلفو په ښامار خوړلې يمه
خلق مار خوړلو له عراق ترياق راوړينه

تا په لاس څنډۀ زلفو له ورکړو
د زړه زخمونه مې تازه شي

تر تر د اوښکو مې د سترګو څکه څينه
چې يار په سرو منګلو زلفې بيلوينه

د تورو زلفو په تور تم کښې
په پاړو ګانو نه جوړيږم

د خمارو سترګو ښامار خوړلې يمه
د تورو سترګو تور ښامار خوړلې يمه

د تورو زلفو په تور تم کښې
پريږده چې وي خوږم عالمه

د خمارو سترګو ښامار خوړلې يمه
په پاړو ګر اشنا به ډيره نيازيدمه

ما سره سر په بالښت مه ږده
سر مې د تا څنې قربان دې

د تورو زلفو به زندې درواچومه
که مې نصيب شي ستا د زلفو اميلونه

ځنړي د هر چا په مخ خوند کا
د خورشيدي په سر د سرو زرو تارونه

ځنړے دې هسے رنګه خوند کا
ځنړے د هر چا په مخ خوند کا

لکه د غره په سر چې باد وهي ګلونه
د خورشيدي په سر د سرو زرو تارونه

ځنړې دې درې لويشے مندي کړه
ځنړې به غُټې په مينځ پريکړم

کبر به واوړي په زمين راخکلے شينه
بوټې چې پرې شي رنګ په رنګ غوړګي کوينه

ځنړې د تور تور منګري دي
څوک بختور به ترې بچ کېږي

خله د عاشق په زړه دننه لګوينه
په ټول بدن کښې دوي په زړۀ خله لګوينه

ځنړې مې سپينے رنګ مې زيړ دې
دور مې د تورو زلفو تير شو

زۀ نا کړدو د موزيګي خوړلے يمه
په سپينو زلفو باندې نه نښلي بازونه

په سر دې چج کمڅي پرتي دي
په سر مې چج کمڅي پرتي دي

نا مړدې يار دې په تش بانړ کوي خوبونه
تر لاندې مه شه د نا مړد سړي لاسونه

سر مې وړې وړې کمڅي که
زما په ډډو خو تغمې شوے

غټې کمڅي مې د يار ډډې خوړوينه
کمڅۍ د غټې دي ما خوب ته نه پريږدينه

مخ دې اسلام زلفې دې کفر
زلفو ته هيڅ هم قصور نشته

خاونده خدايا زه د کفر بندې شومه
ان جان زۀ ووم چې په دام کښې راګير شومه

چرې به دوه کمڅې او نه کړم
چرې به دوه کمڅې اونه کړم

برغې کمڅې مې د يار ډډے خوړوينه
په دوه کمڅو کښې جينکۍ مټيزے ځينه

ځنړې مې مه پريکوه مورې
چې نه ئې ګل وې نه ئې پانړے

په سر پريکړو اونو نه کيني بازونه
په شنډو ونو کښې خو نه کيني مرغونه

يا د جانان د لورې باد دي
يا د جانان د زلفو بوئين دي

يا عنبري زلفې جانان سپړدلي دينه
يا په دکان د عطاري ور اوختمه

يا د ختن د نافې بوئي دې
د ښتنې د څنړو بوئې دې
يا عنبري زلفې جانان سپړدلي دينه
باد صبائي د مسافر په خوا راوړينه

مخ ته دې سم کتلې نه شم
لکه د نمر شغلې مې سترګې بريښوينه

مخ په قبله مې د يار کور دې
مخ په قبله سرتور ولاړ ووم
مونځ مې بهانه دې د اشنا ديدن کومه
قبول مې نه شو د ديدن سوي سوالونه

مخامخ مه ودريږه ياره
مخامخ مه ودريږه ياره
سترګې ګولۍ دې په سينه ويشتل کوينه
په زړه نرې يم بيا به لاس درواچومه

په مخ کړه څپيړه راکه
په مخ مې اوښکو لارې اوکړې
چرې به ما په راستۍ خله درکړې وينه
تا چې په سپينه خولګۍ راکړه جوابونه

مخ مې د نوي کچونړم دې
په مخ مې رو ژبه راکاږه
ډير په احتياط مې خولګۍ اخله مئينه
مخمې تنکې دې ستا د ژبې سره ځينه

تاثير د مخ د غلبه دې
تاثير د مخ کښې پاتې نه شو
ځکه دې در کښې شهزادګان سلام کوينه
تا په جوړ پريښې دې د غير غماز لاسونه

په مخ مې رو ژبه راکاږه
چې د سحر په باد رپيږي
مخ مې تنکې دې ستا د ژبې سره ځينه
په هغه مخ په شونډې څوک او لګوينه

چې مخ دې واړي غم راواوړي
چې مخ راستون کړې غم مې ستون کړې
چې مخ راواړے رانه واوړي ټول غمونه
مخ د ستون مه شه زما غم راستنوينه

زور مې په مخ اونه کړې ياره
زما دغاښ په انبور اوځي
مور مې ميره ده زما مخ سهي کوينه
که به مې ستا زنې ته زور ورکړې وينه

زما دې کم نصيب ته ګوره
جينۍ د خداى روئ مې واوړي
دلبر مې مخ په دواړه لاسه پټوينه
چې په ما راشي مخ ته مۀ نيسه لاسونه

زور مې په مخ اونه کړې یاره
ستا اننګي پیړه د کوچو

مور مې میره ده پر هرونه لټوینه
زۀ نادیده ورباندې کلک غاښونه ږدمه

مخ مې د کوچو نه نازک دې
چې د سحر په باد ریبږي

خله رانه مه اخله کړه د ورایه دیدنونه
په هغه مخ به شونډې څوک اولګوینه

په مخ دې خط د ږیرې راغلے
په مخ دې خط د ږیرې راغلے

لکه چې پشم د ګلاب په پاڼړو وینه
نوره جفا درسره نه ښائي مئینه

په مخ ئې پشم د خولو دې
په مخ ئې پشم د خولو دې

لکه جوهر چې په فولادو باندې وینه
ما خو ګمان د مرغلرو پرکاوونه

په مخ ئې سپینې روپئې ځانګې
په مخه درومي په شا ګوري

جینۍ په خنړو لاس وهي یار له ورځینه
په شا دې پرینښوه په چړو خېرلي زړونه

په مخه راغلے مخ دې پټ کړو
مخ خو مې ځکه درنه پټ کړو

ګناه مې وایه چې توبه تر اوباسمه
بیګاه کوژدن شوم اوس حیا درنه کومه

په مخه راغلے مخ دې پټ کړو
دیدن په لکه خندا په زر ده

سیلۍ خو راشه چې دې ټوله اووینمه
په بادشاهي تخت به ورنه کړم شنه خالونه

خال د دور بین مخ د ښیښه ده
جام د جمشید دې خدای نصیب کړه

په کښې ښکاریږي لرې لرې وطنونه
تخت د اورنګ دې شه چې ناسته دې پروینه

د ورځې مخ د شرمه وینځم
د شپې دیدار دې غم ژاړم

د شپې پرخاوري بادوم چې صبا شینه
ورځ د اولس د غم غلے تیرومه

سپینه په سپین فیشن کښې راغله
سپینه چې سپین مخ راخرګند کړې

د سپین تندي نه ئې بیا سپینې شغلے ځینه
سپینه روپئې په تندي مزه کوینه

صورت د خاورې شو جانان
صورت دې خوب کښې راته راشي

د مخ تصویر دې په زړګي کښې ګرځومه
د شپې مې ویښ کړې تر صبا مې ژړوینه

مخ د پواړې ښځې ورک شه
زما په سخا جامو کښې خوښه ئې
د قلفې سر ئې په اوړو لړلے وينه
که د مچانو رسالے درپسې ځينه

مخ د بې خال ښائسته دي
خال به د يار په وينو کيږدم
که خال د کېښود ما به ورک کړې له وطنه
چې د جهان مهروبان واړه حيران شينه

مخ دې د زيړو ګلو باغ دې
مخ ته کاته دې ناروا دي
لکه چراغ دې پتنګان پرېځان سيزينه
په ما روا دې چې مئين دربان‌دې يمه

مخ ته دې سم کتلے نه شم
مخ ته دې غټ کتلے نه شم
لکه د نمر شغلے مې سترګې بريښوينه
په تش کتو دې په انکار ختلے يمه

چې مخ ته ئې ګورم تک سور شي
مخ ته مې ګورے چې تک سور شو
زۀ د حيا نه تر مخ بل خوا واړومه
زړه ته مې نه ګورې چې پټ دې په غمونو

مخ د ګلاب لکه د ګل دې
ګلاب د ګلو ته راښول کړه
کچکول په لاس تر نه ديدن راټولومه
ګل قند تر جوړ کړه د زړه درد قلاروينه

سترګې خو سترګو نه شرمېږي
دپنا شۀ سترګو څوک خاطر کوينه

دا مخامخ به سره کينو
سترګو د جنګ راباندې بائيلود
د سترګو جنګ به په بنړو سره کوونه
قجير بانړه دې شهزادګان په ماتے ځينه

ډيوه د ګل کړه کټ ته راشه
ډيوه دې مړه کړه کټ ته راشه
سترګې زما رنړا کښې ډېر شرم کوينه
د عاشقانو ګپ تياره کښې خوند کوينه

ماته ډېر نيغ مه ګوره يار
دې مخامخ کتو دې اوسوم
ستا د نظر غشي مې زړۀ سوري کوينه
سترګې دې ښکته کړه خونکاره شوې مئينه

هغه ساعت دې مرګ خطره وي
هغه ساعت د اختر ورځ ده
چې څلور سترګې مينځ کښې مئينه جوړوينه
چې د څلورو سترګو اوشي ديدنونه

یو مې هغې جینې نه مرګ شي — چې سترګې تورې کړې لکۍ ورله پریدینه
سترګې نرۍ تورې مزه که — دا ګډې وډې سترګې ډمې تور وینه

اوس به دې ټول بدن لمبه کړم — که اتشي سترګې په ناز در واړومه
سترګې ابدارې مزیدارې — ډیرې خونکارے په بڼړو ویشتل کوینه

سترګې به هر چا تورولې — په دې دله محلت کښې زه په ګوته شومه
سترګې دې بیا تورول غواړي — لکه د للمې پټې غواړي بارانونه

سترګو مې زړۀ ته ګیله اوکړه — مئین پرته شے اوښکې مونږه تویه وونه
سترګو ته زړه نصیحت اوکړو — د مینې غم دې په تقسیم به ئې ګالوونه

زړه ته په دې کښې ګناه نشته — ګناه د سترګو ده چې دې مئینه کوینه
سترګو ته څله ګناه اوکړم — چې زړۀ مئین شي سترګې تل کتل کوینه

سترګې چې تورې کړې خندا کړي — چې شونډې سرې کړې لیونۍ مه کړې مئینه
سترګې خو تا ورکړې خدایه — په دغه سترګو بې ګناه کوي قتلونه

په غټو سترګو دې عاشق شوم — غټې غټې غمونه راته پیښ شو خیر دې وینه
په غټو غټو راته ګوره — زۀ دې په غټو سترګو ټول خوړلے یمه

په غړیدلو لیدے نه شئ — اوس به په پټو سترګو زۀ کړم دیدنونه
سترګې مې پټې پټې کښږي — زړه مې ژړیږي د یار غواړي دیدنونه

خمارو سترګو دې زخمي کړم — اوس پرې مرهم د شونډو بږده چې روغه شمه
خمارو سترګو ته دې وایه — چې مې د مینے کاروان نه تالا کوینه

خمارو سترګو ته دې ګوره — عقل د سر صبر د زړۀ ئې اوتښتونه
خمارو سترګو نه دې زار شم — سترګو کښې اوخانده مئین دربانډې یمه

دا ستا په سترګو کښې څه چل دې — زما اجل دې جینۍ ستا د لاسه مرمه
دا ستا د دوه سترګو دپاره — وطن مې پریښود همسایه دنورو شومه

دا ستا د سترګو په کتو کښې
سترګو د ټول زخمي زخمي کړم

زما تازه شي د زړګي زاړه زخمونه
شیرینے شونډې دې پرې مالګه دوړوینه

دا ستا د تورو سترګو جار شم
دا ستا د دوه سترګو دپاره

چې ئې راواړے لما واخلے غمونه
د کلي جنګ د مور خبرې په ځان وړمه

دا مخامخ چې راته ګورے
دا مخامخ راته مه کینه

د آئینې په شان پریشانه شم مئینه
په زړهٔ نرې یم بیا به لاس درواچومه

د تا په سترګو کښې پیریان دي
سترګې دې بې اثره نه دي

چې په تا راشي غوټې ماله راکوینه
لکه د کوډو مرۍ برګې برګې وینه

سترګې دي اوزه راته ګوره
کتلے ځکه درته نه شم

په تش کاته دې سر څوک نه قلم کوینه
چې پټ په زړهٔ کښې ستا د مینې غلا ساتمه

سترګې دا ستا سترګې زما دي
یاري د زړه په مئینه کیږي

ماته دې کله د یارۍ وئیلي دینه
پیټے خو نه دي چې په زورئ په شا کړمه

په یارانه د پوه نه شوم
سترګې دا ستا سترګې زما دي

کله غصه شي کله او خاندي مئینه
ما درته کله د یارۍ وئیلي دینه

سترګے دې ډیرې ښائسته دي
سترګې زما په واک کښې نه دي

په تیره تیره دې د وریځو پیوندونه
چې چرته ګورې هلته جوړ کړي فسادونه

سترګې راپورته که جانان
سترګې د سترګو نه شرمیږي

د ګلو لښته دې په سر ولاړه یمه
آشنا زما نه شرمیده نه ئې کاتنه

سترګې راواړوه جانانه
یو ځلے ستا دیدن پرې اوکړم

زهٔ دې په طمع د دیدن راغلے یمه
بیا که مې سترګې کارغان خوري خوشحاله یمه

سترګې عجب سوداګري کړي
د زړه مثال د سودا ګر دي

زړه د اشنا په تش دیدن کښې ورکوینه
چې چرته خوښ شي هلته واړوي بارونه

د زړه په سترګو کښې مې ګرځې
ستا د دیدن په طمع طمع

د سرپه سترګو به د کله اوینمه
د انتظا انګار مې اوسول اندامونه

پرېږده چې اوښکې مې بهېږي
پرېږده چې ځان د ملک ورک کړم

اشنا رټلے یم ژړا راله راځینه
چې د بې ننګ اشنا سترګې نه وینمه

په برندو سترګو راته ګورې
په برګو سترګو ویشتل مه کړه

ترینه ویریږم چې به څه راسره کړینه
جوړېږي نه د برګو سترګو پرهرونه

جانان سترګو کښې دې اور دې
سترګې مې ډېرې اولیدلې

ماته دې اوکتل ستې ستې دې کړمه
د اشنا سترګې سوزول کوي مئینه

خلق صحرا کښې تالا کېږي
خمارو سترګو ته دې وایه

زۀ د جانان سترګو په کور کښې تالا کړمه
چې مې د مینے کاروان نه تالا کوینه

په سترګو ړوند شې راته ګوره
په سترګو ړوند شې راته ګوره

کچه خالونه مې د نیل وهلي دینه
په تش کتو به دې څوک سر نه پریکوینه

سترګې د یار مې خاورې مه شه
سترګې ډولۍ بانړه په چتر

په ټول بدن کښې د یار سترګې خوښه وومه
د جانان مینه په کښې ناوې ګرځومه

سترګې راواړوه جانان
سترګې راواړوه جانان

څله مې وژنې غم پخوا وژلے یمه
د حُسن پنګے الهي درکړې دینه

سترګې دې غلے واړولے
سترګې دې ډېرې ښائسته دي

زۀ دې د غلو سترګو ډېر اوشرمیدمه
په تیره تیره دې د وروځو پیوندونه

سترګې دې تورې په رنجو که
سترګې دې تورې په رنجو که

د مسافر اشنا دې غبږ دې رابه شینه
شونډو له رنګ د دنداسې ورکړه مئینه

سترګې دې تورې په کاجل کړې
چې سترګې تورې کړم شرمېږم

را معلومېږي چې نن بیا کوي قتلونه
چې شونډې سرې کړم شرم شاته غورزومه

سترګې دې ناچ کوي ګډېږي
سترګې دې نه دي لوے آفت دې

قجير بانړه دې ورته دور غړوينه
چرته کمتر به درنه روغ لاړ شي مئينه

سترګو د زړه په رنځ اخته کړم
سترګو دې ټول زخمي زخمي کړم

تر ژوندانه به مې روغ نه شي پر هرونه
شرينے شونډې دې پر مالګې دوړوينه

سترګو دې کور راته بلا کړو
سترګو ته ځکه ګناه نه کړم

په ديواله د شپې دردانګمه درځمه
چې زړه مئين شي سترګې تل کاته کوينه

ضرر په زړۀ کښې د چا نه وي
ضرر خو سترګو راته پيښ کړو

په لار د سترګو ورته مات شي ضررونه
زړه بې ګناه وو ضرر من له سترګو شومه

ماته د سترګو په جنګ راشه
صورت مې ټول زخمي زخمي دې

که زۀ دې پړه کړم سپينه خله به درکومه
د سترګو جنګ کښې يار په زړۀ ويشتلے يمه

که دې د سر سترګې ړندې دي
که مې د سر سترګې ړندې دي

کوو به مونږ د زړه په سترګو ديدنونه
د زړۀ په سترګو دې هر وخت ديدن کومه

ګولو ويشتلے به خداې روغ کړي
ګوله باري راباندې کېږي

سترګو ويشتلے نه رغيږي مړ به شينه
اشنا په سترګو کښې بمونه ګرځوينه

دا ستا په سترګو کښې څه چل دې
سترګې دې ډکې طماچے دي

زما اجل دې جينۍ ستا د لاسه مرمه
په اثري کتو غلام دې د ځان کړمه

د سترګو تور د زړه مرهمه
د سترګو تور د زړه مرهمه

نه دې د چم سوال و جواب راله راځينه
نه مې وه طمع چې له تا به جدا شمه

د مخامخ سترګو بازي ده
د مخامخ سترګو بازي ده

د پشي شا يارانو څوک کوي پښتنه
چې پشي شا شوم او دې کړل عبث کارونه

دې مخامخ کتو دې اوسوم
ماته ډير نيغ مه ګوره ياره

د خداې بې انصافه سترګې ښکته کړه مئينه
ستا د نظر غشي مې زړۀ سوري کوينه

زما دې سترګې دوزخي شي
زما قسم په ذوالجلال دي

که بې لتا مې چاته غټ کتلي وينه
که بې لتا به بل ته سترګې واړومه

ستا د ملالو سترګو جار شم
ستا د ملالې خلے نه ځار شم

بيا دې پنا شم چې دې اوکړم ديدنونه
په آخري جواب دې ډير خوشحاله شومه

ستا د دې دوه سترګو د پاره
ستا د دې دوه سترګو دپاره

په زړګي وړمه ستا درانه درانه بارونه
زه خوشامندي ستا د ټول ټبر کومه

سترګې وړې خداى پر مئين کړم
سترګې مې ستا د سترګو غټې

که چرې غټې وې ولاړ به ځنګيدمه
که شريعت راسره کړې پړ به دې کړمه

سترګې مې لارې ته شوې سپينے
سترګې مې دوه درته ځلو رشوے

زۀ د ديدن په خيال بهر دننه ځمه
راکوزه نه شوي د ديدن په کنډاونه

سترګې مې ډکې د ژړا وے
د ناز خندا به ولے نه کړم

چې يار مې راغلے ورته شنه د خندا شومه
اشنا زما په سر اغستي تهمتونه

سترګې مې چرې مړے نه شوے
ديدن دبادو پيمانه ده

ما د ديدن لارې ته تل نيولي وينه
نه پرې مړېږم نه ترې پنډ ترلې شينه

سترګې خو هر چا توره ولے
سترګې مې تاته تور ولے

په دې دله محلت کښې زۀ په ګوته شومه
چې ته رانغلے په سرو اوښکو ئې اوس وينځمه

سترګې مې اوباسې چې ړوند شم
اره مې روغه په سر کېږدئ

چې بې وفا جانان په سترګو نه وينمه
په سترګو روغ په بې وفا مئيندمه

ما سره خپلے سترګې بد کړې
سترګو مې زړۀ ته ضرر پيښ کړو

چې هر ځاے ګورې ښائسته ښکلي مخونه
اوس به ئې د باز په شان ګنډلے ګرځومه

نن راته سپک په سترګو ګورې
نن راته ډير اوګوره ياره

د مرګ پس به زما درشي ارمانونه
صبا به دلته کښې بيلتون ګډا کوينه

ورځه ورځه په ښکته لاړ شه
ورځه ورځه په ښکته لاړ شه

زما خمارو سترګو ډېر ورک کړې دينه
دومره مئين درباندې نه يم چې مړه به شمه

دغټو سترګو دې شرمېږم
سترګو ته ئې غټ کتلے نه شم

د خداى دپاره ياره کوز ګوره مئينه
ماله حيا د يار د سترګو نه راځينه

د سترګو تور مې دې ړانده شي
زما په سترګو کښې دې ګل شي

که به ئې ستا په شان بل ته غړه ومه
چې زۀ ئې ستا په مئينه بل ته غړومه

خمارو سترګو نه دې زار شم
خندا په روغو زړونو کېږي

سترګو کښې اوخانده مئين درباندې يمه
په زخمي زړۀ به څوک خندا څنګه کوينه

تا چې ديوال ته رانه مخ کړو
ستا د دې دوه سترګو دپاره

زۀ دې د پلار د کوره څله راستومه
ما مور و پلار پرېښودي دي شهزادګان ورونه

ماته په سمو سترګو ګوره
ماته په هغه سترګو ګوره

زۀ د دنيا د ژونده تا ويستلے يمه
په کومو سترګو چې په تا مئيندمه

نښې دې ډېرې ما سره دي
سترګې چې بيا راښکاره نه کړې

نښې دې څه کړم چېدې سترګې نه وينمه
پرېږده چې مړه دې د ديدن په ارمان شمه

د جانان سترګو کښې مستي ده
ولے په برندو راته ګورې

چې ورته ګورم سرګردانه غند شمه
ستا د نظر غشي زۀ څنګ زغملے شمه

په برندو سترګو کښې مسکې شوه
ستا د ځوانۍ خمارے سترګې

په شوخو سترګو کښې ئې وو شرارتونه
چې درته ګورمه مد هوشه غندې شمه

خلقه زما څه قصور نشته
سترګو د زړه په رنح اخته کړم

سترګو مې سترګو ته کتل مئين ئې کړمه
تر ژوندانه به مې روغ نه شي پرهرونه

په غټو سترګو مه نازيږه
ښائست سپين والي باندې نه وي

د نرګس سترګې تانه غټې دي مئينه
د سپينو سترګو به څوک څه کړي صفتونه

په سترګو نیغ کتلے نه شم
سترګو ته ئې غټ کتلے نه شم
د یار د حُسن تجلو وهلې یمه
د یار په څنګ کښې بې دیدنه پاتې شمه

په سترګو ړوند راپسے نه شوے
په سترګو ړوند درپسې نه شوم
دا لباسي اوښکې د هر چا په مخ څېنه
لکه بادام سورے سورے درپسے شومه

په سترګو ړوند په غوږو کونړ شي
په سترګو ړوند په غوږو کونړ یم
په ژبه ګونګ شي چې اونه وائي حالونه
نه مې دیدن شي نه دې ژغ راځي مئینه

په سترګو ړوند شې راته ګوره
په سترګو ړوند شې راته ګوره
په ګلیدن کښې لکه ګل ولاړه یمه
په تش کتو به دې څوک سر نه پریکوینه

په سترګو نیغ کتلے نه شم
سترګې خو تا ورکړې خدایا
د یار د حسن تجلو وهلے یمه
چې راته ئې اوکتل نسکوره پریوتمه

تا چې په سترګو کښې ځائ راکړو
سترګې به ستا سترګو کښې ځائ کړم
زۀ درله ځای د زړه په کور کښې درکومه
دریغه چې ستا سترګې مې سترګو کښې ځای شینه

ماته په غټو غټو ګوره
ماته په سمو سترګو ګوره
کک د دنیا رانه بې تا نه شي مئینه
زۀ د دنیا د ژونده تا ویستلے یمه

ماته په سترګو کښې حال وایه
ماته په سترګو کښې حال وایه
د سپینو غاښو خندا مه کړه څوک به وینه
لاړې کوځے د غمازانو ډکې دینه

په تورو سترګو دې زخمي کړم
دا ستا خبرې مې زړه غواړي
شیرین کلام دې رالیږه مرهم به شینه
لکه د للمې غنم غواړي بارانونه

ډوډۍ مې اوخوړه مړه شوم
سترګې به تر هغه تورې نه کړم
ته به په کوم درګاه ولاړ ئې مسافره
چې څو مې یار د بل وطن ټیکالے خورینه

سترګې د باز بانړه د زرکې
سترګې د باز نعرې د زرکې
که په نظر کښې مې ساتې غلام دې یمه
په تول ټبر کښې دې ثاني نشته مئینه

سترګې دې بیا راښکاره نه کړې
سترګې دې بیا راښکاره نه کړې

د خلے مې کوکے د مجنون په شان ځینه
پریږده چې مړه دې د دیدن په ارمان شمه

سترګې دې ډکې طمانچې دي
سترګې دې ډېرې اثري دي

چې له ګودر راختم او دې ویشتمه
په اثري کتو غلام دې د ځان کړمه

سترګې دې مړې راواړولے
سترګې دې نه دي خړ سیلاب دي

لکه چې نیت دې یارانے ته شوے وینه
مړاوي کاته دې ورانوي دزړه ښارونه

سترګې دې نه وې طمانچې وې
خلق ویشتل په طمانچو کړي

روغه دنیا دې په ما ورانه کړه مئینه
زۀ دې ویشتلے په خمارو سترګو یمه

سترګې دې وې بې سترګو نه وې
خدای دې په دواړو سترګو ړوند کا

چې په محلت کښې د لوئیدم نه دې لیدمه
چې په کوڅه دې تیریدم نه دې لیدمه

سترګې راښکته کړم شرمیږم
ستا د دې دوه سترګو دپاره

چې کم ساعت د اشنا کور ته نزدې شمه
زۀ خوشامندې ستا د ټول ټبر کومه

سترګې راواړوه جانان
سترګې زما په ژړا سرې شوې

زۀ دې په طمع د دیدن راغلې یمه
د مئین یار دیدن مې نور خلق کوینه

سترګو کښې سترګو له ځائ راکړه
سترګې به ستا سترګو کښې ځائ کړم

سترګې مې ستا د سترګو ډیرې اوږې دینه
که چرې ستا سترګې د سترګو کښې ځای شینه

سترګې تر سترګو پورې فرق دې
سترګې که سترګې دې د یار دي

د جانان سرې سترګې اصیل غلامونه
څله په نورو سترګو نوم د سترګو ږدمه

سترګو ته څله ګناه اوکړم
زما د سترګو څه ګناه ده

چې زړه مئین شي سترګې تل کاته کوینه
ګناه د زړه ده چې د عشق دعوی کوینه

سترګو مې زړه ته جواب ورکړو
عالم په سترګو تهمت وائي

چې مئین ته شي اوښکې مونږه تویونه
چې زړه مئین شي سترګې څه ګناه لرینه

د سترګو جنګ راسره اوکړه
سترګو دې جنګ راباندې بائیلود
که جنګ مې بائیلو غلامي به دې کومه
قجیر بانړه دې شهزادګان په ماتې ځینه

د سترګو ګاتې مې خوربړې
د سترګو یو ځلې کاته دې
ستا د رالتو لار ته مې ډیر کتلي دینه
ما ټوله ورځ په کتو تیره کړه مئینه

سترګې خو سترګو نه شرمیږي
سترګې د سترګو نه شرمیږي
د پناه شوؤ سترګو څوک خاطر کوینه
جرګه کښې سترګې د یار سترګو له لیږمه

سترګې د ټول وجود نعمت دې
سترګو ته زړه مې جواب ورکړو
چې څه غیرت دې هغه زړه ته ورکوینه
د اشنا غم به په شریکه تیرونه

سترګې د شرم و حیا ځای وي
چې سترګې توري کړم شرمیږم
چې مئینه راشي حیا واخلي رخصتونه
چې شونډې سرې کړم شرم شاته واړومه

د سترګو بد مې یار ته رسي
سترګې د مینې دروازې دي
اوس به ئې د باز په شان پټې ګرځومه
و خدای ته ګوره چې ئې بند نه کړي مئینه

سترګې خو تا ورکړي خاونده
سترګو مې ډیر عالم زنځور کړو
په دغه سترګو بې ګناه کوي قتلونه
اوس به ئې د باز په شان پټې ګرځومه

سترګې دې تورې په رنجو کا
سترګې مې تاته تورولے
د مسافر اشنا دې غږ دې رابه شینه
چې ته رانغلے په سرو اوښکو ئې وینځمه

سترګې دې بیا په ژړا سرې دي
سترګې مې سرې ډیر مې ژړلي
کاسیري مور دې درته څه وئیلي دینه
نا پوهه مور مې راته ستا پیغور کوینه

سترګې دې نه دي سور انګار دې
سترګې مې ډیرې اولیدلے
ما په دې سور انګار کښې مه سیزه مئینه
د اشنا سترګې سوزول کوي مئینه

سترګې دې تورې راته ګورے
سترګې مې ډیرې ولیدلي
د کاکا لورې ما به ورک کړې له وطنه
د جینۍ سترګې مې له ملک ورکوینه

ستړګې دې تورې په کاجل کړې
ستړګې مې ډېرې اولیدلے

غم به مې مل کړي ليونۍ به شم مئينه
د خورشيدي ستړګې مچې چيچل کوينه

ستړګې مې سرې ګريوان مې لوند دې
ستړګې مې ستا له غمه سرې دي

نن مې د يار په ياد کښې ډير ژړلي دينه
خلق به وائي چې شراب ئې څښلي دينه

ستړګې دې وي بې ستړګو نه وي
ستړګې مې وي نظر مې لګي

چې په محلت دې ګرځيدم نه دې ليدمه
ماته په چم کښې جانان ګرځي نه ئې وينمه

ستړګې دې تورې کړه را اوځه
ستړګې نرۍ تورې مزه کاه

د تورو ستړګو سودا ګر راغلے دينه
دا ګډې وډې ستړګې ډمې توروينه

ستړګې وړې ښه دي که غټے
ستړګې وړې خدای پرې مئين کړم

وړې به ښه وي څه اثر به په کښې وينه
وړې لا ښه دي غټې اور رالګوينه

د ورځې تورې ستړګې ګرځم
ستړګې مې خپلې دې پرې ژاړم

د شپې د يار د غم اوښکې تويومه
خله د اشنا ده اوښکې نه پرې تويومه

ماته نرۍ سلائي راوړه
هلکه مرے که پاتے کېږې

زه د اشنا دپاره ستړګې تورومه
دا مې عادت دې نرۍ ستړګې تورومه

د ستړګو تور مې کتل نه کړي
د دې نه ښه وه چې پر ړوند وي

جانان رقيب سره کوي کټ کښې خوبونه
چې مې پرې نه ليدے دا خوشي منظرونه

ستړګې مې خوږ لاس مې پرې ايښے
ستړګې مې شته نظر مې نشته

د اشنا غم پۀ کښې غړېږي ړوندې کړمه
ماته په چم کښې جانان ګرځي نه ئې وينمه

ګلاب که مخ په پرخه وينځي
مخ خو د سپين دې مه پر ژاړه

زۀ د يا رمخ په سپينو اوښکو پاکومه
د بې رحمۍ اوښکې تودې وي تور به شينه

ستړګو د بيا غوټۍ تازه کړې
ښه مخامخ شه راته ګوره

بانړه تر پورته کړه چې زيړ ګلونه شينه
ما د د ستړګو ارمانونه کړي دينه

د سترګو جنګ راسره اوکړه
پرېږده چې شپه او ورځ ژړېږم

که جنګ مې بائيلو غلامي به دې کومه
چې مې د سترګو جنګ کوو په دې حال شومه

خواره خواري زما د ځان ده
سترګو تر سترګو پورې فرق دې

چې مې جانان سترګې لري ډېر دې ښکارونه
د جانان سرے سترګې اصيل غلاموينه

چې ستا د سترګو اشارے وي
زما په خپل اشنا باور دي

که د نيزو په څوکو لار وي دربه شمه
که د چړو په څوکو لار وي رابه شينه

دعوه د قتل په چا وکړم
خون به مې ستا په غاړه پور شي

ستا برګو سترګو په بنړو ويشتلې يمه
که په کاږ نظر د بيا راوکاتنه

په دې کښې ماته ګناه نشته
سترګو مې ډېر عالم زنځور کړو

سترګو د سترګو ته کتل مئين ئې کړمه
اوس به ئې د باز په شان پټېۂ ګرځومه

سترګې وړے ښے دي که غټې
سترګې په چل غړوه يار

وړې لا ښے دي غټے اور رالګوينه
د لالان ګرځي غټے سترګې خوښوينه

سترګې دې پټې پټې کښېږي
سترګې مې پټے پټے کښېږي

بيګاه دې کړي دي د کوم وطن سيلون
زړه مې ژړېږي رانه غواړي ديدنونه

سترګې مې ستا د سترګو غټے
د جانان غټو سترګو اوسوم

که شريعت راسره کړے پړ به د کړمه
کوم عدالت کښې به دعوې پر باندې کړمه

زما په زړه کښې درته سوال وو
سترګې د سترګو نه شرمېږي

ستا د دې تورو سترګو ډېر اوشرميدمه
زۀ د اشنا نه شرميدم نه مې ليدنه

زما د دوه سترګې څلور کړے
ستا په ديدن پسے جانان

ته پرېښودے نه شي د نورو مجلسونه
لکه يعقوب پېغمبرؑ ړوند په سترګو شومه

بانړه دې غشي فولادي دي
سترګي لیندې کټل دي زړه غلبیل کوینه

سترګې خو تا ورکړې خدایا — قجیر بانړه ئې په زرګر رغ کړې دینه
سترګې دې ناچ کوي ګډېږي — قجیر بانړه دې ورته دور غړوینه

سترګې د باز بانړه د زرکې — که په نظر کښې مې ساتي غلام دې یمه
سترګې وهل مې درنه زده کړه — اوس راته ښایه د بنړو اشارتونه

سترګې دې سرې بانړه دې تور دي — سوي د اور دې زما زړه ستي کوینه
سترګې مې ستا سترګو ړندې کړې — تیره بانړه دې د زړه غوښې بیلوینه

سترګې ګولۍ بانړه سونبي دي — ګولۍ نه نه مرم د سونبو غشو نه مرمه
سترګې لیندې بانړه دې غشي — د زړۀ سپر درپسې وړم غلبیل راوړمه

د سترګو تور بانړه مې سپین شو — زۀ همیشه ژړا په تا پسې کومه
په تورو سترګو دې مئین کړم — بیا دې په زلفو کښې د عمر بندي کړمه

په خله دې هیڅ راته او نه وې — د بنړو لاندې دې کاته رنځور دې کړمه
که دې بانړه قاتلان نه وې — په دروازه کښې به دې چا کړل فریادونه

ستن د بنړو راله پکار ده — زړه مې زخمي دې د زړه زخم پرې ګنډمه
ستن د بنړو ته حاجت نشته — مخ ته مې ګوره چې دې جوړ شي پرهرونه

سترګې خو تا ورکړې خاونده — قجیر بانړه ئې په زرګر رغ کړې دینه
ستن د بنړو که تار د زلفو — زما د زړه زخمونه اوګنډه مئینه

زما بانړه یار ته لوګې کړي — زما کاته په جانان بد راغلي دینه
خلق ویشتل په طمانچو کړي — زۀ دې ویشتلے د بنړو په غشو یمه

د زلفو دام ئې راته کیښود — غلبیل غلبیل ئې د بنړو په غشو کړمه
سترګې لیندے بانړه دې غشي — د زړه سپر درپسې وړم غلبیل راوړمه

جانان مې کورته په راتلو دې
د سترګو ګاټي مې خوربرې

د کوټې خاورې ئې په بنړو جارو کومه
ستا د راتلو لار ته مې ډير کتلي دينه

بانړه دې غشي فولادي دي
بانړه د سترګو دې راخلاص کړه

سترګې ليندې کتل دې زړه غلبيل کوينه
په ټول بدن کښې زۀ په زړه ولګيدمه

بانړه دې رو جګ که محبوبه
بانړه دې زړه کښې راته ښخ کړه

ماته دې روغ د زړه په سر ټؤمبلي دينه
لکه چې ښخ کړې د زړګي په مينځ ميخونه

تور دې بانړه تور دې زلفان دي
بانړه د سترګو دې راخلاص کړه

زۀ دې برباد کړم خداى دې نور درنه ساتينه
په ټول بدن کښې زۀ په زړه اولګيدمه

د بنړو شپول به ترې چاپير کړم
د بنړو غشي ئې راخلاص کړل

د جانان مئينه به په سترګو کښې ساتمه
غور ځوم وينې زړه په سر او لګيدمه

زما بانړه ورته لوګې کړۀ
په خله دې هيڅ راته او نه وې

زما کاته په اشنا بد راغلي دينه
د بنړو لاندې دې کاته رنځور دې کړمه

زما د يار سترګې د زرکې
بانړه د غشي زهر دار دي

کاړه بانړ ئې د زړه سر سورې کوينه
دا کږے وروځے د ليندے سورې دې کړمه

ستن د بنړؤ راله پکار ده
ستن د بنړو څه له پکار ده

زړه مې زخمي دې پرهرونه پرې ګنډمه
زړه مې زخمي دې پرهرونه پرې ګنډمه

بيا به حجرے ته خلقه نه ځم
بانړه د زړه کښې راته ښخ کړ

د سترګو غشي د بلې ويشتل کوينه
لکه چې ښخ کړي د زړګي په سره ميخونه

خولو کښې ډوبه شوم تر سره
د شرم چوت کتلے نه شم

تا چې د سترګو لاند اوکړل تپوسونه
د يار بانړه مې د زړه سر سوري کوينه

ظالمې مينه دې جومات شه
د بنړو غشي د راخلاص کړل

ولے د رپ تورو بنړو ته ورکونه
غور ځوم وينے ژړه په سر اولګيدمه

ځوک چې په سپينه خله عادت شي
د دنيا کل طعام په لته تل وهينه

د سپينې خلې واک مې درکړې
د زنې سر ئې خله کښې راکړو
د زنې خال مې ګورې وران نه کړې مئينه
جينۍ کم عقله اماني غواړې خالونه

اوس مې دې کوره څله باسې
بريتو نه تاؤ کړه خله مې واخله
په خندا اووايه چې خله نه درکومه
په نا تاؤ کړو بريتو خله نه درکومه

جانان راشه چې خله درکړم
جانان راشه خله مې واخله
بيګا مې مړ په خوب ليدے و ير مې کاونه
بيا به ګله کړې چې دې تش شړلے يمه

د سپينے خلې خوراک دې نه زده
د سپينې خلې خوراک مې زده دې
لکه وزير چې روټې ګډه وډه خورينه
لومړې به شونډې لګوم پسې غاښونه

ديوال سورې کړه کوکئ راکړه
د ديواله سورې دې بند کړه
پلار دې ژوندې دي بيا به جوړ کړې ديوالونه
زه مسافر د بل وطن لاړم مئينه

يار خو مې جګ زه ټيټکئ يم
جانان مې زين کښې راته کوز شو
د ګوتو ځوکې لګوم خله ورکومه
د ديدن ځاى ته کنړ اوې په ترخ کښې وړمه

يار مې چنار دې زۀ مندرې يم
چې دواړه لاس مې تر چا پير کړه
د چنار ډډنه به ته څنګ تاؤ کړې لاسونه
د چنارونو ښتے چا نيولې دينه

خداى دا اوس به څه چل کېږي
خداى دې بيګا له شپه اختر کړې
ورځ د اختر ده په زړګي لرم زخمونه
صبا نارې به د ليلى په خله کومه

خله مې سپين ريرې سړې ښکل کړه
بډها به هيڅکله يار نه کړم
لکه د لم قطره چې سپئ اوزغلوينه
چې مې په مخ باند کيازې غواز وينه

اشنا مې بره شا کښې لو کړې
خله مې غنمو لو کښې ورکړه
د سپينے خلے صبا نارې به ورله وړمه
غنمو لو کښې ځوک اوبه نه ورکوينه

خله مې خندا ته نه جوړېږي
خندا د روغو زړونو کار دي

د اشنا غم په مخ څپېړې راکوينه
په زخمي زړونو به څوک څۀ خندا کوينه

خله مې تر نوې کچ پسته ده
خله د اخون د لور پسته ده

موزې بوډا په ئې په زنګنو غاښو خورينه
د شکرانې چرګان ئې ډېر خوړلي دينه

خله مې په خله کېږده هلکه
خله مې په خله کېږده جانان

ژبه مې پرېږده چې ګيلے درته کومه
لاس مې په زړه کيده چې زړۀ مې قلار شينه

خولګۍ مې زيړه خربوزه ده
دا مريم زيړه خربوزه ده

دا عاشقان مې ئې د پوستکو سره خورينه
زۀ رضو ګل ئې د پوتکو سره خورمه

په خله د هيڅ راته اونه وې
په خله مې چرته دا جوړېږي

د سور پيزوان لاندې دې اوچيچل غاښونه
چې درته اوکړم مخامخ ښه تقريرونه

په خله خو هيڅ وئيلے نه شم
په خله وئيلے چاته نه شم

پټ په زړګي کښې وطنونه لټومه
په زړۀ تيرومه ستا دلئ دلئ غمونه

په سپينه خله مې يار عادت شو
په سپينه خله دې اموخته کړم

لکه ساتلے ګډ جوړه راسره ځينه
اوس د اور ښو ډوډۍ خوند نه راکوينه

چې سپينه خله د راپه ياد کړم
چې ستا په ښکلې مخ مئين شوم

له سترګو اوښکې تويوم ژړا راځينه
بيلتون ظالم په جيل دننه کړم مئينه

څانګه چې ماته شي اوچېږي
څانګې راښکته شه خله راکړه

زلفې چې ماتې شي په مخ وهې ټالونه
که زۀ درپورته شم راماته به دې کړمه

څنګه دې خواره کړمه ياره
جانان ولې دې پردې کړم

چې همسايه مې د خولګۍ طمع کوينه
تا وې تر عمره به دې زړۀ کښې ګرځومه

څوک چې په سپينه خله عادت شي
هلکه بد مې اموخته کړې

د دنيا کل طعام په لته تل وهينه
چې خله در نه کړم مرور ګرځي مئينه

دا خله تر لاند باسه یاره
د زنې سر ئې خله کښې راکړو

د زنې سر مې ګبینه وڅڅیدنه
قسم ئې راکړو چې مې وران نه کړې خالونه

دا ښکلې خله د ماله راکه
خولګۍ مې اوخوره که خوږې شي

خلق طوطیانو له شکرې ورکوینه
شکره نه یم چې په تول به کمه شمه

دا مسلمانه شه خله راکړه
په سپینه خله کړه روژه ماته

نا مړدې پریږده د هندوانو مذهبونه
د کفارت روژې به دواړه اونیسومه

د آخرت پیټے دې دروند کړو
اشنا روژه کښې خولګۍ غواړې

زما په سپینه خله دې څه اوکړل مئینه
مخلوقه ګورې د دین ستنې ړنګوینه

د دنداسې خله دې رانه کړه
یو خو مې دغه سوال قبول که

د ساګو ډکه خله دې زه نه قبلومه
خله په صلاح راکه تالا درپسې شومه

کانړې راواخله ما پرې وله
په سپینه خله دې اموخته کړم

داسې خو مه وایه چې خله ته درکومه
اوس راته وائې یاره نه دې پیژنمه

هلکه بد مې اموخته کړے
ولې دې ماته خولګۍ راکړه

چې خله درنه کړم مرور ګرځې مئینه
اوس مې نو ګوره لیونے په وطنونه

چې خله مې اخلې راشه واخله
بوټې راټول که اور په بل که

د بلئ سورې ته مې مه راښکه ډارنه
زمونږ دستور دې په رڼړا خله ورکونه

خله مې غوستله را دې نه کړه
لا دې یو کال ژړلې نه دي

تشه خندا باندې د اور اوس لګومه
داسې آسانه به خله ولے درکومه

خله مې غوستله غیږ ئې راکړه
په یو اختر کښې بل اختر شو

خدایا خیالې لیلیٰ ته ورکړې جنتونه
چې مرور جانان په غیږ کښې اونیومه

په خله دې یوه په زړهٔ دې بله
په خله پسته په زړګي ټګه

د سپلمې ګله تش په رنګ دې تیروتمه
د صابون څګه په لاس نه راځې مئینه

په خله زما سره اشنا دې
یار د هر چا شو زما نه شو

د امرسو دستمال ئې کوز کندي له ځینه
زړۀ له په زور د غم اشر راخبرومه

په خله کښې ژبه راته راکړه
د ژبې سر د خله کښې راکړو

خلق طوطیانو له شکرې ورکوینه
په شرینۍ مې د زړۀ سر تناکې شونه

په خله ملا په زړه بلا وې
په ما ئې داسې چارې اوکړې

په ژبه رب په زړۀ ئې درب ختلې دینه
چې ګاوندیان مې په پوښتنه ستړې شونه

په خله دې نوم اغستے نه شم
د خلې مې شنې لوخړې خیژې

پټه ژړا دې په دیدن پسې کومه
زۀ په انکار د عاشقۍ ختلے یمه

چې خله مې اخلې بسم الله کړه
چې خله مې خورې شکرانه باسه

پیریان پرې ناست دې اثري به شې مئینه
ناشکره خدائ له نعمتو محروموینه

چې خله مې درکړه ځان دې موړ کړو
یو ځلے ما په خولګۍ موړ که

اوس رانه لاړې زه دې ځان له پرېښودمه
بیا دې بابا له توره ورکړه چې راځینه

تا راته وئیلے خله به در کړم
که خله دې راکړه څه به اوشي

اوس راته وائې یاره نه دې پیژنمه
زړه به مې ښه شي خله به بیا تا سره وینه

که خله مې اخلې زر شه واخله
له ګودر راغلے په تلوارې

منګې مې څله ګړ به وي لونده دې کړمه
یا خولګې راکړه یا منګې درماتومه

ماله خندا کښې خولګۍ راکه
خله په خندا مې عادت نه دې

عمژن زړګې مې سود په بل څه نه کوینه
زۀ په ژړا ژړا پیدا له موره یمه

سپینے سپوږمۍ کښې خولګۍ راکه
سپینے سپوږمۍ ته شه خله واخله

په تروږمې کښې دې نتکې خلے له راځینه
زمونږ دستور دې په رڼرا خله ورکوونه

سپینے سپوږمۍ ته شه خله راکړه
سپنے سپوږمۍ ته شه خله واخله

په تروږئې کښې د اوربل خله له راځینه
چې تور پیکې مې په مخ کوږ نه کړې مئینه

خوږه خولګۍ دې یو ځل راکه
خولګۍ به خاورې درله درکړم

خلق طوطیانو له شکرې ورکوینه
ته بولګۍ ئې په حجرو وائي حالونه

خولګۍ دې راکړه موږ دې نه کړم
خولګۍ دې خورم نه پرې مړېږم

د اختر ورځ ده زه دې اوږې پرېښودمه
نا مړدې ټوله راپه شاشه چې دې وړمه

خولګۍ به خاورې درله درکړم
خولګۍ په زور به درنه واخلم

بې پته یاره په کوڅو وائي حالونه
وړوکې نه یم چې زاري درته کومه

خله به مې خورې زړه به دې یوسم
خله درکوم زړه به دې پرېږدې

ما په خندا د خلقو زړونه وړې دینه
زۀ چې خله چاله ورکوم زړګې تر وړمه

خولګۍ مې واخله مه ډارېږه
خدای مې د دې جانان زار کړې

پلار مې بیمار دې مور مې هیڅ هم نه وائینه
چې بې وئیلو خولګۍ ماله راکوینه

خوله دې ډېوې رڼا کښې راکه
راشه رڼا ته شه خله واخله

په توره شپه کښې دې زلفان خلے راځینه
زمونږ دستور دې په رڼا خله ورکونه

خله دې رانه کړه په خندا شوے
خله دې ټوپک خندا دې ډز دې

زۀ دې د خلے په خندا لا خوشحاله یمه
غریب سړے په لارې تلم او دې ویشتمه

خله مې په بېره بېره واخله
خله دې په خپله رضا راکړه

باران ورېږي زۀ څپیاکے غونډومه
بیا د نعرې کړې چې لړم خوړلے یمه

خله مې تر زلفو لاندې واخله
که د پرهر خطر مې نه وې

مور مې میره ده پر هرونه لټوینه
تا به زما دغاښو زور کتلې وونه

خله مې د خلے کړه لرے یاره
خله مې په خله مه بړده جانان

نن دې د بریتو نه د عطرو بوئې راځینه
لاس مې په زړه کیده چې زړۀ مې قلار شینه

زنه دې سیب د ثمرقند دې
زنه دې ماله خله کښې راکړه

شونډې انار دي کابلي ساتلي دینه
خوږې شکرې د طوطیانو نصیب وینه

سوړ اسویلے مې د خلې لاړو
په اسویلي به مې لمبه شے

چې مې جانان د بل په څنګ کښې اولیدنه
د اسویلي مخې ته مه راځه مئینه

ښه شوله خلې دې جواب راکړو
ښه شوه چې حال دې رامعلوم شو

تشه خندا دې په زړه مالګې دوړوینه
پټ خبر نه ووم په ظاهر دې نازیدمه

طالبان ګرځي زکوة غواړي
طالبه یاره ټوک له راشه

ستا د سینې رشے له زۀ راغلے یمه
چې سپینه خله درله کوځه کښې درکومه

زما په زنه د خاپ جوړ کړو
خال خو په شونډو نه ورانېږي

زۀ به پخیلے مورته څه بهانه کوومه
نا ترسه تا پرې ښخ کړل خپل غاښونه

د خلے مې آه ورپسې لاړ شي
د خلے مې شنې لوخړې خیژې

چې نازنین اشنا په زړه کښې رایاد شینه
زۀ په انکار د عاشقۍ ختلے یمه

یار خو مې جګ زه ټیټه کئ یم
یارې د دنګې پیغلے خوند که

د ګوتو څوکے لګوم خله ورکومه
چې خله ترا خلے دا راټیټه شي مئینه

که اسویلے مې د خلے اووت
په اسویلي به مې لمبه شے

په دې نزدې کلو به اور اولګومه
د اسویلي مخے ته مۀ راځه مئینه

په اسویلي مې ګریوان اوسو
که اسویلي مي د خلے نه وي

اوس ئې ایرے په اندیښنو راټولومه
دې اندیښنو به مې زړه پړق چولے وونه

باران د کاڼرو ئې په کور اوشه
تا راته وئیلے خله به در کړم

څوک چې په یار مطلب کوي بیا ئې پرېږدینه
اوس راته وائے یاره نه د پیژنمه

اشنا مې کټ کښې مرور شو
د زنې سر ئې راپه خله کړو

د زنے سر تر نه چاپیره ګرځومه
دا شینکې خال ئې لکه مرچ پۀ کښې چیچمه

غاښ دې په خله کښې داسې ښکاري
لکه صدف چې په الوان ټومبلې وينه

غاښ دې کنډاؤ ږيره دې سپينه
غاښ مې کنډاؤ نظر مې کم شو
په يارانه پسې ملنګ ګرځې مئينه
حرص مې زيات شو په قلار مې نه پرېږدينه

غاښ دې په خله کښې داسې ښکاري
غاښونه دُر شونډې مرجان دي
لکه صدف چې په الوان ټومبلي وينه
دا د جانان دي بل له خاورې ورکومه

د سپينو غاښو خندا پرېږده
د سپينو غاښو خندا مه کړه
د تورو سترګو اشارې زده کړه مئينه
د تورو سترګو اشارې دې خوند کوينه

که د پر هر خطر مې نه وي
که د نتکۍ خاطر دې نه وي
تا به زما د غاښو زور کتلې ونه
تا به زما د غاښو زور ليدلے وونه

زما دې غاښ په انبور اوځي
خال په سرو شونډو نه ورانيږي
که مې د تا زنې ته زور ورکړې وينه
نا ترسه ياره تا پر ښخ کړه خپل غاښونه

زړشپږ کليز په زړه زخمي شوم
د زړۀ پرهر مې نه جوړيږي
غاښ مې وتلي روږغ مې نه شو پر هرونه
ديار غمونه ئې هره ورځ تازه کوينه

غاښونه سپين کړه اورې سرې کړه
غاښونه سپين شونډې مرجان دي
شونډې سوزن که چې خندا دې خوند کوينه
دا مې د جان دي بل له خاورې ورکومه

لالې زما زۀ د لالي يمه
که مې په خله کښې ژبه غواړې وربه ئې کړمه

د ژبې سر دې خله کښې راکړو
د ژبې سر مې خله کښې درکړو
په شرينې مې د زړۀ سر تنړاکې شونه
که هندوګې ئې مسلمانې کړې مئينه

د ژبې سر مې شو تنړاکے
ښه دچې تانه پوره نه شوه
چې د بې ننګه اشنا نوم پرې يادومه
چې ملامته درته زۀ نه شوم مئينه

ماله نن پسه چاړه راوړه
جانان تا کړه وعده ماته
زۀ د بې لوظه اشنا ژبه پريکومه
زۀ به په خپل وعده ټينګ تر عمره يمه

لالې زما زۀ د لالي يم
لاليه راشه چې خله در کړم

که مې په خله کښې ژبه غواړې ور به ئې کړمه
زمونږ په کلي کښې مرګوده مړه به شمه

ماله د ښار قينچي راوړه
چې لوظ اوکړې بيا ئې مات کړې

زۀ د بې لوظه ياره ژبه پريکومه
ژبه تر پرې کړې چې بيا نه کوې لوظونه

مانه دې خوږ اشنا جدا کړو
ورک شه زما بده قسمت

د ژبې سره په قينچې دې پريکومه
چې څوک اشنا کړم هغه ورک له ملک شينه

په خله کښې ژبه راته راکړه
دا ستا د ژبې خوند چې ياد کړم

خلق طوطيانو له شکرې ورکوينه
خولګۍ مې ټوله د شکرو ډکه شينه

زما د ژبه کړې خداى اوچه
په کلمه د ژبه بند شه

چې بې لتا به زۀ د بل صفت کومه
که د زما مينه په بل اوکړه مئينه

په کلمه د ژبه بند شه
جانان خداى ته نظر اوکړه

ماته د ټول عمر دروغ وئيلي دينه
مناسب نه دي تمامي عمر چلونه

شونډې دې دواړه تکې سرې دي
د چا د وينو دې بيا کړي دي غړپونه

شونډې به ستا په وينو سرې کړم
ځان د وطن په ننګ شهيد کا

که د وطن په ننګ ئې سور راوړې مئينه
چې معشوقې دې په سرو شونډو ښکلوينه

شوندې دې اوچې کيږي
شونډې مې اوچې کيږي

جوړې زما د سر جرګې راغلے دينه
بيګا مې روح ستا روح څنګل ته اوړے ونه

شونډې دې چاودې چاودې ښکاري
ستا د ديدن سوکړه اوږده شوه

جوړې بند شوي دي د وصل بارانونه
لکه د للمې غنم غواړي بارانونه

شونډې دې دواړه تکې سرې دي
شوندې دې سرې دي خداى دې خير کړي

د چاله وينو دې بيا کړې دي غړپونه
جوړ د عاشق وينې دې بيا نوش کړې دينه

شوندې دې سرې لکه د زرکې
د شونډو خوند به د هیر نه کړم

د ظالم لورې لیونې درپسې شومه
که مې وراسته شي ګور دننه اندامونه

شونډې دې اوچې رنګ دې زیړ دې
مور دې په تا پسې ړنده شه

بیا درته مور ظالمې څه وئیلي دینه
چې بې ګناه مې د زړه اخلې ازارونه

شوندې به ولې پستې نه وي
د شونډو خوند به دې هیر نه کړم

چې د پیزوان سوري په اوړې ژمې وینه
که مې وراسته شي تور لحد کښې اندامونه

سلام په سرو شونډو وئیل شي
سلام په سرو شونډو مزه که

د مسافرو سلام ځي په کاغذونه
زما غریبې سلام ځي په زیارتونه

دا ګلابې شونډې پرې کېږده
دا ګلابي مخ پرې راټیټ کړه

سره اننګې مې سرې منړې د کابل دینه
که د جانان د ځنکدن وي روغ به شینه

راشه زما په څنګ کښې کینه
راشه زما په خوا کښې کینه

څانګه یوه یم رنګ په رنګ سپړم ګلونه
چې چوارې شونډې په خله کښې درکومه

زما د بیا طمع پیدا کړه
زما دې بیا طمع پیدا کړه

چې په سورکو شونډو دې اوخاندل مئینه
چې په کاږه اور مېږ دې بیرته اوکاتنه

شونډې دې اوچې کیږي
شونډې مې اوچې کیږي

جوړې زما د سر جرګې راغلې دینه
ماته ریبار د یار ګیلې راوړې دینه

شونډې دې سرې کړه سترګې تورې
شونډې به سرې په دنداسه کړم

ستا د اشنا د راتلو غږ دې رابه شینه
سترګې به تورې ستا د جیب په رنجو کړمه

یو خو دې رنګ شونډو له ورکړو
لیونے نه ووم لیونے شوم

بل دې په سپینه زنه اووهل خالونه
یار راته جوړ کړه هسې شان سنګارونه

چې شونډې ښه وربانډې سرې کړې
شونډې دې بیا په وینو سرې دي

د زړګي وینې نزرانه درته لیګمه
نن دې د چا د زړه قطرې خوړلې دینه

شوندې د سرې دي مخ دې سپين دې
شونډې د داسې دواړه سرې دي

لکه چې جام کښې د ګلابو پانړې وینه
لکه په سپینه لوپټه کښې سره ګلونه

شوندې شربت که راله راکړه
د هجران تنده نه ماتیږي

زۀ د هجران میرے وهم ترے به شمه
څو چې د نرمو شونډو رانه کړې جامونه

شونډې دې چاودې چاودې ښکاري
د شونډو پټ مې ورله یوسې

جوړې بند شوي دي د وصل بارانونه
که زما زړه وربا ندې ګران وې رابه شینه

رنګ د تک زیړ شونډې د اوچے
رنګ مې په تا پسے زیړیږي

رب مې د ستا په خفګان نه ازاروینه
خلقو ته وایم چې زیړې وهلے یمه

شونډې دې اوچے اوچے کیږي
تاؤ مې د زړه د سره خیږي

جوړې بیا ستا د سر جرګې راغلې دینه
څکه مې سرو شونډو پټري نیولي دینه

چې خوږ من زړه پرټکوریږي
شونډې مې شونډو ته نزدې کا

زۀ د هغې شونډو میرمن راغلے یمه
د مودو ترے چې مې تنده ماته شینه

شونډې به سرے په دنداسه کړم
په دنداسه د شونډې سرې کړې

سترګې به تورې ستا د جیب په رنجو کړمه
بیا دې نعرې کړې یاره تا ستي کومه

یا د د ځایه شونډې سرې دې
په دنداسه د شونډې سرې کړې

یا دې پرپان د هندوستان خوړلي دینه
خلقو ته وائي ما انار خوړلي دینه

یو خو د رنګ شونډو له ورکړو
دې ته به څنګه سرې ټینګ شي

بل دې په سپینه زنه اووهل خالونه
چې درته ګورم زۀ د روغ لیونے کړمه

د جانان زړه لمانه بد شو
مانه د خوږ جانان خفه کړو

شونډې پښتم چې ژبې څه وئیلي دینه
د ژبې سر په قینچې دې پریکومه

په سینه یو لالي ځائیږي
خه درمن نه دې چې غوبل به پرې ترمه

ټوپک راواخله تازیان توکړه
خلق په جال مرزان نیسي

د شاه لیلي په سینه زر کې ناستې دینه
ما خپل جانان له په سینه ساتلي دینه

اور ئې زما په سینه بل کړو
د جانان نوک د پیشو پنجه

چې راښکاره راته اشنا کړل سره لاسونه
جوړ به مې نه شي هیچرے د زړه زخمونه

انارو بیا ګلونه اوکړل
انار زما د سینے ګل شو

د شا لیلے د تللو وخت راغلے جوړ ځینه
تور بوراګے ورله راځي مړاوي ښانګونه

پاس په سینه راته ځای جوړ که
پاس په سینه مې اموخته شوے

ما لیونۍ له بل ځائ نه راځي خوبونه
اوس په خالي پالنګ کښې نه درځي خوبونه

خدای دې په مینځ د لار کښې راکړه
خدای دې په تنګه لار کښې راکړه

که ته شرمیږې لاس به زه درواچومه
چې کاغذي سینه دې دړې وړې کړمه

سینه زما په سینه کیده
د ژبې سر مې خله کښې درکړو

که دوزخي ئې جنتي به شي مئینه
که هندوګے ئې مسلمان مې کړې مئینه

لاس په سینه ورته ولاړ یم
لاس په تندي ورته ولاړ یم

په ځان مغرور د چا نه اخلي سلامونه
که کبرژن اشنا مې واخلي سلامونه

یا مې په خپله سینه خوښ ئې
یا مې په سچه باندې یار که

یا مې پیرزو په تورو خاورو شې مئینه
یا مې په دار که چې یادګارمې پاتې شینه

انارو ټولو ګلان اوکړل
سینه د بیا ګل په غوټۍ ده

زۀبه خپل یار له د سینې انار ساتمه
ما پرې مالیار کړه چې موزیان ترې نه شړمه

سترګو ته ئې غټ کتلے نه شم
ټټر مې یخ شو چې یار ړوند شو

ماله حیا د یار د سترګو نه راځینه
اوس به ئې په نیغو سترګو کړمه دیدنونه

ټپر مې نخښنه يار ته ايښې
سپينه سينه مې ورته ډال کړه

فولادي غشي مې تر زړه ختلي دينه
يار پرې ګزار د خونړو سترګو کوينه

خدای دې زما د غاړې هار که
خدای دې ما ستا د غاړې هار کړي

چې په سينه باندې رو رو دې ځنګومه
چې په سينه باندې دې پروت يمه مئينه

ياره سينه په سينه راشه
سينه زما په سينه کېږده

سنګ پارس وجود مې خاورې ايرې شونه
سنګ پارس يم چې د سرو زرو د ګړمه

راشه په سپينه سينه پريوځه
سينه زما په سينه کېږده

لکه بورا چې په ګل مړاوې کړي ځانګونه
که دوزخي ئې جنتي به شې مئينه

زړه په پردو دننه پټ وي
حيران په دې يم چې دې ځنګه مئين شينه

را ولاړېږه بيا ځارېږه
را ولاړېږه زړه مې نيسه

په تا بائيللې زړه مې ځای له نه راځينه
بيګاه مې مړ په خوب ليدې وير مې کاونه

را ولاړېږه چا پيرېږه
را ولاړېږه غاړه راکړه

په تا بائيللې زړه مې ځای له نه راځينه
زړه مې په تا پسې رنځور دې روغ به شينه

آرام د زړه مې پيدا نه کړو
ارمان ارمان افسوس افسوس دې

په سر د زمکې پسې ډير اوګرځيدمه
بيلتون خو روز دي وصال کله کله وينه

په تصور دې تصوير جوړ کړم
په تصور دې داسې ژاړم

بيا تسله پرې د غمژن زړګې کومه
که مخامخ شوې خود به چغې کړم مئينه

په مخکې ځې په ورستو ګورې
په مخکې ځم په ورستو ګورم

يادې څه ورک دې يا دې زۀ ليدلې يمه
کم عقل زړه مې ستا په غيږ کښې پاتې شونه

توبه توبه ربه توبه ده
توبه توبه په خله توبه کړم

عشق لمبه ده زما ئې اوسول اندامونه
په تا شيدا زړګې مې نه توبه کوينه

دا زړه مې هلته دې چې ته ئې
دا زړه مې يوو چې تا يوړو

دا تش ګوګل نارې وهم چې دلته يمه
کدو خو نه دې چې بيا اوسپړې ګلونه

دېټو زړونو ازار ما اخله
چې د آزاره ئې ويره کېږي

زړونه پيريان دي درپسې به شي مئينه
خدايه خفه مه کړې هغه ملالے جونه

د اوبو ګوټ مې نه تيرېږي
د اوبو ګوټ په ستونې تير کړه

په زړه مې ستا د مخ تصوير دې وران به شينه
چې په زړه ليک وي هغه خداى نه ورانوينه

د زړۀ په سر مې ازغې مات شو
د زړه په سر مې ازغې مات شو

نه ئې اوخکې شم نه ئې درد زغملې شمه
په فولادي ستنو به ئې رو رو لټومه

راز مې د زړه ورته ښکاره کړو
د زړګي حال چاته مه وايه

يار مې نادان وو په جهان ئې رسوا کړمه
ته به ئې د ځان په شان ګنړې غماز به وينه

زما په زړه دې بيا اوربل کړو
زما په زړه دې ګزار اوکړو

چې په سورکو شونډو دې اوخاندل مئينه
د بنړو غشي مې د ملا وتلي دينه

زما د زړه په تخته ليک ئې
زما د زړه په مئينه خوښ ئې

هير به مې نه شي که هزار تير شي کلونه
قسم دې ياره که د خلے لباس کومه

غشي د يار د مخه راغلے
زما د زړه د سر ازغيه

په ټول بدن کښې مې په زړه اولګيدنه
نه دې ايستې شم نه دې حال وئيلے شمه

زړګې به صبر کړم نا ترسه
زما د زړه صبريدل ګران دي

چې مخامخ دې راته راکړه جوابونه
اشنا که داسې خوي کوي صبر به شينه

زما د زړه طاقت ته ګوره
ستا په دې غم باندې خوشحال يم

غمونه دومره راليګه چې ځائ پروينه
چې هر ساعت دې ياد په زړه کښې ګرځومه

د يو زړګې نه بل ته لار وي
دې کښې د پاک الله خپل راز دې

چې زما خوښ ئې ستا به ولې بدې شمه
ته ئې ښائسته کړې زه ئې مئين درباندې کړمه

چې زړه خوږېږي خود به ژاړي
په چپ که چپ که نه چپ کېږي

په چپ شه چپ شه به ئې څنګ قلارومه
زړه چې خوږېږي تر نه خيژي فريادونه

د غم وريځې مې په زړه دي
په اسويلو کله کمېږي

شيبې شيبې اوښکې له سترګو وروومه
په زړه پراته دي د غمونو انبارونه

لوښې چې مات شي پيوندېږي
زړه مې سورې لکه غلبيل شو

د زړه ټکړې به خلقه څنګه پيوندومه
هيڅ نه پوهېږم چې ئې څنګه وګنډمه

ځکه مې شونډې ټکې سرې شوے
دا چې مې سترګې تکے سرې شوے

د غم لړم د زړه په سر چېچلے يمه
وجه ئې دا ده د زړه وينې څڅومه

زړګيه صبر وظيفه کړه
د زړګي حال وئيلے نه شم

ته ئې يواځې حد نه زيات دي افتونه
لکه سر پوښ تنور ئې بلې لمبې کړمه

په جرمني ټوپک مې اوله
زخمي زخمي يم نه رغېږم

خو په زخمي زړګي مي مه وهه لاسونه
د يار ګولو سترګو په زړه ويشتلے يمه

په زړه مې ته وې خداى را نه کړې
که خداى کول جانان ستا يم

اوس که تمام دنيا راکړې څه به ئې کړمه
مئين مه شلوه تنړې په زيارتونه

ځائ دې داغلو پکې نشته
ځاى د داغلو پکښې نشته

اوس مې په زړۀ کښې داغ د داغ دپاسه ږدينه
نامړده څله داغوې داغلې زړونه

زړونه هغه دې کلې بيل شو
زړونه به دواړه سره يو کړو

اوس به ديدن په غم ښادي سره کوونه
غم به مو يوشي خوشحالي به شي مئينه

زړګيه صبر شه مه ژاړه
زړګې له ډاډ ورکړې په خپله

پردي راوړي د چا څه پرواه لرينه
هميش به څوک ډاډه کوي دا پردي زړونه

زړګيه نور به دې څه نه اورم
زړګيه نور خاطر دې نه کړم

چېڅه دې اوکړل دا مې بس تر عمر دينه
بس دې قرار شه په عالم دې رسوا کړمه

زړه خو مې داسې درنه تور شو
زړګې به صبر کړم نا ترسه
لکه د ژمي لوګې تور کړې دیوالونه
چې مخامخ دې راته راکړه جوابونه

زړګې مې ډک دې د ارمانه
زړګې به صبر کړم نا ترسه
له پټه راز مخلوق څله خبرومه
چې نیغ په نیغ دې راته راکړه جوابونه

زړه به ذرې ذرې راټول کړم
زړګیه داغ به درله در کړم
بیا به په ژوند د جانان نه کوم پښتنه
که د بې ننګه اشنا د بیا اوکړه پښتنه

زړګې ته ډیرې بهانې اوکړم
زړه ته مې سل سوګنده ورکړل
د یار سرې شونډې په بهانو نه هیروینه
سترګو لیدلے لالے کله هیروینه

زړه خو مې پټ په تا مئین دې
زړه چې مئین شي سترګې ژاړي
پټے به اوښکې په ګریوان کښې تویومه
بانړه ولاړ وي اوښکې غواړي رخصتونه

زړه مې هغه جانان دې اوړې
زړه خو مې دا وو چې تا یوړو
چې په لنډۍ زنه ئې ایښې شنه خالونه
ګلاب خو نه دې چې به بیا سپړې ګلونه

زړګې زما د کانړې سخت دې
زړه دې د شین کانړي نه سخت دې
چې د جانان په لورې ورشم اوبه چویونه
کوټه مې بخت دې چې په تا مئیندم

زړګیه صبر شه مه ژاړه
زړه صبروم کله صبرېږي
جانان د لوے سفر جامې اغوستې دینه
دا پښتو نه ده چې په زور ئې صبرومه

زړګیه صبر شه مه ژاړه
زړه کړه ډاډه اوښکې که پاکې
که نن بیلتون دې صبا بیا شته وصالونه
که ژوند باقي وي بیا به اوکړې دیدنونه

څوک چې په خپل زړه باندې روغ وي
په زړه مې بار د ګیلو پروت دې
هغه د بل د زړګي څه پروا ساتینه
خوا خوږې نه وینم چې اووایم حالونه

زړه مې په تا پسې ژړېږي
زړګیه بس که نور مه ژاړه
لکه غنم دزړه په سر دوه ځائ شونه
په ژړا ګانو چا یاران موندلي دینه

زړه مې ټق چوي نه پاتېږي
زړګيه پام کوه اونه چوي

يار د بيلتون په قلا بند د عمر شونه
زه ستا ديدن دپاره بيا جانان له ځمه

زړګيه چوي که پاتې کېږي
که زړګې بند په ذولنو کړم

اشنا په بل وطن ميشته دې نه راځينه
چې رانه خلاص شي برابر جانان له ځينه

زړګيه چوي که پاتې کېږي
زړګيه صبر په خداى اوکړه

په هغې ګل چې نيازيدې د نورو شونه
چې نيازيدے پرې هغه ګل دنوروشونه

زړګيه داغ به درله درکړم
زړه مې نادان دې نه صبرېږي

که د بې ننګ اشنا دې بيا اوکړه پښتنه
د بې وفا نه د وفا اميد لرينه

زړګيه دغه ستا ګناه ده
زړه ته په دې کښې ګناه نشته

سترګې پناه وي ته ئې اوکړې ديدنونه
ګناه د سترګو ده چې دې مئينوينه

زړه په پردو دننه پټ دې
زړګې وئيل ملامت نه يم

حيران په دې يم چې دې څنګه مئين شينه
سترګو په هر طرف کاته مئين ئې کړمه

زړه خوشحالوم نه خوشحالېږي
زړه د هيچا خوشحاله نشته

او به ئې څښلي دې د غم په دريابونه
دنيا د غم جوتې وهي ورانه به شينه

زړګيه ښه شوه چې زخمي شوې
زړه مې د خلې په وينا نه دې

چې نصيحت مې درته کړونه دې مننه
که نصيحت ورته صبا بيګا کومه

زړګيه صبر شه مه ژاړه
زړګيه صبر شوې که نه شوې

خلق پردي مينې په صبر تيروينه
که صبر نه ئې تر ګړنګ څان غور زومه

زړګيه صبر دې په خداى شه
زړګيه عقل دې کوتاه دې

جانان جواب راولېږه چې نه درځمه
په نيمه شپه کښې څوک د چا درته ورځينه

دا مې په زړه دې درته وايم
که زۀ خبر وي چې بيلتون دې

چې دا باقي عمر به يو ځائ تيرونه
ما به جانان دلاس نيولے ګرځونه

زړه مې په تور سرې مئين شو
په تورو بد مه وائې خلقه

څکه د تورو خلقو ډير قدر کومه
په تورو غرنو اولياء ناسته کوينه

زړه مې په داسې موذي بائيلو
زړه مې په زړه کښې تر نه بد دې

نه ئې دولت شته نه د خلې لباس ورځينه
تشې خبرې په نا کام ورسره کړمه

زړه مې تر شنه کانړې لا کلک وو
زړه مې تر ګله زيات نازک شو

بيلتانه رو رو سو لو نرې ئې کړونه
يار چې خندا راته کوي ژړا راځينه

زړه مې ټق چوي نه پاتې ګېږي
روح چې مې ځي په مخه ئې ښه شه

جانان مې بند د بيلتانه په قلعه ځينه
جانان دې نه ځي زړه مې ټق ورپسې چوينه

زړه مې جانان ځان سره وړې
زړه مې هغه وو چې تا يوړو

څوک پوهه نه دې سينه تشه ګرځومه
تشې پنجرې په ګوګل څله ګرځومه

زړه مې دا ستا يارئ ته کېږي
زړه مې دا ستا خبرې غواړي

په سر تور سر پټنې ابله پښنې درپسې ځمه
لکه د للمې غنم غواړې بارانونه

زړه نصيحت زما وانه وريد
زړګيه ښه شوه چې زخمي شوے

خواه مې پرې يخه شوه چې تل فرياد کوينه
چې نصيحت مې درته کړو نه دې مننه

په زړه به غټه ګټه کېږدم
ذرې ذرې زړه به راټول کړم

يا به پرق اوچوي يا به صبر له تا شينه
بيا به په خلے د جانان نوم نه يادومه

په زړه دېڅه دي راته وايه
د زړګي حال چاته مه وايه

خمارو سترګودې ګيلے راوړې دينه
ته به ئې د مينې يار ګنړې غماز به وينه

په زړۀ سورې مې ورله يوسې
په زړۀ مې سرې غنې راکاږي

چې د کاسيرې لنډې خواه را يخه شينه
داسې راکاږې د مظلوم په سر لاسونه

په زړه مې بله سودا نشته
په زړه مې تورې تيارې راشي

مدام له خدايه د وصال کوم سوالونه
چې د وصال دربار دې پورې اووينمه

په زړه مې ته بهانې مې نورې
دیدن د یار مې نصیب نه شو

ګلې کښې ګرځم ماشومان قلاره وومه
د رقیب غشي مې په زړه اولګیدنه

په زړه مې څه بلا تیریږي
زړګې مې ټول غلبیل غلبیل دې

د روغ ظالم څه په خندا ګزران کومه
خله مې سورې د ناکامۍخندا کومه

په زړه مې یو الله خبر دې
زړګې مې ډک دې د ارمانه

د دنیاګۍ عالم پرې څله خبرومه
له پټه رازه مخلوق څله خبرومه

زما پخپله زړه خفه دې
زما پخپله سر خوږیږي

ځکه د بل په غم کښې اوښکې تویومه
د کټ په لنګه راته مه کینه مئینه

زما په تا سترګې خوږې شوے
زما په ټول ټبر کښې خوښ ئې

ځکه مې واغستل د هر چانه لاسونه
که د زړه غوښې رانه غواړې درکومه

زما د زړه بازار وران شي
زما د زړه بازار دې وران کړو

په تا کښې بله سودا نشته بې له غم
په دې وران شوي بازار بیا راشه مئینه

زما چې ستا په لور نظر شو
زما خو شنې زړګې راکړه

زړه مې پرهر شو نور به نه وایم حالونه
په نا پوهي مې درکاوه نه پوهیدمه

زه دې د زړه په رنځ اخته کړم
زۀ دې د غم په اور ستي کړم

ته اوس کوه په غزیدلو پښو خوبونه
د بیغمۍ په سوري مه کوه خوبونه

که د زړه حال مې دربیان کړو
که د زړۀ حال درته ښکاره کړم

یو به حیران شے بل به چغې کړې مئینه
خندا به پریدې په ژړا به شې مئینه

یا مو لیدلے سره نه وې
یقین په رب باور په ما کړه

یا مو دا ټول عمر په یو ځائ سره وونه
چې بې لتا مې په زړه نشته ارمانونه

یا مو لیدلے سره نه وې
یو په مشرق بل په مغرب دې

یا خو د یو وطن ګلان وې ګلبدنه
چې نصیبونه سره یو شي یوځائ شینه

زړه د صلاح که جواب راکه
زړه مې صلاح کړو جواب دا دې

زۀ دې د بل د یارانې ویستلے یمه
که بله مومې ماته مه ګوره مئینه

زړه مې ناسور په وینو سور دې
زړه مې ناسور دې په رنګ سور دې

سر پوخ تنور دې سرې لمبې وهي دننه
دا مې قصور دې چې په تا مئیندمه

سترګو ته ځله ګناه اوکړم
سترګو خو زړه ته جواب ورکړو

چې زړه مئین شي سترګې تل کتل کوینه
چې مئین ته شې اوښکې مونږه تویونه

سترګو ته زړه نصیحت اوکړو
اصل کښې زړه مې لیونې دې

د مینې غم دې په شریکه به ئې پالونه
د سترګو خلاص شي نو د زلفو راګیر شینه

آرام د زړه به مې او نه شي
ارام د زړه مې پیدا نه کړو

که له سرو سترګو مدام وینې تویومه
په سر د زمکې پسې ډېر اوګرځیدمه

زما د زړه صلاح را نغله
زما د زړه صلاح را نغله

د دروازې ملنګ له ورکړې رخصتونه
دا د لالان رانه نور منع کړه مئینه

خلق څلور پاره شپه خوب کړي
چې زړه خوږېږي خود به ژاړي

زه په ګولو ویشتلے زړه قلاره وومه
په چپ که چپ که به ئې ځنګ قلاره ومه

په زړه به لویه تیګه کېږدم
زړګیه صبر دې په خدائ شه

جانان تانه به ئې رو رو صبرومه
په هغه یار چې نیازېدې د نورو شونه

په زړه مې اور د مینے بل دې
که اسویلي مې نه کولے

ځکه مې سوي اسویلي د خلې نه ځینه
په لړمانه به مې دیګونه پخېدنه

په زړه مې بله سودا نشته
که د وصال امید مې نه وے

مدام له خدایه د وصال کوم سوالونه
قسم په خدائے دې اوس به خاورې ایرے وومه

زخمي زخمي مې ورله یوسئ
زړه د زما له غیرې یوسه

نا ترسه یا رکه مهربان راباندې شینه
نه شم ساتلے داسې ژوبل ژوبل زړونه

د سرو مال اختيار مې ستا دے
د زړه اختيار مې ورله ور کړو

چې څه دې خوښه وي په سر سترګو منمه
هغه ظالم ئې په سکروټو وريتوينه

زما د زړه د کومې ياره
زما جانان بې له تانه

په برخه ستا يم نور دې خاورې ايرې شينه
د نورو ګلو که باغچې وي څه ئې کړمه

خوي ته د غرټنګيدے نه شي
ستا اشنائي نه ده بلا ده

ما زړه بائيللے ورته سر مخکې کومه
په اندامونو مې خوره شوه اوس تر مرمه

د زړه صدف د راله مات کړو
زړګيه ښه شوله چې مات شوے

سترګې مې ژاړي ملغلرې تويوينه
چې نصيحت مې درته کړو نه دې منله

زړګې مې ډک دې له داغونو
نه به آسمان نه ستوري لاړ شي

نور د داغلو په کښې ځاے نشته مئينه
نه به زما د زړه نه لرے شي داغونه

زړه ته مې سل څوګند ورکړل
زړه صبروم کله صبرېږي

سترګو ليدلے لالے کله هيره وينه
نه مې هيرېږي د اشنا سترګې لعلونه

شيشه چې ماته شي جوړېږي
شيشه خو نه ده چې صفا شي

بيلتون ويشتلي زړونه نه اخلي کوشيرونه
په زړه مې داغ دې ستا رټلي جوابونه

زړه مې نازک د بنګړو بار دې
که داسې بل ګزار د راکړو

په يو ګزار باندې تالا و ترغا شينه
د زړه په وينو به مې رنګ کړے ديوالونه

زړګې مې پټ غمونو اوخوړ
که دا زړګې د کتو شے وے

لکه د ونے بيخ چنجو وهلے وينه
ما به اشنا وته په لاس نيولے وونه

د زړه د دړد نامه ده مينه
د زړه له دړده فريادي يم

زړه چې مئين شي کړي خواره دردونه
بيلتون کښې زيات دې له وصال ځنے دړدونه

د زړه په باغ مې خزان راغلے
د زړه باغچه دې خزان مه شه

د بيلتانه شمال ئې پاڼړے ريژوينه
زۀ د ديدن لښتې جوړه در تيرومه

په سرو په سپینو پیوند نا اخلي
زړه ملغلره ده چې مات شي

د چا چې زړه په عاشقۍ مات شوے وینه
بیا د لباس په خندا ناخلي کوشیرونه

زړه مې اوچت شي هوا اوخوري
یار مې د خاورو بندیوان شو

د یار په دنګه بلۍ کیني اوژاړینه
زۀ ئې خالي بورجل ته اوکړم سلامونه

که مې د زړه لاچاري نه وې
زړګې مې ستا په پښو کښې پروت دې

په اردلۍ کښې به دې ولے ګرځیدمه
لږ خو ظالمے رو رواخله قدمونه

زړګیه صبر شه مه ژاړه
که زه هزار صبر و سکون کړم

پردي راوړي د چا څه پرواه لرینه
آه و فریاد مې بې اختیاره له خلې ځینه

په خله توبې توبې اوباسم
زړه ته مې سل څوګند ورکړل

په تا مئین زړګې توبه نه قبلوینه
سترګو لیدلے لالے کله هیروینه

په دې او نه شوه دلته ناست یم
که زړه په سل زولنو بند کړم

ارواح مې ستا په کټ منګلے لګوینه
چې رانه خلاص شي برابر جانان له ځینه

زړه امانت مې درله درکړو
زړه خو مې در کړو چې ساته ئې

تا سپیلنے کړو په انګار د واچونه
تا سپیلنۍ غندي په سره اور واچونه

زړه د صلاح که جواب راکړه
زړه مې صلاح که جواب دا دې

زه دې د بل د یارانے ویستلے یمه
چې بله مومې ماته مه ګوره مئینه

دا خو مې زړه دې چې لا ټینګ دې
زړګیه بس که نور مه ژاړه

دومره غمونه دریابونه اوچوینه
په ژړاګانو چا یاران موندلې دینه

زړه مې په دوه ځایه ګانړه شو
په مځکښې څم په ورستو ګورم

یو په وطن شو یو په لرے هیوادونه
وطن وران شي د زړه سر مې پاتې شونه

په لارے رو څه پښے دې پریوځه
زړګې مې ستا په پښو کښې پروت دې

ستا د قدم لاندې مې زړه دې اوبه چوینه
لګ خو ظالمې رو رو اخله قدمونه

زما تر زړه کله بدیږي
د جانان بد د ولو مینځ دې

که څوک ئې ټوله ورځ غیبت راته کوینه
هلته به ئې وینم چې مې سترګې شاته شینه

چې زړه دې نه دې زور مې نه دې
چې یو یاري کړي بل ئې نه کړي

نو رمې ریبار په ګټو مه وله مئینه
څومره مزه کړي چې زاري ورته کوینه

چې زما ستا زړه ئې اونه کړو
سوي د یم سوي به ګرځم

په نا قابله پلار د پریوزه تندرونه
سوي ښیري به جینۍ پلار ته دې کوم

دا زړه مې ډیر درنه خفه دې
زړه به مې ولې نه خوربږي

نیستي ظالمې د دوستي د اوویستمه
چې یو غریب یم بل د یاره جدا یمه

دا زړه مې داسې راته وائې
زما د عمر د ملنګ کړو

راشه ملنګ شه د دنیا اوکړه سیلونه
ته په خوش رنګ پالنګ کښې یاره کړې خوبونه

د زړګي حال مې تمام نه شو
د زړونو پټ حال ئې ښکاره کړو

سیاهي شوه خلاصه قلم دړے وړے شونه
دې سر پریکړي قلم اوکړل فسادونه

د زړګي سره نا چاري ده
په شرم ډیر درنه شرمیږم

مئین په تا یم ناز د نورو خلقو وړمه
د زړه د حال به د رو رو خبرومه

د زړه برجونه د محکم کړه
د زړه برجونه نه ټینږیږي

زه د اوربل قلا ته توپے خیژومه
بیلتون ئې ګټے له چنې ویستلے دینه

د زړه په سترګو کښې مې ګرځے
د سر د سترګو مې پناه ئې

د سر په سترګو به دې کله اووینمه
د زړه په سترګو دې همیش دیدن کومه

د زړه په وینو مې باغ ساز کړو
زما د زړه باغ ئې تالا کړو

د صبر رنګ په رنګ ګلان په کښې کرمه
مړاوي ګلونه په جولو ترغورځومه

د زړه جانان چې د چا نه وي
زړه د د ځان سره خوندي که

د زړه تنبې د ورته نه بیرته کوینه
زمونږ نه نه شي د پردي زړونو ساتنه

د زړه د درد نامه ده مئینه
مئینه د زړه پکار ده خلقه

بیلتون کښې زیات دي د وصال ځنے خوندونه
څوک چې د مال په سر یاري کړې ورک دي شینه

د زړه زخمونه مې تخنیږي
زړه صبروومه نه صبرېږي

چې په نکریزو سره کوي اشنا لاسونه
جانان ستا مئینه مې خوب ته نه پرېږدینه

د زړه مثال د سوداګر دې
چې مې خپل زړه قابو کښې نه دې

چې چرته خوښ شي هلته واړوي بارونه
زړه به د بل قابو کښې څنګه راولمه

په مخکښې ځم په ورستو ګورم
په مخه ځے په وروستو ګورې

کم عقل زړه مې ستا په غیږ کښې پاتې شونه
لکه د ناوې نه جدا چې چنغول شینه

بالښت د خاورې سرته کیږده
بې ننګ ته نه ږدم سر د لاندې مړوندونه

بالښت د خاورې سرته کیده
که زما بخره خواره نه دې

بې ننګه ته نه ږدم سر دې لاندې مړوندونه
چرته مو ذې چرته زما سپین مړوندونه

زمکې قسم به درله درکړم
زمکې قلنګ د زوراور دې

چې خاورې نه کړې د اشنا سپین مړوندونه
تاله راځي کاږه پټکي سپین مړوندونه

لاړه هغه زما نه لاړه
چې سر زما وي څنګل ستا وي

ما به د یار په څنګل تل کول خوبونه
د هغې وخت په انتظار یم را به شینه

ورشه د کور بالښت راوړه
په ځان به تیر د کوټے کیږدم

مړوند مې خپل دې نور ئې نه درلاندې ږدمه
خوب د بې ننګو په څنګلو نه کوومه

ورشه د کور بالښت راوړه
تر سر به لوټه کړم د لاندې

مړوند مې خپل دې نور ئې نه در لاندې ږدمه
زما خوښ نه دي د منت سپین مړوندونه

دا ماله خوب راځي ځملم
لیچے مې ډکې د بنګړو دي

لیچے بالښت کړه چې پر سر اولګومه
سر لګولو ځاے په نشته مات به شینه

دا سپین وښي به په لاس نه کړم
جینۍ په خپله ښائسته ده

د سپین وښو نه زما سپین دي مړوندونه
زرګر ستا په کالو اور پورې کوینه

مړونده مات شے شل ټوټے شے
ته چې زمانه جدا خملے

چې بې د یاره د د سر لاندې کومه
کټ د ښامار شه چې دې خوب ته نه پرېږدینه

خدائے د زما که د خیال ختے
خدائے د زما که خپله یار

چې سپینے متے دې د سر لاند کوومه
ما د په سر الله ته ډیر کړي سوالونه

زۀ به هغه ساعت هیر نه کړم
لاړه هغه زمانه لاړه

چې زما سر وو ستا دا سپین سپین مړوندونه
ما به د یار په څنګل تل کول خوبونه

سپین د لاسونه سپینے لیچے
سپینه اوږي سپینه ئې غاړه

لکه چې تورې په میدان کښې برېښې کوینه
دا سپینے دواړه لیچے خلق قتلوینه

که د غمازو لمسون نه وي
سر د زما په څنګل کیږده

ما به د یار په څنګل تل کول خوبونه
تا به د دې خبرې ډیر ارمان کاونه

ماته په لپو اوبه راکړه
ماته په لپو اوبه راکړه

زۀ ترے نه یم دا ستا نیت معلومه
چې په پستو لاسو د خله اولګومه

په ګړنګو در سره تللے
لاس د زما په لاس کښې راکه

چې تۀ لویدے ما دې نیولې مړوندونه
وار مې خطا دې چرته مړه نه شم مئینه

دا مخامخ په کوټه راغله
مخ په مړوند کله پټېږي

سالو ئې نشته په مړوند مخ پټه وینه
بې نیازه یاره سلامي ولاړه یمه

زما هغه ساعت یادېږي
زه به هغه ساعت هیر نه کړم

چې سر مې پروت وو ستا په سپینو مړوندونه
چې زما سر وو ستا دا سپین سپین مړوندونه

عالمه ګورې لاس ئې سره دي
لاس مې د زړه په وینو سره دي

دا ئې زما په وینو اوس لړلي دینه
خلقو ته وایم ما انار خوړلي دینه

باب: 8

باهو په لاس ګوتې په ګوته
زرګره ټوله دې یارۍ ته جوړه کړمه

ستا د چارګل په پرو غوښ شوم
وړوکے لوے شوم جوړ مې نهٔ شو پرهرونه

چارګل د پوزې رانه ورک شو   بخیلې مور ته به زهٔ څه بهانه کومه
چارګل دې ما اخستے نهٔ دے   په دنکاچه دې مونځ کاوه هلته به وینه

چارګل مې تا اخستے راکه   په دنکاچه مې لاس واهه نه مې مندنه
چارګل دې ما اخستے نهٔ دے   ما له قسم په پیر بابا راکړه مئینه

چارګل دې سر د خاوند اوخوري   په پیر بابا به قسم ولې درکومه
چارګل دې ما څخه دے واخله   نامردې ما درسره وشتې کړې دینه

زما چارګل به دې ټوټے کړي   ما د چارګل په پرو ډېر وژلي دینه
ستا د چارګل په پرو غوښ شوم   وړوکے لوے شوم جوړ مې نهٔ شو پرهرونه

چارګل د پوزې نه په څنګ که   بېګاه مې شونډې په پرو پرې شوې دینه
خُلهٔ په احُتیاط واخله جانانه   چې د چارګل په پرو غوښ نهٔ شې مئینه

ستا د چارګل په پرو غوښ شوم   وړوکے لوے شوم جوړ مې نهٔ شوه پرهرونه
ستا د چارګل څلور پرې دي   څلور په نوري کړه چې برغې لمبې شینه

ستا مېخکے په پوزه مهٔ شه   زهٔ د زرګر په دکان خاورې ایرې شومه
د مېخکې په ډنډر سوره   ما ته په زوره نعرې مهٔ وهه درځمه

توره تیاره ده نهٔ دې وینم   په زنځیرې چارګل دې کېده مشالونه
چارګل مې روڼ جوړ که زرګره   جانان مدام مې د چارګل په رڼا ځینه

ستا د چارګل په پرو غوښ شوم   وړوکے لوے شوم جوړ مې نهٔ شو پرهرونه
زما چارګل ته څه ګناه ده   تا به د سرو اننګو نهٔ اخستے خوندونه

زۀ دې په ګوته مئين نۀ يم
زۀ دې په ګوته مئين نۀ يم
د سور چارګل غمو دې روغ لېونے کړمه
د سور چارګل رڼا دې کلي خبروينه

چار ګل په پوزه کړه خدائے ياد کړه
ستا د پوټې چارګل د پاره
که چرے يار د مسافر وي رابه شينه
زۀ د لاهور په چټې راغلے يمه

پېزوانه څومره بخت بلند ئې
د ناز مېرمن دې پاس په شونډو ګرځوينه

پېزوان مې پاس په شونډو سور که
بيا به پېزوان په پوزه نۀ کړم
لکه ښارمار چې خزانې د پاسه وينه
اشنا شپېلۍ وهي پېزوان پکښې ستائينه

پېزوان مې شرنګ له پوزي پرېوت
پېزوان دې سر د خاوند اوخوري
تۀ غلے غلے راپسې وې پټ دې کنه
د تسلۍ قسم به ولې درکومه

پېزوان مې لوے دے زۀ وړه يم
پېزوان په لوړه پوزه خوند کا
په وړوکوالي کښې نتکۍ مزه کوينه
لکه په لوړ چنار کښې واچوې ټالونه

افسوس افسوس ارمان ارمان دے
اختر شبقدر مې رانه غے
نۀمې پېزوان شته نۀ د غاړې تعويذونه
خوابښې مې مړه ده سخر مې نۀ کوي دودونه

پېزوان دې بې باده خوزېږي
پېزوان دنه دے زلزله ده
لکه استاد شاګرد ته لښته خوزوينه
چې ورته ګورم په کتو ئې حېران شمه

پېزوان مې ستا برېتو کښې بند شو
په احتياط مې کوکۍ واخله
د دروازې پورې بندي درپسې تلمه
چې د پېزوان په پرو غوګ نۀ شې مئينه

د چا نتکۍ د چا پېزوان دے
د چا نتکۍ د چا دورونه
ما د ليلي په غاړه دواړه اوليدنه
ما له به جوړې کړي جونکۍ چې ټال وهينه

ستا د پېزوان لاندې مې شپه شوه
ستا د پېزوان لاندې اودۀ شوم
پېزوان دې رو رو خوزوه چې خوب راځينه
پېزوان دې رو رو رپوه چې باد راځينه

شونډې به ولې پستې نۀ وي
پېزوان دې کوز له شونډو نۀ کړې
چې د پېزوان سورے پرې اوړے ژمے وینه
چې عاشقان ئې په رڼا ګوري خالونه

یا مې جدا له خپله ځان کړه
یا مې د ځانه سره ځان که
یا مې پېزوان که چې دې مورِ په شونډو یمه
یا مې پیزار که چې تلې دې ښکلومه

پېزوان مې یو چارګل مې بل دے
پېغلې دا ستا دې مبارک شي
د لشه دارو خزندو په طمع یمه
سورکے پېزوان دې مزه ماته راکوینه

شونډې به ولې پستې نۀ وي
پېزوان تا نه مې ګیله ده
چې د پېزوان سورے په اوړے ژمے وینه
شونډې نرۍ د جانان تا ښکل کړي دینه

پېزوان مې روڼ جوړ کړه زرګره
پېزوان په کرمه کښې جوړېږي
یار مې مدام د سور پېزوان په رڼا ځینه
د پېښور زرګره مات دې شه لاسونه

پېزوان ئې بیا په شونډو سور که
پېزوان دې بیا په شونډو سور کړو
د چا د مرګ بنا کوي ورپسې ځینه
بل مې دې اور کړو په زړۀ درنګ ساعت له مرمه

پېزوان دې زنګ واخست محبوبې
سالو مې پاس په پړي زوړ شو
د یار په برېتو ئې وهه چې صیقل شینه
پېزوان مې زنګ شو لالے تورې خاورې شونه

اختر شبقدر مې رانه غے
پېزوان ټیکه د دنیا دود دے
خوابښې مې مړه ده سخر مې نۀ کوي دودونه
زۀ د نیستمنه یاره نۀ غواړم دودونه

پېزوان دې شته نتکۍ دې نشته
زۀ شرمېدم تا ته مي اونۀ وې
لکه چې پېغله د زلمي نه ببله شینه
د سور پېزوان سره نتکۍ مزه کوینه

پېزوانه بخت ته دې حیران یم
پېزوانه څومره بخت بلند ئې
هم دې زخمي کړم هم دعا درته کومه
د ناز مېرمن دې پاس په شونډو ګرځوینه

پېزوانه تۀ ولې خفه ئې
پېزوان دې کوز د شونډو نۀ کړې
چې ډول وهه شي تا به پاس په شونډو وړمه
چې عاشقان ئې په رڼا ګوري خالونه

پېزوان زما د پوزې ورک شه
پېزوان تر ما په خُلهٔ کښې یوړو
که چا پیدا که سپینه خُلهٔ به ورکومه
کم عقله مور ئې ډېرانونه لټوینه

پېزوانه تهٔ ولې دلګیر ئې
پېزوانه خانده خوشحالېږه
دلګیره زهٔ یم چې مې یار له غېږې ځینه
پرېږده چې زهٔ د یار د غمه ستې شمه

زما اشنا ښار کښې زرګر دے
پېزوان په کرمه کښې جوړېږي
ما ته به راوړي سور چارګل زیړ پېزوانونه
د پېښور زرګره مات دې شه لاسونه

زما په هسې نوم بد نام دے
که دې پېزوان خاطر دې نهٔ وې
د جینۍ سرې شونډې پېزوان خوړلي دینه
تا به زما د مینې زور لیدلے وونه

شونډې مې دې چلم ورتے کړے
تا به په سرو وینو کښې پرېږدي
دننه زړهٔ مې د پېزوان مېرمن سیزینه
ما ژړوي د معشوقو دغه ظلمونه

تا چې نهنګ پېزوان اسره کړو
تا خپل جانان له جواب ورکړو
زما اسره خالق رازق ما به ساتینه
بې وفا یاره زهٔ دې څه پروا ساتمه

جانان مې لاړو مسافر شو
چې جانان لاړو مسافر شو
زما ژوندون د انتظاره سره شونه
زهٔ دا د سرو پېزوان اوس چا ته واچومه

زرګره زر شه پېزوان جوړ کړه
زرګره لوے پېزان مې جوړ کړه
د مسافر اشنا دیدن لره ورځمه
چې اوبهٔ ښنم هغه لامبو پکښې وهینه

زیړ دې پېزوان زېړ دې چارګل دے
پېزوان مې یو چارګل مې بل دے
ځکه دې ور کښې زیړ زیېښلے ودرېدمه
د لشه دارو خزنرو په طمع یمه

زهٔ درته ښکته پورته نهٔ شوم
پېزوان دې کوز له شونډو نهٔ کړې
ستا د پېزوان شغلې مې سترګې برېښوینه
چې عاشقان ئې په رڼا ګوري خالونه

که سرې تماکو اوشو
ولې دې شولې نهٔ کرلې
ما ته جانان د سور پېزوان وئیلي دینه
سرنے کال مې د وادهٔ وو تېر به شینه

زېړ دې پېزوان زېړ دې چارګل دے
حېرانه مۀ اودرېږه یاره
ځکه د ور کښې زېړ زېبښلے اودرېدمه
قدم زما په قدم بږده راځه دننه

اوښانو بیا غاړې کږې کړې
اباسین بیا په چپو راغے
چې پرې سورېږي سپینې ځُلې زېړ پېزوانونه
په سر ئې راوړې سپینې ځُلې زېړ پېزوانونه

په خله ئې هيڅ راته او نه وے
جوړ شوي زړه مې پر هري شو
د سور پيزوان لاند ئې اوچيچل غاښونه
چې د جانان دا قهريده مې اوليدنه

تا چې خولۍ په وروځو کېښوه
زۀ به نتکۍ په پوزه جګه ګرځومه

نتکۍ دې چا د پوزې اوکښه
نتکۍ مې ورکه پيدا نۀ شوه
په نتکۍ نۀ يم ستا په اوچو شونډو يمه
بخيلې مور ته به څه بهانه کومه

خدائے دې زما دنتکۍ لعل کړه
د نتکۍ لعل به پر خيرات کړم
چې در په ځُلۀ کړم د سورکو شونډو سرونه
که مې اشنا په دښمن مات کړل سنګرونه

خلق چارګل خونړے بولي
نتکۍ مې سره بسرئې نولي
ما د نتکۍ په ډنډر ډېر وژلي دينه
د چا ئې اوسوې بوساړې د چا ټوپونه

نن مې د يار د راتلو ورځ ده
تا چې خولې په وروځو کېښوه
ځکه نتکۍ په پوزه جګه ګرځومه
زۀ به نتکۍ په پوزه لکه ګرځومه

ستا په نتکۍ کښې شيطان ناست دے
ليلي پلو له مخه واخست
هره شيبه مې ستا خولګۍ ته لمسوينه
دې سپينې ځُلې ته مې ئې شونډان ورپيدنه

د برېتو شوکې دې قينچي که
برېت دې زما نتکۍ کښې ګېر شو
زما نتکۍ په کښې انخلې مړه به شمه
تر دروازې پورې جوړه درسره تلمه

ټيکه دې پاس په تندي خوند کا
لکه سپوږمۍ چې په آسمان پرقا کوینه

چې سرکوزېږې دې په مخ راشي
چې سرکنډۍ مې په مخ راشي
نو ما ته وايه چې ټيکه درولېږمه
ورونه مې ډېر دي د چا څه پروا لرمه

رونه دې ډېر دي خداے دې ډېر کړي
ته به ئې په مينه راته جوړ کړې
نامردې زۀ ئې درته په مينه جوړومه
خلق کم اصل دي پېغور به راکوينه

خلق به څنګه پېغور درکړي
مونږ خو به نۀ وايو حالونه
چې مونږه دواړه چا ته نۀ وايو حالونه
خلق هوښيار دي ګمانونه زغلوينه

ټيک په تندي پېزوان په پوزه
ټيک راله ښه جوړ که زرګره
اوربۍ په غاړه د جينۍ مزه کوينه
ناموس به ستا وي خوند به ما سره کوينه

ټيک په تندي چارګل په پوزه
ټيک په تندي پېزوان په پوزه
په لنډه زنه دې شين خال مزه کوينه
سيکان دې بوزه زۀ دې روغ لېونے کړمه

ټيکه دې پاس په تندي خوند کړي
جهومر دې پاس په تندي ځانګي
لکه سپوږمۍ چې په اسمان پرقا کوينه
اميل په غاړه ګرځوې رنځور دې کړمه

ټيک دې بادشاه خال دې وزير دے
ټيک مې بادشاه خال مې وزير دے
زلفې ماران سينه دې ګنج پکښې لعلونه
زلفان زنځير دي فقيران به پرې ترمه

ټيک مې ښائسته جوړ دے زرګره
ټيک دې راواړوه ټيک دارې
ناموس خو ستا دے خوند زما سره کوينه
يار دې شمکور دے ستا د ټيک په رڼا ځينه

ټيک دې بادشاه جبين سرير دي
ټيک مې بادشاه خال مې وزير دے
خال دې وزير فقير ديدن ته نۀ پرېږدينه
زلفان زنځير دي فقيران به پرې ترمه

ټيک په تندي پېزوان په شونډو
پېزوان خو ټيک ته جواب ورکړو
اوربۍ په غاړه د جينۍ مزه کوينه
زما خوراک دي د سورکو شونډو سرونه

اوربل د غاړې بنديوانه
زۀ بنديوانه د اشنا د غاړې يمه

اختر په ټوقو ټوقو راغلے نۀمې اوربل شته نۀ د غاړې تعويذونه
ګوتې بنګړي د دنيا دود دے زۀ له نيستمنه ياره نۀ غوارم دودونه

اوربل په غاړه جينۍ لاړه پربېږده چې لاړه مېلمنه به د چا وينه
اوربل د غاړې بنديوانه زۀ بنديوانه د اشنا د غاړې يمه

ولې به زۀ ورپسې نۀ مرم اوربل په غاړه مازيګر ګودر له ځينه
شال ئې په سر اوربل په غاړه ګودر ته لاړه عاشقان رنځوروينه

اوربل کوټلے کړه زرګره زۀ د څلورو ورونړو خور يم قدرمنه
ډېره اوربل غندلې غاړه زۀ د دلال په نيستۍ راغلے يمه

د جغاول مزے دې لنډه کړه لکه ګواښ ګرندي د سينې مينځ ته راځينه
که دې جغاول په غاړه نۀ وې د ملک لور به درته چا وئيلي وونه

د پسرلي د سيله راغله د دواګو اميل ئې لګي په ورنونه
د سينې جرق مې ورله ورکړو د دواګو مې ورله ويستل کوشيرونه

ما له اوربل او کنګن جوړ که کنګن مې نشته تش لاسونه ګرځومه
ما له پيټے دورونه جوړ کا پيټے زما دورونه ستا د مور مړونه

تا وې اوربل به کړمه جوړه اوس رانه لاړے د بل چا شولے مئينه
تا وې زۀ ستا يم تۀ زما ئې اوس راته وائې ما نه اونغاړه لاسونه

مولا دې بله زيرمه اوکه زما د غاړې اوربل مۀ کاږه مئينه
اشنا اوربل که راله جوړه بيا په خندا خندا به زۀ ګودر له ځمه

○○○○

ما به د غاړې تعويذګے کړې عالم به وائې يار په غاړه ګرځوينه
د تعويذګي مزے دې لنډ کړه په عاشقانو د زيړے اولګونه

پـه تعویذونو کنبې دې اور دے　پـه سرو لختو کنبې دې انګار دے ما سیزینه
لختي دې سره بسرئ نولي　زرګره نۀ یم چې به بسرئ ټولومه

د کوټې ور دې مخامخ دے　د غاړکۍ تعویذ دې کړي اشارتونه
د تعویذګي مزے دې لنډ کړه　پـه عاشقانو دې زیړے اولګونه

○○○○

ما لـه پیټے دورونه جوړ کـه　چې پـه همزولو کنبې سرداره ناسته یمه
ما لـه بیټے دوردنه جوړ کـه　پیټے زما دورونه ستا د مور مړونه

روپئ کال دارے مزیدارے　کلمه دارے پـه اوربل مزه کوینه
روپۍ دې ټولې نبې نبکاربږي　د مینځ روپۍ دې پـه زړګي ویشتلے یمه

پـه مخ ئې سپینې روپۍ ځانګې　جینۍ پـه ځنو لاس وهي یار لـه ورځینه
پـه لختې ئې ټوپ کړو بیا ئې راټوپ کړو　پاس پـه اوربل ئې روپۍ ګډې وډې شوینه

مزے خو تا اوکړے تعویذه　پـه سینه پروت ئې بوئیوے نبائسته ګلونه
د تعویذګي مزے دې لنډ کړه　پـه عاشقانو د زیړې اولګونه

ستا د قلبے غوایان حلال شه　نـه میخکے نـه مې پـه سر شته تعویزونه
ستا میخکې پـه پوزه مه شه　ورور مې د ژمي شپه پـه وره کنبې تیروینه

لاسونه سره امیل پـه غاړه　پـه بام ولاړه شوکوي د خلقو زړونه
د پاسه سره لستونړي راغله　د بام پـه سر ورته پیریانو اونیومه

پـه ناوے چج کالي انبار کړئ　ورسره خوند د بنارس جوړه کوینه
ناوے پـه خپل صورت نبائسته ده　زرګره ستا پـه کالو اور پورې کوینه

ما لـه پنځۀ ګوتې د سرو کـه
پـه دواړو لاسو بـه دې پښې چاپې کومه

یو مې پېزوان بل مې چارګل دے　د لشه دارو مندرو زۀ پـه طمع یمه
باهو پـه لاس ګوته پـه ګوته　زرګره ټوله دې یارۍ ته جوړه کړمه

ما له پنځۀ ګوتې د سرو که
باهو په لاس ګوتې په ګوته
په دواړه لاسو به د ښنې چاپې کومه
د هرې پېغلې سره ځومره خوند کوينه

ګوتې بنګړي د دنيا دود دے
که مې د يار ګوتې په لاس وې
زۀ د نيستمنه ياره نۀ غواړم دودونه
ما به د ټولو جونو پورته وړۀ لاسونه

ګوتې په ګوته که راووځه
ګوتې مې وې په لاس مې نۀ کړې
لاس په تندي کېږده چې او دې پېژنمه
د يار په خوښندو باندې راغلم تش لاسونه

ګوتې قلم ته په ژړا شوې
ګوتې قلم ته په خندا شوې
خط به باقي وي مونږ به تورې خاورې شونه
شکر په دا چې محبت کښې خاورې شونه

ګوتې مې وې په لاس مې نۀ کړې
ګوتې په لاس که هار په غاړه
د يار په خوښندو باندې راغلم تش لاسونه
راځه چې دواړه د دې وران وطن نه ځونه

زما دې لاس ګوتې د سرو کا
د لاس غمے به د هېر نۀ کړم
په دواړه لاسه به دې کور جارو کومه
لکه لعلونه به ئې په زړۀ کښې پټ ساتمه

د پېکړو ښنړا راخېژي
ما ته ښکارېږي جينکۍ ګودر له ځينه

په کوټه رو ځه ښنې دې پريوځه
په کوټه رو ځه زما ياره
د پېکړو ښنړا دې ګلي خبروينه
زما جوړه ورونه اودۀ دي ويښ به شينه

د پېکړو ښنړا راخېژي
په لاره ځاے نشته يو ټيل دے
ما ته ښکارېږي جينکۍ ګودر له ځينه
مستانه جونه په يو ځاے اوبو له ځينه

سور مېخکے په پوزه سور که
ستا قدمونو لېونے کړم
پېنزېب په پښو کړه په ناز کېده قدمونه
ما ته په سپين مېدان کښې کېږده قدمونه

پېکړه راغله په ژړا شوه
زما په شونډو راتلے نۀ شي
ما له پازېب په پونده ځاے نۀ راکوينه
زما پازېب زما د زړۀ وائي حالونه

په لاره ګوډه ګوډه راغله
پیزار زما په پښو کښې تنګ شو
د بخملي پنړو ئې تنګ دي بادامونه
یار مې ساده دې زۀ په خپله ښار ته ځمه

خالونه واړه دي خالونه

د زنې خاله نوکري به دې کومه

اختر په ورځ دې ځان سنګار کړو
د وروځو مینځ کښې ئې خال کېښود
څوک دې په زړۀ دي چې ډاډه وهې خالونه
الله دې خبر کړي د چا کور به ورانوینه

تر دیوال دوه ګوتې سر لوړ کړه
په دیواله ولاړې لښتې
د زنې خال به دې دیوال اوسلوینه
خبرې سختې رالېږې رنځور دې کړمه

چې د نظر دې څوک نۀ کړي
خال د دوربین مخ دې ښیښه ده
خال دې په مخکښې سپېلنے لوګي کوینه
پکښې ښکاریږي لرې لرې وطنونه

خال په پلو کله ورانېږي
زما دې غاښ په انبور اوځي
د تا د غاښو پکښې ښکاري پرهرونه
که مې د تا زنې ته زور ورکړے وینه

خال په سرو شونډو نۀ ورانېږي
خال دې د خامو رنجو ایښے
ناترسه یاره تا پرې ښخ کړل غاښونه
ما چې پر سر د ژبې راښکه ګنجے شونه

خال دې وهه خبر دې نۀ کړم
خال دې وهه خبر دې نۀ کړم
اوس راله راکه د سورکو شونډو سرونه
ناغه دې راکړه د سورکو شونډو سرونه

خال مې واهه تۀ حاضر نۀ شوې
خال دې واهه خبر دې نۀ کړم
د سپینې خُلې مطلبي مۀ راځه دننه
اوس راله راکړه د سورکو شونډو سرونه

د مخه ولوېږې دیواله
په دیوال لړه راښکاره شه
تا نه پناه دې د جانان شینکي خالون
د دیدن ترے په بهانه راغلے یمه

شین خالے ښکته شه خُلۀ راکړه
شین خالے ټیټه شه خُلۀ راکه
تاب مې د زړۀ نشته چې زۀ درپورته شمه
بلا پسې که که باچا اخلي جرمونه

د زنې سر دې کچرې ده
شین خال دې نۀ دے سېشن جج دے
خال د ډیپټي دي عدالت ښکښې کوینه
ستا په سینه باندې پېشي ورته کومه

په بام خو هسکه ټیټه کېږې
سر د دیوال لږ راوچت که
د زنې خال دې په دې حال اوسولونه
د زنې خال دې په دیوال اوسولونه

تۀ بختور ئې بنجاریه
تۀ بنجارے شه اواز اوکړه
چې ملغلرې خرڅوې شمارې خالونه
لکه تنزرې په ټوپونو به درځمه

شین کابلے نیل راله راوړه
که خداے زما جانان زما کړي
صبا اختر دے چې پرې کېږدمه خالونه
زۀ به تازه کړم تورې سترګې شنه خالونه

خلق د پیر لاسونه نیسي
شین خالے ښکته شه خُلۀ راکه
ما د شین خالې لیلي ښنې نیولي دینه
بلا پسې که که باچا اخلي جرمونه

هلک په شنو خالو مئین دے
مخ دې بې خاله ښائسته دے
جونې بدرنګ کړې چې نۀ وهي خالونه
که خال دې کېښود ما به ورک کړې له وطنه

د خپل یاره پرده نشته
مخ ته نقاب مۀ نیسه یاره
په پیکي ولې پټوې شنکي خالونه
د خداے د پاره دې څرګند کړه شنۀ خالونه

لیلي په جونو کښې ښکاره ده
دیدن په لاکهه خندا په زر ده
تور ئې پیکے لندئ څنړې شنۀ خالونه
په بادشاهي تخت به ورنۀ کړم شنۀ خالونه

مخ د سپین خال ښکښې شین دے
خال خو مې شین پاس به جبین دے
خندا دې سیند دے عالمونه غرقوینه
بادشاه د چین دے ایله وي باغي ملکونه

چې هورې ځې خال مې سهي کړه
جانانه ځۀ الله دې مل شه
د هندوستان د جونو نشته دے خالونه
زۀ شنکے خال او زلفې تا لره ساتمه

هلکه څنګه راته ګوري
مسلماني به دې کچه کړم
تا په دې زیړګونه کښې څه لیدلي دینه
ډېر مې د زنې خال ته مۀ ګوره مئینه

خال خو دې ما وران کړے نهٔ دے
خال په پلو کله ورانېږي

تا چې پلو په مخ راسم کړو وران به وینه
د تا دې غاښو په کښې ښکاري پرهرونه

خال په سرو شونډو نهٔ ورانېږي
خال خو دې ما وران کړے نهٔ دے

ناترسه یاره تا پرې ښخ کړل غاښونه
تا چې اوربل راخوراو نو وران دې کنه

خال دې د وروځو په مینځ کیښود
خال مې د وروځو په منځ کېښود

لکه باچا چې پاس په تخت ناسته کوینه
تهٔ ورته ګوره خوند کوي که وران ئې کړمه

نن دې آئین مخ ته نیولي
نن مې د یار د راتلو غږ دے

شنکي خالونه دې په مخ وهلي دینه
په تورو زلفو ورته لار جاروکومه

خال مې تازه سترګې مې تورې
ولې په ټپو راته ړوند شوې

که راته ګورې لېونے به شې مئینه
شینکي خالونه مې د نیل وهلي دینه

مور ورته خال په وینو کېښود
خال به د یار په وینو کېږدم

خور ئې هم توره باټ کوي ورسره ځینه
چې د مولا دربار ته هسکه غړې ځمه

خال دې په مینځ د تندي ایښے
خال دې د ورځو په مینځ کېده

لکه سپوږمۍ چې نیماي آسمان ته شینه
لکه باچا چې پاس په تخت ناسته کوینه

خال خو د لنډې زنې خوند کا
خالونه واړه دي خالونه

لکه ښکاره په کابلۍ منه داغونه
د زنې خاله نوکري به دې کومه

د چا به مور او پلار یادېږي
د هر چا خپل اشنا یادیږي

زما یادېږي د لیلي شنکي خالونه
زما یادېږي د اشنا شنکي خالونه

د زنې خال دې بې مثال دے
د زنې خال دې مبارک شه

بې بها لعل دے امیران ئې خوښوینه
تا به د زړهٔ په ځیګر خون وهلے وینه

زما د زنې خال دې وران کړو
د زنې سر ئې راپه خُلهٔ کړو

نامرده ما په بې شرمئ وهلے وونه
جینۍ کم عقله اماني غواړې خالونه

نوره خو هېڅ ورپکښې نشته
د هر چا خپله خپله خوښه

په ټول بدن د رانې خال مزه کوينه
زما ئې خوښ دي د لنډۍ زنې خالونه

زړۀ خو مې هغه جانان وړے
ستا د رضا د پاره ياره

چې په لنډۍ زنه ئې ايښي دي خالونه
په لنډۍ زنه همېشه وهم خالونه

د شين خالي کندړ مې اوکړو
څوک به دې مړ کړي خوږه ياره

ځان مې بدنام کړو رامې نۀ وړل شنه خالونه
پردۍ بړستنې جګوې ګوړې خالونه

د زنې سر ئې خُلۀ کښې راکړو
د زنې سر ئې را په خُلۀ کړو

قسم ئې راکړو چې مې وران نۀ کړې خالونه
جينۍ کم عقله اماني غواړې خالونه

زۀ دې خالونو لېونے کړم
خال مې د خامو رنجو ايښے

په لاره ځم لکه قصاب ګوتې شمارمه
ګوره چې کېږدم د کابل د نيل خالونه

خال مې د خامو رنجو ايښے
شين کابلے نيل راله راوړه

تا چې په سر د ژبې راښکه ګنجے شونه
صبا اختر دے چې پرې کېدم شنۀ خالونه

خال د دخامو رنجو ايښے
د تا د غاښو بسم الله شم

ما چې په سر د ژبې راښکو ګنجے شونه
خال مې د خپله لاسه وران دې جوړ به ئې کړمه

بنګړي په لاس که اوګډېږه
ګډه به تۀ شې خوند به ما له راکوينه

په خوب اودۀ به دې راويښ کړم
د خوبه پاسه ځان بېدار کا

ياره زما د لاس بنګړي راغلي دينه
د کالو ډکه دې په سر ولاړه يمه

ماښام مې يار سره نېټه ده
بېګاه مې يار سره وعده ده

د لاس بنګړي مې په رومال تړلي دينه
د لاس بنګړي مې ورته کور ويستلي دينه

ما له د ښاره بنګړي راوړه
ميلې ته ځې ميلې ته لاړ شه

زۀ به سلام په دو دسته درته کوم
زما بنګړي چې درنه هېر نۀ شي مئينه

زما جانانه بې لتانه
جانانه جار دې تر نامه شم
بنګړې مې کم دي نور به ئې څوک پوره کوينه
چې نوم دې واخلم د زړۀ باغ مې اوبۀ شينه

بنګړي مې وو په لاس مې نۀ کړل
بنګړي مې ځکه په لاس نۀ کړل
تشې منګلې د اشنا غېږې له ځمه
بنګړي غماز دي خلقې راخبروينه

چې د اشنا د بنګړو شرنګ شي
کور دې نزدې کوڅه دې لرې
زړۀ په سينه دننه اووهي ټوپونه
ستا د بنګړو شرنګاه مې خوب ته نۀ پرېږدينه

ما له د ښاره بنګړي راوړه
دا زۀ چې لاس په تندي کېږدم
زۀ به سلام په دوه لاسي درته کومه
مخ نۀ پټووم دو دستي سلام کومه

بنګړي مې ستا په غېږ کښې مات شو
دا نيمه شپه ده بنګړي شرنګ کړي
که مړنے ئې راله ډک کړه مړوندونه
نامردې اوتړه مړوند په رومالونه

ټال ته ختم بنګړي مې مات شو
بنګړي مې ستا په وجه مات شو
ګناه د يار ده چې کوي اشارتونه
اوس نارينه شه راله ډک کړه مړوندونه

د خوب ودۀ به دې راويښ کړم
د خوب اودۀ مې ځکه ويښ کړې
ياره زما د لاس بنګړي راغلي دينه
کوڅه کښې غږ شو چې بنګړي راغلي دينه

بنګړو له شرنګ ورکه راووځه
بنګړو دې تېر ماسختن شرنګ کړو
مور ته دې وايه چې خشاک سنبالومه
زۀ دې بهر تمبو ته لاس په نامه شومه

بنګړي دې شرنګ کوي نيازبينې
بنګړو مې رور او مور بېدار کړل
لاس په قلاره خوزوه رسوا دې کړمه
تيره راواخله زۀ ئې واړه ماتومه

بنګړي مې ټول د لاس مات شو
بنګړي مې ستا په کټ کښې مات شو
زۀ به بخيلې مور ته څه جواب کومه
اوس نارينه شه راته ډک کړه مړوندونه

مېلې ته ځې جانانه لاړ شه
دا ځلې تور به درله راوړم
خو سرۀ بنګړي چې درنه هېر نۀ شي مئينه
په سپينو لاسو تور بنګړي مزه کوينه

زما بنګړي دې ټيل کښې مات کړۀ
بنګړي دې کټ په غوټې مات شو

اوس مې په توره شپه کښې ډک کړه مړوندونه
زمونږ چمکي ته بنګړي وال راغلي دينه

زما بنګړي به دې پکار شي
توره تياره کټونه ډېر دي

چې کټ خطا کړې زۀ به ئې رو رو شرنګومه
بنګړو له شرنګ ورکه چې اودې پېژنمه

بنګړي په لاس که اوګډېږه
چې ګډېدۀ کوې جينوټې

ګډه به تۀ شې خوند به ما له راکوينه
په تا دې اوشي د مهرانو بارانونه

لېچې دې ډکې د بنګړو دي
لېچې مې ډکې د بنګړو دي

مته خالي کړه زۀ پرې ډډه لګومه
سيلۍ پرې راغله بند په بند ئې ماتوينه

ما له بنګړې د ښاره راوړه
دا ځلې تور به درله راوړم

چې ستا په ياد کښې به ئې د زړۀ د پاسه ږدمه
د سپينو لېچو سره تور بنګړي خوند کړينه

کور دې نزدې کوڅه دې لرې
خدايه په پېغلو کښې مې پټ کړې

ستا د بنګړو شرنګاه مې خوب ته نۀ پرېږدينه
چې هر طرف ته د بنګړو شنړا راځينه

بنګړي نيم پورته کړه نيم ښکته
دا نيمه شپه بنګړي دې شرنګ کړي

چې په خالي مړوند دې سر اولګومه
نامړدې اوتړه مړوند په رومالونه

دا تا چې لاس په تندي کېښود
زۀ د راتلو دې احسان منده

د بنګړو شرنګ دې عالمونه خبروينه
د خوشحالۍ نه دو دسته سلام کومه

د لونګين مېرمن ته وايه
د لونګين په لړ راخېژه

زما به شپه بېګاه له ستا په سينه وينه
په سينه شپه کړه اوخوره سرې شونډې لعلونه

تا رانه کور او کلې بيل کړو
دا تاته چا وې چې مئين شه

اوس به د شپه د بنګړو شرنګ ته تيرومه
اوس به تير ئې د بنګړو شړنګ ته شوګيرونه

تا رانه کور او کلې بيل کړو
کور د نزدې کوڅه دې لرې

اوس به د شپه د بنګړو شرنګ ته تيرومه
د بنګړو شرنګ به دې راتلو خوشحاله وومه

جانانه تور پټکې پېدا که
په سر به ستا وي خوند به ما له راکوينه

پګړۍ دې ول په ول مزه که
لونګۍ په سر که بهر راشه
لکه چې زلفې ول په ول مزه کوينه
چې د لونګۍ ول کښې دې کېږدم زېړ ګلونه

تور د پټکے دے توره وريځ ده
په تور پټکي دې خاورې واوره
دا ګل ګوټې څنړې دې مياشتې په کالونه
کرې شملې دې لېونۍ سپېلنۍ کړمه

تور دې پټکے تورې دې وروځې
په تور پټکي دې لمبه اوشه
کور ته جاروزي مخ راواړوه مئينه
روغه جينۍ ووم لېونۍ دې کړم مئينه

جانانه تور پټکے پېدا که
ما درته وې چې سوات ته مۀ ځه
په سر به ستا وي خوند به ما له راکوينه
په تور پټکي به دې سواتۍ مئينه شينه

د پښتو قدر په ما ګران دے
که مې ستا پت تر سره نۀ کړو
ځکه پټکے د پښتنو په سرومه
زۀ به تاؤ کړے پټکے نۀ په سروومه

د مور او خور چې عزت نۀ کړي
چې پښتو وائي پښتو نۀ کړي
هغه پښتون دې پټکے نۀ په سروينه
ژبه ترې پرېکړئ چې پښتو پرې نۀ وائينه

پټکے په مينځ د وروځو کېده
پګړۍ به هلته کره کېږدم
پردے وطن دے چې ډاډه درسره ځمه
چې په مېدان باندې غماز اوشرمومه

خلق صفت د تور اوربل که
په وطن ننګ لالے شهيد شو
د طالبانو پګړۍ اور اولګونه
د پټکي ولونه ئې سپړم ژړا راځينه

خدايه دا لوړ غرونه راټيټ کړې
ګل مې په لاس کښې درته راغلم
چې رامعلوم شي د جانان د پګړۍ ولونه
د پټکي ول دې سستوه چې پکښې ږدمه

زما مرګے په خپل وطن کړې
راځه راځه چې ځو وطن ته
چې د لالي لونګۍ کفن په غاړه وړمه
که غرمه سره شوه ستا لونګۍ به سورۍ کړونه

پښتنو بیا خولۍ کېږې کړې
پښتانۀ واړه شنۀ زمري دي
پـه دشمنانو به بیا جوړ کړي ناتارونه
چې وخت پرې راشي په سیالۍ توري وهینه

تا چې پټکے په وروځو کوږ کړو
تا چې پټکے له مري راوړي
زۀ به نتکۍ په پوزه لکه ګرځومه
زۀ به نتکۍ له ګونګروګان راوړم مئینه

ما به دې تا کبر کړي خواره

چې سر دې یو شملې دې دوه پرېښي دینه

لونګۍ دې واخسته روان شوې
ما به د تا کبر کړي خواره
پـه سر دې نشته د یارۍ سوي داغونه
چې سر دې یو شملې دې دوه پرایښي دینه

دا تۀ چې ځې اخر به لاړ شي
په کنډاؤ واوړېدې پناه شوې
ځو به دې زۀ د لونګۍ نیسم پلونه
پناه دې مۀ شه د لونګۍ سرۀ پلونه

لونګۍ کږه په وروځو کېده
سر دې د لرې راښکاره کړه
زۀ لکه میاشت کږه په بام ولاړه یمه
چې ننداره دې د کږې شملې کومه

لونګۍ دې بیا په سر کږه کړه
تا چې لونګۍ په سر کږه کړه
تر خپله کوره به کږه درسره ځمه
زۀ به چارګل په پوزه نښغ اودرومه

لونګۍ په سر په مخه راشه
لونګۍ دې بیا په سر کږه کړه
چې د لنګۍ ول کښې دې کېږدم زیړ ګلونه
تر خپله کوره به کږه درسره ځمه

ډکه ټوپۍ نرے دې خط دے
ما په ټوپۍ خوښ کړے یاره
زۀ دې مئینه په ملالو سترګو یمه
اوس که پټکے په سروې خوښه دې خپله

ما به دا ستا خولې چکن کړې
کوله به زۀ درله چکن کړم
د موره یو ئې نظري به شې مئینه
توره لنګۍ به درله مور اوکړي مئینه

د تاد جکې شملې جار شم
په شملګۍ دې شوم غلطه
ټومبلې تا ده خوند ئې ما له راکاونه
کور ته دې لاړم مور دې لنګ وهلے وونه

بېلتانهٔ کړې راپه سر کړې
بېلتونه دومره صبر اوکړه
پـه اوښکو لوند ګرېوان ځنډم له ملکه ځمه
چې د جانان لونګۍ زاړهٔ کړې پلونه

بېلتانهٔ داسې چارې اوکړې
د بې غېرت اشنا د لاسه
ځان ئې ملا کړو زهٔ ئې غل د کلي کړمه
پټکے د سره تاووم له ملکه ځمه

سالو مې دوه رنګ په سر دې
په چا ئې اختر که چاله ئې ورکړل ډېر غمونه

ليلي چې مخ سالو کښې پټ کړو
چې د سالو نه ئې مخ بهر کړو
لکه سپوږمۍ چې په وريځ کښې پټه شينه
لکه سپوږمۍ د څوارلسمې ښکاره شينه

زما د وينو رنګ ئې ورکړو
سالو مې دوه رنګه په سر دے
هر ځاى د يار د سالو کېږي صفتونه
په چا ئې اختر که چا له ئې ورکړل ډېر غمونه

سالو په سر منګے په ترخ کښې
ګودره ټول درنه لوګے شم
د ګودر غاړې له راځي رنځور ئې کړمه
په سور سالو کښې مې يار ستا خوا له راځينه

يو ځلې بيا په دې لار راشه
بخت دې په سر دے زما ياره
چې دې په سور سالو کښې اوکړم ديدنونه
سالو مې باد يوړو تا اوکړل ديدنونه

جانان زما د سر سالو دے
ما د جينۍ د سر سالو کړې
د سر سالو پېغلې په خپله زړوينه
چې نرے باد ئې ما سينې ته ټولوينه

په سور سالو په بام ولاړه
د مور ملوکې سرې دې نوکې
امېل په غاړه شوکوي د خلقو زړونه
په سور سالو کښې ګرځېدې مئين دې کړمه

دا مخامخ په کوڅه راغله
سالو ئې سور دے مخ ئې سپين دے
قجير بانهٔ ئې تر سالو ختلي وونه
دا مې يقين دے چې به زر ليونے شمه

جينۍ په تنګه کوڅه راغله
مخ په منګل کله پټېږي
سالو ئې نشته په منګل مخ پټوينه
دا مې غرض دے دو دسته سلام کومه

پاس په ګودر د جونو جنګ دے
پاس په ګودر د پېغلو جنګ دے

پورې راپورې په منګو ویشتل کوینه
د سور سالو مېرمنه ماتې ګډوینه

ټال کښې ځانګل درته نۀ ښائي
ټال مې بهانه مطلب مې تۀ ئې

بوئې دې د زلفو شمال وړې کوې مرګونه
چې د سورکي سالو دې اوکړم دیدنونه

سالو مې پاس په پړي زوړ شو
سالو مې پاس په پړي زوړ شو

د رغبدو امید مې نشته مړه به شمه
پېزوان مې زنګ شو لالے تورې خاورې شونه

چې پېښور ته ځې جانانه
چې قیمص تور درنه هېر نۀ شي

ما له پړونے د سالو راوړه مئینه
تازه ګلونه درې څلور راوړه مئینه

د سور سالو خېرات به اوکړم
زۀ به دې سر سلامت غواړم

که د سوډر د ملکه روغ راغلې مئینه
که په مېدان کښې د ګولیو باران وینه

سالو مې پاس په پړي زوړ شو
د سېل سنګار هوس مې نشته

پېزوان مې زنګ شو لالے تورې خاورې شونه
لکه مرغۍ اوس په پنجره کښې قېده شوم

چارې دې څه وکړې زنړکیه
خال خو په شونډو نۀ ورانېږي

پټ په سالو کښې ورم د غاښو پرهرونه
ناترسه یاره تا پرې ښخ کړل غاښونه

په نزدیکت به ئې مړه نه شم
جانان زما د سر سالو دې

که د وجود څرمن ئې ځان ته اوګنډمه
د سر سالو پیغلے په خپله زړوینه

په سر سالو امیل په غاړه
خوک بختور به تر بچ کېږي

په بام ولاړه شوکوې د خلقو زړونه
د جینۍ زلفے ښاماران خوړل کوینه

ګل د ګلاب به شرمنده شي
که شاه لیلي پلو له مخ لرې کړینه

خال خو دې ما وران کړے نۀ دے
خال په پلو کله ورانېږي

تا چې پلو په مخ راسم کړو وران به وینه
د تا د غاښو پکښې ښکاري پرهرونه

مخ ئې پلو کښې رانه پټ کړو
دیدن د سر په بدله دے
خدایه سیلۍ کړې چې ئې ټوله اووینمه
باد مې پلو یوړو وړیا دې اولیدمه

باد دې پلو له مخ یوسه
دیدن په لکھ روپۍ ارزان دے
چې دې د دنګې غړۍ اوکړم دیدنونه
پلو مې باد واخست وړیا دې اولیدمه

ګل د ګلاب به شرمنده شي
لیلي پلو له مخه واخست
که شاه لیلي پلو له مخه لرې کړینه
دې سپینې خُلې ته مې شونډان ورپېدنه

چا ئې پلو لیدلے نۀ وو
چا مې پلو لیدلے نۀ وو
اوس د کابل په لورې ځي سر تور سرونه
نیستۍ فقیر کړم در په در مې ګرځوینه

ملا مې نرۍ منګے مې غټ دے
په ما خو دواړه چارې نۀ شي
مور مې دې مړه شي چې په ما اوبۀ راوړینه
چې یو ګړې ورم بل پلو مخې ته وړم

یارې د لوړې جینۍ خوند کا
غلے راځه خوا ته مې کینه
د پلو لاندې سرے غلې تېرونه
د پلو لاندې به دې یاره اوساتمه

خدایه تۀ ما د لارې ریګ کړې
خداے خو به تا د لارې ریګ کړې
چې جینکۍ مې د پلو سره وړینه
جونه هوښیارې پلو ترخ کښې ګرځوینه

د ګودر هر بوټے دارو دے
د ګودر هر بوټے تازه دے
پرې لګېدلي دي د پېغلو پلونه
هر مازیګر ورته جنکۍ نظر کوینه

پلو په ځان پسې راکاږي
جینکو لرې شئ وار ورکړئ
ګمان مې کېږي میلمنه به د چا وینه
دا میلمنه ځانګه اشنا ده چې راځینه

زما په سر توره چارړیه
وربه دې نۀ کړم د خانانو په شالونه

مخ ئې په تور ځادر کښې پټ کړو
یا په اسمان کښې ستورې خوند کړې
لکه سپوږمۍ چې په غبار دننه شینه
یا چې په تور ځادر ګلونه خوند کوینه

که په سرحد چرته شهید شوې
که چا وئیل چې جانان راغے

د سر پړونے به بېرغ دربانديږ ږدمه
د سر څادر به د بابا شکرانه کړمه

په سر دې سپینه لوپټه ده
په سر مې سپینه لوپټه ده

خوشې مېره ده پښې راوچتې کړه چې ځونه
وروستو اوږده ده د یارۍ تړې بندونه

د کابلي رومال د پاره
ښه ده د غم دسمال دې راکړو

زۀ به یاري د درانو سره کومه
د فراق اوښکې به زۀ تل پرې پاکومه

بیا به دې تور نۀ کړم قمیصه
بیا به زۀ تور قمیص اونۀ کړم

زما د شلو کالو رنګ دې وارونه
په تروږمۍ کښې لکه خره ولاړه یمه

تر دې بوړې ټوپک دې ځار شم
ټوپک د یار په غاړه خوند کړي

په غاړه ستا دے کړه زۀ درسره ځمه
لکه چې خوند کړي په ډولۍ زرین شالونه

صورت دې سپین قمیص دې شین دے
قمیص مې شین ګلان پرې سرۀ دي

لکه رامبېل چې شنې ئې پاڼې سپین ګلونه
مور مې مېره ده اوس په زوړ مې خرڅوینه

د ګل مېخونو دې شرنګا شوه
ما بل قیمص کړے زرغون دے

ما وې کوتوال دې زولنۍ رااچوینه
د دارائي قمیص مې غواړې ګل میخونه

قمیص مې لنډ اونیسه موري
قمیص دې لنډ نۀ نیسمه لورې

یار مې تیږي دے خوښوي لنډ قمیصونه
پردے وطن دے بوټي خله درلګوینه

بیا ئې لنډې قیمص اغوستے
ګودر ته ځے مخے ته راغلے

ګورې چې نن به د چا خونه ورانه وینه
ګیډې ګیډې پرتوګ د لار نه راکوینه

دا سپین قمیص د مبارک شه
تنړې پرانستې مه ګرځیږه

ته رانزدے شه چې تنړې د اوټرمه
خلق به وائي چې عاشق به د چا وینه

په سفر ځې په خدائے دې سپارم
په سفر ځې تعویذ مې واخله

که ما ته راوړې د کشمیر شنکي شالونه
که زۀ بیا نۀ ووم د زړۀ سود به دې پرې شینه

خاونده بیا دې مازیګر کړو دا مازیګر شو ښکته نمر شو	شال ئې په سر کړو پردئ خونې ورانوینه منګے ئې واخست د ګودر غاړې له ځینه
کچکول په لاس شړے مې لنګ دے یو ځلې غاړه غټئ راشه	جامې مې رنګ دي یاره ستا په تهمتونه اوس خو مې تورې شړئ لنګ کړې یار دې یمه
د بنارس جینکئ ژاړې بنارسئ شوې ډېرې ډېرې	د لیډې منت جینکئ شنې د خندا ځینه زما دادا ترینه خرسوړے جوړوینه
که مې زړه شړئ په سر ده که زۀ غماز ته غریب ښکارم	جانانه تا به په بخملو کښې ساتمه زما د زړۀ په خزانو کښې شته لعلونه

چې په فریاد مې پروا نۀ کړې
اوس به دې مور ته ګرېوان پښو کښې اوشلومه

خیرې ګرېوان مخې ته راغے خیرې ګرېوان مۀ ګرځه یاره	لېونے یار مې مرور معلومېدنه خلق به وائي چې مئین به په چا وینه
که مې جانان مخې له راغے چې په فریاد مې پروا نۀ کړې	زۀ به د سپین قمیص ګرېوان ورته شلومه اوس به دې مور ته ګرېوان پښو کښې اوشلومه
ظاهر د خلقو سره خاندم سوال به د خدائے په در کښې اوکړم	پټې مې اوښکې په ګرېوان درپسې ځینه ګرېوان شلېدلے به ورځم په زیارتونه
ببګاه مې داسې خوب لیدلے ګرېوان مې خیرې سر ببر دے	چې تر لمن مې ګرېوان شلیدلے وونه سترګې مې سرې دي جانان راکړۀ جوابونه
میاندې له هغه زویه زار شه توره به کړم پاتې به نۀ کړم	چې د وطن په جنګ ئې سرۀ شي ګرېوانونه که اشاره د خپل جانان وما ته وینه
سبا به تورو غرو ته خېژم ګرېوان به خیرې تر لمن کړم	لکه د قیس چې لیونو کښې حساب شمه چې لېونے د یار د غم مشهور شمه

د ګل ګلاب غوټۍ د پاره
ما د جلۍ د سر ګلاب کړې

جونه سر تورې د باغوان سلام کوینه
چې پانه پانه ئې ګرېوان ته ولوېږمه

د لېونو سره به زۀ ځم
ما د هغې کوڅې نه زار کړې

زما ئې خوښ دې دا شلېدلي ګرېوانونه
چې لېونے پکښې پرانستې تښۍ ځینه

ستا دې دا خپل حُسن نصیب شي
خاوند دې ما په شان مئین کړه

زۀ به دا خپل څیري ګرېوان راټولومه
چې لېونے دې په کوڅو کښې اووینمه

زۀ په مئین سرې پوهېږم
خدایه مئین څوک په چا مۀ کړې

سر ئې ببر وي ګرېوان څیري ګرځوینه
یو کال مئین ووم لېونے به ګرځېدمه

پرېږده چې څیري ګرېوان ګرځم
پرېږده چې څیري ګریوان ګرځم

د عاشقانو برخې خوارې وي مئینه
چرته به ئې زړۀ راباندې اوسوزي مئینه

څیري ګرېوان درته ولاړ یم
څیري ګرېوان راپسې ګرځه

لکه یتیم مې په سر راکاږه لاسونه
د عاشقانو برخې خوارې وي مئینه

یا مې ته غوټه د ګریوان کړه
یا مې د ځان سره ځان که

یا مې اوربې که چې د تاؤ د غاړې شمه
یا مې پیزار که چې تلې د ښکلومه

تر څو به څیرے ګریوان ګرځم
زړګیه صبر شه مه ژاړه

آخر به زړه راباندې اوسیزې مئینه
پردې راوړې د چا څه پرواه لرینه

پټه مئینه پټه ژاړم
په اوښکو لوند ګریوان مې ګوره

پټې به اوښکې په ګریوان کښې تویومه
ستا د پیغوره مور په کور بند کړې یمه

باب: 9

خلق الانسان من علق

الذي علم بأالقلم

انسان د پوره کائنات او مخلوقاتو خلاصه ده. څۀ چې په تمام کائنات کښې دي د هغې نښې د انسان په ځان له وجود کښې دي. ځکه ورته عالم اصغر وائي. د تعليم په وجه انسان د نورو مخلوقاتو نه ممتاز او اشرف المخلوقات وي. او قلم د تعليم غټه ذريعه ده د يو حديث مطابق الله تعالى اول قلم پيدا که او ورته ئې حکم ورکړو چې ليکه نو هغه د عرش سره کتاب کښې تر قيامته هر څه اوليکل . څلور څيزونه الله تعالى په خپل لاس جوړ کړي. باقي ټول کائنات په حکم کن جوړ دي هغه څلور دا دي قلم، عرش، جنت عدن، آدم عليه السلام.

څوک وائي چې کتاب يعني د ليکلو فن اول آدم عليه السلام ته ښودلې شوې وو او څوک وائي چې حضرت ادريس عليه السلام اول کاتب وو. او بعض وائي چې د هر ليکونکي تعليم خالص منجانب الله دې. خط و کتابت د خدائے لوې نعمت دې که قلم نه وي نو د دنيا او دين کاروبار به ټپ شي.

چې خدای کوي هغه به اوشي

د بنده خوشې انديښنې تش تد بيرونه

اسره د پاک الله پکار ده — څوک چې دا نورې اسرې کړي پښيمانه شينه
اسره مې تۀ شې خپل خدايه — د بندګانو دې زۀ څۀ پروا لرمه

بنده بنده د بنده مه شه — څوک چې بنده د بنده شي بنديوان شينه
بنده د رب شه چې بنده شے — بنده د رب په بند بنديان آزاد وينه

خدائے چې کوي هغه به اوشي — د بنده خوشې انديښنې تش تدبيرونه
په حقه څه نا حقه مه کړه — رب ذمه وار دې د بلا به دې ساتينه

ذکر او فکر دواړه يو که — چې دې دنيا آخرت دواړه نصيب شينه
ذکر کوه خدائے خوشحالېږي — زړه د شيطان ورباندې ټق له غمه چوينه

دشمن مې شته دوستان مې نشته
دشمن مې ډیر دوستان مې نشته

دوست مې الله دې چې فریاد ورته کومه
چې ته مې مل ئې څه پروا د چا لرمه

چې خدای به څه راسره اوکړي
چې خدای باچا رسولؐ شفیع دے

ما په دنیا ځان ته اغزي کرلي دینه
زۀ د رسول په شفاعت باچا له څمه

پرور دګار غني باچا دې
رب مې بادشاه د کل جهان دې

مچ او انسان له روزي یو شان ورکوینه
دا مې ایمان دې زۀ ئې خالق رازق ګنړمه

خدائے مې باچا قرآن مې پیر دې
خاونده ته مې فریاد واورې

رسول الله به شفاعت زما کوینه
رسول الله امت مې نه اورې فریادونه

که تمام عمر عبادت کړې
ربه ستا فضل کرم ډیر دې

ستا د احسان اجر به څنګه ادا کړینه
زۀ ګناهګار ستا د کرم امید لرمه

چې پېغمبر له دنیا لاړو
باقي به څوک نه وي دنیا کښې

پاتې به نۀ شي چې د ساه خاوندان وینه
غیر د الله نه چې موجود به همېش وینه

چې آخرت ته مې نظر شي
خاونده دا ګناه مې معاف کړې

ځان ته مې فکر شي چې ولې لوئیدمه
زما توبه ده بیا به نه کړم ګناهونه

خدائے ته به څنګه جواب ورکړي
خدائے ته به داسې جواب ورکړم

چې په دیدن قضا کوي فرض مونځونه
نوې مئین ووم په دیدن نه مړیدمه

د خدائے خدائي ګوره عالمه
دا د خاوند تعالی خپل کار دې

څوک ئې باچا کړو څوک ملنګ د دنهې شونه
څوک بادشاهي کړي څوک د ټوک کوي سوالونه

خدایا بادشاه یا مې وزیر کړې
د خدائے کارونه ټول د خیر دي

یا مې ملنګ کړې چې زۀ اوغواړم خیرونه
بنده له ښائي چې پرې شکر اوباسینه

خدائے دې سزا درکړي جانان
خدائے دې لسم جماعت کښې فیل کړه

په خوب اوده اوښکې مې ستا له غمه ځینه
چې په سپین مخ دې اوښکې سپینې اووینمه

خدا ے دې زما که خپله یاره
خدا ے دې زما که غونډې منډې
ما دې په سر الله ته ډیر کړې سوالونه
په سر به غونډې چلوم تا به ساتمه

خدا ے به دې بیا زما محتاج کړي
خدا ے دې محتاج څوک د چا نه کړي
ډیر په خوبرویو پسې مهٔ ګرځه مئینه
محتاج بادشاه د خپل غلام طبع کوینه

خدا ے دې زما که زما یاره
خدایه په دوه کښې یوه اوکړې
زهٔ شپه او ورځ د خدا ے په در کوم سوالونه
یا ئې زما کړې یا دې تورې خاورې شینه

خدا ے به مو بیا سره یو ځا ے کړي
ښه ده چې بیا مو اولیدلے
دسمال در واخله سترګې پاکې که مئینه
لکه یعقوب پېغمبر ړوند درپسې شومه

په دنیا ښه راسره اوکړه
په دنیا هغه اشنا زار شه
په آخرت د هر چا ګوښې دي کورونه
چې بې ریباره یار له یوسي دیدنونه

په دنیا غم کله ښادې وي
په دنیا مه نازیږه خلقه
په ما همیش د غم جنډې ولاړې وینه
دنیا دغم ټالۍ وهي ورانه به شینه

په دنیا ګل له خزان شته دې
په عقبۍ ګل له خزان نشته
په آخرت به خزان نه وي ګل به وینه
خزان ولې رژوې سمسور ګلونه

تا چې خالق رازق اسره کړو
تا چې په سترګو کښې ځا ے راکړو
ته مې بورا زهٔ دې د ګلو لښته یمه
زهٔ درله ځا ے د زړه په کور کښې درکوم

چې نه د دین نه د دنیا شے
چې نیک عمل ورسره نهٔ وي
په آخرت به خدای ته څهٔ جواب کوینه
آسان به نه شي پرې د قبر عذابونه

ضرر په زړه کښې د چا نه وي
ضرر خو سترګو راته پېښ کړو
په لار د سترګو ورته مات شي ضررونه
زړه بې ګناه وو ضرر من له سترګو شونه

آباد مکان د کسرٰی وران شو
آبادو کلو کښې غرغا وه
چې پاک رسول مقبول پیدا په جهان شونه
چې پاک حضرت سفر له دې جهان کوونه

دوزخ ته ځم جنت ته نه ځم
بې د جانان جنت څۀ کړم

دا مې رضا ده چې جانان مې رضا شینه
چې د جانان سره دوزخ ګلزار ګنړمۀ

له مصر ئې بوئي د قمیص راغے
که پیغمبر ژړلي نه وې

لنډ په کنعان کښې یوسف پروت نه ئې لیدنه
چرته کنعان چرته د مصر بازارونه

مینه پیدا که نه وې وروره
دنیا د عشق نه پیدا ده

نه به وه زمکه نه به وو دا آسمانونه
نه ئې څوک پلار شته نه ئې مور او نۀ ئې ورونۀ

خدایے دې په تور سرې مئین کا
تور مې په توره شپه قبول دې

چې د ایمان دې ګوتې اوخیژي مئینه
سپین به په سپینه ورځ رخصت له ځانه کړمه

خدایے دې تر دغې لا بتر که
زما په مخ باندې راتوکړه

چې د کم اصل بوټې ګل دې بویونه
که د کم اصل یار مې بیا اوکړه پښتنه

د صجدم ملا ازان کړي
شپه شوله تیره وخت صبا شو

څوک عبادت کړي څوک مئین رخصتوینه
چا ګناه اوکړه چا ګټلي ثوابونه

آخر د تګ د بل وطن دے
د دنیا څو ورځې ژوندون دے

د هلته کښې څله جوړوي ډنګ محلونه
کم عقل خلق پرې مانړې آبادوینه

رب مې بادشاه د کل جهان دې
زما په هغه خدایے توکل دې

دا مې ایمان دې زۀ ئې واحد احد ګنړمه
چې په هر وخت روزي هر چاته رسوینه

زما پنځه وخته دعا ده
زما پنځه وخته دعا ده

خدایے دې بادشاه که چې سلام له دې درځمه
رب دې د غم د باده اوساته مئینه

دا دې خاوند تعالی خپل کار دې
دا د الله پاک امتحان دې

څوک بادشاهي کړي څوک د ټوک کوي سوالونه
چې یو مالدار کړي بل ئې درته اودروینه

که ګناه ګار یم د الله یم

د دې دنیا د خلقو ولې بدې شمه

د ګناه پاک دنیا ته راغلم
د ګناه پیټې مې په سر دې
اوس د ګناه پیټې په سر له دنیا ځمه
د مدینې سردار له ځم چې کم ئې کړمه

که ګناه ګار یم د الله یم
که ګناه ګار یم د الله یم
د دې دنیا د خلقو ولے بدي شمه
د بعض بعض دله هسې بدې شمه

که سیند سئ زمکه کاغذ کړم
ستا د صفت انتها نشته
خلاص به پرې نه شي ستا د حسن صفتونه
نه چا بیان کړل نه ئې پوره شو دا حقونه

مخ ئې قبلې ته چرې نه کړو
مخلوق د دین د دنیا کار کړي
تل پرې وربړي له اسمانه لعنتونه
زۀ د جانان مینې د دواړو اوویستمه

بوئې د جنت به پر حرام وي
د چا آزار به درپسې شي
چا چې د مور او پلار ازار اغستې وینه
ډیر په عاجزو خلقو مه کوه ظلمونه

بیلمازه ګور دې په ځان اور کړو
بیلمازه حال به دې معلوم شي
دلته پالنګ کښې تر غرمې کوې خوبونه
په هغه وخت چې دې په ګور کړي ور دننه

دا د دنیا پیران ټګان شول
په زړه یوه په خله دې بله
د حسن پیره لاس نیوې لره درځمه
زۀ په ایمان د جانان اوس پوه شوے یمه

چې کبر کړم راسره ښائې
جانان دومره کبر مه کړه
یو ښائسته یم بل د لوي خونې یمه
خزان د حسن به دې اوچه پاڼه کړینه

د کبر جام به دې نسکور شي
کبر غرور مه کوه یاره
ډیر په مئینو باندې مه کوه ظلمونه
کبر غرور د جاهلانو خلقو وینه

صدق د زړه اقرار د ژبې
صادقي لویه مرتبه ده
جانان د دواړو نه منکر شو څه ئې کړمه
منافقي کښې سرې تل ټکرې خورینه

کبر غرور په ځواني مه کړه
که مې د صبر نهنګ راغے
ځواني د ژمي مازیګر دې تیر به شینه
ستا به د کبر جهاز ډوب کړي کبرژنه

مخلوق د دین او دنیا کار کړي
خلقه د زړه مجال مې نشته
زۀ د جانان مینې د دواړو اوویستمه
زۀ د اشنا مینې د برمه پریستمه

مینې دې داسې لیونے کړم
لکه مجنون په غرونو سر شوم
ما د همه اسلام پورته کړه لاسونه
نه مې آرام شته نه خپل ځان اوس پیژنمه

بوئ د جنت به پرې حرام وي
د مور د پښو لاندې جنت دې
چا چې د مور او پلار آزار اغستې وینه
مخ د بابا د پوره حج ثواب لرینه

چې کبر اوکړي هغه خوار شي
چې کبر نه کړي نه خوارېږي
چې کبر نه کړي خدائے کله خوارو ینه
زۀ چې خدای خوار کړم ما به کبر کړي وینه

په لارے ځم توبې اوباسم
توبه توبه په خلے توبه کړم
ستا د یارۍ توبه مې خلے له نه راځینه
په تا شیدا زړګې مې نه توبه کوینه

په مخه تورے سترګے راغله
چې مې جانان مخے له راشي
زۀ ئې په ویستلے توبه بیا پښېمانه کړمه
هزار توبې مې په یودم کښې ماتې شینه

رب خو دې وار د ځوانۍ تیر کا
چې کبر ژن ځان ته دې فکر شي مئینه

رب په داسې اور دې اسوم
رب دې زړه ناسور مي روغ کړي
نه ئې لوګې شته نه ئې تاؤ چاله ورځینه
د سترګو نم مې په عالم کښې شرموینه

رب خو دې وار د ځوانې تیر کا
رب دې ویښته په مخ زرغون کا
چې کبر ژن ځان ته دې فکر شي مئینه
چې ښائسته ځواني دې ګډه وډه شینه

رب دې دا ښه ځواني برباد کړه
رب دې ښائست در پورې اور کړي
چې په ځوانۍ کښې دې د مرګ محتاج کړمه
په ما دې اور کړل د همزولو مجلسونه

رب دې ژوندې لره جانانه
رب دې زما د چنې ګل کړه

چې په دیدن دې همېشه اختر کومه
چې هر سحر دې په دیدن اوبه کومه

رب دې زما کړه خپله یاره
رب دې زما که غونډې منډې

ما دې په سر الله ته ډیر کړي سوالونه
چې ګرګے متې دې د سر لاندې کومه

خاونده دا پرده مې اوکړې
خاونده دا شرم مې پټ کړې

د یار رومال مې په لمن کښې پاتې شونه
نور به د نمر تر ختو نه کوم خوبونه

خاونده ما بیماره مه کړې
خداے جانان مې ته بیمار کړې

جانان بیمار کړې چې پښتنې له ورځمه
چې د غرمې غرمې پښتنې له ورځمه

څنګه چې ته بې خیاله ګرځې
څنګه چې ته وے داسې زۀ ووم

داسې به زۀله خیال کوړ په لارې تلمه
داسې به ته شې لکه زۀ چې خاورې شومه

خدایه په کوم ګناه کړیږم
خدایه ستا در کښې یم ولاړه

ما پرې خبر کړې چې توبه ترې اوباسمه
په عاجزۍ درته کومه دا سوالونه

دا د الله پاک امتحان دې
سوال مې منه آزار مې اخله

چې یو مالدار کړې بل ئې درته اودرېږینه
چې دومره لاره غوښه وم تاله راځمه

ضد د شیطان سره پکار دې
چې بابا آدم ئې له جنت ویستلې وونه

شیطان دوزخ کښې واویلا کړې
شیطان په اصل کښې انسان دې

چې د انسان ناکردو ډیر زېلے یمه
شیطان ئې نه کوي انسان کړي ګناهونه

د ډمو هیڅ قصور هم نشته
زۀ په ګناه باندې مجبور یم

بد نامې دوې شي عیش پرست کړي ګناهونه
چې ته ئې نه غواړې زۀنه کړم ګناهونه

نفس و شیطان مې دشمنان دي
غم راسره د آخرت دې

ربه زۀ ستا د فضل ډیر امید لرمه
د دنیا دوه ورځې ژوندون دې تیر به شینه

اسلام کشتي کفر درياب دې
ضد د شيطان سره پکار دې
شيطان نهنګ دې عالمونه غرقوينه
چې بابا آدم ئې له جنت ويستلے وونه

جنت به ولے خداى رانه کا
جنت د هغه خلقو ځاے دې
چې سر و مال د يار په مئينه ورکومه
څوک چې د عشق په تيغ شهيد ګورته ورځينه

چې قران لولي خزانه ده
علم عمل چې سره مل شي
په کښې راغونډ دي د جهان ټول دولتونه
له اوچو کانړو رااوباسي سره لعلونه

ضد د ابليس سره پکار دې
ضد د شيطان سره اوکړه
چې بابا آدم ئې له جنت ويستلے وونه
چې د ايمان زړه کښې په امن پاتې شينه

راشه دزړه په رضا مه ځه
رحمت د رب راغلے دنيا ته
شيطان د نفس په رضا تلو په لعنت شونه
بس د شيطان په خونه اور اولګيدنه

نافرماني د ربه مه کړه
چې خداے به څه راسره اوکړي
شيطان ترې اوکړه هميشه ټکرې خورينه
ما په دنيا ځان ته اغزي کرلي دينه

اصلي مذهب انسانيت دې
انسانيت نه اوچت نشته مذهبونه

زۀ په انسان باندي مئين يم
اصلي مذهب انسانيت دې
د انسان مئينه په پښتون نه بد لومه
انسانيت نه اوچت نشته مذهبونه

زۀ د مذهب مخالف نه يم
تقليد نه هم انکاري نه يم
خو رښتيا دا دي خوښ مې نه دي تقليدونه
په شرط د دې چې پرې بدلېږي تقديرونه

که د قبول انسانيت دې
تقليد مې هم هغه قبول دې
ستا به نصيب شي همه واړه ثوابونه
چې په انسان کښې د خداے راشي صفتونه

د ښه انسان تلاش کښې ګرځم
انسانيت اصل مذهب دې
خو او مې نه موند ډير مے طي کړل منزلونه
مطلب مې دا دې چې مې چانړ کړل مذهبونه

د ژوندون نمر په ډوبيدو دې
مرګ په زارۍ نه واپس کېږي
مخ مې قبلې ته دې دعا ورته کومه
د مجبورۍ نه په خندا ورله ورځمه

د جانان مئينه مې مذهب دې
خدائے چې زما زړه کښې موجود دې
سيوا له دې نه بل مذهب نه قبلومه
ماله پکار دي چې د زړه سجده کومه

د جانان مخ زما کعبه ده
د جانان مخ چې په قبله دې
بې د سجدې ولاړ سجده ورته کومه
زۀ ورته ګورم نمر خاته ته نيت تړم

که سجده اوکړم باک نشته
سجده په اصل کښې د زړه ده
زمکه مې مور ده لاس و پښې ئې ښکلومه
مخ په سهيل ولاړ د زړه سجده کومه

چې مې خپل زړه لوح محفوظ دې
زۀ له ازله موحد يم
ځکه تور کاڼړي په کعبه کښې ښکلومه
قبول مې نه دي د بوتانو طوافونه

مُلا په ما غرض او نه کړې
دوزخ به ګرم وي که يخ وي
زۀ د السنت پياله په لاس کښې ګرځومه
دا فيصله ملا په تا باندې پرېږدمه

زاهد راشه زما واوره
زۀ خو ديدار له خدايا غواړم
نور دې تسپو په مزې مه وهه ټالونه
زاهد په طمع د جنت ځان وچوينه

ستا د کوڅې طواف مې اوکړو
حورې غلمان د ستا نصيب شي
د کور کعبې ته دې ولاړ يم نيت تړمه
زاهده زه په خپل جانان خوشحاله يمه

د ژوندون پيټې دومره دروند دې
سترې ستومانه شوم له برمه پريوتمه

د عمر پيټې مې په سر دې
د ژوندون پيټې دومره دروند دې
په مات وجود به ئې زۀ څنګه ګرځومه
سترې ستومانه شوم له برمه پرېوتمه

ژوندن مې ټول په اميد تير شو
چې مې ژوندون له مرګ ګران شو
اوس نه تيرېږي چې شو مړاوي اميدونه
بيا به له مرګه خلقه څه ويره کومه

په ژړا راغلمه دنیا ته
د نورو خلقو څه غرض دې
د ژړا ژوند وو په ژړا به ترېنه ځمه
دا زما کار دې چې ژوند څنګه تیرومه

خاونده دا د چا قصور دې
حورې غلمان مې په کار نۀ دي
چې بې ګناه زۀ په خپل ژوند ستومانه شومه
زۀ د هستۍ نه په نیستۍ خوشحاله یمه

د ژوند د بنده نه خلاصېږم
خوارې نیستي مې ده قبوله
لارو کوڅو کښې قدرت ایښې دي دامونه
نا اهل خلقو سره ژوند نه قبلومه

چې په کښې ژوند د خلقو مرګ شي
ژوند په ما ځکه مرګ نه سخت شو
پکار مې نه دي خدایا داسې نظامونه
چې د مئینو مې تت شوي دي یادونه

مرګ مې نرانو سره خوښ دې
د ژوند ملګري مې رخصت شول
د نا مړدانو سره ژوند نه تیرومه
د مرګ په غاړه زۀ یوازې پاتې شومه

که عمر ډېر شي آخر مرګ دې
د ژوند نه ځکه زۀ ویزار شوم
د ژوندون پیټې به تر کومه ګرځومه
چې رانه هیر شو د یارانو صورتونه

مرګ دې د ژوند سره ملګرې
د مرګ نه مه ویرېږه یار
که ژوندون نه وې بیا به چرته ؤو مرګونه
مرګ خو پخپله د ژوندون کوي پالنه

په دنیا دوه څیزه مزه که
دنیا کښې دوه څیز د کار دي
یا سپینه خله یاد بوړي ټوپک غوړونه
یو دې مزهب او بل دې ښه ښکلے ارتینه

راځئ چې خاندو خوشحالېږو
د دنیا دغه لږ ساعت دې
صبا مرګې دې ارماني به پاتې شونه
پرون راغلې نن دلے صبا به ځونه

د ژوند قصه ډېره اوږده شوه
ټپه وړوکې غوند څیز دې
پخپله خوښه به ئې څنګه ختمومه
د زړه داستان به په کښې څنګه ځایومه

د ژوند بنیاد دې په دردونو
د ژوند شکنجه کښې یمه نښتې
ځکه ماشوم چې شي پیدا ژړا کوینه
نه ترې وتې شم نه ئې درد زغملے شمه

څه عجيبه غوندې ژوندون وو
څله پيدا شوم څله لوے شوم
د خوب ليده وو لاړ شو تير په اودو شونه
څله مئين شوم څله اوښکې تويومه

عقل د سر فکر د زړه مې
عظيمه خدايا ته مې مل شے
د اشنا دواړو سترګو دواړه وړې دينه
ځان ته حيران يم ژوند به څنګه تيرومه

جانان ته چې رانه لاړے
خلقه د ژوند زيلےمې شليږي
اوس به دنيا کښې عمر څنګه تيره وومه
اشنا مې لاړو ژوند به څنګه تيرومه

جهان د ژوند خالي بازار دې
غم د راځي زۀ په خوشحال يم
د عمر بيعه نور څه نشته بې غمونه
بې غمه خداے دې انسان تل په غم کښې وينه

○○○○

که لږ دې فکر په کښې اوکړو
مجاز پرده د حقيقت ده
په مجازونو کښې دې پټ حقيقتونه
چې پرده پورته شي ښکاره شي ټول رازونه

رازونه هله څرګنديږي
حقيقت ټول پردو کښې پټ دې
چې د قدرت نظآم کښې اوشي تحقيقونه
پېغمبران تر لر کوي دا حجابونه

دا چې سازونه ورته وائي
نادانان وائي ليونے دي
سازونه نه دي حقيقت کښې دې سوزونه
ليونے نه يم د مطلب وينا کومه

انسان د خاورې نه جوړ نه دې
د حقيقت نه خبر نه شوم
هره ذره کښې ئې بجليانے دي برقونه
قدرت زما نه پټوي د زړه رازونه

زۀ دې محکوم ته مې حاکم ئې
زما حساب به درته واوړي
ډير مې منلي دي نور نه منم حکمونه
راسره مه کوه جانانه حسابونه

زه چې پيدا شوم په خندا شوم
زۀ چې پيدا شوم په ژړا شوم
چې خله مې شته روزي به ماله راکوينه
په دنيا خور نصيب به کوم ځاے ټولومه

علم په عقل فکر کيږي
علم د خداے خواري زما ده
زما جانان زمانه دواړه وړې دينه
که مې نصيب د علم وي ملا به شمه

علم زما د تن جامه ده — زۀ به جامه په خپل تن رو رو زړومه
علم عمل چې سره مل شي — له اوچو کانړو نه اوباسي سره لعلونه

عقل مې شته همت مې نشته — چې د غماز په خله د یار طمع کومه
عقل وهوش مې اشنا یوړو — اوس مې عالم په لیونو حسابوینه

عقل د کم فکر د خام دي — چې د حباب په غولی ږدې پاخه برجونه
عقل مانړې کړي ورته جوړې — بخت له خندا راغله زه به څه کومه

دا قرآن لویه خزانه ده — په کښې پراته دې د حکمت واړه علمونه
د زړه د رنځ کامل علاج دې — څوک تلاوت چې د قرآن کوي مئینه

زما د علم نصیب نشته — څوک چې مئین شي ترې نه پاتے شي علمونه
علم په عقل فکر کېږي — زما جانان زمانه دواړه وړي دینه

عمل وسله د لارې مل کړه — ستا دې په سختو سختو لارو مزلونه
په آخرت به حساب کېږي — زۀ به دفتر د بې کسي اوغوړومه

لا شعور مور شعور ئې لور ده
مور چې په خود کښې وي د لور کوي پالنه

لا شعور بحر شعور رود دې — د لا شعور نه بغیر چرته وي رودونه
که لا شعور بحر الکابل دې — د او قیانوس مثال شعور له ورکومه

لا شعور مور شعور ئې لور ده — مور چې په خود کښې وي د لور کوي پالنه
د شعور رود دې په انسان کښې — بل چرته هم شته دې د دې قسم رودونه

لا شعور کان دې د لعلونو — یو ورځ به دې نه راوباسم لعلونه
د لا شعور سیلاب به ډوب کړم — تر نه به جوړ کړم د علوم فنون بحرونه

لا شعور خواب کښې رابیدار شي — په ویښه کم وي لا شعور کښې طوفانونه
د طوفانونو نه ډک پروت دې — پریږده چې پروت وي لا شعور نه پارومه

چې مې شعور نه دې به وس کښې
د لا شعور چپو کښې ګیر یم

بیا لا شعور په وس کښې څنګه راولمه
کوشش کوم چې تر ساحله اورسمه

شعور بندونه ورته نیسي
شعور چې نور ځان نه اګاه شي

د لاشعور سیلاب ته ټینګ نه دي بندونه
ځان له به جوړ کړي نوي نوي جهانونه

قلم پټ راز د زړه ښکاره کړي
که قلم نه وي درد به څنګه ښکاریدنه

لاسونه پرې قلم به مات کړم
مشوانې اوچه کاغذ خلاص شو

که پوره ئې نه کړه ستا د حسن صفتونه
قلم مې اوښکې تویوي چې ستړې شومه

قلم کاغذ ته په ژړا شو
قلم دا دې مبارک شه

زهٔ شولم پاتې ته به اوکړې دیدنونه
چې د جانان سلام په تا باندې لیکمه

قلم ډیر دې احسان مند یم
قلم ستا د خلې نه ځار شم

زما دې حال یار ته اووې پخلا شونه
مرور یار مې ستا په ژبه رضا شونه

مه خفه کیږه خپله یاره
که دا لرګي وي ما به مات کړي

خدائے به وهلي قلم ولي ورانوینه
په ازلي قلم د چا رسي لاسونه

یو مې قلم یو مې کاپي ده
چې را په یاد شي خپله یاره

یو مې زړګي دې یو دلبر په کښې ساتم
قلم په لاس کاغذ په ورون اوښکې مې ځینه

قلم په لاس ګوتې مې ریږدي
قلم به مات ګوتې به پرې کړم

اوښکې مې لار نه راکوي چې نوم لیکمه
کاغذ تا که جانان اونه ژړاونه

قلم په لاس کښې فکر یوړم
د عاشقۍ نشې ته ګوره

چې بې وفا اشنا ته څه څه اولیکمه
قلم په لاس کښې تل د غم ټپې لیکمه

قلم په لاس ګوتې مې ریږدي
قلم په لاس وخت مازیګر دي

کاغذ تقریر د جدائې یار ته کوینه
په خاورو ناست یم د جانان مصرعې لیکمه

په زړه یوه په ژبه بله
ورځ په محشر به ئې مخ تور وي
اشنا درغله ماته دوه ژبې کوینه
چې دقلم په شان دوه ژبې لرینه

قلم د غم د سیاهي ډک وي
قلم دوات راله راواخلي
چې سر کړي ښکته خود لګي د غم بیتونه
دا سپین کاغذ په توروم لوخړه شومه

قلم په ماته خله لګیا دي
قلم د زړه په خون لګیا دي
د یار ناسازې پر لیکم ژړا راځینه
په پر هر شوي زړه مې مالګې دوړوینه

په قلم سل ځل شاباش دې
قلم پټ راز دې زړه ښکاره کړي
چې درد د مینې په کاغذ بیانوینه
که قلم نه وي درد به څنګه ښکاره کیدنه

د زړګي حال مې تمام نه شو
قلم بس که وړاندې مه زه
سیاهي شوه خلاصه قلم دړې وړي شونه
نه پوره کېږي د زخمي زړه عرضونه

زړه مې تخته قلم پرې ګرځي
مشوانړې اوچه کاغذ خلاص شو
چې ستا نا مرادي په لیکم ژړا راځینه
قلم مې اوښکې تویوي چې سترې شومه

د زړونو پټ حال ئې ښکاره کړو
قلم په ماته خله لګیا دې
دې سر پرېکړي قلم اوکړل فسادونه
په پرهر شوي زړه مې مالګې دوړوینه

چې مخامخ ترینه شرمېږم
د عاشقۍ قلم په لاس کښې
ځکه فریاد به د قلم په خله لیږم
سوي ټپې لیکم جانان له ئې لیږم

قلم زما په حال خبر شو
قلم دغم د سیاهي ډک دې
ځکه د خولې نه تورې وینې تویوینه
چې سر کړي ښکته خود لیکي د غم بیتونه

قلم مې بیا له غریوه ډک دې
خط مې لیکه بیلتون رایاد شو
په کاغذ کارم د بیلتون د غم بیتونه
کاغذ لمبه شو قلم شنې لوخړې شونه

ماله قلم راوړې عالمه
قلم سر دې خاورې مه شه
د یار تاریخ د زړه په سرو وینو لیکمه
چې همېشه په تا لیکم د یار غمونه

خط کښې مې نوم د اشنا راغلے — سر د قلم ئې په ليکلو اوچاودنه
قلم څومره سزا در کړم — د اشنا نوم دې په خلې ولې آخسته

ګوتې قلم ته په ژړا شوے — ته به ژوندۍ ئې مونږ به تورې خاورې شونه
قلم کاغذ ته په ژړا شو — زۀ شولم پاتې تۀ به اوکړې ديدنونه

قلم په لاس کاغذ ته ګورم — اشنا راياد شو زما هير شو تقريرونه
قلم په لاس کښې فکر يوړم — چې بې وفا اشنا ته څۀ څۀ اوليکمه

قلم به مات ګوتې به پرې کړم — په وينو رنګ کاغذ به يار له اولېږمه
قلم به مات ګوتې به پرې کړم — کاغذتا که جانان اونه ژړا ونه

قلم څومره سزا درکړم — د ليلٰى نوم د په خلے ولے اغستنه
ګوتے قلم زمکه کاغذ دې — نوم د ليلٰى ليکمه ځان مشغولومه

خط مې د زړه په وينو کښل دې
اول ئې ښکل کړه بيا ئې اولوله حرفونه

کاغذ دې راغلے ته را نغلے — پکار مې نه دي بې ديدنه کاغذونه
کاغذ چې درشي ورته ژاړه — ما چې ليکو ورته مې ډير ژړلي دينه

کاغذ داسې وخت کښې ورشه — چې د ماښام ډوډۍ ته ناست په ژړا شينه
قلم به مات ګوتې به پرېکړم — کاغذ تا که جانان ونه ژړاونه

کاغذ ورشه ورته ژاړه — اشنا به تل مسافر نه وي رابه شينه
کاغذ ورشه ورته وايه — يار دې د مرګ سلګۍ وهي تا يادوينه

کاغز ورشه بيرته راشه — د وطن خاورو ته مې وايه سلامونه
کاغذ والو څه شاهين شه — په خندا شين شه بيا پرې وايه سلامونه

کاغذ بخت دې مبارک شه — تا به جانان په لاس کښې مخ ته اونيسينه
کاغذ ته زما نه ښه ئې — زۀ به دلې يم ته به اوکړې ديدنونه

د مسافر جانان کاغذ دي
کاغذ راشه چې دې ښکل کړم
ملا ئې لولي زۀ سلګۍ ورته وهمه
ښکلې جانان به په تا لاس وهلې وينه

کاغذ د زړه په وينو سور دې
کاغذ د يار په اوښکو لوند دې
څه شو که ما په سياهي تور راولېږنه
چې زۀ ئې لولم زړه مې وينې تويوينه

کاغذ مې ګډ وډ نوشته کړو
ګوتې مې رېږدي لاس مې رپي
اوښکې مې څاڅي ليک مې بيرته ورانوينه
خط ته مې نه پرېږدي چې نوم دې اوليکمه

کاغذ ورشه په تعظيم شه
کاغذ زر تر واپس راشه
اول ترې زار شه بيا پرې وايه سلامونه
چې يار زما په حق کښې څۀ فرمان کوينه

کاغذ چې درشې زړه دې ټينګ کړه
کاغذ چې درشې ورته ژاړه
په زړه غمژن يم وار خطا نه شې مئينه
ما چې ليکه ما ورته ډير ژړلي دينه

خط د جانان مې ډاکې راوړو
خط راليږه هيره مې نه کړې
زيرې مې ورکړو سور پيزوان سره چار ګلونه
نور مې څوک نشته عمر تاته تيرومه

خط مې د زړه په وينو کښل دې
خط مې د زړه په وينو ليک دې
اول ئې ښکل کړه بيا ئې اولوله حرفونه
چې آه مې اوکړو په لوګي تور شو حرفونه

خط مې ليکو ته راته ياد شوے
خط مې ليکه بيلتون راياد شو
زړه مې را ډک شو خط مې وران په اوښکو شونه
کاغذ لمبه شو قلم شنې لوخړې شونه

د ډاکخانې په سور صندوق کښې
د ډاکخانې چاپيره ګرځم
خلقه پراتۀ وي د زخمي زړه فريادونه
بابو ظالم دې د يار خط نه راکوينه

د نوکرانو چيټې راغلې
د نه راتلو بهانې دې ډيرې
زما د يار چيټۍ تر اوسه نه راځينه
د عشق کارونه بې اختياره دي مئينه

سلام په خط قبول که ياره
سلام په سرو شونډو مزه کا
لرې وطن دې ديدن نه کېږي مئينه
د مسافرو سلام ځي په کاغزونه

سلام سلام په تا سلام دې — عجب اسلام دې چې مې نه کوې پښتنه
سلام سلام تورو زلفانو — دا شومو ټنډو ته څوک نه کړي سلامونه

کاغذ به درشي غم ئې مه کړه — په زړه غمژن یم وار خطا نه شې مئینه
کاغذ چې درشي ورته ګوره — په کښې به وي د غمزده زړګي حالونه

کاغذ د یو تر بله راغلل — د مازیګر کاغذ دې نوکې نوکې کړمه
کاغذ دې پرله پسې راغلے — دې ور ستني کاغذ دې پړو کې پړو کې کړمه

کاغذ څه زما ریبار شه — په بې پرواه اشنا مې وایه سلامونه
کاغذ دومره نیکي اوکړه — د سوي زړه مې یار ته اوکړه بیانونه

کاغذ څه په مخ دې ښه شه — په بې وفا جانان مې وایه سلامونه
کاغذ داسې وخت کښې ورشه — چې د ماښام ډوډۍ ته ناست په ژړا شینه

نن به مې ولې زړه ښه نه وي — چې مې جانان دې رالیږلي سلامونه
نن چې زه خاندم هوسیږم — جانان مې خط دې رالیږلے چې درځمه

قلم به مات ګوتے به پرې کړم — کاغذ تا که جانان اونه ژړاونه
قلم د مات ګوتې دې پرې شه — زما خیالي اوربل له نه کړي تعویزونه

کاغذ څه په مخ دې ښه شه — په کبرژن اشنا مې وایه سلامونه
کاغذ داسې وخت کښې ورشه — چې د ماښام ډوډۍ د اوښکو سره خورینه

د وصال باب مې پیدا نه کړو
د عاشقۍ کتاب مې پانړي پانړي کنه

د غم کتاب د غم استاد دې — د غم مکتب د غم سبق شروع کومه
زما د یار سینه جمات دې — زړه مې طالب سبق د عشق یادوینه

تکي په تکي مې ګوته کړل — د محبت د کتابه واړه بابونه
د وصال باب مې پیدا نه کړو — د عاشقۍ کتاب مې پانړې پانړې کنه

عشق ثواب دې که غذاب دې
چې خپل جانان راته راياد شي
ملیانو اوګورۍ د علم کتابونه
زما نه هير شي ټول وئيلي کتابونه

زۀ چې کتاب په لاس کښې واخلم
مخ ته کتاب نيولے نه شم
ستا خماري سترګې مې درس ته نه پرېږدينه
سترګې مې رود شي دو رويه چپے وهينه

والله باالله که به ملا شي
طالبه خدائيګو که ملا شي
په کتاب پروت ئې يادوي تور سرې جونه
په کتاب پروت ئې يادوي شنکي خالونه

کتاب تمام طالب روان شو
طالبه خداے دې ځواني مرګ که
د حجرې ګرد ګرځيدم په لمبو سومه
زۀ دې د اور لمبو ته ځان له پرېښودمه

مخ د کتاب شونډې دې پاڼې
مخ د کتاب شونډې دې پاڼې
دا تورې زلفې حاشيے پرې کښلي دينه
دا نرۍ ژبه د قلم دستخط کوينه

ماته په غټو غټو ګوره
زما دې علم پکار نۀ دې
زۀ دې د مينې ارماني راغلے يمه
د اباسين چپې دې يوسه کتابونه

طالبان واړه ملايان شول
په ما مئين طالب او نه وي کتابونه

طالبان واړه ملايان شول
زما همزولي ملايان شول
په ما مئين طالب او نه وے کتابونه
زۀ د جانان مينې د علم اوويستمه

کتاب تمام طالب روان شو
طالبه خداے دې ملا مه کړه
تر حجرې ګرد تاويدم په لمبو سومه
زۀ دې د اور لمبو ته ځان له پرېښودمه

طالبان لاړل خپل وطن ته
طالبان اوختل وطن ته
زۀ خوار غريب ستا زلفو کلک تړلے يمه
زۀ د جانان سترګو رنځور کړم پاتې شومه

طالبه بس که ژړا مه کړه
خداے ژړولي يمه ژاړم
هيڅوک دې نشته چې د اوښکې پاکوينه
پريږده چې ځان په ژړا مړ کړمه مئينه

طالبه خدائیګو که ملا شې
په کتاب ځکه نه پوهیږم
په کتاب پروت ئې یادوې شنکې خالونه
چې تصور د جانان کړم ژړا راځینه

طالبان ډلې ډلې راغلل
طالبه خدائے دې ملامت کړه
زما د زړه طالب رانهٔ غلے اوبه مرمه
زهٔ دې د اور لمبو ته ځان له پرېښودمه

طالبان مه کړې مئین خدایه
طالبه بس که ژړا مه کړه
یو غم د عشق وي بل د علم کړي غمونه
خپل خو دې نشته چې دې اوښکې پاکوینه

د جماعت توره طالبه
تعویذ به هله درله اوکم
ماله تعویذ د نیم سیري اوکه مئینه
مور ته دې وایه که تا ماله راکوینه

مور به مې خاورې تاله درکړي
طالبان ډیر دې خدائے دې ډیر کړي
طالبان ډیر دي زهٔ به بل ته اووایمه
د نیم سیري د تعویز زهٔ مړنې یمه

د طالبانو یاري مه کړې
په طالبانو دې اور اوشي
د طالبانو اسپي زین ولاړي وینه
سرې مئین کړي کالې واخلې څنې ځینه

د جماعت په ګوټ کښې مړ شې
زما په مرګ خوشحالي مه کړه
چې درنه پاتې شي ساړه تاوده ټوکونه
مرګې شمال دې هره ونه شوروینه

چې یارانه ئې کړے نه وي
یاري د شنے لښتے ګزار دې
په مسئله به د کتاب جنت له ځینه
رب د جمله مسلمانان تر اوساتینه

چې یارانه ئې کړے نه وي
یاري د زړه په اخلاص کېږي
په مسئله به دکتاب جنت له ځینه
درغله یار د یارۍ نوم او شرموینه

علم د خدائے خواري زما ده
علم دریاب عمل کشتۍ ده
که مې نصیب د علم وي ملا به شمه
څوک چې علم عمل لري پورې به شینه

اشنا طالب کوځه کښې غږ کړو
طالب یاره ټوک له راشه
سپینه کوکۍ د وظیفې په ځاے وروړمه
چې سپینه خله درله کوځه کښې درکومه

حجره ئې شته طالب ئې نشته
د طالبانو ياري مه کړه
زه په حجره لکه ښامار او څرخيدمه
د طالبانو اسپې زين ولاړې وينه

طالبان واړه ملايان شول
ته په لوستلو صرفه مه کړه
زۀ د جانان سترګو ويشتلے پاتے شومه
جونه پېغور راکوي يار د اُمي شونه

○○○○

د خداى دپاره فيل مې نه کړې
نمبرے خداے دپاره راکړه
سرښې کال مې د واده دې تير به شينه
خلق د خداے دپاره ځان قربانوينه

ماسټره بس که يا مې فيل که
په کتاب ځکه نه پوهېږم
زۀ نالائقه د اشنا د لاسه يمه
چې جانان ياد شي رانه هير شي کتابونه

د سکول په ګيټ ورته ولاړ يم
چټي راواخله زما ياره
اُستاد جانان له اجازت نه ورکوينه
چې ديدن اوکړې بيا د وايه سبقونه

د فيل کيدو نصيب مې راغے
چې خپل جانان راته راياد شي
د جانان غم مې خپل سبق ته نه پرېږدينه
زمانه هير شي ټول وئيلي کتابونه

طبيبه ښه واوره ځان پوه کړه
تورې بلا د عاشقۍ خوړلې يمه

طبيبان ډلې ډلې راغلل
طبيب زما د رنځ حبيب دې
څوک چې زما د رنځ طبيب دې نه راځينه
چې حبيب نه وي بل څوک خوا ته نه پرېږدمه

طبيبان پوهه راباندې نه شو
مورې طبيب خو داسې بويه
رنځ مې په زړه دې داغ په ولو راکوينه
چې په زړګي باندې د صبر مرهم ږدينه

طبيبان ډير دي خداے دې ډير کړې
مرض مې ګران علاج آسان دې
زما د رنځ طبيب جانان دې رابه شينه
په تش ديدن د يار رغيږم که راځينه

طبيبه پټ مې نبض ګوره
طبيبه روره لاس مې ګوره
که د زړه حال څرګندوم رسوا به شمه
د پلار او مور راته پټ وايه حالونه

طبيبه څه په مخ دې ښه شه زيړې مې نشته د يار غم مې زيړوينه
طبيبه خپلې ګولۍ يوسه باد د جانان د لورې راغلے روغ به شمه

طبيبه لاس مې څله ګورې زۀ خو اشنا د زړه په سر ويشتلے يمه
طبيبه ښه واوره ځان پوه کړه تورې بلا د عاشقۍ خوړلے يمه

طبيبه سترګې مې اوباسه چې چرته ګورم راته جوړ کړي فسادونه
طبيبه داسې دارو راکړه چې د کم اصل د يارۍ نه صبر شمه

په لا علاج مرض پروت يم چې په علاج مې خوک پوهېږي نه راځينه
په نا قابل طبيب مې سر دې درد مې په سر دارو د سترګو راکوينه

چې د مرض نه مې خبر شو طبيب کسوړه په دروغه لټوينه
چې د زړه حال مې ورته اووے طبيب اغستې شکرانې راته پرېږدينه

عشق مې دننه زړه قلم کړو اشنا طبيب ګولۍ د صبر راکوينه
طبيبه پوه مې په رنځ نه شوے په زړه بيمار يم په سر رانه کړې داغونه

طبيب پټ مې نبض ګوره که د زړه حال څرګندوم رسوا به شمه
طبيب پوهه مې په رنځ نه شوے د زړه بيمار يم په سر رانه کړې داغونه

طبيب خو پوهه راباندې نه شو رنځ مې د زړه دې داغ د ولو راکوينه
طبيب پوهه نه شوے څه پاسه ماله پکار دي د وصال ښه مرهمونه

طبيب خوار شې لاس مې ګورې د زړه په رنځ دې ګولې څه اثر کوينه
طبيب ښه واوره ځان پوهه کړه تورې بلا د عاشقۍ خوړلے يمه

زما د رنځ طبيب جانان دې چې مې جانان علاج او نه کړې مړه به شمه
زما د رنځ طبيب رب ته کړې علاج مې څه کړې زما نه کوې پښتنه

باب:10

په منډه نه ده په ټنډه ده

هر څه په بخت کېږي جانان
بخت چې کوټه شي عقل هم کډه کوینه

که مې نصیب درسره نه وي
زما نصیب کښې جانان نشته

خدای مې د مره کړي چې له غمه خلاصه شمه
خلقه زما په نصیب مه ترې دوونه

ازغي مې خاص په زړهٔ کښې ښخ شو
ازل مې خپل دې رارسېږي

ما په کیکر کښې د ګلاب کتل ګلونه
زهٔ د ازل دعوې د چا سره کومه

هرڅه په بخت کېږي جانان
هر څه چې دي د خدای کېږي

بخت چې کوټه شي عقل هم کډه کوینه
څه به بنده وي څه به ئې ښه چا سره وینه

د بخت ډیوه چې د چا مړه شي
د بخت مشال مې لاس کښې مړ شو

که بل مشال په لاس کښې وړې ټکرې خورینه
اوس به اشنا په نصیبونو لټومه

زما په خپل قسمت کښې کوټ دې
زما په خپل نصیب کښې نه وه

زهٔ به له خپله یار څه ګیله کومه
مورې زما په نصیب مه کوه جنګونه

زما په باب کښې خدای یوسف کړے
زما په بخت کښې جانان نشته

د زلیخې په شان کوځې درته ساتمه
ما د جمشید په جام کښې ډېر کتلې دینه

زما د څه نصیب کړه خدایا
زما د څهٔ نصیب کړو خدایا

د پردو غل شوم خپل مې کورته نه پرېږدینه
چې خپل پردي رانه نن ټول ډډه کوینه

زهٔ خپل نصیب له کوره بوتلم
بخت د نصیب نه مې زړه بد دې

عالمه ولې په جانان کړې منتونه
نورو ته ګل شي خو و ماته ازغي شینه

ستا د وطن مې زړه نه ځي
وطن به پرېږدم ترې به لاړ شم

نصیب روان دې زهٔ بندي ورسره ځمه
نصیب پرېښوے نه شم سم راسره ځینه

قسمت به ما سره مل نه شي
قسمت زما که د اشنا دې
که زۀ غمې د سليمان د ګوتې شمه
په اور دې اوسوزي د دواړو قسمتونه

خلق تقدير ته تدبير نشته
چا په تد بير ګټلے نه ده
که فولادي زغرې د عقل واغوندمه
تقدير ئې وران کړه د تدبير واړه کارونه

ما په تدبير بائيللے نه وه
بخت مې کوته نصيب مې خوار دې
تقدير مې وران کړل د تدبير کړي کارونه
ګلونه اوکرم ازغي ترې نه ريبم

وطن به پرېږدم ترې به لاړ شم
وطن به ستا د ټسه پرېدم
نصيب پرېښوے نه شمه سم راسره ځينه
پريښودے نه شم غم دې سم راسره ځينه

دومره په بخت زورور نه يم
بخت به زما سره مل نه شي
چې د تالا باغ به راوړم زيړ ګلونه
که زۀ غمې د سليمان د ګوتې شمه

چې د وصال د پيالو ويش وو
زما نصيب کښې ښادي نشته
زۀ په زنځيرد خپل قسمت تړلې وومه
ما د جمشيد جام کښې کتلي دي فالونه

بخت مې له تخته پرې باسي
نصيب زما نه لاس په سر شو
خدايه زما په بخت د څه ليکلي دينه
بخت مې دښمن شو زۀ ئې خاورې ايرے کړمه

تقدير مې شان د تدبير وران کړو
تقدير په لاس کښې چاړه راکړه
چې قاف په قاف کښې زه په فا کښې بندي شومه
لکه فرهاد د خپل وجود قتل کومه

جام د جمشيد دې خداے نصيب کړه
جام د جمشيد که خداے زما کړو
تخت د اورنګ دې شه چې ناسته دې پرې وينه
په کښې به اوګورم د خوږ زړګي زخمونه

چې نصيب خوار شي خلق بيزار شي
بخت مې کوته نصيب مې رد شو
سړي بد کار شي په هر ځاے ملامت شينه
ځکه مې خپل پردي اوس درته نه پرېږدينه

څوک چې د بخت په تخته ناست وي
څوک چې د بخت د نيلې پريوزي
که په سندان خله لګوي قطره ترې وړينه
چې فالوده خوري غاښ ئې دړي وړې ځينه

د بخت شاهین مې لاس کښې مړ شو
د بخت ډیوه چې د چا مړه شي

اوس به اشنا په نصیبونو لټومه
که بل مشال په لاس کښې وړي ټکرې خورینه

د تقدیر لیک به مې نور نه شي
د تقدیر لیک به رارسیږي

که په تدبیر ورته سل وترم بندونه
که ورته جوړ کړمه بې شماره تدبیرونه

دومره په بخت زورور نه یم
دومره مې بخت په برخه نه دي

چې په دلبر بائیللے زړه به اوګټم
چې مرور اشنا به بیا په خندا شینه

کارونه واړه د تقدیر دي
مئینه په زور او دولت نه ده

عالم په ما خاندي چې ولې مئین شومه
د خدائے عطا ده بختور له ئې ورکوینه

بخت او نصیب مې سره یو شو
تقدیر تدبیر چې جوړښت اوخوري

د بیلتون مله شوزه ئې ورک د ملک کړمه
بخت ئې جاسوس شي د کمال چشمو له ځینه

چې په قسمت مې جدائي شوه
زما د خوږ جانان جدا کړو

زۀ به بې جرمه زړګې ځنګه صبرومه
د تناره د سر برغولې شې بیلتونه

د نصیب کښلي به وران نه شي
نصیب تقدیر ته ګناه نشته

که اکبري مهران په لپو وشیندمه
بخت چې کوته شي امیران ټکرې خورینه

په نصیب کښلي به وران نه شي
نصیب تقدیر ته ګناه نشته

که پیدا شوي بزرګان واړه اوغواړمه
ما په ازل راوړلے نه ؤو یار مئینه

په نصیبونو نه رغیږم
زما دې څه نصیب کړه خدایا

زۀ د اشنا سترګو په زړه ویشتلے یم
چې په جوړیږم هغه سترګې نه وینمه

په نصیبه مې دا پرته وه
نصیب مې خپل دې رارسیږي

ما خو د داسې خلقو درته نه کاتنه
زۀ د ازل دعوې د چا سره کومه

که مې نصیب د بدو نه وي
نصیب څه درسره اوکړم

په بې وفا جانان به نه مئیندم
په شنو طوطیانو کښې مې زاغ په برخه شونه

که مې نصیب د بدو نه وي — چرې موذې چرې زما د ابا خونه
نصیب څه درسره اوکړم — زما په برخه دې موزي اور سونه

نصیبه اوسوزې ایرې شې — زۀ دې په جوتو غوارزوم راوړي طاقونه
نصیب مې کم رامعلومېږي — ما د جمشید په جام کښې ډېر کتلي دینه

نصیبه څه درسره اوکړم — زۀ دې په سمه خیژوم ته ځي په غرونه
نصیبه اوسوزې ایرې شې — تندیه مات شې په تا څۀ لیکلي دینه

بخت مې اوده غم مې بیدار دي — د چا ازار دې یا رمې نه کوي پښتنه
بخته د خدای دپاره ویښ شه — څوک تر قیامته پورې نه کوي خوبونه

بخت چې د تخت په کرسۍ کیني — که په سندان خله لګوي ټکرې تر وړینه
بخت دې د هیچا ګوته نه شي — بخت چې کوته شي بادشاهان ټکرې خورینه

بحت مې کوته نصیب مې رد شو — ځکه مې خپل پردي اوس درته نه پرېږدینه
بخت مې کوته شو بهادر خانه — سنګ پارس مې په دمړي نه قبلوینه

کوشش مې ډېر ورپسې اوکړو — د ازل ورځ ورنه جدا لیکلې یمه
زما نصیب کښې جانان نشته — خلقه زما په نصیب مه تړې شرطونه

ماته دا خپل نصیب معلوم دې — خلق زما په نصیب مې تړي شرطونه
ماته دا خپل نصیب معلوم دې — زۀ د سمسورو باغچو تشې جولۍ وړمه

نصیب چې کم شي نه زیاتېږي — که ئې هما مارغه په سرکیږ دي څانګونه
نصیب ډېر درنه خفه یم — کله مې خان کړې کله غواړمه خیرونه

نصیب زما نه لاس په سر کړو — بخت مې دشمن شو زۀ ئې خاورې ایرې کړمه
نصیب زما غیرت او نه کړو — بخت مې نا مرد شو زه ئې بیلتون ته پرېښودمه

نصیب تقدیر ته ګناه نشته — بخت چې کوته شي امیران ټکرې خورینه
نصیب تقدیر ته ګناه نشته — ما په ازل راوړې نه وو یار مئینه

ورک شے زما بده قسمته
ورک شې زما بده نصیبه
چې څوک اشنا کړم هغه ورک له ملک شینه
چې ګل کرم مالکونډې تر ټولومه

نصیبه اوسوزې ایرې شې
په جوارۍ ناسته جانان
چې دې په جوټو غورزوم راوړے طاقونه
زۀ زیان منه ستا په اوچو شونډو یمه

نصیب مې بوئې کښې د ګل نشته
زما نصیب کښې جانان نشته
بیا به د ګل په طمع نه کرم باغونه
ما د جمشید په جام کښې ډیر کتلي دینه

په مخ مې زیړ زړوکے خور که
نصیب زمانه لاس اوچت کړل
زۀ د تقدیر لیونو سپو خوړلے یمه
بخت مې دښمن شو زه ئې خاورې ایرے کړمه

ما د نصیبه تیښته اوکړه
نصیبه لوے کوهي ته پریوځے
نصیب زما د لارے مل راسره ځینه
چې ته راخېژې زۀ د پانړ کې ورانومه

ما په تدبیر فقیر بادشاه کړے
تقدیر مې شان د تدبیر وران کړو
ستا په تقدیر مولا لیکلي وو غمونه
نورو ته ګل شي خو و ماته اغزي شونه

ورک شي زما بده نصیبه
بخت د قسمت نه مې زړه بد دې
چې ګل کرم مالکنډۍ تر ټولومه
نورو ته ګل شي خو وماته اغزئي شینه

چې کله تنګ شم په ژړا شم
د جاروتو لار مې شوه بنده
رب به زما قسمت کښې دا لیکلي وینه
چې په قسمت مې دا وه دا شوله مئینه

د ښامارانو پاړو ګرووم
چې نصیبه د چا کوته شي
قدیمه خدایه ماربچړو اوخوړمه
وار ئې خطا شي ترې نه هیر شي منترونه

څوک چې په خپله په ځان اوکړي
دا ما پخپله په ځان کړي
مدام ئې بخت په غم لړلي ګرځوینه
ګیلے د خلقو نه کوم لیونے یمه

په خوږه خله ژوندون جنت دې
په بده خله د سړي کور جهنم شينه

ځوک چې په چا باندې شيدا شي
چې اوږه نه خوري بوئ ترې نه ځي

هغه رسوا شي د هر چا د خندا شينه
چې مئين نه وي ځوک پرې نه وائي تهمتونه

ځوک چې ژړا په لوے سحر کړي
خوب چې کوې خاورې به يوسې

خداے به ئې پوره کړي د خوږ من زړګي سوالونه
شا د هغو چې شوګيرې ورته کوينه

ګزران د برغو بنو نه شي
د سر و مال خطره په کښې وي

که ور په سر کړې بادشاهۍ زرين شالونه
چا چې دوه بنې په يو کور ساتلي وينه

نادان ګيله کړي له تقديره
خلقه تقدير ته تدبير نشته

عمل چې بد شي انسان تل ټکرې خورينه
که فولادي زغري د عقل واغوندينه

هر څه په بخت کېږي جانان
بخت دې د هيچا کوټه نه شي

بخت چې کوټه شي عقل هم کډه کوينه
بخت چې کوټه شي بادشاهان ډغري خورينه

اور چې بليږي آخر مړ شي
د مينې اور لا تازه کېږي

زړه چې مئين شي هميشه لمبې وهينه
چې له سرو سترګو په ځان اوښکې تويومه

ديدن د بادو پيمانه ده
د ديدن وخت د آسمان پړق دې

نه پرې مړيږم نه تر پنډ ترلې شمه
د جدائي يو لحظه کلونه شينه

چې په اخور کښې د چا لوے شي
ښه ده چې حال دې رامعلوم شو

د هغه سخي غاښونه نه ګوري مئينه
پټ خبر نه ووم په ظآهر د نازيدمه

يو خو مې دا نصيحت واوره
دښمن ته خانده خوشحالېږه

چې د بچلا دشمن نه ځان ساته مئينه
دوست ته په پټه خله اووايه چې ډوب شومه

عقل د سر فکر د زړه دې
مطلب په لګ بيان کښې ګوره

ديدار د سترګو د خلې ښې خبرې وينه
په ډير بيان د سړي زړه ستومانه شينه

که پرون نن وي نن پرون وي
اختر پرون وو پرون تیر شو
پروني عقل مې نن سر له راځینه
د دادا خان کونترو نن سره کړه لاسونه

آخر به خاورې شې بدن
آخر به خاورې شې بدن
دا زهٔ نادان یم چې د خاورو نه ساتمه
ډیر په نخرو او کبر مه ږده قدمونه

په رنګ سړي نه سړي کېږي
په دنیا تول د سړو نشته
سړې هغه دې چې ئې خوئې د سړو وینه
تول د پیسو دې کاریګر خانان کوینه

د بې وفا نه وفا غواړې
بې وفا یار د حمام لنګ دې
سرو په کوم باغ کښې ثمر نیولي دینه
په میاشت کښې ئې سل او شل له ځان تاووینه

اصل نسب که پکار نه وي
ټټو د اس په بیعه نه ځي
زاغ په پیسه باز به په زر نه خرڅیدنه
د لاله سر باندې ئې مه خوره قسمونه

دښمن ته خانده خوشحالېږه
د سر دښمن مې هوښیار ښه دې
دوست ته په پټه خله اووایه چې ډوب شومه
زهٔ د بې عقله په دوستۍ پښیمانه یمه

چې عاشق نه وي انسان نه وي
د عاشقانو یو مذهب دې
بې عشق ژوند د خر ټټو په شان وینه
دلته ملث وطن هیڅوک هم نه لرینه

صبر په هر څه کښې پکار دې
صبر د عشق مکتب کښې نشته
په عاشقۍ کښې بې صبري مزه کوینه
ما د مهابت اُستاد نه ښه اوکړه پښتنه

چې یاري کړې تهمت به اخلې
دا ډیرې خلې ډیرې خبري
د مخلوق خلې به تورې خاورې بندوینه
د چا چا خلې له به برغولې جوړومه

د تورې داغ به دې خداے روغ کړي
د تیغ ګزار د رغیدو وي
د تهمت داغ به دې تر مرګ پورې وینه
د خلې ګزار په زړه تنړاکې جوړوینه

سترګې د شرم و حیا ځاے دې
سترګې د سترګو نه شرمېږي
چې مینه راشي حیا واخلي رخصتونه
د پناه شوؤ سترګو څوک خاطر کوینه

مئينه په زور او دولت نه شي
مئينه خو يو په کتو نه ده
د خدای عطا ده بختور له ئې ورکوينه
مئينه د زړه ده چې ټول عمر ژوندي وينه

زړه په پردو دننه پټ وي
زړه ته په دې کښې ګناه نشته
حيران په دې يم چې دې څنګ مئين شينه
ګناه د سترګو ده چې دوې مئينه وينه

علم درياب عمل کشتۍ ده
علم عمل چې سره مل شي
څوک چې عمل علم لري پورې به شينه
له اوچو کانړو را اوباسي سره لعلونه

حسن بادشاه عشق غلام دي
حسن بادشاه عشق غلام دې
غلام هميش د خپل بادشاه محتاج وينه
محمود ته ګوره د اياز غلام ئې کنه

خوب تصور مې دواړه خوښ دي
چې خوب کوي خاورې به يوسې
چې د خواره جانان ديدن په کښې کومه
شاه د هغو چې شوګيرې ورته کوينه

څوک د تقدير نه څۀ خبر دي
د خدای کرم چې په چا اوشي
په زړه يوه بنده ته بله پيښه شينه
هغه کار اوشي چې په خيال کښې ئې نه راځينه

خلقه تقدير ته تد بير نشته
بخت دې د هيچا ګوټه نه شي
که فولادي زغري د عقل واغوندينه
بخت چې کوټه شي بادشاهان ټکرې خورينه

ګل مې کرل اغزي مې لوے کړل
څه چې کرې هغه به ريبې
بيا به په بده زمکه نه کرم ګلونه
ستا په اختيار کښې دي جنت او دوزخونه

په خوره خله ژوندون جنت دې
تاثير په هغه خله کښې نه وي
په بده خله د سړي کور جهنم شينه
چې په دولت ئې هر سړې ته چينګوينه

د افلاطون حکمت دې څه کړم
طبيب خو پوهه راباندې نه شو
چې مې د زړه په درد ته پوهه نه شوې حکيمه
رنځ مې د زړه دې داغ په ولو راکوينه

دانا په غم باندې خاموش وي
غم به د چا په ځان پيرزو شي
بې عقله نه يم چې به ګلي خبرومه
زۀ د يار غم د خپل مرض علاج ګڼرمه

که د بهلول په شان دانا وي
نصيب تقدير ته ګناه نشته
چې بخت ئې خوار وي څوک ئې ناخلي سلامونه
بخت چې کوږه شي باچاهان ټکرې خورينه

که زحمت وړے راحت به مومي
چې خدائے کوي هغه به اوشي
بې له زحمت راحت کله وي مئينه
د بنده خوشې انديښنې تش تدبيرونه

په حقه ځه نا حقه مه کړه
د خدائے کرم چې په چا اوشي
رب ذمه دار دې له بلا به دې ساتينه
هغه کار اوشي چې په خيال کښې ئې نه راځينه

په عاشقۍ کښې داسې کېږي
عاشقي غم دې ښادي نه ده
ځنې بادشاه شي څوک ملنګ دونهے شينه
څوک چې د غم طاقت لري مئين دې شينه

چاته په خپل وطن را رسي
زۀ چې پيدا شوم په ژړا شوم
څوک په نصيب پسې پردي وطن ته ځينه
په دنيا خور نصيب به ځنګ راټولومه

چې کبر نه کړي نه خوارېږي
چې کبر اوکړي هغه خوار شي
زۀ چې خدائے خوار کړم ما به کبر کړې وينه
چې کبر نه کړي خدائے کله خواروينه

خله مې وړه الفاظ کچه دي
چې کوم انسان په عقل پوخ شي
مناسب نه دي چې د يار دربار له ځمه
کچه کارونه ترې نه پاتې شي مئينه

نجلۍ په باغ کښې سره منړه شوه
د زرو قدر په زرګر وي
نادان باغوان ئې په اور ښو خرڅوينه
د پېغلو قدر د ځوانانو سره وينه

عالمه داسې زمانه شوه
پخواه به ښځې تښتېدې اوس ئې مړونه

که چا دوزخ ليدلې نه وي
ماله د ډنډ نه خته راوړئ
د اوسنۍ زمانې يار دې اونيسينه
د اوسنۍ زمانې يار تر جوړومه

ما اعتباري ګنړلې ياره
لباس دې شته اخلاص دې نشته
د کوځې مار وې په اعتبار دې اوخوړمه
خوشې دوونه راکوي ستې دې کړمه

عالمه ټکه زمانه شوه
لاس ئې زما په لاس کښې کیږدي
یار له لستونړي ورکوي منګل ساتینه
دا د اخري صدي یار دي ټک به وینه

عالمه داسې زمانه شوه
زمانه داسې وخت له راغله
ښځوا به ښځې تښتېدې اوس ئې مړونه
چې ته زاړه پښتانه غواړې خاورې شونه

لقمان حکیم د زمانې ووم
زۀ د هغو نظر کښې خر یم
چې دولت نشته څوک مې ځان ته نه پرېږدینه
چې خپل خرتوب ئې په دولت پټ کړې وینه

عالمه بده زمانه شوه
خدایه قیامت نه دې نو څه دي
د مور په غیږ کښې ماشومان سترګې وهینه
بوډۍ په خر باندې سوره سترګې وهینه

عالمه دا زمانه راغله
عالمه یو بل نه ځارېږۍ
په خپل غرض کښې ورور د ورور دشمني کړینه
دنیا د غم ټالۍ وهي ورانه به شینه

که څوک دښمن په بیعه اخلي
که چا دوزخ لیدلې نه وي
د اوسنې زمانې یار دې اوساتینه
د اوسنۍ زمانې یار دې اونیسینه

واړه تاثیر د زمانې دې
ورځ په قیامت به ئې مخ تور وي
یار مې په یو ساعت کښې دوه ژبې کوینه
چې د قلم په شان دوه ژبې لرینه

خدایه دا څنګه زمانه شوه
په دنیا تول د سړو نشته
چې د مخلصو خلقو نه کېږي پښتنه
تول د پیسو دې کاریګر خانان کوینه

دا زمانه د غریب نه ده
مالدار په سپین ماښام پیدا دي
کډه د نغاړي د الله ملک ته دې ځینه
سپین په دنیا دې سپین به سپین لحد له ځینه

دې زمانه کښې وفا نشته
دې زمانې ته حیرانېږم
څله څوک چاته د زړه وینې ورکوینه
په رنګ خوخېږي د عمل نه کړي پښتنه

څومره عجبه زمانه شوه
که زۀ خبر وي چې یار ټګ دې
دوست له لستونړي ورکوي لاس ترې ساتینه
ما به د زړه په باغچه نه راګډاونه

که څوک بادشاه د زمانې شي
که څوک رستم د زمانې شي
د جانان مینه ئې په کوڅو کښې ګرځوینه
د عاشقۍ د لاسه خاورې ایرې شینه

د یارانې حجت ترې واخله
لاس ئې زما په لاس کښې کیدي
په اوسنو یارانو نشته باوروونه
دا د اخري صدي یار دې ټګ به وینه

یا د درال د سر ګوجر وي
عمر مې کور وي یا جمات وې
ژوند مختصر وي نه مې کړلے نور غمونه
یا زوړ ملا وي چې مې لوستے کتابونه

بعض وخت ښه وي بعض بد شي
وختونه یو شان ټول نه وي
کله یار خوا کښې کله ئې سترګے نه وینمه
ورځ کله کانړي کله وي سره مُهرانونه

د دنیا درې ورځې ژوندون دې
پرون راغلې نن دلې صبا به ځونه

د دې دنیا مثال د سرائے دې
د دنیا درې ورځې ژوندون دې
څوک ورله راشي څوک حصار دې څوک ترې ځینه
پرون راغلې نن دلے صبا به ځونه

د دنیا څو ورځې ژوندون دې
د دنیا درې ورځې ژوندون دې
کم عقل خلق پرې مانړے آباد وینه
پرون راغلې نن دلے صبا به ځونه

د دنیاګۍ بازار وران شے
د دنیا عمر نیمه خوا دي
چې نا اشنا خلق راځي اشنا ترې ځینه
که څوک د ناز خندا کوي نادان به وینه

د دنیا وار په تیرېدو شو
د دنیا وار داسې تېرېږي
اشنا په تلو شو زۀ مخ پټے پاتے شومه
لکه د تورو غرنو باد په شنړا ځینه

خوشحاله هیڅوک په کښې نشته
خوشحالي کمه غم ئې زیات وي
دنیا د غم چېپې وهي ورانه به شینه
ځکه مې واغستل د دې دنیا لاسونه

عمر د سپي راباندې تیر شو
عمر د غم راباندې تیر شو
که زۀ سرې ووم ستا به نوم نه یادومه
دا باقي عمر که لمبه شي تیر به شینه

عمر عبث راباندې تېر شو | په دا باقي عمر به اور اولګومه
عمر عبث راباندې تېر شو | قادره خدايه خوشحالي به کله وينه

عمر د باد په شان تيرېږي | زړه مې لړزيږي چې خزان نزدې راځينه
عمر د باد په شان تيرېږي | که بيلتون سل کاله نيتبه کړي رابه شينه

عمر مثال د سيند چېې دي | نن ورځ چې تيره شوله بيرته نه راځينه
عمر زما د خوب ليده وو | چې رابيدار شوم غاښ مې ټول وتلي وونه

عمر مې ټول در ښخه تير شو | په سود وزيان د خپل ځان هيڅ نه پوهېدمه
عمر مې ډير درسره تير شو | ستا د ياری په بند پوه نه شوم مئينه

عمر برباد راباندې تير شو | لکه برباده ميوه شي په لويو غرونه
عمر په دې او په دا تير شو | زۀ لا دنيا کښې د نيکی په طمع يمه

عمر مې تير شو خپله خدايه | پوره مې نه کړل د نا اهلو خدمتونه
که رښتيا وايم خفه کېږي | ستا د ياری نه زۀ ويزاره يم مئينه

ما د کوچي د عمر ځار کړې | اور به بلېږي دوي به کډې باروينه
خالي به پاتې شي ميدان | مسافر کډې باروي وطن پرېږدينه

کله مې ياد کله مې هير ئې | کله د مينه په درنو کاڼږو تلمه
عمر عبث راباندې تير شو | قادره خدايه خوشحالي به کله وينه

د دې عنوان دې اوتې بوتې

دا به اوس مړي د لحد اوخندوينه

سر د سنډا خرمن د ميښې | دا کاغذي بدن به تاته زړومه
سر د سنډا خرمن د ميښې | ورانه په ماشه چې په تا مئينبدمه

سل مې روپۍ سل ګل ماځې دي | سل مې وژلي سل سلګۍ راته وهينه
سل مې کشمۍ سل مې بر چکي | سل مې ياران دي سل په بډه ګرځومه

شوتل درې پانړې څلور که
که مې شوتل خوړلې نه وي
سوکړک ټینګ شه ملېذي راغلې دینه
د زنګانه پورې به ولې پړسیدمه

ملا ته مه وایه ملا دي
دا قیامت نه دي نو څه دي
ملا په ترخ کښې سیپارې سترګې وهینه
بوډۍ په خره باندې سوره سترګې وهینه

نن د سنډا ماما واده دې
بیزو ګان ډلې ډلې راغلل
مینښې ګډېږي خره سورنا ورته وهینه
دا میلوګان به اوس اتنړ په کښې کوینه

یا خدایا ما د جولا زوم کړې
نه به د خپل مړې خاوند شم
چې د پیټۍ کټوي کښې زه څمڅې وهمه
نه به څمڅې په لاس کښې جګه اونیسمه

بازار ته لاړ شه لرګي خرڅ که
یار میله کښې هر څه ډیر دي
ځان ته مولۍ ماته ریوړي راوړه مئینه
که تش ترې راغلے نو خفه به درنه شمه

بس که په دې ئې فیصله کړې
د چارسدې بازار وران شې
څوک چې زړې نالي ساتي سپړې به ئې خورینه
تا کښې خرڅېږي د نالوسره استرونه

څنګه به نه ژاړم عالمه
څنګه به نه ژاړم عالمه
د خرو خوراک شو د ګلابو غنچکونه
نن د اسونو په ځاے خره ترړلي دینه

اشنا مې ټک د بنګالے وو
اشنا مې ځې زه ورته ګورم
زۀ جادوګره د پنجاب راغلے یمه
خلقه رخصت ورکړم که زۀ ورسره ځمه

مونږ به تر خپله ناوې یوسو
پلار ئې جنجیان په ګټو ولې
دا مور او پلار دې په پیتۍ اودس کوینه
مور ئې ولاړه چاله کټ نه ورکوینه

د بنارس جینکۍ ژاړي
بنارسي شوے ډیرے ډیرے
د لیډې منت جینکۍ شنې د خندا ځینه
زما دادا تر نه خرسوړي جوړوینه

ته ګرندې وې ځان دې خلاص کړو
جینۍ د یار په تماشه شوه
په ما ئې اوکړل د سوباړو ګزارونه
د پلار پرتوګ ئې په سوباړي او شلونه

چتے د باز واده له لاړو
ستا یارانه د چتو ښکار دې

هلته ئې چیندخه باندې لاس ولګیدنه
څوک چې د چتو ښکار کوي تش به راځینه

خلقه دا نوي مصرعه واورئ
غل د میرې بیتي د کوره

دې نا بلدو غلو جماعت وهلے وونه
چې بیتي نه وي غل به څنګه کور وهینه

دا د له ګان دله ګان ټول کړئ
دا موزیګي دې د اوړو ګوډۍ

تنور پرې تود کړئ چې ډوډۍ پرې پخونه
چې په څپیړه ئې وهم دوړې ترځینه

دا شالالے مې کړکه چرګه
دا شالالے مې ګیدړ یوړو

اګئ سخا کړي مشوړي به ورته ږدمه
صبا به څم د ګیدړ غار به لټومه

د ادیلے په صابن سپینه
په تیز تپاس کنبې توره باز

کورته دې لاړم مور دې لنګ وهلي وونه
مور دې په کلي کنبې شوملې راټولوینه

د آخرت نه کاغذ راغے
زړې زړې کنډې شوې ناوے

زاړه سړي ئې په غوبل تړلي دینه
زاړه قبرونه لټوي ګورې مړونه

د بټنګړ هومره دې ونه
په تش میدان دې چخنړې اوځه

د پتاسې خولګۍ نه مۀ وهه ټوپونه
چې مرچکې درسره نه وي بټنګړه

د پلار ځانګو مې ځنګوله
پلاره ئې کوټه مور ئې تازنړه

ناساپه غږ شو چې نیکه دې پیدا شونه
نیم چې ئې راوړه پرنده لاندې کوینه

د پلار ئې خر د کتې نه وو
د پلار ئې خر د کتې نه وو

لور ئې د لارے میلمانه راګرځوینه
لور ئې میرګاټ په اشرفو ونښلاونه

د سپیلني د بوټي لاندې
د سپیلني د بوټي لاندې

منږک په بریتو لاس وهي چې زلمې شومه
منږک لګیا دې چرمښکې رضا کوینه

د سپیلني د بوټي لاندې
د سپیلني د بوټي لاندې

ماشي سرود که میږې پښې ورته وهینه
سپږه ګډیږي میږې پښې ورته وهینه

د غره د سره مې راښوپ کړه   د بوساړې نه مې پرون دانګلي وونه
د غره د سره مې راښوپ کړه   لکه پنډوس د يار په غيږ کښې پريوتمه

د غره د سره مې راښوپ کړه   ما وې سادين دې آباسين ته پرېوتمه
د غره د سره مې راښوپ کړه   لکه بتک د باړے خواته بڅيدمه

د غوشايو سوتے د لاندې   ګونګټ په بريتو لاس وهي چې خاورې شومه
بيعه د باز په رانه لاړه   اشنا ګونګټ اوخوت تاوان راباندې شونه

ښخوا به لوړې په ميلو شوې   اوس به په مونږ ميلو ګان لوبې کوينه
بې وفا يار راسره نه وې   راسره پروت وې تور ميلو ببر غوړونه

توتان پاخه ممانړې تورې   زۀ د موذې د ډوډۍ څه پرواه لرمه
ډوډۍ ئې اوخوړه اوده شو   د سندا رور دې په بې غم کړې خوبونه

جينۍ د باغ د لورې راغله   په سپينه خله ئې تور توتان خوړلي دينه
خدايه ګرګرۍ ښځې مه کړې   چې جينکۍ به سپينې خلې پرې تور وينه

جانان اومې غولولے   خال مې د خامونيلو اينښې وران به شينه
خال مې د خيال سره تير شو   د اشنا هير شو څکه نه کوي پښتنه

خلق چار ګل خونړې بولي   ما د نتکۍ په ډنډر ډير وژلي دينه
خلق پيزوان ګرندې بولي   ما په نتکۍ د قلا برج اونړ ونه

دا هندوستان ته شاه زلمې ځي   دا ډوډۍ غړپ تر پنډې لاړ شي بيا راځينه
مسافرۍ د کړې نه ده   ښځه ډوډۍ ځان سره وړې په نس مئينه

د تورې چرګې جانان تور دې   زړه مې نسکور دې په جرګه به ورله ځمه
ستا د ښارو په شانته تلل وو   زۀ د کارغه په شان تور درپسې شومه

د توتو پانړې مې خوراک وې   راباندې نه وې د موزې د کور غمونه
د موزيګې شليدلې کټ   چې زۀ دې لنګه ټينګوم بازو د ځينه

د دنداسې خله د رانه کړه
خولګۍ به خاورې درله درکړم

د ساګو ډکه خله دې زۀ نه قبلومه
ته بولګۍ ئې په حجره وائې حالونه

د شرف ګل نه ښځه لاړه
که دې زما جواب اونه کړو

دا خیرات ګل به ورله خپله ورکوینه
ښځه دې راکړه وا ده بل اوکه مئینه

د جینۍ سر نه دې څنګل دې
په څنګلي زلفو مې پټ کړه

پلار ئې ګوجر چې په کښې میښې څروینه
چې رقیبان مې په کتلو سترې شینه

د چټاکي مینې دپاره
سرې ته سیر خوشحالي بس ده

تله په لاس درې مې سر اوسولونه
چټاکې غم سرې له ملک ورکوینه

د حجرې ګټ به ورته نیسم
د حجرې ګټ وروباندې پریوځه

په موذیګي مې ادیله ده رادې کړینه
چې د چلم نچه ئې خله کښې پاتې شینه

د حجرې ناسته دې زده نه کړه
دله له هسې خوب ورځینه

په ګټ کښې ناست ئې دله خوب د ځنګوینه
د نیمې شپې منګې زما لالې وهینه

یوه کوټه څلور ئې کنجه
زۀ به په ګټ کښې ترې نه پټ شم

لیلي هوسي شوه اوس نیول نه راکوینه
شمع په لاس جانان ګوټونه لټوینه

په چرچوبې کښې مه پټېږې
ښاغلي یو ځلي په ځاے مرې

زلمي ښاغلي ادیرو خوړلي دینه
موزیکي هر وختي په ځاے بې ځاے مرینه

پیشترې پوخ که ما میلمه که
د سور پیزوان میرمن ته وایه

په دې بهانه به مشغولا سره کوونه
ننې شپه به مې دا ستا په بورجل وینه

تا زیان د لوړې نه کاره دې
اصلي اشنا به صبا راشي

په کوځه ډبو سپو خوړې شي پلاونه
دا کوځه ډبي سپې به زغلي له وطنه

ته په سور مخ سره پیشۍ ګرځې
د ژبې سر مې خله کښې در کړو

که تۀ هندوه ئې مسلمانه به دې کړمه
که هندوګے ئې مسلمانه شوے مئینه

جغ په اوږه چوکه په لاس کښې | زۀ د بيلتون يوې ترږم ازغي کرمه
جغ مې د عشق په څټ کښې پروت دې | بيلتون د اوغشه غږ کوي کرې غمونه

خلق بابا له پراتې وړي | د دله لور ورله څپياکې زغلوينه
خلق زيارت له پتاسې وړي | زۀ د جوارو پولۍ وړم چې کندړه شمه

خلق دعا راته ښيري شوے | لرې ښيرې راته کوي که دعا شينه
خدايا ښيرې ورته دعا کړې | کا سيره لور مې د زړه اخلي آزارونه

زما جانان ګل د کدو دې | ادو بدو دې کټ کښې ځاے نه راکوينه
زما جانان ګل د ارهر دې | د کال نهر دې په ديدن ئې مړومه

غل د باچا سپي ورته غاپي | باران وربړي پرې لمدېږي څادرونه
غل د بهر جاسوس د کلي | د زړه صدوق مې لټوي مهران تر وړينه

نياز د بې نيازو سره نه شي | د خپل ځان سره ځه چې نياز د وينه
ناز مې کاوه پياز مې خوراک شه | که دا مې ياد وي بيا به نه کوم نازونه

زما نصيب کښې جانان نشته | که د تعويز په ځاے ملا په غاړه کړمه
په تعويزونو څه اونه شو | چاړه د چړګ په غاړه ږدم کړم منترونه

د مليزو بده دستوره | په غوږ څونډې به د شړشمو ګيډې وړينه
شوتل درې پانړې څلور کړه | سوکړکه ټينګ شه مليزي راغلې دينه

دې پسې بل کتاب جوړېږي | هغه به مړي د لحد هم خندوينه
د کتاب نوم دې اوتې بوټے | څوک به پر خاندي څوک به اوښکې تويوينه

زما نتکي د اور بځرې | د چائے اوسول بوسارې د چا ټوپونه
خلق چارګل خونړې بولي | ما د نتکې په ډنډر ډير وژلي دينه

زما چارګل به دې ټوټې کړې | ما د چار ګل په پرو ډير وژلي دينه
چارګل د پوزې ته په څنګ که | بيګاه مې شونډې په پرو پرې شوې دينه

زه د شړشم ساګو له لاړم
د زیړ ګلو بهار راغلے

چې راتازه کړم زولن شوي پرهرونه
بیا به رانه شي د ځوانې تلي وارونه

ستا یارانه د چتو ښکار دې
ستا یارانه دوه نیمې ورځے

څوک چې د چتو ښکار کوي تش به راځینه
کټ د بروزې خوب د دروزے خوند کوینه

د حجرې ناسته دې زده نه کړه
سترګې دې پټې پټې کېږي

په کټ کښې ناست ئې دله خوب دې ځنګوینه
دله اوده شه اوس به ډوز له کټه شینه

صبا به دنګ چنار ته خیژم
دا دله ګان دله ګان ټول کړئ

د دې دله د لور به ستر ماتومه
تنور په تود کئ چې ډوډۍ پې پخوینه

غل د باچا سپې ورته غاپې
سپي د باچا غل ورته غاپي

باران وربږي پر لامده شو څادرونه
څادر وربږي په لامده شو بارانونه

که رنجیتے راغلے نه وے
د کړه مار په سر لوګې شول

نو د اینګال په سر به چا کول مونځونه
پښتنو واچول سیکانو ته لاسونه

ډکه ټوپې ملالے سترګې
ما په کرکنو کښې شریک کړه

مور د کرکنړے په بازار کښې خرڅوینه
زیړه به زۀ خورم سره به تاله درکومه

ما وے که ټوقے مسخرے دي
ما یارانه ټوقه ګڼړله

تیرے قیصے دي اوس په ځان ئې تیرومه
لکه د زوړ غوایه مې اوخاته ډډونه

اشنا په ټوقه نه پوهیږي
ما سره داسې ټوقے مه کړه

ما په خورو زلفو واهه مرور شونه
زړه مې نرې دې ټوقه نه برداشت کوینه

ستا د ټکۍ تسپے په لاس وي
څومره عجیبه زمانه شوه

زۀ په در کړے شکرانه پښیمانه شومه
دوست له لستونړي ورکوي لاس تر ساتینه

نیستي بد بویه ده عالمه
مئین اشنا په لارې ځي مخ پټوینه

مرګوټي داسې ځوانان یوړل   چې به د خیال ئې کاږه وړل ارمیږونه
مرګي خوښه دې پرده پوښ دي   بده نیستي ده چې ځوانان رسوا کوینه

څوک چې بې مال شي په جنجال شي   خراب ئې حال شي څوک ئې نه کوي پښتنه
دولت د یار د سره ځار شه   دولت همیش وي یاران کله کله وینه

لقمان حکیم د زمانې ووم   نیستي ناپوهه کړم در په در مې ګرځوینه
لقمان حکیم د زمانې ووم   چې دولت نشته څوک مې ځان ته نه پرېږدینه

وطن مې ستا د قصد پرېښود   خلق به وائي چې نیستي وهلے دینه
وطن مې ستا د قصد پرېښود   خلقو ته وایم د نیستۍ د غم ځمه

په نا چارئ ملامت نه ووم   که خداے مې چار کړي ځان به مړ درسره کړمه
په نا چارۍ ملامت نه یم   خو چې مې چار شي تا به هیر نه کړم مئینه

ځه دولتمندو پسې ګرځه   زۀ غربۍ ستا د دوستۍ ویستلې یمه
که ته نیست مندي زما یار ئې   د دولتمند په سر به خاورې واړومه

چا ئې پلو لیدلې نه وو   اوس د کابل په لورې ځي سرتور سرونه
چا مې پلو لیدلې نه وو   نیستۍ فقیر کړم درپه در مې ګرځوینه

لکه د باد په مخکې پاڼره   هسې نیستي زه په هوا اغستې یمه
ستا په نیستۍ مې پروا نشته   نیستي وسله ده هلکان ئې ګرځوینه

نیستي بدبویه ده عالمه   مئین اشنا په لارې ځي مخ پټوینه
د نیستۍ وږم رانه خیژي   ځکه مې خپل پردي محلت ته نه پرېږدینه

مسافرۍ خوړلې یاره   قربان قربان دې د ریمنو جامو شمه
مسافرۍ خوړلې یاره   پیزار اوباسه چې تلې دې ښکلومه

نا چاري بد زحمت دي خدايا
ناچاري مه راولې خدايا

حال د غربت راباندې تير شو
حال د غربت چې په چا راشي

دا ستا يوه نيمه خبره
ما په نيستۍ کړلے نه ئې

ستا د نيستۍ پېغور ئې راکړو
نيستي پېغور نه دې جانانه

که ته غريب ئې زما يار ئې
که ته نيستمند ئې زما يار ئې

که خداے مې ته وي رانه لاړې
که خداے کول ته به محتاج شې

ګوتې بنګړي د دنيا دود دي
اختر په ټوقه ټوقه راغلے

لړ مخامخ شه راته کينه
ګورې چې وار دې خطا نه شي

نيستي د خداے له لوري راغله
نيستي خو راغله ناچاري شوه

دا زړه مې ډير درنه خفه دې
زړه به مې ولې نه خوږېږي

يوه نيستي بل جدائي شوه
چې يو مئين شي بل نيستمند شي

په ټول بدن کښې د زړه سر معلوموينه
ما ناچارې ليدلے نه ده مړه به شمه

يار مې رضا شو اوس بادشاه د جهان شومه
لکه د سرېښ په مازيګر کښې مړاوې شينه

په زړه مې داغ ده خدائيګو څو به ئې ګالمه
ځان د پخپله د کابل مسافر کړونه

مئينه ملا تړه چې بل وطن ته ځونه
زۀ په چړګ بانګ ميچنه ستا دپاره ګرمه

د غريبۍ پېغور به ولې درکومه
د دولت مند په سر به خاورې واړومه

که خداے مې بل وي تا نه ښه به مې ساتينه
د عاشقانو هيڅ کمې نشته مئينه

زۀ د نيستمند ياره نه غواړم دودونه
ورکړې جونه د کالو په طمع دينه

زۀ د دنيا د ژونده تا ويستلے يمه
عالم نيستي له اړمونه ورکوينه

لالې په ما منت کوي چې خوار دې کړمه
لالې پېغور اوس راکوي اخلي لاسونه

نيستي ظالمې د دوستۍ دې اوويستمه
چې يو غريب يم بل د يار جدا يمه

نيستي د خداے ده جدائي مې ژړوينه
هغه پمن شي څوک ئې درته نه پرېږدينه

زهٔ په نیستۍ ملامت نه یم
جینۍ که ټوکې د بخمل دي

خواره جانان ته په خپل سر ملامت یمه
یار ئې نیستمند دې په ژړا د ملکه ځینه

ګورې چې وار دې خطا نه شي
د محتاجي نه ډیر ویریږم

عالم نیستي له اړمونه ورکوینه
خاونده پیښې مې چاته مه کړې حاجتونه

○○○○

د استحصال زمانه لاړه
خانان به بیا سره خانان وي

مزدوره ویښ شه پښؤ نه لر که زنځیرونه
په کښې توئیږي د رامبیل چامبیل ګلونه

مزدور ته ګران د جیټ غوبل دې
د بنیادم سخته وجوده

په جیټ کښې الوزي تا وده تا وډه بادونه
کله ګرمي کله یخني تل وي غمونه

زمکه د خدائے ده وارث زهٔ یم
د وراثت قانون معلوم دې

دا ئې ثبوت دې چې کرم ریبم فصلونه
کسان مه کړه په پردو زمکو قبضونه

زما په سر چر ړے څادره
ستا دې کږه شمله نصیب شي

وربه دې نه کړم د خانانو په شالونه
زهٔ په خپل خیرې ګریوان ډیر فخر کوومه

د پوک پترې جوړې کوډلې
آخر د دواړو بربادي ده

ماته ئې ګرانه تر محل په مینارونه
پاتې به نه شي نه محلات نه کوډلونه

پرون په خوا کښې راته ناست وي
پرون د دور د خانۍ وو

نن د دمینې خبر هیڅوک نه راوړینه
اوس د دخاورو بالنبت سر ته جوړومه

باب: 11

خاورې د آدم چې کړې خمیر فرشتګانو درست ئې په غمونو په دردونو ولاړه

ختۀ ترې جوړه د آدم ده

په کښې اخلي د دنیا واړه غمونه

غم د زما د غاړې هار دې	د غاړې هار د زړه دپاسه ګرځومه
غم دې زما صبر تمام کړو	اوس به ژړا درپسې ټول عمر کومه
غم دې غمخوار آشنا ته ورکړه	جانان ته د بې غمۍ کوه خوبونه
غم دې له تانه وفادار دې	ته کله کله غم دې تل راسره وینه
انبار د غم مې په زړه پروت دې	د بې ارزې ژړا چې راشي اوخاندمه
انبار د غم مې په زړه خور وي	د لیونو په شان دې ویر خندا کومه
د غم پالنګ د غم بستر دې	په غم ورځېږم د غم خوب په کښې کومه
د غم سیلۍ د غم باران دې	د غم ماښام دې په ژړا ئې تیرومه
خوشحالي ته کړه غم به زه کړم	زما زړګې د غم عادت دې نه به چوینه
خوشحالي ته کړه غم به زۀ کړم	زما د برخې ئې لیکلي دې غمونه
خوشحالي نشته مدام غم دې	میرات شې غم په خندا دې تیرومه
خوشحالي نور عالم ته ورکړه	خدایه زما په برخه اولیکه غمونه
د جانان دې انصاف ته ګوره	غم ئې زما خندا د بل سره کوینه
د جانان غم زما سایه ده	چې چرته ځم زمانه مخکې ورستو ځینه
د اشنا غم راباندې راغلو	د نورو خلقو د مجلس ئې اوویستمه
د اشنا غم راسره ښه وي	لکه مجنون په بیابان خوشحاله یمه
د زړه کندر مې اشنا اوکړو	د خوشحالي سامان ئې ټول اوچلونه
د زړه مکان مې اشنا لوټ کړو	هر څه ئې یوړل خالي غم ترې پاتې شونه

د غم سیلۍ مې په زړه راغله
د فقیرانو سره مل وي

د ژوندانه باغچه زما ویجاړه وینه
سر په څنګل وي چې مې نه لیدے غمونه

د غم چینجې چې پرې لګیا وي
زما په خپله زړه خفه دې

زرغون به نه شي د هغې ونې ښاخونه
څکه د بل په غم کښې اوښکې تویومه

زه دا منم زغم ضروري دي
ستا ستمونو سرګردان کړم

د زړه دردونه به تر څو پورې زغممه
نور چې په ما باندې اونه کړې ستمونه

خلق له غم امان غواړي
غم دې راځي زهٔ په خوشحال یم

زهٔ د جانان په غم کښې ډېر خوشحاله یمه
بې غم خداے دې بنده تل په غم کښې وینه

په غم شریک جانان مې نشته
په غم شریک مې پیدا نه کړو

چې خفه زړه لره پر ډاډ زه ورکومه
دنیا مې چانړ کړه کور په کور اوګرځیدمه

په غم مې هیڅوک پکار نه شو
غم او ښادي برابر نه دي

په خوشحالۍ بس هر سړې یاري کوینه
څکه مې اوښکې په مخ څې لکه رودونه

چرې مې غم لیدلے نه ؤو
چرې مې غم لیدلے نه وو

لکه د پیغلې په پرده کښې لوئیدمه
اوس مې باړي شوه کروندې په کښې کومه

چې مخ راستون کړې غم مې ستون کړې
چې مخ دې واړے غم راواړې

مخ د ستون مه شه زما غم راستونینه
چې مخ راواړې رانه واوړې ټول غمونه

ختې تر جوړه د آدم ده
غم مې د عمر سره سم دې

په کښې اخښلي د دنیا واړه غمونه
تمام به نه شي څو ژوندې په دنیا یمه

راځه راځه په ما انبار شه
راځه راځه د جانان غم

د جانان غم د عمرونو ځاے دې یمه
زړه مې پښتون دې میلمه نه خفه کوینه

ستا په خفګان زما خفګان دې
ستا په دشمن دې خاورې واورې

خداے دې خوشحاله که چې زهٔ خوشحاله شمه
ته مې بورا ئې زهٔ غنچه د ګلو یمه

سرې په من خوشحالي خوښ وې
غم خوشحالي حصے حصے شو

چټاکې غم سرې د ملک ورکوینه
زما شوه برخه په رشو رشو غمونه

صحرا نه ځم چې پام بدل کړم
صحرا ته لاړ شم حال مې ښه شي

که چرته غم مې دزړګي نه په څنګ شینه
چې غم لړلي کورته راشم غمژن شمه

صندوق د زړه به بیرته نه کړم
صندوق د زړه مې چا ټوټې کړو

د اشنا غم په کښې د لعل په شان ساتمه
ځکه مې چغې د شرینې خلې نه ځینه

غم به د چا په ځان پیرزو شي
غم خو د غم امان غواړي

زۀ د یار غم د خپل مرض علاج ګنړمه
زۀ هر کلے د خپل اشنا غم ته کومه

غم ته پیدا په غم کښې لوے شوم
غم تیروه ښادي به راشي

په غم لړلے یاراني سترې دې کړمه
یو ځل به اوځانګې د زلفو په ټالونه

غم کښې پیدا په غم کښې لوے شوم
غم دې راځي زۀ پرې خوشحال یم

غم کښې به مړ شم غم به یو سم په پنډونه
بې غم خداے دې انسان تل په غم کښې وینه

د خوشحالۍ عمر مې تیر شو
دنیا د غم په ورځ پیدا ده

نور به تیرېږي د غم شپې میاشتې کلونه
زۀ لیونې د خوشحالۍ طمع کومه

د غم په لاره کښې مې کور دې
په غم شریک مې پیدا نه کړو

د بل چا کور ته ځي په ما راشي غمونه
دنیا مې چانړ کړه کور په کور اوګرځیدمه

مال و دولت نه پکارېږي
غم که د غمه شرمبدلې

چې په سینه کښې وي دلۍ دلۍ غمونه
په ما به نه راتلې جوړه جوړه غمونه

د غم مثال د کیل زیلے
غم مې د زړه هسې چا پیر شي

لالا خورېږي چې بیا بیا ئې پریکومه
لکه مالي له باغ چا پیره کړې شپولونه

د غم طوفان راباندې راشي
د غم سیلاب که په تا راشي

زما د زړه برج ئې نسکور اوغورزاونه
ته د توکل په پړوي اوحیژه مئینه

د دلبر غم په ما میلمه شو — د میلمنو قدر مدام خلق کوینه
دلبر مې ګل زه ئې بلبل یم — د زړه په سر به ورته باغ آبادومه

زما په غم یار خوشحالېږي — اوس به له اوښکو سترګې ډکې ګرځومه
زما په غم مه خوشحالېږه — صبا به ستا په کور نعرې د بیلتون وینه

زما بې غم جانان ته وایه — ته بې پرواه زهٔ دې مړه له غمه شومه
زما بې غم زړه دې په غم کړو — مولا دې تا د غم نه خالي کوینه

ښه ده چې غم دې راسره دې — زهٔ په سفر د ځان مل پیدا کومه
ښه دې چې غم دې راسره دې — مسافري ده خپل ساعت په تیرومه

غمونه واړه برابر دي — د جانان غم مې په ځوانۍ کښې زړوینه
غمونه یو تر بل تیرے کړي — جانان تا د خدائے لرې نشته غمونه

غمونه شاته کړه جانان — غم چې په وړاندې شي ځواني بربادوینه
غمونه مه کوه جانانه — ځوانه ځوانۍ کښې به سپین ږیرې شي مئینه

غمونه ډیر رانه چاپیر دي — جانان ستا غم ئې باچا نور ئې فوځونه
غمونه ډیر دي زهٔ یواځې — زهٔ به په داسې غم کښې څنګه تازه شمه

غمونه ټول په ما انبار شو — زما زړګې د غم عادت دې نه به چوینه
غمونه ټول په ما انبار شو — خدایا طاقت راکړې چې ټول ئې ګرځومه

غم رالیږه خوشحالي یوسه — حساب کتاب به د قیامت په ورځ کونه
غم راسره د آخرت وي — د دنیا دوه ورځ ژوندون دې تیر به شینه

غم که د غم شرمیدلے — په ما به نه راتلل جوړه جوړه غمونه
غم مې له غم نه شرمیږي — څکه جوړه جوړه راځي په ما غمونه

غم د له غم سره سم نه دي — مئینه د لا په زخم مالګې دوړوینه
غم مې په غم سره زیاتېږي — نور به د غم په غم کښې نه شمیرم مئینه

غم د پخپله ځان ته جوړ کړو
غم مې پخپله ځان له جوړ کړو

چې دې د نوې يارۍ اوتړل بندونه
چې مې د نوې يارۍ بند او نخلاونه

غم مې د عمر سره سم دې
غم دې له تانه وفادار دې

تمام به نه شې څو ژوندې په دنيا يمه
ته کله کله غم دې تل راسره وينه

غم د تمام زما په سر کړو
غم دې زما د تن جامه ده

خپل او پردي راسره نه اخلي ستا غمونه
زۀ به د تن جامې په رورو زړومه

غم خوشحالي حصے حصے شو
غم د راځي زۀ په خوشحال يم

چې ويش ئې اوکړو غم زما اورسيدنه
بې غم خداے دې انسان تل په غم کښې وينه

غم به دغم امان غواړي
غم د صنم به پرور نه کړم

زه هرکلې دخپل اشنا غم ته کومه
که څوک خطاب د بادشاهۍ پې راکوينه

غم تيره وه ښادي به راشي
غم کوه غم د مخکې ډير دې

يو ځل به اوځانګې د زلفو په ټالونه
که غم اونۀ کړې درته پيښ به شي غمونه

غم ته پيدا په غم کښې لوے شوم
غم ته پيدا په غم کښې لوے شوم

په غم لړلے يارانې سترې دې کړمه
ورکوټے مړ وې چې مې نه ليدے غمونه

کله قراره قراري وي
کله مې غم ليدلے نه وو

کله د غم درياب د غم چپې وهينه
لکه د صبرونه پورته جګيدمه

که اسويلے مې د خلې اووت
که اسويلے کړم اور به واخلے

په دې نزدې کلو به اور اولګومه
که غړ غړے کړم ملک به سور په وينو کړمه

که اسويلي ورسره نه وي
که اسويلي مې د خلې نه وي

د جانان غم به مې زړه پړق چولے وونه
دې انديښنو به مې زړه پړق چولے وونه

ما دې د غم تيښته اوکړه
غم مې له عمره سره سم دې

غم د زما دلارې مل راسره ځينه
تمام به نه شې څو ژوندې په دنيا يمه

ما وې د غمه به دې مړ شم — ساه په نيټه خيژي که زۀ دروغژن شوم
ما وې د غمه به دې مړ شم — قسم دې ياره بې نيټې نشته مرګونه

ما وې د غمه به دې مړه شم — مړه خو ترې نه شوم قيامتي رنځوره شومه
ما وې د غمه به دې مړه شم — مرګ په نيټه دې دروغژنه شوم مئينه

هر کله راشې د يار غم — غمونه ډير دي تا به زړه کښې ګرځومه
هر کله راشې د يار غمه — که سل مې نور دي تا به پاس په تندي ږدمه

يوه جولےغم رانه واخله — په ما انبار شو د ملا تير مې ماتوينه
يوه جولے راسره واخله — زه د اشنا غمونو ډير بې دمه کړمه

مدام د غم باران وربږي — د خوشحالۍ شيبه په کال کښې نه راځينه
غم تيره وه ښادي به راشي — يو ځل به اوځانګے د زلفو په ټالونه

غمونه ډير دي زه يواځے — په يک تنها خته زما راغلل غمونه
ښه ده چې غم ئې راسره نيم کړو — انډے زما انډے د يار اورسيدنه

تن مې د شنے نکريزے پاڼړه — بهر تازه دننه رنګ په وينو يمه
ظاهره روغ په بدن ښکارم — باطن مې ټول شليدلي دې د تن رګونه

غمونه راغلل ختے ختے — زما شوه برخه په رشو رشو غمونه
غمونه خپل راسره ډير وو — ستا ورسره شو هوا ګير ئې واغستمه

د غم چينجې مې جرړې پرې کړي — لکه نښتر په چور ليدو زمکې له ځمه
د غم سيلۍ رابانديې راغله — د وجود ونه مې د بيخه خوځوينه

په برِ برِ راشه د يار غمه — که سل مې نور وي تا به پاس په تندي ږدمه
غم د غمخوار اشنا ته ورکړه — جانانه ته په بې غمې کوه خوبونه

باتئ د تيلو په زور سوزي — ماته د يار غمونه تيل شو وئے سومه
لکه چې واوره ويلے کېږي — داسې مې زړه د جانان غم اوبه کوينه

بدن مې غر اوښکې چینې دي
بره آسمان دې لاندې زمکه
ژړندے د غم د زړه په سر ولاړې دینه
لکه د ژړندے دواړو مینځ کښې میده کړمه

جانان ته خوشحاله اوسے
تل د سپرلے د تا نصیب وي
که په ما ټول عمر د غم وي تیر به شینه
په تا رامه شه د خزان سپیره بادونه

یارانو راشئ سره ژاړو
پوره به نه شي د نابو دې ارمانونه

خدایے ژړولے یمه ژاړم
په ژړا مه راپسې ژاړه
پریږده مخلوقه چې ځان مړ په ژړا کړمه
ما په دعا کښې یاده وه مسافر شومه

د مازیګر منګیه مات شي
د مازیګر ګودر وران شي
چې شامدام دې په سرو اوښکو ډکومه
په خندا درشم په ژړا درنه راځمه

قلم به مات ګوتې به پرېکړم
کاغذ داسې وخت کښې ورشه
کاغذ تا که جانان ونه ژړاونه
چې د ماښام ډوډۍ ته ناست په ژړا شینه

مسافري مې زړه نرې کړو
کاغذ ورشه ورته ژاړه
چې تش وطن رایادوم ژړا راځینه
اشنا به تل مسافر نه وي رابه شینه

د بیلتانه په جزیرو کښې
زما د دواړو سترګو توره
ناست په ایرو کښې ژړا تاپسې کومه
په زوره زوره ژړا تا پسې کومه

سبا به کانړې بوټي ژاړي
زړګیه ډیرورپسې ژاړه
چې یو اشنا له بله غواړي رخصتونه
ښائسته یاران دې بیا به تورې خاورې شینه

زړه مې طوطي شي هوا اوخوري
د تسلۍ تسکین مې نشته
د یار په خوشو پنجرو کښې اوژاړینه
خدایه په چغو چغو چاته وژاړمه

یارانو راشۍ سره ژاړو
لونده د وچو سره سوزي
پوره به نه شي د نابودې ارمانونه
زما ژړا زمکه آسمان په ژړا کړینه

سرې خولے په د مرګ راغلے
یا په جانان زه ګرمي اوښکې څڅومه

عالمه پرې مې بردې چې ژاړم	په ګرمو اوښکو د زړه درد قلارومه
دا په ژړا کله کمېږي	زړه کښې بهېږي د غمونو دریابونه
زړه خوشحالوم نه خوشحالېږي	اوبه ئې څښلې دي د غم په دریابونه
د سیال سیالي ته په ژړا یم	نا سیال ستا خبرې اور رالګوینه
د سیال سیالي کولے نه شم	څوک چې سیالي کړې زۀ مخ پټ کړم اوژاړم
ډېرې د خاورو پر انبار شو	هغه ځوانان چې به کاږه د خیاله تلنه
چې مسافر شي بیا به راشي	څوک چې د خاورو بندیوان شي نه راځینه
په ژړا مه راپسې ژاړه	دعا کوه چې ستا دیدن مې نصیب شینه
په ژړا مه راپسې ژاړه	سحر دعا راپسې کړه ماښام نفلونه
په ژړا نه درپسې ژاړم	تا په دعا کښې یادوم ژړا راځینه
په ژړا مه راپسې ژاړه	که مې وربشي په نصیب وي دربه شمه
چې نن به نه ژاړم نو کله	چې په یو ځله مې جانان له ملک ځینه
چې نن به نه ژاړم نو کله	د حسن ګله زه جدا لتانه شومه
که په ژړا اشنا موندې شوے	ما به د اوښکو په مخ جوړ کړي دریابونه
که په ژړا جانان موندې شوے	ما به د ټولو نه اول موندلے وونه
ما وئیل زۀ به درته ژاړم	تا راته مخکې کوکے کړې حیران دې کړمه
ما وئېل زۀ به ورته ژاړم	جانان د ورایه سترګې سرې نیولے دینه
لوانده د اوچو سره سوزي	زما ژړا زمکه آسمان په ژړا کړینه
که په ژړا مې شروع اوکړه	دا اوچے ډندے به په اوښکو ډکے کړمه
ستا په فراق کښې چې مې وینې	خلق ژړېږي د غم اوښکې تویوینه
نه خو د نوم نه د نشان شته	زۀ په همزولو کښې سر توره ناسته یمه

ارمان به هله زما درشي
چې سور پالنګ مې درته خوشې پاتې شينه

په زړه مې ټول شو ارمانونه
دا يو ارمان خو مې پوره کړه
پوره به نه شي زهٔ به تورې خاورې شم
خير دې که نور په پيټو يوسم ارمانونه

جانان ما سره پخلا شه
ارمان به وکړې زهٔ به نه يم
بيا به جهان راپسې ګورې نه به يم
راشه په ژوند باندې مې اوکړه ديدنونه

چې مسافر شي بيا به راشي
ارمان به هله زما درشي
څوک چې د خاورو بنديوان شي نه راځينه
چې کټ مې واخلې تورو خاورو له مې وړينه

يو ځل راشه په خندا شه
ارمان به ډير راپسې اوکړې
دوران به تير شي نيمه خوا به پاتې شونه
خو بيا که ټول دنيا چانړ کړې نه به يمه

نن راته سپک په سترګو ګورې
ارمان به هله زما درشي
د مرګه پس به زما درشي ارمانونه
چې سور پالنګ مې درته خوشې پاتې شينه

زهٔ له دنيا په ارمان لاړم
ارمان به هله زما درشي
په آخرت به سره غواړو ديدنونه
چې بند په بند مې ټکې ملاته واچوينه

ډيرې مودې راسې يو ځاے يو
ما دې په ژوند قدر اونه کړو
ما خو ته او پيژندې تا او نه پيژندمه
چې رانه لاړې هر ساعت درپسې مرمه

زهٔ دې په ژوند باندې پښيمان کړم
ستا په تهمت کښې بنديوان يم
تا چې د بل په اوږه کيښوده لاسونه
لکه د مرګ مجرم چې قيد د عمر وينه

تير شو هغه وختونه تير شو
تير شوے وخت به بيا را نه شي
چې په ديدن به د جانان نه مړيدمه
که ورنه زار کړم سپينه خله شونډې لعلونه

دا ستا ارمان الله پوره کړو
دا ستا ارمان زما ارمان دې
اوس به ارمان زه د خپل زړه پوره کومه
زهٔ به دا ستا ارمان په ژوند پوره کومه

ساعت په هر چا باند تير شي
ساعت خو دغه وو چې تير شو
که يو باچا وي بل ملنګ د دونهي وينه
چې ته بادشا وې زهٔ وزيره ګرځيدمه

افسوس افسوس ارمان ارمان دې
افسوس افسوس ارمان ارمان دې
دا کوم اسلام دې څوک مې نه کوي پښتنه
غم مې د يار دې بل په څله خبرومه

پردي مې سل ارمان لوټ کړه
ارمان ارمان دې خپل خدايه
پوره مې نه کړو خپل نيمګړې ارمانونه
ژوندون مې ټول بې ځاى تير کړو مړه به شمه

زما ارمان د پوره نه کړو
زما ارمان چې پوره نه شو
اوس به څولۍ د صبر ډکه ګرځومه
پاتې دي زړه کښې د ډولۍ شه ارمانونه

نه به يار بيا په دې لار راشي
نه به ليلى کوڅې ته راشي
نه به زما د زړګي ډک شي پر هرونه
نه به مجنون د خيرات اوکړي آوازونه

نه به د غمه زړګے خلاص کړم
نه به فرهاد غرونه سوري که
نه به قسمت په خوب اوده راپاسومه
نه به ئې نصيب شي د شيرين شينکي خالونه

نه به دا نمر سپرمۍ يوځاے شي
نه به کچکول په لاس کښې واخلې
نه به زما د اشنا اوشي ديدنونه
نه به بهرام د ګل اندام خريدار شينه

نه به مې يار په خندا راشي
خندا هوس راته پېغور دې
نه به زما د غم ژړا قلاره شينه
د عاشقانو دود ژړا خود به ئې کومه

نه خو مې دين نه مې دنيا شوه
نه مې اشنا په لاس کښې راغلے
مل مې سودا شوه سرګردان مې ګرځوينه
نه مې نصيب شو د اشنا د غيرِ خوبونه

دا په کوڅه کښې واړه ژاړې
شاه زمان مړ ارمان ئې اوکړو
ګمان کوم د شاه زمان بچې به وينه
زمانه پاتے شوه رانړے په ډيرانونه

وار به دې تير شي زيړه ګله
بويه چې بيا سپرلي راځي سپړي ګلونه

پام کوه وار دې خطا نه شي
پام کوه وار دې خطا نه شي
د ګلو لښته دې په سر ولاړ يمه
د وار خطا په ځاے د زۀ ولاړه يمه

پـه مـا دې وار د ځوانۍ تیر کړو
ستا د ښائست دوران به تیر شي
ستا دې را نه شي د دکن مهرانونه
زما به پاتې شي په خوږ زړګي داغونه

تیر شوے وار به بیا را نه شي
تیر شوے وار به بیا رانه شي
که سره مهران په لپو لپو اوشیندمه
که اوچې جارې په ژړا زرغونې کړمه

د دنیا وار په تیرېدو شو
د دنیا وار داسې تیرېږي
اشنا په تلو شو زۀ مخ پټې پاتې شومه
لکه د تورو غرونو باد په شنړا ځینه

سپرلي به بیا په ګلو راشي
سپرلي به بیا په ګلو راشي
بیا به را نه شي د ځوانۍ تللي وارونه
په تورو خاورو مې سپرلے کله راځینه

سپرلې راغلے نو بهار دې
سپرلیه ستا د برکته
د زلمو وار دې زاړه نه کوي سیلونه
د جینکو په سینه ځانګې زیړ ګلونه

که اشنائي کړي نن د وار دې
وار به د تیر د پیغلتوب شي
مدام به نه وي ستا ځواني زما خواستونه
څله د زرکې په شان لنډ ږدې قدمونه

که اختر تیر شي بیا به راشي
د جیل خانې بندیان به راشي
یار به رانه شي چې د خاورو لاندې شینه
اشنا د خدائے په بند بندي شونه راځینه

وار به دې تیر شي زیړه ګله
وار د اصیلو ګلو تیر شو
بویه چې بیا سپرلي راځي سپړې ګلونه
په میرو ګرځم اوس ئې جرړې لټومه

وار مې د تورو زلفو تیر شو
وار مې د تورو زلفو تیر شو
ځکه مې یار له مخه او نه شرمیدنه
اوس مې په سپینو زلفو نه نښلي بازونه

وخت د ځوانۍ مې نیمه خوا شو
وخت مازیګر شو ښکته نمر شو
یار بې وفا شو ارماني ترې پاتې شومه
په چا اختر شو څوک د غم ژړا کوینه

وخت د صبا شو شمع مړه شوه
پتنګ ته ګوره څه ئې حال دې
پتنګه ګرځه در په در غواړه خیرونه
په شمع هر وخت خپل ځان قربانوینه

دا لاس مې پړق وهل وخت تیر شو
دا لاس مې تک وهل وار تیر شو
یا ناداني وه یا زه نه پوهیدمه
ارمان مې اوکړو بیا به را نه شي وارونه

وار مې د تورو زلفو تیر شو
وار مې د تورو زلفو تیر شو
په دلالانو جانان بولم نه راځینه
په بمبو کارو زلفو نه نښلي بازونه

تیر شولو هغه وار مې تیر شو
د خوشحالۍ عمر مې تیر شو
لکه طوطې چې مور او پلار ساتلے وومه
اوس به تیرېږي د غم شپې میاشتې کلونه

که هیره ووم دې نه هیرېږي
په زړه ورېږي ستا شیبې شیبې یادونه

چرې به هیره رانه نه شي
زما د زړه په تخته لیکه
تا خو زۀ هیر کړم زۀ دې کله هیرومه
هیر به مې نه شي که مې خاورې شي هډونه

کوشش مې ډیر اوکړو چې هیر شي
تا خو مودې اوشوے چې هیر کړم
خو نه هیرېږي که د هر څو هیرومه
کم عقل زۀ یم چې دې بیا بیا یادومه

له ډیره درد مې زړه شین شو
ته چې مسکې شې زړه مې ښاد شي
ستا په یادونو ئې هر وخت ټکورومه
چې تندې تریو کړې په ژوندون ستومانه شمه

نن خو مې ډیر یادېږي یاره
نن په شیبو شیبو ورېږي
خداے دې ناساپه چرته راوله مئینه
ګل مې یادېږي چې به کوم وطن کښې وینه

چې کله کله راپه یاد شي
چې نیمه شپه شي راپه یاد شي
سرپه بازوکړم اوښکې ښکته تویومه
زړه به فریاد شي بیا مې خوب ته نه پرېږدینه

تا راته داسې جواب راکړو
که لاړم بیرته به را نه شم
لکه جواب چې ژوندې مړو ته ورکوینه
سپور سوال جواب به دې دکن کښې یادومه

سپینې کوټې د کنډ وائي شه
که هیره ووم دې نه هیرېږي
زما یادېږي د کیږدو یخ شمالونه
وطن تا پسې د بر لیونۍ شومه

زما ارمان د دادا کوره
د دادا کور وړوکې تخت دې

د ډکه شکوره به چاپیره ګرځیدمه
نه مې هیرېږي د دادا د کور تختونه

چې عمر تیر شي جانان هیر شي
جانان د لارې نه هیرېږي

ستا د قسم وي چې ما هیر نه کړې مئینه
زۀ به د عمر جانان څنګه هیره وومه

زړه صبرومه کله صبرېږي
په ډک بازار کښې به نعرې کړم

په زړه وربېږي ستا شیبې شیبې یادونه
لکه کونتره په کوکو د یادومه

دا هیر مې نه ئې هیر مې مه شې
که هیره ووم دې نه هیرېږي

د رب د هیره شم چې تا په هیره وومه
په زړه وربېږي ستا شیبې شیبې یادونه

قسم په رب باور په ما کړه
قسم په خدائے هیر به دې نه کړم

چې بې لتا مې په زړه نشته ارمانونه
که د اسمان د ستورو زیات تیر شي کلونه

زما د لرې وطن یاره
زما د لرې وطن یاره

چرته په خیال کښې دې راځم که هیر دې کړمه
هیره مې نه ئې زۀ هر وخت دې یادومه

که هیره ووم دې نه هیرېږي
ستا دې قسم وي راته وایه

په زړه وربېږي ستا شیبې شیبې یادونه
ستا هم یادېږم که دې زۀ ډیر یادومه

خط رالېږه هیره مې نه کړې
زما د زړه په تخته لیکه

څوک مې نور نشته عمر تاته تیرومه
هیر به مې نه شي که مې خاورې شي هډونه

عمر مې ټول په غم کښې تیر شو
زۀ به دې څه څه هیرومه

یار مې هیر نه شو ارماني له دنیا ځمه
په هر یو شي دې ستا د لاسو نشانونه

ته بې وفا شوې زۀ دې هیر کړم
جار شم د هغه یار جار شم

زۀ بې وفا نه یم چې تا به هیره وومه
چې ځان ئې هیر وي ما هر وخت یادوینه

دا ستا به یاد یا به دې هیر یم
هره ګړۍ راته یادېږي

زۀ چې قدم په قدم ږدم تا یادومه
د خدائے دې هیره شم چې تا به هیره ووم

زۀ ډېرو هېر کړم زما ياد دې
جانان دې بد کړي زۀ به ښه کړم
پۀ زړه دې ښاد وي زۀ به ئې ياد زړه کښې ساتمه
بد به ئې هېر شي زما ښه به يادوينه

جانان د لارې نه هېرېږي
اشنا د عمر کله هېرېږي
زۀ به د عمر جانان څنګه هېرومه
کور دې ئې وران شي چې پۀ ما ئې هېروينه

رباب مات شي درې ورې
نن پۀ شيبو شيبو ورېږي
رايادوي اشنا پۀ لرې هيوادونه
يار مې يادېږي چې پۀ کوم وطن به وينه

کله مې ياد کله مې هېر ئې
نن مې د لرې يار يادېږي
کله دې مئينه پۀ درنو کانړو تلمه
خاونده راکارې د مزکے طنابونه

ماته دې څه وې زما هېر شو
ماته دې څه وې زما هېر شو
د تماکو پۀ بهانه بيا راشه مئينه
خپله خبره يو ځل بيا اوکړه مئينه

نيکي د هيچا نه هېرېږي
نيکي برباد ګناه لازمه
هيره د هغوشي چې پۀ ذات کم ذات وينه
نور به د زړه پۀ تيکو نه ساتم بازونه

کله مې ياد کله مې هېر ئې
يو به د دا احسان هېر نه کړم
کله مې خوږ د زړګي سر درپسے شينه
چې کله کله ته زما کوې پښتنه

که هيره ووم دې نه هېرېږي
زما به هېر نه شي جانان
پۀ زړه ورېږي ستا شيبې شيبې يادونه
د خپل ځان راته ګران دې ستا يادونه

چې کله کله راپه ياد شے
چې کله کله راپه ياد شي
د ډيره غم زړه ته نيسم زنګونونه
سر پۀ زنګون کړم اوښکې ښکته تويومه

مرګې خو شته خلاصي ترې نشته
زما سلګۍ د يار ستا پۀ غيږ کښې وينه

پۀ مرګ به مرم پاتې به نه شم
مرګې خو شته خلاصې ترې نشته
ګورته به يوسم ستا د هجر پرهرونه
زما سلګۍ د يار ستا پۀ غيږ کښې وينه

مرګې کوڅه په کوڅه ګرځي
مرګوټې داسې ځوانان يوړل

د ټوکيدلو بريتو جرړې لټوينه
د ډيره خيال به ئې کاږه ورړل اورميږونه

خداے دې زما په غيږ کښې مړه که
خداے مې دې مرګ تر تا کړي وړاندې

چې ته سلګۍ کړې زه به اوښکې تويومه
چې سپينه خله مې ميراتئ نه شي مئينه

د مرګ استاذې مې را رسي
په ځنکدن مې را حاضر شه

جانان راشه ارماني له دنيا ځمه
ورستې ديدن دې زۀ يې تا سره کومه

سوره ياسين راته شروع که
سوره ياسين ورته شروع که

په ما خولې د ځنکدن راغلې دينه
د يار په مئينه کښې کړېږي چې مړ شينه

زنه مې مه تړه مورکے
د مرګ استاذې مې را رسي

روح مې حصار دې د جانان لورې ته ځينه
جانان راشه ارماني له دنيا ځمه

په ځنکدن مې سر ته کينه
په ځنکدن دې حضور ناست يم

چې آساني مې په ورستو سلګو کښې شينه
چې ته سلګۍ کړې زۀ دې اوښکې وڅومه

زما له غم ځنکدن دې
په ځنکدن مې راحاضر شه

مخ را ځرګند کړه چې پخلا قبر له ځمه
بيا تر قيامته پورې نشته ديدنونه

قسم په خداے باور پرې اوکړه
په ځنکدن مې ځان حضور کا

چې ځنکدن دې په ديدن پسې دې مرمه
چې زۀ سلګۍ کړم سترګې تاته واړومه

که ديدن کړې تلوار را اوکړه
په اشنا سپين کفن غوړېږي

په سپين کفن مې پټوي شنکي خالونه
په ما ورېږي د سکروټو بارانونه

ستاسو د چم نۀ نۀ صبرېږم
ستا په بشر چې زۀ شيدا شوم

د کفانه ټوټه په جيب کښې ګرځومه
اوس به کفن تر ملا تړلي ګرځومه

کفن به ټول په وينو سور کړم
لحد مې پس له مرګ ګوري

که مې د زړه د سوري پورته کړل لاسونه
د زړه لمبو به مې کفن سيزلي وينه

عالمه راشئ تماشې له
عالمه ورشئ تماشې له
یار د ځوانئ په موسم تور لحد ته ځینه
جانان د لوړے سفر جامې تړلې دینه

دا ته چې ځې ما د رب واخلې
اشنا مې مري ما ئې کفن کړې
چې په یو ځاے لحد کښې دواړه خاورې شونه
چې تور لحد کښې ترې چا پیره خاورې شمه

کفن مې ښه اوګنډه مورې
په جنازه مې تادي اوکړئ
د ځوانۍ ټول عمر به دې کښې تیرومه
زۀ به ناشنا وطن ته ځم ناوخته شونه

که مې په قبر جانان راشي
د تور لحد مخې ته راشه
کفن په غاړه به ئې مخې له ورځمه
چې تور لحد راباندې زیږ ګلونه شینه

کټ مې د ګور په غاړه کیږدې
کټ ئې د ګور په غاړه کیږدې
مبارکي د نوي کور راکړئ عالمه
لږ مې وریږیږدئ چې ئې ښکل کړم بیا دې ځینه

په تور لځد کښې بندیوان شوم
ته چې زما په قبر راشئ
اوس خو دعا راپسې کړه خوشحال به یمه
دعا کوه ستا د دعا لیواله یمه

اشنا په تور لځد بندې شو
چې مې د قبر خوا له راشي
په ما روښانه جهان توره تیاره شونه
دیدن به نه وي راته پورته کړه لاسونه

سورې مې ډیرې ورته وکړې
د تور لحد غاړې له راشه
د خاورو زور وو وائي نه وریدل غږونه
د ویرې مه مره سوال جواب درته کومه

پرون دې دور د خانۍ وو
جانان راشه که مې ګورې
نن دې په دوه کسه لحد ته کوزونه
لحد ته ئې کوز کړم اوس تختۍ راپسې ږدینه

سر دې د قبر نه را هسک کړه
قبر ته راشم کش اونه کړې
زۀ دې د شناختې خوا کښې غلې ناسته یمه
ستا نه محرومه راروان شم اوژاړمه

ښه په دنیا کښې معلومیږي
زما به هله ارمان درشي
مرګ د هر چا قبر په تیرو پټه وینه
چې مې په قبر زوزان اوسپړي ګلونه

په جنازه مې حاضر نه شوې
که اوس زما پښتنه نه کړې
اوس مې د سقاط ګوړې ته مه نيسه لاسونه
بيا مې د قبر خوا ته مه کوه ويرونه

اشنا به سر راپورته نه کړي
قبر په ناست خازې په ماتې
که په خازه پورې ولاړه وچه شمه
زما زړګي ئې د راتلو طمع کوينه

په تا لا باد د دنيا لګي
ارمان به هله زما درشي
زما په شناختو کرکوړې نارې وهينه
چې مې په قبر مرغۍ جالې جوړوينه

په يوه ورځ مود خدائ مړه کړي
خاونده مرګ د ځوانۍ راکړې
چې ارواحونه مو په يو ځاے سره ځينه
چې خپل پردي مو د ځوانۍ ارمان کوينه

مرګ مې د داسې ژونده ښه دي
لامې اجل نشته چې و مرم
چې لوئ واړه راپسې نه کړي پېغورونه
د ځنکدن نه سختې زياته تيرومه

يو ځلے مرګ وې بيا ژوندون وي
ژوندون يو وار دې چې تيرېږي
چې را معلوم شوي د پردو خپلو نيتونه
چې کله تير شي بيا بيا نشته دا وارونه

په مرګ به دواړه سره مړه شو
که مرم په داسې مرګ د مړ شم
ارمان مې دا دې چې په وړاندې ورستو شونه
چې د جانان سره جوړه قبرله ځمه

عمر د باد په شان تيرېږي
مرګيه دومره صبر اوکړه
رنګ مې زيړېږي مرګې ملا راته تړينه
چې زۀ د خپلو پردو واخلم رخصتونه

قبر په ناست خازي پرې ماتې
زما زړګې ئې د راتلو طمع کوينه

دا مرګې شته آخر به راشي
دا مرګې ښه دې پرده پوخ دې
بغير د ياره دې مرګ خداے نه راکوينه
بده نيستي ده سيال د سياله شرموينه

په اديره د مړو راغلم
د هندوستان تلي به راشي
وژلي خداے وو غږ ئې ماته نه کاونه
د ګورستان تلي نزدې دي نه راځينه

په اديره کښې يو تنور دي	خشاک ئې نشته شاه زلمي په کښې سيزينه
په خاورو ډک شي ګورستان	تاته درځي کرېږې پګړې تور اوربلونه
لحد به ټول په وينو سور کړم	زۀ له دنيا نه ارماني راغلے يمه
ستا د جفا داغ مې په زړه دې	په تور لحد کښې به ښيرې درته کومه
لحد له تورو تيارو تور دې	زما ناکام دې ورله قبر جوړومه
که تور لحد ته نرې لار وي	ما به اشنا له پيشکشي وړلي ګلونه
په ګورستان کښې به نعرې کړم	زۀ ارماني د سپينې خلې راغلې يمه
د عاشقانو دا نصيب دې	چې له ارمانه زړګې ډک قبر له ځينه
په ژړا ژاړم سود مې نه شي	د يار په قبر به جونګړه جوړومه
د سترګو تور مې ژړا سپين کړل	سپين به د يار په قبر ږدم چې خاورې شينه
لالې په تورو خاورو پټ شو	ډيوې د اوښکو ئې په قبر بلومه
لالې جدا له نورو ښخ کړئ	چې هر سبا سپينه سينه پر غوړومه
زما د قبر خوا ته راشه	چې د لحُد تياري رنړا راباندې شينه
که ته زما قبر ته راغلے	په ګور دننه به مې زړه خوشحاله شينه
د اسرې ځاے مې پاتې نه شو	د ګيلو ډک زړګې به قبر له وروړمه
چې اوس زما پښتنه نه کړې	بيا مې د ګور په خوا رانه شې مختورنه
په يار مې ترخې زرغونې شوې	زۀ ئې د ژوند هيله لرم چې رابه شينه
قبر په ناست خازے پرماتے	زما زړګې ئې د راتلو طمع لرينه
د پسرلي په مياشت دې مرګ شه	شناخته د ګل شه چې عالم ئې بويوينه
شناخته مې جوړه کړئ د زرو	چې د مئين په مئينه زۀ شهيده شومه
لحد سورې که حال مې ګوره	په خمارو سترګو مې پريوتل ګردونه
لحد سورې دې رومال واخله	په خمارو سترګو دې واوړيدل ګردونه

پـه مرګ بـه کوم سرې خفه وي
پـه مرګ بـه مرم پاتې بـه نه شم
چې ځنکدن ئې د اشنا پـه غېږ کښې وينه
ارمان مې دا دې چې بـه بيل لتانه شمه

پـه مرګ دې نه مري اشنا خوږ دې
پـه مرګ دې نه مري جانان ګران دې
پـه رنځ دې پريوزې چې پښتنې لـه ورځمه
بده نيستي ده پـه نيستۍ دې پمن شينه

کـه ديدن کړئ تلوار را اوکړه
کـه ديدن کړئ تلوار را اوکړه
لحد تـه ئې کوز کړم اوس تبۍ راپسې ږدينه
لحد بندي شو تختو واغستل ميخونه

مړ مې د يار پـه کوځه يوسۍ
مړ مې د يار پـه کوځه يوسۍ
چې نور زما پـه شان نه آزار وينه
لږ ئې خبر کړئ چې نکريزې پورې کړينه

مرګيه دومره معطل اوکړه
مرګيه لګ کوتې وار اوکړه
ما د يارۍ بندونه اوس تړلي دينه
يو مې ځواني ده بل مې کړي ده کوژدنه

چې مې د قبر پـه خوا راشې
قبر پـه ناست خازې پرماتے
ديدن بـه نه وي راته پورته کړه لاسونه
زما زړګې ئې د راتلو طمع کوينه

قبر شو زوړ تختې شوے ماتې
قبر پې ناست خازے پرې ماتې
پـه ګلابي جانان مې پريوتل ګردونه
زما زړګې ئې د راتلو طمعه کوينه

قبر مې جخت ورسره جوړ کړئ
دا مرور بـه پخلا نه شي
چې مرور اشنا پـه ګور کښې پخلا کړمه
کـه اديره ورباندې ټوله جرګه کړمه

قبر مې ښه جوړ کړئ عالمه
ځلې مې وران نه کړئ اے باده
يار پـه پرديس دې پـه کښې تير بـه شي کلونه
د يار راتګ بـه اوس د خاک پـه ځلې وينه

آخر بـه خاورې شي بدن
د خيال کوږ پـه لاره مه ځه
ډير پـه غرور او کبر مه ږده قدمونه
ستا پـه شان ډير د تورو خاورو لاندې شونه

زمکې تـه ټيټ شه نظر اوکړه
خاورې راواخله هغه ښکل کړه
داسې بـه خاورې شي ستا سپين سپين مړوندونه
دې کښې پراته دي ښکلې ښکلې بشرونه

زۀ خو لا ستا په طمع ناست ووم ... تا باندې پريوته د خاورو انبارونه
خاورې د يار په سر انبار شوې ... زۀ ليونے په دنيا شپې صبا کومه

د هندوستان مسافر راغلے ... د تورو خاورو مسافر کله راځينه
که زمکه اوړي خوبه واوړي ... را وابه نه وړي خاورې شوي بدنونه

زما صورت به څه ښادي کړي ... چې زۀ ولاړ يم په تا خاورې اړوينه
زمکې قسم به درله در کړم ... چې خاورې نه کړي د اشنا د مخ خالونه

ياره پښتنے له مې راشه ... ستا د هجران په تبه پروت يم مړ به شمه
که اوس زما پښتنه نه کړي ... بيا مې د قبر خوا له مه راځه مئينه

امانتي مې ګور کښې کيږدي ... چې يار خبر شي ما به خپل وطن ته وړينه
ته چې زما په قبر راشے ... دعا کوه ستا د دعا ليواله يمه

د باجوړو پښتو پوره شوه

مامونۍ سرو وينو کښې لتې ټکوينه

شير عالم د سيد محمد ملا ځوے د ناوګۍ باجوړ اوسيدونکے وو. د عجبې نومې جينۍ سره ئې واده شوې وو خو اولاد ئې نه وو. د خپل کاکا لور مامونې سره ئې واده اوکړو او يوه لور خوبانه ترې پيدا شوه. عجبې د بنې په راتلو خفه وه. د مامونې خلاف د بد ناملو په تدبير کښې به اخته وه. شير عالم د خپل دکان سامان دپاره شبقدر ته لاړو. ماسختن تير څوک د کان ته سودا دپاره راغلے. عجبې مامونۍ په چل ورا اوليږله او بيا ئې چغې کړې چې مامونۍ مې د پردي سړي سره په توره شپه کښې په دکان کښې اونيوله. چې کله شير عالم واپس راغلے نو عجبې ورله د مامونې خلاف غوږونه ډک کړل چې د ګانړي مار لور خو ستا عزت تار تار که. په شرمونو ئې اوشرمولې او د مکر او فريب په زړا ئې شير عالم په دې قائل که چې مامونې ګنې داسې کار کړې دې مامونې د غم او خفګان نه غټې غټې اوښکې تويولې. چې نه ئې څوک مدد ګار وو او نه ئې څوک ګواه د ټولې واقعې صرف عجبې چشم ديد ګواه وه. او هم د ټول سازش ماسټر مائنډ هم شير عالم د خپلې پښتو سرکولو د پاره مامونې حلاله کړه دا ټوله قصه د مامونې د ناجائزه او بې ګناه مرګ سرګزشت دې. چې پښتو ده خو د اسلامي اصولو او دستور خلاف ده.

مامونۍ نه وه خبرداره
په زړه کښې ئې شته دې وخت ته ګورۍ
عجبې اېښې دې د غم پړې دامونه
د مامونې د حیا جرړې پرېکوينه

زما دغر په شان نوم وو
مامونې سر په زنګون اېښې
مامونې ستا په سر بنړه شو باد ئې وړينه
د شرمه سترګې چاته نه پورته کوينه

شیر عالم اووې مامونې ته
مامونې اووې شیر اعظم ته
په ځاے دې نه کړه راسره کړې لوظونه
زۀ ګرمه نه یم په الله کړم خوګندونه

یا شیر عالم ترس پرې اوکړه
د ټول پښتون نوم به خراب شي
د مامونې نوې ځوانې خاورې به شینه
دا به رواج شي مامونې که تا پرېږدمه

د ټول پښتون نوم به خراب شي
شیر عالم او وئېلې ناکام دې
دا به رواج شي مامونې که تا پرېږدمه
پښتون لوے قام دې ورته تا لوګې کوم

حلالولو له دې بیائې
مامونې شنه شوه په خندا شوه
د ګل په شان مامونې روږده قدمونه
د کاکا ځوې دې ما به نه حلالوينه

د شیر عالم صبر تمام شو
مامونې غټ غټ ورته ګورې
چړې ته ئې لاس کړو مامونې حلالوينه
چې شیر عالم ورته چاړه په مرۍ ږدينه

د مامونې عجیبه څنړے
په مامونې چاړه راښکه
د شیر عالم چړې له غیږے ورکوينه
د وینو شړق ئې د قلا بازو وهينه

په مامونې چاړه راښکه
د شیر عالم پښتو پوره شوه
د وینې شړق ئې د کوټې دیوال وهينه
مامونې سرو وینو کښې لتې ټکوينه

په مامونې چاړه راښکه
ده مامونې د وینې جوشه
د وینې شړق ئې د کوټے دیوال وهينه
دا شیر عالم ئې په سرو وینو ولاړنه

په ناوکۍ کښې اوبه نشته
د مامونې سره وینه راغله
د مامونې د وینو راغله سیلابونه
کندې دې غم ورته په لار کښې جوړوينه

ورځ شوه ځرګنده شپه ترې لاړه
د مامونې همزولې راغلې
مور ئې ولاړه مامونې ته مخ وهینه
څوک ورته ژاړي څوک پرې وائي تهمتونه

د مامونې د مرګ آواز شو
د مامونې د مرګ اواز شو
جینکو پرینښودې قلفې په تنورونه
په بنړ کښې ونې تاوېدې ویر ئې کاونه

د عجبې بې بې رنګ تور شو
د عجبې عمر په عذاب شو
کور ورته اور شو مرګ په ځان پیرزو کوینه
زړهٔ ئې خراب شو چاته نه وائي حالونه

تیغ ئې په دنګه غړۍ کېږدي
د باجوړو پښتو پوره شوه
چې نشانه د پښتون هسکه پاتے شینه
مامونۍ سرو وینو کښې لتې ټکوینه

تهمت دې واغست شیر عالمه
په ایمان خوار شې شیر عالم
چې په لمسون د دغماز اوکړل مرګونه
د تماکو په پاڼړه چا کړي مرګونه

مامونې خاص د باجوړ ده
چاپسي خپله بې بې ژاړي
دا شیر عالم ئې په لمسون حلالوینه
په مامونې ټول باجوړ ژړا کوینه

زړګیه چوې که پاتې کېږې
جانان د تور لحد بندي شو نهٔ راځینه

پرون دنیا وه نن قیامت دے
د دنیاګۍ بازار دې وران شي
چې زهٔ ولاړه جانان اخلي رخصتونه
چې نا اشنا خلق راځي اشنا ترې ځینه

دَ یار په وروستو سلګو راغلم
که په ژړا اشنا راګرځي
لکه شبېه د بارانهٔ پرې تویه شومه
اوچه ګیاه به زرغونه په اوښکو کړمه

ولې به نهٔ ژاړم عالمه
نن به په چغو چغو ژاړم
جانان مې ګل دَ پسرلي خاورو له ځینه
دَ جانان زنه په خاصه باندې تړینه

که دیدن کړې تلوار راوکړه
په اشنا سپین کفن غوړېږي
په سپین کفن مې ټټوي شینکي خالونه
په ما وریږي د سکروټو بارانونه

زما د ګل په شان جانانه | تهٔ رانه لاړې زهٔ دې چا ته پرېښودمه
کټ ئې د ګور په غاړه کېږدئ | د نوي کور مبارکي ورکئ عالمه

توره لحده نوم دې ورک شه | د ګل په رنګ زلمي دې تورې خاورې کړنه
ښنې په قلار ږدئ خاورې نهٔ دي | هغه زلمي دي چې کاره له خيال تلنه

زمکې قلنګ دې زورور دے | زلمي ترې اخلې رالېږې تش پالنګونه
زلمي سر تور لحد ته کوز شول | دا ارماني پګړئ ئې کور پرېښلې دينه

ولې به نهٔ ژاړم عالمه | په جانان خاورې اړوي ولاړه يمه
زمکې د خدای روئې مې در وړې | چې خاورې نهٔ کړې د جانان سپين مړوندونه

زړهٔ مې نعرو سورے سورے کړو | زه د جانان د قبر اوس راغلې يمه
جانان چې تهٔ دائ وېنا وه | چې تر قيامته به بيا نهٔ وي ديدنونه

زړګيه صبر دې په خداے شه | اشنا دې لاړ په تور لحد کښې بندي شونه
زړګيه چوئې که پاتې کېږې | جانان د تور لحد بندي شو نهٔ راځينه

زړهٔ مې ماشوم شو راته ژاړې | رايادوي د تورو خاورو بشرونه
زما د ګور مړي يادېږي | ما ګور ګټې کړئ چې قبرونه لټومه

وار د رامداد د پګړۍ تېر شو

نور مهمندان دې پګړۍ نهٔ په سروينه

رامداد خان مهمند د کچي کوپر سيمه رانيزي ملاکنډ اوسېدونکے وو، مور ئې رانېزئ ده- نر غېرتي باتور، زړور زلمے وو، د خپلو ښو اخلاقو او پښتو په وجه د پښتنو د زړهٔ سر وو- په کوپر باندې د رانېزو خلاف جنګ کښې شهيد شو. د ښه ځواني او مړانے سندرې ئې لا تر اوسه په حجرو ودونو کښې غږېږي-

رامداده خړې جامې اوکړه | په کوپر راشه جينکۍ دې يادوينه
پاس په اسمان راشه رامداده | د کلي لارې رانېزو نيولي دينه

رامداد ئې سور په وینو راوړو
رامداد دې دا ځلې خداے جوړ کړي
مور ئې نارې کړې سره ډولۍ د رامداد ځینه
که دوباره په کوپر جنګ وي مړ دې شینه

د خان رامداد پالنګ ئې راوړو
رامداد ئې سور په وینو راوړو
خلقو د سرې ډولۍ کول پرې ګمانونه
خور ئې نارې کړې لالا ایښي دي ګلونه

چې رامداد خان دي پر وژلي
چې رامداد خان دي پر وژلي
مړوند دې پرېوزه په لستونړي کښې دننه
ټوپک دې مات شه د لوهار په سندانونه

د خونړي چنار د لاندې
د ملاکنډ بازاره وران شي
شال ئې ګانړه کړو رانېزۍ سرتوره ځینه
تا کښې خرڅېږي د رامداد د کور شالونه

سم رانېزے درته تپه شو
مېندې دې داسې ځامن راوړي
رامداده نیسه د خټکو زیارتونه
لکه رامداد چې رانېزۍ راوړے وونه

رامداده پاسه روانېږه
وار د رامداد د پګړۍ تېر شو
د سرۀ کمر نه مهمندان راغلي دینه
نور مهمندان دې پګړۍ نۀ په سروینه

خور ئې مخ سر په والو شین که
په غم د ورور چې خفه نۀ شي
چې د رامداد د مرګ اواز ئې واورېدنه
دغه په دروغه د ورورۍ دعوٰی کوینه

ورشه ښارو بې بې ته وایه
رامداد د خاورو لائق نۀ دے
رامداد ئې مړ کړو له اوربله پاتې شومه
ترې لاندې واچوئ بخمل په انبارونه

رامداده پاسه توره ډال شه
رامداد جنګ کښې په شا نۀ شې
تا له د سرۀ کمر مومند راغلي دینه
ما له به جوړ کړې د همزولو پېغورونه

رامداد دې دا ځلې خداے جوړ کړي
رامداد دې دا ځلې خداے جوړ کړي
د هري چند خور ئې سنډا حلالوینه
که دوباره په کوپر جنګ وي مړ دې شینه

اوس به سیند ډک د وینو راشي
په تهانګي کښې شپږ خانان حلال وینه

دَ سوات بائزي په یوه درنه کورنۍ کښې د بدي او تربګنۍ په وجه شپږ خانان رونړه په تهانه کلي کښې د پلئ خان شمروز خان د لاسه قتل شو چې د صاحبزادګانو په کور کښې ئې پناه اخستې وه- په ټوله پښتونخوا کښې د دې زیاتي ویر اوشو او لا تراوسه کېږي-

اوس به سیند ډک د وینو راشي	په تهانګي کښې شپږ خانان حلاله وینه
د صاحبزاده کره کوهي دے	په سر سرپوښ دي خانان رو رو ډوبوینه
د پلئ خان بد د اوکړل	خانان دې مړ کړل ځان دې خپل کمزورے کنه
اول د ټولے تهانے خان وو	اوس د بختي په خوړ کښې چخچي ټولوینه
په عثمان خان ورانه تهانه شوه	په عمر وران شو د چترال پورې ملکونه
دا نیمه شپه قلاره شومه	د اکرم خان بلبلو شور اونښخلونه
چې شپږ خانان پرنه خلاصېږي	دا صاحبزاده د کلي اوشړئ چې ځینه
بس که په د هغه فیصله ده	شپږ جنازې د سربالا کوټکي له وړینه

مور ئې سرتوره په خاک ناسته
د بخت منیر ویر ئې په سرو غرمو کاونه

بخت منیر د پشت باجوړ د ګل بېلې اوسېدونکے په قام ترکلانے وو- هغه ښۀ نامتو زړور زلمے وو- د پشت د خانانو سره ئې نا لګي وه، د پشت خان د خپلې داشته وینزي قریشي په ذریعه په دام کښې راوستو د خان په برج ئې پټې یواځې حمله اوکړه د سختې مقابلې نه پس شهید شو د نرتوب او بهادرۍ سندرې ئې عامې دي-

مور ئې تودې وریژې سرې کړې	وې بخت منیر ګېډۍ له تلې رابه شینه
مور ئې تودې وریژې سرې کړې	د بخت منیر د مرګ استاذے ګرځېدنه
چې بخت منیر ئې ورله راوړو	مور ئې ړنده شوه په بازو خُلۀ لګوینه
مور ئې سر توره په خاک ناسته	د بخت منیر ویر ئې په سرو غرمو کاونه

نن بیا هغه ماښام دے د بخت منیر د جرمنۍ ټقار راځینه
دې بخت منیر ته داسې وایۍ په تماچو برجونه چا اخستي دینه

د قریشۍ نه ډمه نشته د پښت وال سره د چرسو چلم څښینه
د قریشۍ صلاح که نۀ وې د بخت منیر مرګ ته به ولې جوړېدنه

صحبت خان مړ ارمان ئې اوکړو
زاړه مې نۀ کړل د سنبل د لور داجونه

د انګرېز منصف ډار مستیټر د وینا مطابق صحبت خان د تپه بائیزۍ په پلۍ نوم کلي کښې اوسېدو مور ئې مېړه وه- د باجوړ ملک سنبل ترکلاني د لور سره ئې کوژدن شوې وه، د وادۀ ټول انتظامات مکمل شوي وو د وادۀ نه یو شپه مخکښې د دشمنانو د لاسه قتل شو- د دغه صدې د پختونخوا لویه صدمه او سانحه وه-

د صحبت مور نه وه مېړه وه نۀ لېونۍ شوه نۀ ئې واغستل کندونه
مور ئې بلۍ په بلۍ ګرځي صحبته زویه د سیالۍ دې اوویستمه

څلور کوټې څلور دالانه د صحبت مور له چا کټکے نۀ ورکونه
مور ئې په سپین اندېري خوب کا د صحبت خان د وینو ډک شو دالانونه

صحبت خان مړ ارمان ئې اوکړو زاړۀ مې نۀ کړل د سنبل د لور داجونه
ترکلانړي مور ته په ژړا شوه د مینې ګل مې په صحرا اورژېدنه

ترکلانړي مور ته په ژړا شوه زما راغلې تیکه بیا په بېرته ځینه
د صحبت خان دومره پګړۍ وه چې د پلۍ د جونو جوړ شو رومالونه

د قاهرې د لورې باده
په مسافر داجي مې وایه سلامونه

مولانا حافظ محمد ادریس صاحب د طورو مردان په پېښور یونیورسټۍ کښې د اسلامیات، عربي پرورفېسر وو، مصر ته د پي آئي اے د فلائټس د شروع کېدو د اولنې فلائټ مسافر وو، چې په قاهره کښې د لینډېنګ نه اول کرېش شو، دا مرثیه د هغۀ د لور د طرفه د یونیورسټۍ کالج فار وومن پېښور په "مېرمن" مجله کښې چاپ ده-

بېلتونه مخ دې چا ته مهٔ شه — ما ته دې مخ شو د سیالۍ دې اوویستمه
چې د زړهٔ باغ مې پرې تازه وو — هغه مالیار مې بېلتون قید د عمر کنه

څوک چې "داجي" کا زړهٔ مې خورشي — ما نه بېلتون په نادانۍ کښې جدا کنه
زړهٔ صبرووم کله صبرېږي — نهٔ مې هېرېږي د داجي سترګې لعلونه

عالمه خپل داجي مې نشته — ځکه ځولۍ د اوښکو ډکه ګرځومه
د سیال سیالي ده ډېره ګرانه — څوک چې سیالي کړي زهٔ مخ پټ کړم اوژاړمه

د قاهرې د لوري باده — په مسافر داجي مې وایه سلامونه
که د طوطي وزر زما وې — د قاهرې به پرې چاپېره ګرځېدمه

دا مرور نهٔ پخلا کېږي — که ادیره وربانديې ټوله جرګه کړمه
په ژړا مهٔ راپسې ژاړه — ما په دعا کښې یادوه مسافر شومه

○○○○

جانانه راشه ادم خان شه — د درخانۍ مینه په ما اوکړه مئینه
د دروازګۍ سرېه څوک ئې — زهٔ آدم خان د درخانۍ سلام له ځمه

خور به ئې ولې نهٔ رنډېږي — چې د لالا کاروان ئې تش کور ته راځینه
خور ئې په چغو چغو ژاړي — جوړه ئې راغله یوسف نشته مړ به وینه

د چمني خان طاقت څرګند شو — ځکه انګلېنډ کښې فرنګیان ژړا کوینه
د فرنګي نوکري پرېږده — پښتون زلمے شه د وطن کړه خدمتونه

چې عجب خان ئې په پانسي کړو — نو د سودم خانان په ځان اویرېدنه
د فرنګي ظلم ته ګوره — د آزادۍ زلمے پهانسۍ ته خېژوینه

ډیوه راواخله رڼا راوړه — د مومن خان د ویني بوئي ما له راځینه
مورې راپورته شه اور بل کا — د مومن خان په وینو رنګ دي بالښتونه

قبر ئې پراخ جانان ته جوړ کړي — زهٔ د جانان سره جوړه قبر له ځمه
قبر ئې پړاخ جوړ کړئ ځوانانو — یو مومن خان دے بله زهٔ ورسره یمه

مومن په لوړه غونډۍ کېږدئ چې خواره مور ئې هر ساعت زيارت له ځينه
قبر مې چوت په غرونو جوړ کړئ چې د وطن شمال ئې شناختې خوزوينه

شېر علي خانه قلم کېږده
سوال له بادشاه کړه چې ايمان دې نصيب شينه

د محترم مولانا شېر علي خان پدر پروفېسر ډاکټر محمد سراج څو عبرتناکې مصرعې:

ګوتې قلم ته په ژړا شوې تۀ به ښکاره ئې مونږ به بند په لحد شونه
ګوتې ېڅپله په خندا شوې تۀ به شې خاورې مونږ به عېش د حورو کړونه

شېر علي خان ډېر ګناهګار دے د خپله ربه د بخشش اوميد کوينه
ربه که هر څو ګناهګار يم د پاک حبيب په برکت غواړم بخښنه

مومنه ستا په زړۀ کښې څه دي يره له رب کړه چې ايمان د روزي شينه
مومنه ستا په زړۀ کښې څه دي د شېطان يار ئې او هم غواړې جنتونه

شېر علي خانه قلم کېږده سوال له بادشاه کړه چې ايمان دې نصيب شينه
خدايه په ما ته فضل اوکړې کرم د ډېر دې ډېر اميد مې له تا شينه

ربه عمل او علم راکړې د بې عمله علم يره زما شينه
د علم دين چې طالبان دي ستا په کامل رحم دې ټول عالمان شينه

رب اولاد مې صالحان کړې چې پس له مرګه صالحات ما ته راځينه
هم حقداران مې کل مغفور کړې بخشش په اوکړې مهربانه په ما دينه

چې ما غريب سره احسان کړې ستا د کرم رحم باران دې پرې ډېر وينه
چې د غريبو مددګار وې فضل پرې اوکړې چې ايمان ئې روزي شينه

په ما عاجز ډېر فضل اوکړې شېر علي خان له تا نه دغه سوال کوينه
شېر علي خان له ربه سوال کړې قرآن معمول دې د هر يو مسلمان شينه

د بنيادم سخته وجوده کله زيړې تبه وې ستا کله دردونه
د بنيادم سخته وجوده کله وې ناسته ستا مرض کله برېښنونه

راشه الله ته توبه ګار شه   نیکي کوه چې د عذاب دې بچ کړینه
ستا د رحمت څه پایان نشته   شېر علي خان لتا بخشش غواړي رحیمه

د الله دې کرم ته ګوره   ښائسته وجود ئې د آدم تا له درکړونه
د الله دې کرم ته ګوره   چې ئې درکړي لاس و پښې ښائسته غاښونه

د الله دې کرم ته ګوره   دواړه چشمان ئې مزېدار درله درکړونه
د الله دې کرم ته ګوره   ژبه ګویا غوږ ئې شنوا ستا پېدا کړونه

د الله دې کرم ته ګوره   پناه په زمکه کښې چې تخم زرغون کړینه
د الله دې کرم ته ګوره   د پاس آسمان نه چې باران پرې ورو‌ینه

که په کروړونو درته شمارم   تمام به نهٔ شي د مولا ټول احسانونه
د ټول احسان په بدله کښې   تا له نهٔ ښائي چې لا بیا کړې ګناهونه

شېر علي خان ډېر ګناهګار دے   د خپله ربه د بخشش امید کوینه
شېر علي خان لتا نه سوال کړي   ډېر بې اسرې دے ټول ئې سر کړي حاجتونه

مآخز

1 پښتو ټپه: ډاکټر نور محمد دانش پي ایچ ډي تهیسس پښتو څانګه پېښور یونیورسټي.

2 پښتو ټپه او تلمیحات: ډاکټر جان عالم ایم فل تهیسس پښتو څانګه، پېښور یونیورسټي.

3 د پښتو ټپې سیاسي اړخونه: ډاکټر عثمان علي اولس یار پي ایچ ډي تهیسس پښتو اکیدمي پېښور یونیورسټي.

4 ټپه د فصلونو او غذائي اجناسو تجذیه: ډاکټر مصباح الرحمن، پي ایچ ډي تهیسس، ملاکند یونیورسټي، چکدره ملاکنډ.

5 خصوصي مقاله د ټپې پيژندګلو: **1983**ء مرتبه پروفسیر محمد نواز طائر پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.

6 روهي سندرې (ټپې): **2013**ء مرتبه پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهین پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.

7 ټپې د پښتون ثقافت ترجماني: **2024** مولف پروفېسر ډاکټر میر حاتم پبلشر الاحمد انټر پرائزر پېښور.

8 د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر: **1988** مولف. پروفیسر ډاکټر سلمٰی شاهین پښتو اکیدیمي پېښور یونیورسټي پېښور.

9 ټپه او ژوند **1980** مولف پروفېسر محمد نواز طائر، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.

10 ټپې او د شعور رود:**1977** مولف محمد ادریس صاحبزاده پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.

11 درې زره ټپې د الف ب ت په ترتیب مولف سلطان روم.

12 پښتو ټپې: مولف داور خان داور **1978** پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.

13 پښتو لنډۍ د اردو فارسي او انګرېزي ترجمے سره مولف عبدالروف بې نوا.

14 دیوان عبدالرحمن **1976**ء زیب آرټ پبلشرز، محله جنګي قصه خواني پشاور.

15 رحمان بابا نمبر: امیل جولائي دسمبر **2014**ء چیف ایډیټر شهاب عزیز ارمان پښتو ادبي ټولنه ریګي سیمه پېښور، قلم پښتو ادبي جرګه، ملازي پېښور.

16 دیوان حافظ الپوري **1983**ء مرتب ابو حسین چنداخوري. اسلام بُک سټور مینګوره سوات.

17 عوامي قیصې **1983**ء مؤلف حاجي پردول خان خټک په تعاون وفاقي وزارت تعلیم. پښتو اکیډیمي پېښور یونیورسټي.

18 فولکلور او د پښتنو فولکلور **2019**ء لیکونکې پروفېسر نورالامین یوسفزئ. اعراف پبلشرز ندیم ټریډ سنټر پېښور.

19 درې نسلیزه شاعري **2024**ء مولف پروفیسر ډاکټر محمد سراج سواتي. پبلشر ګران خپرندویه مینګوره سوات.

20 رضا محمد افضل **1989**ء پشتو لوک ادب النور پرنټرز بلیو ایریا اسلام آباد.

21 صدام کلیم الله **1981** پښتو ټپے اردو قلات پبلشرز کوئټه

22 رحمان بابا تاریخي، علمي اور ادبي جائزه: **2012**ء مصنف دوست محمد خان کامل مومند، مترجم یوسف جذاب، دي پرنټ مېن پرنټرز پشاور ناشر ډاریکټر آف کلچر حکومت خیبر پختونخواه.

23 زر تراشے: **2024** مولف حبیب الله خان خټک پبلشر الاحمد انټر پرائزز خیبر بازارمحله جنګي پېښور.

24. Enevodsen, J 1969 Spogmia Krhang waha rakheeja, sound the bells, O, moon arise and shine, university book agency Peshawar. Republished 1987, 2000, 2004.

25. Esmati Massoma 1978. The place of a women in pushto oral literature with special reference to landai. Pushto journal 1978. Vol-1-2 Afghan Acadamy of sciences, Kabul.

26 Hanif Khalil Dr. Pushtoon calture in pushto tabba. National institute of historical & cultural research Quaid Azam university islambad.

27 Laeeq salman 1984 pukhtu landai pukhtu short songs. Acadamy of sciences. Kabul Afganistan.

مصنفین کی دیگر کتابیں

احسن القصص ---- منظوم (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
پینځه بناء د اسلام۔ منظوم (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
لطیفې (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم، پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
خوندناکې لطیفې او عبرتناکې قیصې (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم، پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
سوانح مولانا محمد اشرف سلیمانیؒ (اردو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم، شیر حسن، پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
کلیات (پشتو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
اصلاحی اور تبلیغی بیانات (اردو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
مکتوباتِ اشرف (اردو)	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی،
	شیر حسن، پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
مشاہیر علماء وفضلاء کی تقاریر	پروفیسر ڈاکٹر محمد سراج سواتی
رونا (اردو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
کلمات وملفوظات (اردو)	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
رحمان بابا د خپل کلام په رڼا کښې	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
زه عبدالرحمٰن یم	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
ملفوظات رحمٰن بابا	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
دَ کلام رحمان پټې خزانې پټ اړخونه	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم
ټپې دَ پښتون ثقافت ترجمانی	پروفیسر ڈاکٹر میر حاتم

پرنٹر
الاحمد انٹرپرائزز
خیبر بازار محلہ جنگی پشاور پاکستان۔
پروپرائٹر عبد المجید
0345-9292470 / 0315-9292470